۱۴۱۵ھ کښے چه کله په رمضان المبارک کښے چه مترجم ته دَ عمرے سفر اوشو۔ نو هغے دوران کښے لقط المرجان هم دَ باب العمره مخے ته دَ تهه خانے یوه کتب خانه کښے دستیاب شوے وو۔ او هغه وخت دَ دے دَ ترجمے کولو زړهٔ کښے تقاضه پیدا شوے وه۔ او ورسره قدرتی طور سره دَ ابن ابی الدنیا دَ مذکوره دوه کتب هواتف الجان او مکائد الشیطان هم دستیاب شوی وو۔ حالانکه هغه وخت دَ هغے وهم او ګمان هم راته نهٔ وو۔ چه دا دواړه کتابونه به دَ لقط المرجان د ترجمه کولو په وخت ډیر معاون ثابت شی۔ زهٔ دا هم خداوندی مدد ګنړم چه بلا خیال دا ضرورت الله تعالیٰ پوره کړلو۔ فللّٰه الحمد والشکر۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د اکمام المرجان مصنف

محمد بن عبد الله شبلی دمشقی بدر الدین القاضی

۷۱۲ ـــ ۷۶۹ ھ ـــ ۱۳۱۲ ـــ ۱۳۶۷ ء

دیر فاضل او د مختلفو فنونو عالم وو۔ فقهای احناف کښې د پېر بلند مرتبه باندې فائز وو۔ دَ دمشق کښې پیدا شو۔ بیا قاهره (مصر) کښې وفات شو۔ او دَ طرابلس ملک شام ۵۵۷ھ کښې قاضي مقرر شو۔ او تاحیات (ژوندہ) پورې قاضي وو۔ مسائل فقهیه به ئې پوره تحقیق سره نافذ کول۔ او تحقیق تدریس به ئې تحریر او تصنیف کښې راوستل او وسله یا هتیار به ئې اچولو۔ او جهاد به ئې کولو مجلس ئې دیر قیمتی وو۔ دَ نثر او نظم سره کمال ئې ښودلو۔

تصنیفات ئې دادی: ① محاسن الوسائل الیٰ معرفت الاوائل ② اداب الحمام، ③ تثقیف السنة بتعریف الازمنة، ④ الینابیع فی معرفة الاصول والتفاریع من شروح مختصر القدوری۔ ⑤۔ زهوالبدیع فی زهرالربیع۔ دَ حالاتو دَ تفصیل دَ پاره ملاحظه کړئ: الدرر الکامنة ۳/۴۸۷، الفهرس التمهیدی ص۴۶۵، معجم المطبوعات ص۱۱۰۱، الفوائد البهیه ص۱۷۱ مع حاشیه، معجم المؤلفین ص۲۵۳، فهرست بروکمان ۲/۹۰، ۲/۸۲، مجلة المجمع ۱۸/۴۷، الاعلام للزرکلی ۶/۲۲۴ ـ ۲۲۵

Maktaba Tul Ishaat.com

د منکرین جنات اوشیاطین ردّ

ټول هغه سماوي دینونه دي، یهودي، عیسائي، مسلمان او هندو، سکهه وغیره دَ جناتو او شیاطینو د وجود قائل دي او اکثره فلاسفه هم دَ دے قائل راغلي دي - تیره صدئ کښې سر سید احمدخان محض دَ خپل ذاتي عقل په ګمان دَ دوئ دَ وجود نه انکار کړے دے - اودَ هغهٔ ټو پیروکار دَ مغربي تهذیب دلدادهٔ په لَه دَ دے تائید کوي - اودَ انکار دلیل دا وړکوي - کهٔ دَ جناتو څه وجود وے - نو ضرور به په نظر راتلل ۔

حالانکه دَ هغوئ دا خبره خلاف عقل او خلاف قرآن او حدیث ده - قرآن پاک کښې دَ جناتو او شیاطینو تقریبا یو سل اته ویشت ځایه ذکر راغلے دے - چه دَ جناتو او شیاطینو دَ وجود قطعي او پخته دلیل دے - دَ اهل اسلام مخکښې دَ قرآن پاک نه پس هیڅ ګنجائش نهٔ پاتے کیږي - پاتے شو حدیث کښې - نو حضور صلی اللہ علیه وآله وسلم دَ جناتو او شیاطینو په سوونو او زرګونو

Maktaba Tul Ishaat.com

ځله ذکر کړے دے ۔ چه اهل علم ےٌ احادیثو کښې سنه ملاحظه کولے شی ۔

عقلی طور باندے دا وئیل چه جنّات او شیاطین (پیریان او شیطانان) مونږ ته په نظر نهٔ راځی ۔ ځکه مونږ دَ دے وجود نه منو ۔ دا خبره خلاف عقل ده ۔ ځکه چه دُنیا کښې ځومره خیزے داسے دی ۔ چه نظر کښې نهٔ راځی ۔ خو عوام او خواص ئے تسلیموی مثلاً دَ انسان څه درد کښې مبتلا کیدل ۔ بل ته په نظر نشی راتلے سِوا دد ے نه چه خپله درد کښې مبتلا سړے دَ هغے ذکر اوکړی کل په نظر راځی ۔ دَ هغے خوشبوئی کیدے شی ۔ خو په نظر نهٔ راځی ۔ صرف بوئیولو سره معلومیږی ۔ چه هغے کښې خوشبو موجود ده ۔ دغسے ایټمی ذرات چه لوے تجربا تو نه پس محسوسیږی او تسلیم کیږی ۔ بیا مزید تجربا تو نه پس هغه دَ تباهئ سامان جوړولے شی ۔ دُنیا کښې چه کوم پروګرام براه راست ټیلی کاسټ کولے شی هلته مخے ته هیڅ څیز نهٔ وی ۔ اصل پروګرام دَ خلقو مخکښې په نظر راتلونکی نهٔ وی نه په زر کونه میلو نه لرے هم مواصلاتی ذرایعو سره عکس بندی کوی ۔ اډیو او ویډیو کسټ کښې آواز بند کیدے شی ۔ خو مشین باندے چلولو نه بغیر دَ هغے وجود په نظر نهٔ راځی ، نن زمانه کښې داټول داسے مظاهر قدرت دی ۔ چه دَ هغے لیدو سره عقلمند انسان دَ الله تعالیٰ دَ هغے بیان کړده اشیاء نه انکار نشی کولے ۔ کوم چه نظر نهٔ راځی ۔

اوس پاتے شوه دَا مسئله چه دَ مذکوره اشیاؤ وجود چه

Maktaba Tul Ishaat.com

موجود قرائنُ او علاماتُ په وجه تسلیموی۔ ایا داسے علامات دَ پیریانو او شیطانانو (جنات او شیاطین) دَ موجود کیدو هم شته نو جواب دا دے: چه هاں! دا داسے علامات بلکه دے نه هم زیاتے موجود دی۔ ډیر علامات به تاسو دے کتاب "تاریخ جنات او شیاطین" کښے ملاحظه کړئ۔ یو علامات دا دے چه هر کله یو سړی باندے دَ جن یا پیری دَ یو پریت سورے او غورځیږی۔ او دا هغهٔ ته تکلیف رسوی۔ نو معلومیږی چه هغهٔ باندے د پیریانو اثر دے۔

دویم دا چه دَ جنات عامل چه دَ رفع جنات عمل کوی۔ او حاضر تو نه کوی۔ دا تسخیر جنات کوی۔ هغوی جنات وینی هم ــ او داسے لیدونکے دُنیا کښے په زرګونو او په لکھونو دی۔ دَ هغوی شهادت هم دَ ظاهر بین خلقو خلاف یو مضبوط دلیل دے۔

دریم دا چه ډیر خلق داسے دی۔ چه هغوی جنات لیدلی دی۔ دَ هغوی حرکات ئے مشاهده کړی دی۔ مولانا امداد الله صاحب هم خپله لائبریری کښے ناست خوځله بچپله دَ کتابونو اوړیدلو را اوړیدل لیدلی دی۔ او خوځله دَ لویو لویو اونو په ځوکو دَ اور یوه حصه په دویمه حصه حمله کولو باندے لیدلے ده.

څلورم دا چه کوم خلق کنډوالو کښے واړهٔ لوټے بول کوی په هغوی دَ جناتو حمله کول خو ډیر مشهور دی ــ ځکه چه دا ځایونه دَ جناتو مسکن (دَ اوسید وځایونه) دی

پنځم کوم خلق چه بعضے وختونو کښے څه مار وژنی ۔ او هغه مار جن وی ــ نو نور جنات مار جوړیدو وسره یا دَ غسے په هغے خلقو حمله

کوی۔ او داخیره ما دَ عوامونہ هم اوریدلے دہ۔

غرض داچہ دَجنّات او شیاطینو وجود باندے ډیر دلائل موجود دی. اللہ تعالیٰ ارشاد فرمائی : وَالْجَآنَّ خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ (۲۷/ الحجر) مونږ جنات دے۔ (خلقت انسانی) نہ مخکښے دَ تنبے دَ اور نہ پیدا کړی دی.

اللہ تعالیٰ مزید ارشاد فرمائی :

يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ فَانْفُذُوْا (۳۳/ الرحمٰن)

اے دَجن او انس ډلے کہ تاسو کښے طاقت شته چہ دَ آسمانونو اومزکے دَ اطراف نہ وتلو سره او تښتے نو تښتیدو سره اوملئے تاسو نہ شئ تښتیدے۔ خوغلبے سره او هغہ تاسو سره نشته ځکہ تاسو دَ اللہ مخکښے دَ پیش کیدو نہ نہ شئ تښتید ے.

او ارشاد خداوندی دے :

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنَ ٥

مونږ جنات او انسان نہ دی پیدا کړی مګر دَخپل عبادت دَ پاره مو پیدا کړی دی .

دے آیات نہ معلومیږی چہ څنګہ انسان یو مخلوق دے۔ او دَاللہ تعالیٰ دَ عبادت دَ پاره پیدا شوے دے۔ دغسے دجنّات مخلوق هم عبادت دَپاره پیدا شوے دے او قرآن دواړو دپاره دَ هدایت ذریعہ دہ۔ او حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم هم دے دُنیاتہ دواړو مخلوقاتو دَ پاره پیغمبر رالیږلے شوے دے

Maktaba Tul Ishaat.com

هاں! دا دَ الله تعالیٰ حکمت دے۔ چه دے دُنیا کښې جنّات او شیاطین دَ انسانانو دَ نظره پټ اوساتل۔ اګر که دَ جنّاتو تعداد دَ قرآن کریم دَ فرمان مطابق دَ انسانانو مقابله کښې ډیر زیات دے۔ چه هریو مخلوق ته دَ دویم مخلوق نه حرج نهٔ وی۔ آخرت کښې به معامله برعکس وی۔ هرکله چه انسان او جنّات جنت ته لاړ شی۔ نو انسان به جنات لیدے شی۔ خو جنات به انسان نشی لیدے۔ او دا دَ انسان دَ اشرف المخلوقات کیدو هم دلیل دے چه دُنیا کښې دَ جنات لیدو بغیر او هغوئ سره دَ انښتلو بغیر تسلّی سره د عبادت ذمه واری ادا وکړی۔ او جنت کښې بے بس نهٔ وی۔ که غواړی نو جنّات هم لیدے شی۔ فرښتے هم او دَ الله تبارك وتعالیٰ ذات پاك هم۔ هرکله چه دومره خصوصیات به جنت کښې جناتو ته حاصل نهٔ وی۔ والله اعلم۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ جنّاتو او شیاطینو دَ تاریخ دَ کتاب شروع

وصلّی اللّٰهُ علیٰ سیّدنا محمّد وعلیٰ اٰلهٖ وصحبهٖ وسلّم

الحمد للّٰهِ الحنان والمنان والصلوٰة والسلامُ علیٰ سیّدنا محمد المبعوث الی الانس والجان . اما بعد !

دا کتاب دَ شیخ امام بدرالدین شبلیؒ دَ کتاب آکام المرجان فی احکام الجان" خلاصه ده - مادَ دے نوم لقط المرجان ایښے دے مذکورة الصدر کتاب ماحسب منشاء مختصر کړے هم دے - او اضافات هم کثرت سره کړی دی

وجود جنّات

دجن معنیٰ او تعریف :-

ابن درید رح (محمد بن حسن ازدی امام الشعراء واللغات سن وفات ۳۲۱ھ) فرمائی :

جنات د انسانانو نه یو جدا مخلوق دے - ویلے شی دا مخلوق دَ شپے پټ کړل - او په هغے خوارهٔ شول او هغه ئے پټ کړل - هرکله چه جن دَ پټولو معنیٰ سره استعمال شی - نو دَ هغے تولو معنیٰ یوه ده . هر هغه څیز چه تا نه مخفی وی - هغه تا نه پټ دے - رو سره دَ دے لفظ جن یا جنّات نوم کیښودے شو - جنّه - جنّ او جان ټول یو څیزدے او جن دجنّاتو نه دَ یو قسم نوم دے -

Maktaba Tul Ishaat.com

جِن څوک دی؟

حضرت ابوعمر الزاهد (علامه محمد بن عبد الواحد بغدادی ۳۴۵ھ) فرمائی: جن دَ جنّات سپی او دَ پریوتے درجے جنات دی.

جانّ څوک دی؟

جوهری (ابراهیم بن سعید ابواسحٰق محدّث عظیم بغدادی سنهٔ وفات ۲۴۷ھ) فرمائی: جان دَ جناتو پلار (ابوالجن) دے.

جن ته دَ جن وئیلو وجه:

ابن عقیل حنبلیؒ (محمد بن عقیل بغدادی ظاهری ابوالوفاؒ عالم العراق شیخ الحنابله) فرمائی: جن ته جن حُکم وائی چه هغوی پټ اوسی۔ او دَ سترګو نه پټ وی. (کتاب الفنون)

شیطان څوک دے؟

علامه ابن عقیل فرمائی: شیاطین دَ جناتو هغه قسم دے چه دَ الله تعالیٰ نافرمان دی۔ او دوئ دَ ابلیس ملعون دَ اولاد نه دی.

مردة څوک دی؟

علامه ابن عقیل فرمائی: مردة انتهائی سرکش او دَ انتهائی ګمراه قسم جنات دی.

دجنات درجات:۔

حافظ عبدالبر (یوسف بن عبدالله بن محمد قرطبی مالکی ابوعمر مورخ، ادیب محقق عظیم مصنف کتب کثیره، حافظ المغرب

Maktaba Tul Ishaat.com

سن وفات ۳۶۶ھ فرمائی: دَ اهل کلام او اهل زبان په نزد دَ جناتو څو درجات دی۔ هرکله چه دوی صرف دَ جن لفظ ذکر کوی نو هغې نه به صرف جن مراد وی۔ که هغوی هغه جن ذکر کړی کوم چه انسانانو سره سکونت لری نو دَ عامر لفظ به ذکر کوی او دَ عامر جمع عُمّار ده۔ که مخې ته راتلونکی جنات مراد واخلو نو دَ ارواح لفظ به استعمالوو۔ که شریر او سرکش وی نو هغوی ته شیطان ویلے شی۔ او که دے نه هم مخکښے وتلے وی۔ او معامله ډیره خطرناکه وی۔ نو هغه ته عفریت وائی.

دَ جناتو په وجود ټول مسلمانان متفق دی:

شیخ تقی الدین ابن تیمیهؒ فرمائی چه طوائف مسلمین نه نه هیچا هم دَ جناتو (پیریانو) د وجود نه انکار نهٔ دے کړے اکثر کفار هم دَ دوی په وجود قائل دی۔ ځکه چه دَ جناتو د وجود متعلق دَ انبیاء کرامو ارشادات دَ تواتر حد ته رسیدلی دی۔ چه دَ هغې یقینی طور سره معلومیدل لازمی دی۔ چه عوام ئے هم پیژنی او خواص ئے هم پیژنی۔ دَ جاهلو فلسفیانو معمولی شان جماعت نه علاوه جناتو نه هیڅوک هم انکار نهٔ کوی.

دَ فرقهٔ قدریه رائے:-

دَ قاضی ابوبکر یا قلانی (محمد بن الطیب بن محمد قاضی متکلم اسلام بغدادی خپله زمانه کښے دَ مذهب اشاعره سرخیل متوفیٰ ۴۰۳ھ) فرمائی: دَ فرقهٔ قدریه دَ قدیم زمانے اکثر حضرات خو د جناتو دَ وجود قائل دی۔ لیکن دَ موجوده زمانے دا د دله انکار

Maktaba Tul Ishaat.com

کوی ۔ او څه خلق دَ هغوئ نه اوس هم دَ دوئ د موجود کیدو قائل دی ۔ او وائی: چه دوئ دَ خپل رقیق (باریك) جسامت په وجه دُوئ کښے دَ نور دَ شعاع تیریدو په سبب په نظر نهٔ راځی او دُوے کښے بعضے افراد وائی ۔ چه جنات په نظر نهٔ راځی ۔ ځکه دَ دوئ څه رنګ نه وی (ځنګه چه د هوا څه رنګ نهٔ وی) نو ځکه په نظر نهٔ راځی .

د جنّاتو ابتداء

جنّات حضرت آدمؑ نه دوه زره (۲۰۰۰) کاله مخکښے پیدا شو

حضرت عبدالله بن عمرو بن عاصؓ فرمائی :۔

خُلِقَ الْجِنُّ قَبْلَ اٰدَمَ بِاَلْفَیْ عَامٍ عے

جنات دَ حضرت آدم علیه السلام نه دوه زره کاله مخکښے پیدا شو. (المبتداء اسحٰق بن بشیر (منه)

فائده :۔ دَ دے راوی ابوحُذیفه بن بشر ضعیف او متروك دے (میزان الاعتدال ذهبی ۱/۱۸۴ ترجمه ۷۳۹)

د انسانانو نه مخکښے په مزکه جنّات اوسیدل :۔

حضرت ابن عباسؓ فرمائی: جنّات په مزکه باندے او فرښتے په آسمان اوسیدلے ۔ او دا د آسمان لو مزکے ابادی وه ۔ دَ هر آسمان جلا فرښتے وے ۔ او دَ هر آسمان والو مونځ، تسبیح او دُعا مقرر وه او هر پورته آسمان والا دَ لاندے آسمان والو نه زیات دُعا کوونکی، زیات

مونځ او تسبیح کوونکی وو۔ نو دَ آسمان آباد کوونکے فرښتے وے او دَ مزکے جنّات ۔ (پیریان)

فائده :۔ دا روایت حضرت ضحاکؒ نه روایت کوونکے جویبر بن سعید ابوالقاسم بلخی مفسر دے۔ چه دَ انتها درجے ضعیف راوی دے (تقریب التهذیب ۱/ ۱۳٦، میزان الاعتدال ۱/ ۴۲۷)۔

دَ ابوالجنّات خواهشات :۔

حضرت ابن عباسؓ فرمائی: کوم وخت چه الله تعالیٰ ابوالجنّات سموم دَ اور دَ شعلے نه پیدا کړو۔ نو ورته ئے اوفرمائیل ته څه خواهش اوکړه ۔ هغهٔ اووے زما خواهش دا دے۔ چه مونږ دے خپله خوو نه وینو۔ او مونږ دے څوک نه وینی۔ او مونږ د مزکه کښے پټ یو۔ او زمونږ بوډا دے هم ځوانیدو سره فوت کیږی ۔ نو د هغهٔ دا خواهش پوره کړے شو۔ ځکه هغوئ خپله خووینی ۔ لیکن نورا ته په نظر نهٔ راځی ۔ او هر کله چه مری ۔ نو مزکه کښے غائب شی ۔ او دَ هغوئ بوډا هم فوت کیږی نه خو ځوانیدو سره ۔ یعنی بچے آخری عمر ته رسی ۔ دَ غسے دَ هغوئ بوډا ځوانیدو سره مری ۔

ابلیس دَ کله نه په مزکه اوسیدل شروع کړل :۔

جویبر او عثمان خپل سند وړو سره روایت کوی ۔ الله تعالیٰ جنّات پیدا کړل۔ او دَ مزکے دَ آبادولو حکم ئے ورکړلو۔ نو هغوئ دَ الله تعالیٰ عبادت کښے مشغول شول ۔ حتیٰ چه یوه اوږده موده تیره شوه۔ نو هغوئ دَ الله تعالیٰ نافرمانی شروع کړه۔ او خون ریزی ئے کوله۔ دَ هغوئ یو بادشاه وو۔ دَ هغهٔ نوم یوسف وو،

Maktaba Tul Ishaat.com

هغوئ اووژلو۔ نو الله تعالیٰ په هغوئ دَ دویم اسمان دَ فرښتو یو لښکر راولیږلو۔ دے لښکو ته ئے جِنّ وے۔ هغوئ کښے ابلیس هم وو۔ چه دَ څلورزره لښکر سردار وو۔ دوئ دَ اسمان نه راکوز شول۔ او په مزکه ئے دَ جن ټول اولاد تباه کړ۔ او هلته نه ئے جلاوطن کړ۔ او دَ سمندر جزیرو طرفته ئے او تښتول۔ او ابلیس خپل لښکر سره په دے مزکے اوسیدل شروع کړل۔ په دوی عمل آسان شو۔ او په مزکه استوګنه ئے خوښه کړله (تفسیر جویبر، او تفسیر عثمان بن شیبه)

محمد بن اسحاق دَ حبیب بن ابی ثابت (تابعی فقیه متوفی ۱۱۹ھ) نه روایت کوی۔ چه ابلیس (شیطان) خپل لښکر سره په مزکه دَ حضرت ادم علیه السلام نه څلویښت کاله مخکښے راتلو سره اقامت اختیار کړے وو۔ (تاریخ محمد بن اسحٰق)

فرښتو دادم علیه السلام په تخلیق ولے اعتراض اوکړو؟

حضرت مقاتل رح او جویبر رح دَ ضحاک رض نه روایت کوی۔ چه ابن عباس رض فرمائیلی دی: کله چه الله تعالی دَ حضرت آدم علیه السلام دَ پیدا کولو اراده اوفرمائیله۔ نو فرښتو ته ئے اوفرمائیل:

اِنِّیْ جَاعِلٌ فِی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً

زهٔ مزکه کښے یو جانشین جوړوونکے یم۔

نو فرشتو عرض اوکړ:

اَتَجْعَلُ فِیْهَا مَنْ یُّفْسِدُ فِیْهَا وَیَسْفِكُ الدِّمَآءَ

آیا تاسو مزکه کښے هغه څوک پیدا کول غواړئ۔ چه هغې کښے به فساد

Maktaba Tul Ishaat.com

کوی او وینے بہ یھوی.

حضرت ابن عباس فرمائی: دا فرشتے پہ غیب نۂ پوهیدے بلکہ هغوئ دَ آدم دَ اولاد اعمال دَ جناتو پہ اعمالو قیاس کڑے وو- ځکہ هغوئ اووے- ایا تا سو مزکہ کښې هغہ څوك پیدا کوې چہ فساد بہ کوی- څنګہ چہ جناتو فساد اوکہ- او وینے ئے او بهولے- او دا ځکہ چہ هغوئ خپل یو بادشاه قتل کڑے وو- چہ دَ هغۂ نوم یوسف وو- (تفسیر مقاتل بن سلیمان، تفسیر جویبر (مترجم))

(فائده) جناتو کښې نبی وو یا نۂ وو- دَ هغې مکمل تفصیل دَ دے کتاب پہ را تلونکو صفحاتو کښې راروان دے.

ابن عباس رض فرمائی الله تعالیٰ جناتو طرفتہ یو رسول راولیږلو چہ هغۂ هغوئ تہ دَ الله تعالیٰ دَ اطاعت حکم اوکڑلو- او دا چہ هغۂ سره بہ څوك نۂ شریکوی- او یو بل نۂ قتلوی- هر کلہ چہ هغوئ دَ الله تعالیٰ اطاعت پریښودلو- او قتلول ئے شروع کڑل- نو هغې وخت تہ فرشتو ویلی وو: اَتَجْعَلُ فِيهَا....(آیا تاسو مزکہ کښې هغہ څوك پیدا کول غواړئ- چہ مزکہ کښې بہ فساد کوی او وینے بہ بهوی.)

(فائده له علامه سیوطي رح)- زهٔ وایم: دَ مذکوره دواړو روایتونو سندونہ بناوټی دی- ابوحذیفہ کذاب دے، جویبر متروك دے- او ضحاك دَ حضرت ابن عباس نہ سماع نۂ دے کڑے لیکن حاکم رح (ملک ۴۰۵ھ) مستدرك کښې دَ ابن عباس رض نہ دا روایت کڑے

Maktaba Tul Ishaat.com

دے ۔ او دے تہ ئے صحیح هم اووے (مستدرك حاکم ۲/۲۶۱ ۔ امام ذهبی هم د ائصحیح برقرار ګرځولے دہ)

چہ حضرت ابن عباس رض د الله تعالیٰ د دے ارشاد : اِنِّیْ جَاعِلٌ فِی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً قَالُوْا اَتَجْعَلُ فِیْهَا مَنْ یُّفْسِدُ فِیْهَا وَیَسْفِكُ الدِّمَآءَ ، تفسیر کښے فرمائی :۔ د حضرت ادم علیه السلام د پیدائش نه دوه زره ۲۰۰۰ کاله مخکښے مزکه کښے جنات اوسیدل ۔ هغوئ مزکه کښے فساد شروع که ۔ او خونریزئ ئے اوکړه ۔ نو الله تعالیٰ د فرښتو یو لښکر را ولیږلو ۔ چه هغوئے ئے اووهل ۔ او د سمندر جزیرو ته بوتلو سره ئے پریښودل ۔ بیا چه الله تعالیٰ او فرمائیل اِنِّیْ جَاعِلٌ فِی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً قَالُوْا اَتَجْعَلُ فِیْهَا مَنْ یُّفْسِدُ فِیْهَا وَیَسْفِكُ الدِّمَآءَ .

یعنی زهٔ زمکه کښے یو نائب ضرور جوړوم ۔ نو هغوئے اووے آیا تاسو زمکه کښے هغه خلق پیدا کوئ چه فساد به کوی ۔ او هغے کښے به خونریزی کوی ۔

ح څنګه چه جناتو کړے وه ۔

الله تعالی او فرمائیل :۔

اِنِّیْ اَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ

یعنی زهٔ ښه پوهیږم په هغے چه تاسو نهٔ پوهیږئ ۔

جنات په کومه ورځ پیدا شو؟

د حضرت ابو العالیه رحمه الله نه روایت دے ۔ الله تعالیٰ فرښتے د چار شنبے (بدھ) په ورځ پیدا کړے ۔ او جنات (یعنی پیران) ئے د زیارت په ورځ

Maktaba Tul Ishaat.com

پیدا کړل۔ او حضرت آدم علیه السلام ئے د جمع په ورځ پیدا کړه

بیا د جناتو یو قوم کفر اختیار که۔ نو فرشتے هغوئے طرف ته زمکے ته

راکوز ید ے۔ او هغوئے سره بے ئے جنګ کولو۔ او زمکه کښے بے

خونریزی کیدله۔ او فساد بہ کید لو۔ په دے قیاس کولو سره فرشتو

وئیلی وو۔ چه تاسو زمکه کښے هغه څوك پیدا کوئے۔ چه فساد به

کوی ۰ (ابن جریر (تفسیر طبری) ابوحاتم، کتاب العظمة ابو الشیخ (منه)

کوم مخلوقات مخکښے او کوم روستو پیدا شو؟

حضرت وهیبؒ د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کوی۔ الله

تعالیٰ جنت د دوزخ نه مخکښے، خپل رحمت د غضب نه مخکښے،

آسمان د زمکے نه مخکښے، نمر د سپوږمۍ او ستورو نه مخکښے

ورځ د شپے نه مخکښے، سمندر د خشکے نه مخکښے، مزکه د غرونو

نه مخکښے، فرشتے د جناتو نه مخکښے او جنات د انسانانو نه

مخکښے او نر د ماده نه مخکښے پیدا که ۰ (کتاب العظمة ابو الشیخ (منه)

د جن او انسان اصل

الله تعالیٰ ارشاد فرمائی:

وَالْجَانَّ خَلَقْنَاهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَارِ السَّمُوْمِ (سورة الحجرات ۲۷)

او موږ د حضرت آدم علیه السلام د پیدائش نه مخکښے جن د اور نه

پیدا کړے وو۔ (چه د غایت لطافت په وجه) یو ګرمه هوا وه)

وَخَلَقَ الْجَانَّ مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ ۝ (سورة الرحمٰن ایت ۱۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

اوجنات موږ خالص اور نه پیدا کړل (چه په هغې کښې لوګے نۀ وو)
او ابلیس نه حکایت کولو سره الله تعالیٰ حکایت فرمائی:
خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ (سورة اعراف ایت ۱۲)
تا سو زۀ د اور نه پیدا کړم او آدم علیه السلام د ګټے او خاورے
نه پیدا کړے دے.

فائده :- قاضی عبدالجبار معتزلی وائی: اور د جناتو اصل
کیدل د دلائل سمعیه نه ثابت دی عقل نه ثابت نۀ دی (منه)

جنات چه د اور نه پیدا شو نو شهاب (د اور لمبے) ئې څنګه سوزولے شی؟

ابوالوفاء ابن عقیلؒ وائی: یو سړی د جناتو متعلق سوال او کړه
او وئې وئیل: الله تعالیٰ د دوئ متعلق فرمائیلی دی - چه د اور نه
پیدا شوی دی - او دائۀ هم فرمائیلی دی چه شهابے (د اور لمبے) به
هغوئ ته ضرر هم رسوی او سوزوی ئې هم - نو دا اور او ر څنګه
سوزوی؟

جواب: الله تعالیٰ شیاطین او جنات اور طرف ته داسے منسوب
کړی دی - څنګه چه انسان خاورے نه اخستلے شوے خټے او ټینګیدونکی
خاورے طرف ته منسوب کړے دے - چه هغې نه د انسان حق کښې مراد
دادے - چه د هغۀ اصل اخیستلے شوے خټه ده - حالانکه انسان
حقیقت کښې اخلے شوے خټه نۀ ده - نو د غسے جنات هم اصل کښې د اور
نه پیدا شو.

د دے دلیل د جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد گرامی دے:
عَرَضَ لِيَ الشَّيْطٰنُ فِيْ صَلٰوتِيْ فَخَنَقْتُهٗ فَرَاَيْتُهٗ بَرْدَ رِيْقِهٖ

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلٰی یَدِیۡ ط

ترجمہ:۔ شیطان مونږ کښے زما مقابله اوکړه۔ نوما هغه دَ مرئ نه اونیولو۔ او ما دَ هغه دَ لعاب یخوالے خپل لاسو باندے محسوس که (مسند احمد ۵/۱۰۴-۱۰۵، دلائل نبوت بیهقی ۷/۹۹۔ باب ماجاء فی الجنی او الجنی الذی .... او فتح الباری ۶/۴۵۷ مع بخاری شریف کتاب احادیث الانبیاء او مسلم شریف باب جواز لعن الشیطن فی اثناء الصلوٰة هم ملاحظه کړی۔ درّ منصور ۵/۳۱۳، سنن الکبریٰ بیهقی ۲/۲۱۹، کنزالعمال ۱۲۸۶

نوکوم چه خپله سوزونکے اور دے۔ دَ هغے لعاب یخ کیدے څنګه شی۔ بلکه د سوه دَ هغه لعاب نشی کیدے۔ نو مونږ چه وئیلی دی۔ دَ هغے صحت معلوم شو۔ آه۔

او حضور صلی الله علیه وآله وسلم هغوی ته هغو اوبو سره تشبیه ورکړے ده۔ چه دَ کوهی کنلو وخت راوځی۔ او که هغوی دا سے اشکالو باندے نه وے، چه د اور نه دی۔ نو دَ هغوی د صورتونو ذکر او د شغلو او بخرو نه کیدو ذکر به ئے ولے فرمائیلو۔

قاضی ابوبکر (باقلانی) فرمائی: جنات دَ اور نه د پیدا کیدو په وجه مونږ هغوی کښے غور او فکر نه کوو۔ چه الله تعالیٰ هغوی دَ انسانانو مخکښے ظاهر کړل، دَ هغوی اجسام ئے غټ کړل۔ او هغوی د پاره ئے داسے صفات پیدا کړل۔ چه دَ اور د صفاتو نه زائد وی او هغوی دَ خپل اور کیدو نه خارج شی او هغوی د پاره الله تعالیٰ مختلف شکلونه او صورتونه پیدا کړل۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دجنّاتو شکلونه

قاضی ابوالعلی الفراء فرمائی : دجناتو شکلونه مختلف وی۔او جسمے یو دَ بل په شان وی۔ او دا هم درست د ه ۔چه هغوی لطیف دی۔ او دا هم درست ده چه هغوے کثیف وی۔ معتزله ددے مخالف دی۔ هغوے وائی چه دَ هغوے اجسام لطیف دی او دَ هغوے د لطافت په بناء مونږ هغوے نشو لیدے۔

جنّات په نظر راتلے شی :۔

قاضی ابوبکر باقلانی رح فرمائی: مونږ وایو۔کومو خلقو چه جنّات لیدلی دی۔ هغوے واقعی طور سره لیدلی دی۔ ځکه چه الله تعالیٰ دَ هغوے رویت (شکل ښکاره کیدل) پیدا کړے دے۔او هغه څیز چه هغے دَ پاره الله تعالیٰ رویت نهٔ دے پیدا کړے۔ هغه څوك نشی لیدے۔ دا جنّات مختلفو شکلونو کښے دی ۔ او نرم دی۔

اجسام لطیف دی :۔

اکثر معتزله وائی ۔ دَ هغوے اجسام لطیف او بسیط (واسع) دی قاضی ابوبکر باقلانی رح فرمائی : زمونږ په نزد دا هم درست دی کهٔ په دے زمونږ مخکښے دَ قرآن اوحدیث څهٔ دلیل بیا مندے شی هر کله چه هیڅ دا سے دلیل نشته ۔ چه مونږ ے دے باب کښے پیژنو. زهٔ (علامه جلال الدین سیوطی رح فرمائی) وایم ؛ امام مسلم رح دَ حضرت بی بی عائشے رضی الله عنها نه روایت کړے دے ۔ بی بی مبارکه

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمائی: چه جناب رسول اکرم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ارشاد فرمائی:

خُلِقَتِ الْمَلَآئِكَةُ مِنْ نُوْرٍ وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ (صحیح مسلم کتاب الزهد حدیث نمبر ۶۰ ، مسند احمد ۶/ ۱۵۳ ، ۱۶۸ ، جامع الصغیر حدیث ۳۹۳۶ ، مجمع ۸/ ۱۳۴ ، در منثور ۶/ ۱۴۳ ، مشکوة ۵/ ۵۷ ، مصنف عبد الرزاق ۲۰۹۰۴ ، الحبائك فى اخبار الملائك ۹ ، زاد المسیر ۳/ ۲۹۹ ، ۵/ ۲۴۷ ، تفسیر ابن کثیر ۳/ ۲۸۸ ، ۵/ ۱۶۳ ، ۷/ ۴۶۲ ، تفسیر قرطبی ۱۰/ ۲۴ ، الاسماء والصفات ۳۴۳ ، ۳۸۶ ، هدایه والنهایه ۱/ ۵۴ ، ۵۵ ، تاریخ جرجان ۱۰۳ ، تهذیب التاریخ ابن عساکر ۲/ ۳۴۳ .

ترجمه :- فرښتے ئے د نور نه پیدا کړے ، جنات د شعلہ زن اور نه او ادم علیہ السلام ئے د هغے نه پیدا کړ - چه د هغے تاسو ته قرآن پاک کښے ذکر شوے دے (یعنی د خاورو نه) .

فرمان خداوندی دے :

وَخَلَقَ الْجَانَّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ ط

ترجمه :- او جنات ئے د اور د شعلے نه پیدا کړل .

د دے تفسیر کښے ابن عباس رض ارشاد فرمائی : مَارِجٍ مِنْ نَارٍ نه مراد د اور شعله ده (فریابی ، ابن جریر ، ابن المنذر ابن ابی حاتم (منه)

او حضرت مجاهد د مذکوره فرمان خداوندی : وَخَلَقَ الْجَانَّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ ط تفسیر کښے فرمائی : جنات ئے د زیړے او شنے

Maktaba Tul Ishaat.com

شغلے نه پیدا کړل چه دا اور لمبه کیدو وخت کښې پورته سطح باندې په نظر راځی (فریابی، عبدبن حمید (منه)).

حضرت ابن عباس رض فرمائی: ابلیس دَ فرشتو دَ قبیلو نه د لمرهٔ قبیلے نه وو-چه هغهٔ ته به ئے جِنّ وے- دے دَ فرښتو نه دَ لنبې دَاور نه پیدا کړے شو- او ابن عباس رض اوفرمائیل: هغه جنات چه دَ هغوئ ذکر قرآن پاك کښې شوے دے- دَ شغله زنت اور نه پیدا کړے شوے دے (تفسیر ابن جریر طبری (منه))

جنّات ئے دَ خوبصورت اور نه پیدا کړل.

فرمان خدائے ندی:

وَالْجَانَّ خَلَقْنَاهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ ط (سورة الحجر آیت ۲۷)

ترجمه: او مونږ جنات (د حضرت ادم علیه السلام) دَ پیدا ئینبت نه مخکښې دَ شغله زن اور نه پیدا کړل- (ابن ابی حاتم (منه))

جنّات دَ دوزخ دَ اور او ۲۷ ویشتمے حصے نه پیدا شو:-

ابن مسعود رض فرمائی: دَ بعضے هغه اور چه دَ هغے نه جنّات پیدا کړے شول (فریابی ابن جریر، ابن ابی حاتم، طبرانی، حاکم و صححه، شعب الایمان، بیهقی (منه))

جن او شیاطین دَ لمر دَ اور نه پیدا شو:-

حضرت عمرو بن دینار رح فرمائی: جنّات او شیاطین د نمر دَ اور نه پیدا کړے شو- (ابن ابی حاتم (منه))

۰۰۰۰۰

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ جنّاتو اقسام

دَ جنّاتو درے قسمونه :-

(حدیث) حضرت ابوالدرداءؓ فرمائی: جناب رسالت مآب صلی اللہ علیه وآله وسلم ارشاد او فرمائیلو:

خَلَقَ اللّٰهُ الْجِنَّ ثَلَاثَةَ اَصْنَافٍ: صِنْفٌ حَيَّاتٌ وَعَقَارِبُ وَخِشَاشُ الْاَرْضِ وَصِنْفٌ كَالرِّيْحِ فِي الْهَوَاءِ، وَصِنْفٌ عَلَيْهِمُ الْحِسَابُ وَالْعِقَابُ (مکائد الشیطن، ابن ابی الدنیا، الهواتف ابن ابی الدنیا (۱۵۲) ص۱۱۲، المجروحین ابن ابی حبان ۳/ ۱۰۷، طبرانی ۲۲/ ۲۱۴، حاکم ۲/ ۴۵۶، بیهقی الاسماء والصفات ص۳۸۸، نوادر الاصول حکیم ترمذی کتاب العظمة ابوالشیخ ابن مردویه (منه) درّ منثور ۳/ ۱۴۷، اتحاف السادہ ۷/ ۲۸۹، حدیث منکر میزان الاعتدال، الجامع الصغیر، حدیث نمبر ۳۹۳۱، المطالب العالیه ۲۴۰۱، کنز العمال ۱۵۱۷۹، تذکرة الموضوعات قیسرانی ۴۲۵، حلیهٔ ابونعیم ۵/ ۱۳۷، الجامع الکبیر ۱۳۹۶۷).

ترجمه:- الله تعالیٰ جنّات په درے قسمه پیدا کړی دی یو قسم کښے ماران، لړم او دَ زمکے چنجی مینږی دی - او یو قسم فضا کښے دَ هوا په شان دی - او یو قسم هغه دی چه په هغے حساب او عذاب دے۔

(فائده له مؤلف نه):- حافظ سهیلیؒ فرمائی: شاید دا دریم قسم هغه دے - چه نه خوری، نه څکی که دا درست وی چه جنّات

Maktaba Tul Ishaat.com

خوړی ځکی نه۔

دَ جناتو دَ درے قسمونو یو بل حدیث:

حضرت ابو ثعلبه خُشَنِیؓ رضی اللّٰہ تعالیٰ عنه فرمائی: جناب رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اَلْجِنُّ ثَلَاثَةِ اَصْنَافٍ فَصِنْفٌ لَهُمْ اَجْنِحَةٌ يَطِيْرُوْنَ بِهَا فِي الْهَوَآءِ وَصِنْفٌ حَيَّاتٌ وَكِلَابٌ وَصِنْفٌ يَحِلُّوْنَ وَيَظْعَنُوْنَ ط (نوادر الاصول ابن ابی حاتم، طبرانی ابوالشیخ۔ حاکم الاسماء والصفات بیهقی (منه) حدیث صحیح جامع الصغیر حدیث ۳٦٥۱، مجمع الزوائد ۸/۱۳٦، جامع کبیر حدیث ۱۰۳٦ بحواله لالکائی (ابوالقاسم هبة الله ابن الحسن (۳۱۸ هـ وغیره، دیلمی ۲٦۴۳ - ۲/۱۲۳، کنز العمال ۱۵۱۷۸، اتحاف السادة ۷/۲۸۹، ۲، تفسیر ابن کثیر ٦/۴۸۷، مستدرک ۲/۴٥٦، الجامع الصغیر ۳٦٥۱، ابن حبان ۲۰۰۷، مشکل الاثار ۲/ ۹۵، مشکوٰة ۴۱۴۸ حلیه ابونعیم ۵/ ۱۳۷، قرطبی ۳۱۸)

ترجمه: د جناتُ درے اقسام دی۔ دَیو قِسم وزرونه دی چه هوا کښے الوځی۔ او یو قسم ماران او سپی دی۔ او یو قِسم اخوا دیخوا منتقل کیږی۔

(فائده له مؤلف نه)۔ علامه سهیلیؒ فرمائی: دا آخری قِسم (چه پورته درجو کښے بیان شوے دے) دَ هغې جنات دی چه خپل شکلونه مختلف طور بانده بدلوی۔

- - - -

بعضے سپی جنات دی:-

حضرت ابن عباس رضؓ فرمائی: سپی دَ جناتو یو قسم دے او دا ضعیف قسم جنّات دی - چا سرہ چہ دَ خوراك پہ وخت سپے کینی - نو هغۀ تہ دے څہ واچوی یا لرے دے کړی۔

(ابوعثمان سعید بن العاص الرازی (منہ))

حضرت ابن عباس رضی اللہ تعالیٰ عنہ فرمائی: سپی دجیناتو یو قسم دی - کلہ چہ دوی ستا سو دَ خوراك پہ وخت راشی - نو هغوی تہ څہ واچوئ - ځکہ چہ دَ هغوی هم یو نفس دے۔

(ابوعثمان سعید بن العاص الرازی (منہ))۔

دَ حضرت ابوقلابہ رضی اللہ تعالی عنہ نہ روایت دے - چہ رسول اللہ صلی اللہ علیہ والہ وسلم ارشاد او فرمائیلو:

لَوْلَا اَنَّ الْكِلَابَ اُمَّةٌ لَاَمَرْتُ بِقَتْلِهَا وَلٰكِنْ خِفْتُ اَنْ اَبِيْدَ اُمَّةً فَاقْتُلُوْا مِنْهَا كُلَّ اَسْوَدَ بَهِيْمٍ فَاِنَّهُ جِنُّهَا اَوْ مِنْ جِنِّهَا۔)

ترجمه:- کہ دا سپی یو مخلوق نۀ وے - نو ما بہ دَ دوئ دَ قتلولو حکم کړے وو - لیکن ما سرہ ویرہ دہ - چہ زۀ یو مخلوق برباد نۀ کړم - تاسو هغوے کښے هر تور سپے قتلوئ - ځکہ چہ دا دَ شیطان یو قسم دے (صحیح مسلم کتاب المساقاة حدیث ۴۷، جامع ترمذی کتاب الصید باب ۱۶-۱۷، ابوداوٗد کتاب الاضاحی ۲۱، ابن ماجہ کتاب الصید باب ۲، ۴، سنن نسائی کتاب الصید باب ۱۰، سنن دارمی کتاب الصید باب ۳، مسند احمد ۳/ ۳۳۳، ۴/ ۸۵، ۵/ ۵۴

Maktaba Tul Ishaat.com

۵۲، ۵۷، ۵۸، ۵ ، طبرانی و ابو العلیٰ لہ حضرت بی بی عائشہؓ مثلہ، جامع الصغیر حدیث ۱۴۰۵۷ وصحیحہ بحوالہٴ ابوداوٴد شریف وترمذی شریف لہ حضرت عبداللہ بن مغفل رضی اللہ تعالیٰ عنہ) .

مختلف شکلونہ بدلول

او دَ انسان وغیرہ صورت کښے ظاہریدل

تور سپے شیطان دے :

دَ حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم نہ منقول دی چہ دَ تور سپی (دَ مونځ گذار مخے تہ) تیریدل مونځ ماتوی ۔ حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم تہ عرض اوشو ۔ دَ سور او سپین مقابلہ کښے تور سپی څہ جرم کړے دے ؟ حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ارشاد اوفرمائیلو

اَلْکَلْبُ الْاَسْوَدُ شَیْطَانٌ ط

ترجمہ: ځکہ چہ تور سپے شیطان دے ۔

(فائدہ) :- تور سپے شیطان دے ۔ او شیطان دَ اللہ تعالیٰ سرا سر نافرمان دے ۔ او شیاطین بہ دوزخ لہ ځی ۔ ځکہ دَ ھغوئ قتلول څہ گناہ نۂ دہ ۔ بلکہ دَ حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم پہ ارشاد دَ عمل کولو ثواب حاصلیږی . (امداد اللہ) (صحیح مسلم کتاب الصلوٰۃ حدیث ۲۵۶ ، سنن ابی داوٴد کتاب الصلوٰۃ باب ۱۰۹ ، سنن ترمذی کتاب الصید باب ۱۶ ، سنن نسائی کتاب القبلہ باب ۷ ، ابن ماجہ کتاب الاقامہ باب ۳۸ ، مسند امام احمد ۵ / ۱۴۹ ، ۱۵۱ ، ۱۵۶ ، ۱۵۸ ، ۱۶۰ ، ۶/۱۵۷ ، ۲۸۰ ، جامع الصغیر حدیث ۶۴۲۶ ، حدیث صحیح لہ حضرت عائشہ رض .

Maktaba Tul Ishaat.com

جنّات کوم کوم شکل کښې راتلے شي؟

جنات د ډیر صورتونه بدلولے شي - او انسان، چوپایه، مار لړم، اوښ، غوئے، چیلئ، اس، قچر، خر او د مارغۀ وغیره شکلونه اختیارولے شي.

د جنّاتو د قتلولو طریقه :-

د حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه نه روایت دے: رسول اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو

إِنَّ بِالْمَدِينَةِ جِنًّا قَدْ أَسْلَمُوا فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْ هٰذِهِ الْعَوَامِرِ شَيْئًا فَآذِنُوهُ ثَلَاثًا فَإِنْ بَدَا لَكُمْ فَاقْتُلُوهُ (مسلم شریف کتاب السلام حدیث نمبر ۱۳۹، سنن ابی داؤد شریف کتاب الادب باب ۱۶۱، موطا امام مالک کتاب الاستیذان حدیث ۲۳، مسند امام احمد ۱۲/۳)

ترجمه :- مدینه کښې څه کوم جنّات وو - هغوئ مسلمان شوی دی - اوس که تاسو هغوئ کښې څوک اووینئ - نو درے ځله تنبیه ورکړئ - که بیا هم هغوئ مخے ته راشي نو هغه قتل کړئ -

د جنّاتو د خپل صورت د بدلولو حقیقت :-

قاضی ابو العلیٰ حنبلیؒ فرمائی: شیاطینو ته د خپل صورت بدلولو او تبدیلئ هیڅ اختیار نشته - هاں! دا درسته ده - چه الله تعالیٰ هغوئ ته څه کلمات او خاص قسم څه فعل ښائي چه کله هغه فعل او کلمه استعمال کړي - نو الله تعالیٰ هغوئ د یو صورت نه بل صورت کښې بدل کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

نو دا وئیل چه شیطان (اوجن) خپل شکل او صورت بدلولو باندے قادر دی۔ دَ دے دَا معنیٰ وی۔ چه شیطان اوجن په هغه کلمه قادر دی۔ چه کله هم هغوے هغه کلمه اداء کړی۔ او خپل مخصوص حرکت اوکړی۔ نو الله تعالی هغوے دَ یو صورت نه دویم صورت ته منتقل کړی۔ او دَ هغوے فطرت کښے دا طریقه جاری ده.

لیکن بذات خود خپل ځان مختلفو اشکالو کښے ظاهرول دځناتو او شیاطینو دَ پاره محال دی۔ ځکه چه دَ هغوے خپل ذاتی صورت نه نورو صورتونو کښے منتقل کیدل دَ هغوے دَ بنیاد خلاف او دَ اجزاؤ تفریق دے۔ او هرکله چه دَ هغوے اجزاء نورو صورتونو کښے منتقل شی۔ نو دَ ږو مبنی صورت حیاة به باطل شی۔ او مجموعی سره دَ فعل وقوع به محال شی۔ نو دا (جنات او شیاطین) بذات خود خپل ځان ورته صورتونو کښے څنګه بدلولے شی؟

(قاضی ابو العلیٰ رح فرمائی: دَ فرشتو مختلف شکلونو بدلولو متعلق هم دا صورت دے۔ او دا چه دَ ابلیس باره کښے راغلی دی۔ چه هغه دَ سراقه شکل کښے ظاهر شو۔ او حضرت جبرائیل علیه السلام به دَ حضرت دحیه کلبی رضی الله تعالی عنه په صورت کښے اکثر طور سره راتلو۔ او په هغے خبره محمول ده۔ کومه چه مونږ مخکښے ذکر کړے ده یعنی الله تعالی په دا سے قول هغوے ته قدرت بخښی۔ چه دَ هغے وئیلو سره الله تعالیٰ دوئ دَ یو صورت نه دویم صورت کښے بدلوی

اه۔ (الحبائك فی اخبار الملائك مترجم اردو له امداد الله انور غفرله ص۴۳)

فائده:۔ مزید تفصیل دَ پاره دَ فرشتو عجیب حالات صفحه ۳۰۔۴۳

Maktaba Tul Ishaat.com

۴۳۱، ۴۳۲، ۴۳۳ ملاحظه کړئ.

غیلان جادوګر جنّات دي:

د حضرت عمر رضی الله عنه مخکښې د غیلان ذکر اوشو نو وے فرمائیل: هیڅوا کښې دا طاقت نشته چه هغه د الله ج پیدا کړده صورت بدل کړے شي. لیکن د انسانانو جادوګرو پشان دا جنات هم جادوګر دي. هرکله چه تاسو هغوئ اووینئ نو اذان کوئ. (مکائد الشیطان (منه) حدیث ۲، مصائب الانسان من مکائد الشیطان ابن مضلح مقدسي ص۲، اکام المرجان ص۳۳)

حضرت عبدالله بن عبید بن عمر رضی الله عنه فرمائي: چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم نه د غیلان باره کښې تپوس اوشو نو وے فرمائیل:

هُمْ سَحَرَةُ الْجِنِّ ط

ترجمه: دا جادوګر جنات دي. (مکائد الشیطان (منه) حدیث نمبر ۳ مُرسلًا، اکام المرجان ص۳۳).

هرکله چه غیلان په نظر راشي نو انسان څه اوکړي؟

حضرت سعد بن ابي وقاص رض فرمائي:

اُمِرْنَا اِذَا رَأَيْنَا الْغِيْلَانَ اَنْ نُّنَادِيَ بِالصَّلٰوةِ.

ترجمه: مونږ ته حکم شوے دے چه مونږ غیلان اووینو نو اذان دے اوکړو. (مکائد الشیطان (منه) حدیث نمبر ۱ بسند ضعیف، اکام المرجان ص۳۳، ص۳۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

حکایت :-

دَ حضرت ابن عباسؓ شاگرد حضرت مجاهدؒ فرمائی۔ ما چه به مونځ شروع کولو نو شیطان به زما مخے ته دَ ابن عباسؓ صورت اختیارولو سره راتلو۔ نو ما ته دَ ابن عباسؓ ارشاد را یاد شو۔ نو ما ځان سره یوه چاړه کیښودله۔ کله چه هغه زما مخے ته راغے نو ما په هغهٔ حمله اوکړه۔ او په چاړه مِ اووهلو چه دَ هغے تاب نهٔ راوړلو سره په مزکه یو دم راوغورځیدلو او دے واقعے نه روستو ما هغه هیڅکله او نهٔ لیدلو (ابوبکر الیا عتدی (منه))۔

دَ دوه ګوتو جن :-

حضرت عقبیؒ ذکر کوی چه دَ ابن زبیرؓ یو سړے دَ پالان کښتے، په کپړه اولیدلو۔ چه دَ هغهٔ قد صرف دوه ګوتے وو۔ هغهٔ ترے تپوس اوکه۔ چه څه څیز یئے؟ هغهٔ ورته اووے۔ زهٔ اذب (لنډ قد) یم۔ هغهٔ ورته اوفرمائیل: نو ته خو دَ جناتو نه یئے بیا په سر ئے په یوه ډنډه اووهلو۔ نو هغه اوتښتیدلو۔

بعضے سپی او اوښان دَ جناتو نه وی :-

قاضی ابوالعلی حنبلیؒ فرمائی: دَ حضور صلی اللہ علیه وآله وسلم دَ سپی متعلق ارشاد چه دا شیطان دے ددے څه مطلب دے؟ حالانکه دا معلومه ده چه سپے دَ سپی نه پیدا کیږی۔ دغسے دَ حضور صلی اللہ علیه وآله وسلّم دا اِرشاد دَ اُوښ باره کښے چه دا جن دے حالانکه هغه دَ اوښ نه پیدا کیږی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب :- دَ حضور اکرم صلی اللہ علیہ والہ وسلم دا خبرہ (دَ سپی او اوبنی متعلق) جنّاتو سرہ دَ تشبیہ پہ طور فرمائیلے دہ ځکہ تور سپے دَ باقی قسم سپو نہ زیات شریر او دَ تولو نہ کم فائدہ مند وی۔ او اوبنی مشکلات زغملو او بار بردارئ کښے دَ جناتو مشابہ دی۔

بعضے ماران جنّات دی :-

زہ وایم :

ابن نعم رح فرمائی : دَ جنّاتو درے قسمونہ دی (۱) چہ پہ هغوئے ثواب هم شتہ۔ او عذاب هم شتہ (۲) دَ آسمان او زمکے منځ کښے الوتونکی۔ (۳) ماران او سپی۔ (ابن ابی حاتم (منہ))

مسخ شوے جن دَ مار شکل کښے :-

ابن عباس رض فرمائی : جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ وَ آلہ وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

اَلْجِنَّاتُ مَسْخُ الْجِنِّ کَمَا مُسِخَتِ الْقِرَدَۃُ وَالْخَنَازِیْرُ مِنْ بَنِیْ اِسْرَائِیْلَ۔

ترجمہ : ماران دَ جناتو نہ مسخ شوی دی۔ ځنګہ چہ بنی اسرائیل دَ بیزوګانو او خنزیرانو شکل کښے مسخ شوی وو۔ (طبرانی، ابوالشیخ کتاب العظمۃ (منہ)، مسند احمد ۱/۳۴۸، جامع صغیر حدیث نمبر ۳۸۴۱ وصححہ، مجمع الزوائد، وقال رجالہ رجال الصحیح، طبرانی کبیر ۱۱/۳۴۱، درِّمنثور ۲/۲۹۰۔

حضرت ابن عباس فرمائی : ماران دَ مسخ شوی جناتو نہ دی ځنګہ چہ بیزو او خنزیر مسخ شوے انسان دے۔ جنات سپین

Maktaba Tul Ishaat.com

ماران دی - (ابن ابی حاتم (منه)) -

دَ جادوګر جنّاتو علاج :-

(الحدیث) حضرت جابرؓ فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ارشاد فرمائی:

عَلَيْكُمْ بِالدُّلْجَةِ فَإِنَّ الْأَرْضَ تُطْوٰى بِاللَّيْلِ فَإِذَا تَغَوَّلَتْ لَكُمُ الْغِيْلَانُ فَنَادُوْا بِالْأَذَانِ

ترجمه :- تاسو دَ شپې سفر کوئ ځکه چه شپه کښې مزکه (سفر دپاره) راغونډولے شي. هرکله چه بد راه کوونکے پیرے تاسو بے لارے کړی نو تاسو اذان کوئ. چه دَ هغے له برکته به دَ الله تعالیٰ فرښتے وارخطا مېډیان په لار کړی. (ابن ابی شیبه (منه)، مسند احمد ۳/۳۰۵، ۳۸۲، سنن ابوداؤد. کتاب الجهاد باب ۵۷، مستدرک حاکم کتاب الحج وقال علی شرطهما، سنن الکبریٰ او بیهقی کلهم ان حضرات انسؓ (جامع الصغیر حدیث نمبر ۵۵۲۳).

دَ جنّاتو خوراک څکاک او نکاح

قاضی ابوالعلی رحمة الله علیه فرمائی: دَ انسانانو په شان جنات هم خوراک څکاک کوی - او خپلو کښے نکاح هم کوی او ظاهر دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

عموماً تو دادی چه تمام جنّات دے کښے شریک دی ـ او دَ یو قوم رائے داده ـ دے نه پس دَ علماءُ اختلاف دے ـ بعضے وائی: دَ هغوے خوراک څکاک صرف بوییل او هوا بیامندل دی مرید ل او تیرول نه دی ـ او دادے خبره ده چه دَ لیل ئے نشته ـ

اکثر علماء داوائی: چه هغوئ طعام جوی او تیروی ئے ـ

او دَ علماءُ یو جماعت دے طرف ته تلے دے ـ چه تمام جنّات نه خوری، نهٔ څکی ـ دا خبره قابل دَ اعتبار نهٔ ده ـ

او یو جماعت دے طرفته تلے دے چه دَ جناتو یو قسم خوری او څکی، او یو قسم نهٔ خوری نهٔ څکی

حضرت وهب بن منبه رحمه نه دَ جنّاتو متعلق سوال اوشو!

آیا دوی خوری څکی؟ مری او خپلو کښے نکاح کوی؟

نو حضرت ورته اوفرمائیل: دَ دوئ څو اقسام دی کوم چه خالصة جن دی هغه خو هوا دی، نهٔ خوری، نهٔ څکی، نهٔ مری او نهٔ بچی راوړی ـ او دوئ کښے څو قسمه هغه دی ـ چه هغوئ خوری، څکی، مری او خپلو کښے نکاح کوی ـ دا هغه جنّات دی چه هغوئ نه بهوت، دیو او دَ دوی په شان جنات دی ـ (ابن جریر ومنا)

یزید بن جبار تابعیؒ فرمائی: دَ ټولو مسلمانانو دَ کورونو چتونو کښے دَ مسلمان جناتو کورونه اوسیږی ـ هر کله چه دَ هغے کور دَ افرادو طعام کیښودے شی ـ نو دوئ هم راکوز شی هغوئ سره خوری او هر کله چه دَ ماښام طعام کیښودے شی نو هم راکوزیدو سره هغوئ سره دَ ماښام طعام خوری او دَ دوی په ذریعه الله تعالیٰ

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ شریر جناتو نه دَ مسلمانانو حفاظت کوی . (ابوالشیخ کتاب العظمة مکائد الشیطان (منه) حدیث ۱۱۳۴ ، درمنثور ۳/ ۴۷.)

جنات څه خوری؟

حضرت علقمه رح فرمائی : ما ابن مسعود ته عرض اوکه تاسو کښې څوک دَ لیلة الجن په شپه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره وو ؟ وئے فرمائیل : مونږ کښې هیڅوک رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره نهٔ وو۔ لیکن مونږ یوه شپه حضور علیه السلام مکه کښې بیا نهٔ مندلو۔ نو مونږ اووے : شاید حضور صلی الله علیه وآله وسلم تاځانې دَ کفارو قابو کښې راغلے وی او حضور صلی الله علیه وسلم ئے تا دئ سره غائب کړے وی حضور صلی الله علیه وآله وسلم سره به څه شوی وی۔ مونږ مسلمانانو داشپه ډیر بد حالت کښې تیره کړه۔ هرکله چه سحر شو۔ نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم غار حِرا طرف ته تشریف راوړو۔ نو حضور علیه السلام ته صحابه کرامو رض دَ تیرے شپے دَ حالت اصلاع بیامنده۔ حضور صلی الله علیه وآله وسلم اوفرمائیل:

اَتَانِیْ دَاعِیَ الْجِنِّ فَذَهَبْتُ مَعَهٗ فَقَرَأْتُ عَلَیْهِمُ الْقُرْاٰنَ

ترجمه :- ماته یو جن راغے دَعوة ئے راکړو۔ زهٔ هغوے سره روان شوم۔ او دَ هغوے مخکښې مِ قرآن لوستو سره واوریدلو بیا حضور صلی الله علیه وآله وسلم مونږ بوتلو۔ دَ هغوے اثار ئے راته اوښودل۔ او دَ هغوے دَ اور آثار ئے راته اوښودل.

جناتو دَ حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم تہ دَ سفر توښہ اوغوښتلہ
حُکہ چہ هغوئ یوے جزیرے کښے اوسیدونکی جنات وو۔ نو
حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ورتہ او فرمائیل:

لَكُمْ كُلُّ عَزْمٍ ذُكِرَ اسْمُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْهِ

ترجمہ:۔ هر هغہ هډوکے ستاسو غذا دہ چہ پہ هغے دَ اللہ
تعالیٰ نوم اخستلے شوے وی۔ (یعنی هرکلہ چہ دَ حلال ځناورو
ذبح کولو پہ وخت بِسْمِ اللہ اووئیلے شی نو دَ هغے هډوکی دے
جنات خپل خوراک کښے استعمالوی) یا هډوکی سرہ چہ غوښہ
لږ یدلے وی۔ او دَ هر قِسم خاشنړہ ستاسو دَ چوپایہ وُ خوراک دہ۔
(مسند احمد، مسلم، ترمذی (منہ) ترمذی کتاب التفسیر سورہ ۴۶،
حدیث ۳۲۵۸، صحیح مسلم کتاب الصّلوٰۃ حدیث نمبر ۱۵۰، مسند
احمد ۴۳۶/۱، ۴۵۷، دارقطنی، مستدرک حاکم، بیهقی
۱/۱۱ او ۱۰۹، نصب الرّایہ ۱/ ۲۱۹، ابن کثیر ۲۷۵/۷، فتح
الباری ۷/۱۷۲ و (۶۷۰)، اتحاف السادہ ۴۶۲/۴).

فائدہ:۔ ترمذی شریف کښے دی: دَ جناتو خوراک هغہ هډوکی
دی۔ چہ پہ هغے بِسم اللہ او نہ وئیلے شی۔ دَ مسلم او ترمذی شریف
پہ حدیثونو کښے تطبیق داسے دے۔ چہ دَ مسلم شریف حدیث دَ
مسلمانو جناتو دَ پارہ دے۔ او دَ ترمذی شریف حدیث دَ کافرو
جناتو دَ پارہ دے۔ (منہ)

حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ارشاد فرمائی:۔

فَلَا تَسْتَنْجُوْا بِهِمَا فَاِنَّهُمَا طَعَامُ اِخْوَانِكُمُ الْجِنِّ ط

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: تاسو هډوکو او خاسنړو سره استنجاء مهٔ کوئ
داستاسو دَ جن رونړو طعام دے. (دَدے قسم حدیث
دے کتابونو کښے دے: بخاری کتاب الوضوء باب ۲۰، ۲۱، مسلم
طهارت حدیث ع۵۸، ابوداؤد طهارت باب ۴، ترمذی طهارت
باب ۱۴، ابن ماجه طهارت باب ۱۲، نسائی طهارت باب ۳۴، ۳۵،
دارمی کتاب الوضوء باب ۱۲، ۱۴، مسند احمد ۲/۲۴۷، ۲۵۰،
۵/۴۳۸.

علامه سهیلیؒ فرمائی: مذکوره قول چه پورته فائده کښے
ذکر شو صحیح دے. احادیث دَ دے تائید کوی.
(حدیث) حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے جناب رسول الله صلی الله
علیه وآله وسلم اوفرمائیل: ما دَ پاره کانړی تلاش کړه، راوړه
چه استنجاء کوم. ما دَ پاره هډوکے یا خاشنړ مهٔ راوړه. ما
عرض اوکړو چه خاشنړو او هډوکی څه تخصیص دے؟
ارشاد ئے اوفرمائیلو: دا دواړه دَ جناتو طعام دے. ماته دَ
نصیبین دَ جناتو یو وفد راغے. او دا نیک بخت جنات وو. هغوی
ماته دَ سفر توښه طلب کړه. نو ما هغوی دَ پاره الله تعالیٰ نه
دُعا اوغوښتے وه. چه تاسو به یو هډوکی او خاشنړو باندے
نهٔ تیریږئ. خو په هغے به خپل طعام موجود بیاموئ. (بخاری
(منه) بخاری مناقب الانصار باب ۳۲، و کتاب الوضوء باب ۲۰، ۱/۵۰،
۵/۵۹، بیهقی ۱/۱۰۷، نصب الرایه ۱/۲۱۹، فتح الباری ۱/۲۵۵،
۷/۱۷۱).

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ پوجن اپیل :-

حضرت جابر بن عبد الله رضی الله عنه فرمائی : زهٔ جناب رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم سره موجود وُم - چه حضورَ صلی الله علیه و آله وسلم ته یو مار راغے او دَ حضور صلی الله علیه و آله وسلم یو اړخ ته اودریدلو - ما هغه حضور صلی الله علیه و آله وسلم ته قریب کړلو - نو هغهٔ دَ رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم غوږ مبارک کښے څه خبرے اوکړے - جناب نبی کریم صلی الله علیه و آله وسلم وړ ته اوفرمائیل : تپیکے ده - بیا هغه لاړ - ما دَ حضور صلی الله علیه و آله وسلم نه تپوس اوکړ - نو حضور صلی الله علیه و آله وسلم ماته اوفرمائیل ، دا دَ جنّاتو یو سړے وو - هغهٔ داوئیلی دی چه تاسو خپل اُمت (انسانانو) ته اوفرمائیے : چه هغوے خاشتړه اوهډوکی سره استنجاء نه کوی - ځکه چه هغے کښے الله تعالیٰ زمونږ رزق جوړ کړے دے (ابن العربی قاضی رمنه)

هډوکی ، کوئیله ، اوخاشتړه دَ جنّات غذا ده :-

حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی : دَ جناب رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم په خدمت کښے دَ جنّاتو یو وفد حاضر شو او عرض ئے اوکړ : اے محمد صلی الله علیه و آله وسلم ! ستا سو اُمت دے هډوکی خاشتړهٔ او کوئیلے سره استنجاء نهٔ کوی - ځکه چه الله تعالیٰ دوئے کښے زمونږ رزق مقرر کړے دے . (ابوداؤد (منه) ۱/۶ کتاب الطهارت باب ۲۰ ، صحیح بخاری شریف ، مناقب الانصار باب ۳۲) .

- - - - - - - - - -

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ حضور صلی اللہ علیہ وسلم دَ جناتو دَ وفد سره ملاقات او دَ غذا تحفه:

حضرت ابن مسعود رض فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم یو ځل دَ مکے مکرمے اطراف ته دَ هجرت نه مخکښې تشریف اوړے وو- نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم ما دَ پاره یوه کرښه را منبکله- او ویئ فرمائیل: خو پورے چه زهٔ را نهٔ شم چا سره خبره مهٔ کوه- بیائے او فرمائیل: ته چه څهٔ څیز اووینے- دَ هغے نه مهٔ ورمیږه- بیا حضور صلی الله علیه وآله وسلم لږ شان وړاندے لاړ- او کینا ستلو- نو دَ حضور صلی الله علیه وسلم مخے ته تور سرِی را جمع شو- گویا چه هغوی دَ قبیله زط سړی دی- او دَ هغوئ شکلونه داسے وو- څنګه چه الله تعالیٰ ارشاد فرمائیلے دے:-

كَادُوْا يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِ لِبَدًا ط (سورة الجن ایت ١٩)

ترجمه:- نو دا جنّات خلق په دے بنده (نبیؑ) باندے را چمبر شی دے نه پس هغه خلق دَ حضور صلی الله علیه وآله وسلم نه لاړل.

ما دَ هغوئ نه واوریدل- هغوئ وئیل: یا رسول الله! زمونږ وطن ډیر لرے دے اوس مونږ څو تاسو مونږ ته دَ سفر توښه را کړئ- نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم ورته او فرمائیل: سوټے (ګوبر) ستاسو طعام دے- او تاسو چه کوم هډوکی ته ورځئ په هغے به ستاسو دَ پاره غوښه خټلے وی- او هر کله چه تاسو خاشتړو (سوټو) له ورځئ- نو هغه به ستاسو دَ پاره خجورے جورے شوے وی- بیا چه هغوئ لاړل- ما عرض اوکه- دا څوک

وو؟ وئیے فرمائیل: دا دَ نصیبین دَ ښار جنات (پیریان) وو.
(دلائیل النبوت ابونعیم (منه))

تنبیه :-

علامه زرکشی رح فرمائی: هډوکو نه دَ جناتو دَ غـذا دَ کیفیت متعلق سوال پیښ شو۔ هرکله چه هډوکی دَ کندکی په ډیر غور خوړلے شی او دَ هغے حالت نهٔ بدلیږی؟
دَ دے جواب کښے وئیلی شوی دی چه جنات دَ هډوکو د هوا نه غذا بیاموی۔ او دا هغه جواب دے چه امام غزالی رح احیأ العلوم کښے ورکړے دے.
علامه زرکشی رح فرمائی: دا جواب دَ سنت نه دَ لاعلمئ په بنأ دے۔ دے نه پس هغه دَ مسلم شریف سابقه حدیث او دَ حضرت ابن مسعود رض دا حدیث ذکر کړلو۔ آه (الخادم لزرکشی (منه)).

شیطان کس لاس سره خوري څکی :-

(حدیث) دَ ابن عمر رض نه روایت دے: رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اِذَا اَکَلَ اَحَدُکُمْ فَلْیَاْکُلْ بِیَمِیْنِهٖ وَاِذَا شَرِبَ فَلْیَشْرِبْ بِیَمِیْنِهٖ فَاِنَّ الشَّیْطٰنَ یَاْکُلُ بِشِمَالِهٖ وَیَشْرِبُ بِشِمَالِهٖ۔

ترجمه :- تاسو کښے چه څوک طعام خوری، نو ښیٔ لاس سره دے خوری۔ او کله چه اوبه څکی۔ نو ښیٔ لاس سره دے څکی۔ ځکه چه شیطان کس لاس سره خوری څکی ۔ (مسلم، ابوداوٗد ترمذی (منه)
مسلم کتاب الاشربه حدیث ۱۰۵، سنن ابی داوٗد کتاب الاطعمة باب ۱۹،

سنن دارمی الأطعمة باب ۹، مؤطا امام مالک صفة النبیؐ حدیث ۶
مسند احمد ۲ /۳۳۰۸، ۱۰۶-۱۲۸، ۱۳۵، ۱۴۶، ۳۲۵، ۵ / ۳۱۱،
سنن ترمذی الاطعمه باب ۹، جامع صغیر حدیث (۱۸۴)

فقط
حافظ ابن عبدالبرؒ فرمائی: دے حدیث کبنے دلیل دے - چه شیطانان خوری هم او څکی هم - او دَ علماءُ یو جماعت ذاحدیث مجاز باندے محمول کړے دے (یعنی شیطان کس لاس سره خوړل خوښوی - او هغے طرف ته بلی - څنګه چه دَ سرخیُ متعلق وارد دی - چه دا دَ شیطان زینت دے - او په سس پټکے تړل دشیطان پټکے دے - لیکن خالص سره کپړه اچول، او داسے پټکے تړل چه دَ هغے شمله لاندے نهٔ وی پرېښے شوے دَ شیطان زینت دے - او شیطان دَ دے دعوت ورکوی (دے جمله کبنے چه دَ آوم روایت حواله ده هغه انتهائی ضعیف دے - داحدیث دَ کتاب عنوانات کبنے ملاحظه کړئ -)

(ابن عبدالبرؒ فرمائی: زما په نزد دَ دے هیڅ حیثیت نشته - هر کله چه حقیقی معنیٰ ممکن وی - نو کلام کبنے مجاز معنیٰ احتمال څه ځیز کبنے څهٔ معنیٰ نهٔ لری.

طعام نه مخکښے بِسمِ اللهِ شیطان دَ طعام خوړلو نه منع کوی

حدیث) حضرت حذیفهؓ فرمائی: کله چه مونږ حضور صلی الله علیه وآله وسلم سره یو ځائے کبنے طعام باندے حاضریدلو - نو مونږ کبنے به هیچا طعام ته لاس نهٔ وروړلو - تر دے چه حضور صلی الله علیه وآله وسلم به شروع اوکړله - مونږ یو طعام کبنے حاضر شو - نو

Maktaba Tul Ishaat.com

یو دیهاتی (بانډه چی) راغے ۔ ګویا چه هغه د طعام نه لرے کولے شو نو هغه راغے ۔ چه طعام ته لاس ورمنخکښے کړی ۔ حضور صلی الله علیه وآله وسلم د هغه لاس او نیولو ۔ بیا یوه جینئ راغله ۔ ګویا چه هغه ئے هم لرے کوله ۔ نو هغه راغله چه خپل لاس طعام ته ورمخکے کړی ۔ حضور صلی الله علیه وآله وسلم د هغے لاس هم او نیولو او وئے فرمائیل :

اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَيَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ الَّذِیْ لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ وَ اِنَّهٗ جَاءَ بِهٰذَا الْاَعْرَابِیِّ يَسْتَحِلُّ بِهٖ فَاَخَذْتُ بِيَدِهٖ وَجَاءَ بِهٰذِهِ الْمَرْاَةِ يَسْتَحِلُّ بِهَا فَاَخَذْتُ بِيَدِهَا فَوَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِيَدِهٖ اِنَّ يَدَهٗ فِیْ يَدِیْ مَعَ اَيْدِيْهِمَا ۔

ترجمه :- په کوم طعام چه بِسْمِ اللہ او نۀ ویلے شی ۔ شیطان هغه ځان د پاره حلال کوی ۔ دا شیطان هغے دیهاتی سره د طعام د پاره راغلے وو ۔ ما د هغه لاس اونیولو ۔ بیا هغه هغے جینئ سره راغے ۔ او د هغے په ذریعه ئے هغه طعام خوښول ۔ اوغوښتل ۔ نو ما د هغے لاس هم او نیولو ۔ زما په هغه ذات قسم دے چه د هغه قبضه کښے زما ساه ده ۔ د شیطان لاس د هغے دواړو لاسونو سره زما لاسونو کښے دے ۔ (ابوداؤد رمنز) سنن ابوداؤد کتاب الاطعمه باب ۱۵ حدیث ۳۷٦٦ ، مسند احمد — ۳۸۲/۵ ۔ ۳۹۸ ، مسلم شریف کتاب الاشربه حدیث ۱۰۲ ، جمع الجوامع حدیث ۵۷۲ ، کنزالعمال ۴۰۷۳۹ ، قرطبی ۱/ ۹۸ ، ٦/ ۷۵) ۔

(حدیث) حضرت امیه بن مخشی رض فرمائی : رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریف فرما وو - یو سړی طعام خوړلو۔ هغهٔ بِسْمِ اللّٰه او نهٔ وے - حتیٰ چه دَ هغهٔ طعام کښې سِوا دَ یوے نوړئ نه هیڅ باقی پاتے نهٔ شو - هغهٔ چه خپلے خُلے طرف ته اوچته کړه۔ هغهٔ اووے: بِسْمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ، نو حضور صلی اللّٰه علیه وآله وسلم اوخندل، او وے فرمائیل:

مَا زَالَ الشَّیْطَانُ یَاکُلُ مَعَهٗ فَلَمَّا ذَکَرَ اسْمَ اللّٰهِ تَعَالٰی اِسْتَقَاءَ مَا فِیْ بَطْنِهٖ ۔

ترجمه:- شیطان هغهٔ سره طعام کښې شریك وو- بیا چه هغهٔ دَ اللّٰه تعالیٰ نوم واخست نو څه چه دَ شیطان خیټه کښې وو- هغه ئے قئے کړل - (ابوداؤد (منه) ابوداؤد کتاب الاطعمه باب ۱۵، مسند احمد ۴/۳۳۶، الاذکار ۲۰۶)

(حدیث) دَ حضرت ابوهریره رض روایت دے: جناب رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وآلهٖ وسلم اوفرمائیل:

اِنَّ الشَّیْطٰنَ یَحْضُرُ اَحَدَکُمْ عِنْدَ کُلِّ شَیْءٍ مِنْ شَانِهٖ حَتّٰی یَحْضُرُ طَعَامَهٗ فَاِذَا سَقَطَتْ مِنْ اَحَدِکُمْ لُقْمَةٌ فَلْیُمِطْ مَا بِهَا مِنْ اَذًی ثُمَّ لِیَاکُلْهَا وَلَا یَدَعُهَا لِلشَّیْطٰنِ

ترجمه:- شیطان تاسو کښې هر یو سره هر وخت موجود وی حتیٰ چه دَ طعام په وخت هم۔ هرکله چه تاسو کښې چا نه څه نوړئ اوغورځیږی۔ نو هغه دے گندگی نه صفا کړی۔ بیا دے هغه اوخوری۔ شیطان دَپاره دے نهٔ پریږدی۔ (ترمذی

حاکم (منہ) مسلم : الاشربہ : حدیث ۱۳۴، ۱۳۶ ، ابوداؤد الاطعمہ باب ۱۳، ترمذی الاطعمہ باب ۱۳ ، مسند احمد ۳/ ۱۰۰، ۱۷۷، ۲۹۰ ، ۳۰۱ ، ۳۱۵ ، ۳۳۱ ، ۳۶۶، ۳۹۴ ، جمع الجوامع ۵۶۱۹ ، کنزالعمال ۴۱۱۶۱ ، فتح الباری ۱۰/ ۳۰۶، کامل ابن عدی ۳/ ۱۱۷۲ ، مجمع الزوائد ۵/ ۱۳۰)

حدیث :- حضرت جابرؓ دَ جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم نہ دا ارشاد واوریدلو :

اِنَّ دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهٗ فَذَكَرَاسْمَ اللّٰهِ تَعَالٰى عِنْدَ دُخُوْلِهٖ وَعِنْدَ طَعَامِهٖ قَالَ الشَّيْطٰنُ لَا مَبِيْتَ لَكُمْ وَلَا عَشَاءَ ، وَاِذَا دَخَلَ فَلَمْ يَذْكُرِاللّٰهَ عِنْدَ دُخُوْلِهٖ قَالَ الشَّيْطٰنُ اَدْرَكْتُمُ الْمَبِيْتَ وَ الْعَشَاءَ

ترجمہ :- هرکله چه یو سړے خپل کور کښې داخلیږی- او دَ داخلیدو وخت او دَ خپل طعام په وخت بِسْمِ اللّٰہ اووائی :- نو شیطان (خپلو نورو شیطانانو ته) وائی : چه ستاسو دَ پاره دلته دَ اوسیدو او طعام خوړلو هیڅ گنجائش نشته . او هرکله چه هغه داخل شی - او داخلیدو په وخت دَ اللّٰه نوم وانخلی - نو شیطان خپلو نورو شیطانانو ته وائی : تاسو ته دَ شپے اوسیدل او دَ ماښام طعام حاصل شو - (مسلم ابوداؤد (منہ) مسلم الاشربہ حدیث ۱۰۳ ، ابوداؤد الاطعمہ باب ۱۵، ابن ماجہ کتاب الدعاء، باب ۱۹ ، ۳۸۸۷ ، مسند احمد ۳/ ۳۴۶ ، بیهقی ۲۷۶۱ ، مشکوۃ ۴۱۶۱، الادب المفرد ۱۰۹۲ ، درمنثور ۵/ ۵۹ ، فتح الباری ۱/ ۸۷ ، کنزالعمال ۴۱۵۳۴،

نکاح او نسل

دَ جنّاتو خپلو کښے دَ نکاح کولو متعلق دَ لاندے ایت نه استدلال شوے دے :

اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَ ذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِيْ وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ط (سورۃ الکهف ایت ۵۰)

ترجمه: ایا تا سو ما پریښودو سره شیطان او دَ هغهٔ اولاد خپل دوست جوړوئ۔ حالانکه هغوئ ستاسے دشمنان دی.

دا ایت دلالت کوی چه شیطان اولاد حاصلولو دَ پاره خپلو کښے نکاح کوی. ارشاد باری تعالی دے

لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ .(سورۃ الرحمٰن آیت ۵٦)

ترجمه:۔دَ دے نه مخکښے نه چا انسان او نه چا جن هغوئے سره قربت کړے دے .

دے ایت نه معلومه شوه چه هغوئ جماع کوی .

زهٔ (علامه سیوطیؒ) وایم !۔

ارشاد خداوندی (اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَ ذُرِّيَّتَهٗ) په تفسیر کښے حضرت قتادهؒ (مشهور تابعی مفسرؒ) فرمائی :

دَ جنّاتو اولاد هم داسے پیدا کیږی۔ لکه څنګه چه دَ انسان اولاد پیدا کیږی۔ لیکن دَ جنّاتو بچی پیدائش کښے ډیر زیات وی.(ابن ابی حاتم ، ابوالشیخ ، کتاب العظمة (منه)) .

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ جنّاتو کثرت اولاد:-

عبداللہ بن عمروؓ فرمائی: اللہ تعالیٰ جنّات او انسانان لس حصّو کښې تقسیم کړی دی۔ دے کښې نهٔ حصّے جنات دی او یوه حصه انسانان۔ نو هرکله چه دَ انسان یو بچے پیدا کیږی نو دَ جنّاتو نهٔ بچی پیدا کیږی۔ (عبدالرزاق، ابن جریر، ابن المنذر، ابن ابی حاتم، حاکم رمنہ)۔

حضرت ثابتؒ فرمائی: موږ ته دا خبره رسیدلے ده، چه ابلیس وئیلی وو: اے زما پروردګاره! تا آدم پیدا کړلو۔ او زما او دَ هغهٔ مینځ کښې دے عداوت واچولو۔ تهٔ ما په هغهٔ مسلط کړے۔ ارشاد ئے او فرمائیلو: دَ انسانانو سینے ستا کورونه دی. هغهٔ اووے: اے پروردګاره! نور زیات کړے۔ وئے فرمائیل: دَ انسان هیڅ بچے به نهٔ پیدا کیږی۔ خو ستا لس بچی به پیدا کیږی شیطان اووے: اے پروردګاره! نور زیات کړے: وئے فرمائیل: تهٔ په هغوئے خپل سواره او پیاده راوله۔ او دَ هغوئے مال او اولاد کښې شریک شه!۔ (شعب الایمان، بیهقی رمنہ)۔

دَ ابلیس ښځه:-

دَ امام شعبیؒ نه دَ ابلیس متعلق تپوس اوشو۔ چه آیا دَ هغهٔ ښځه شته؟ وئے فرمائیل: ما دَ هغهٔ دَ وادهٔ متعلق هیڅ نهٔ دی اورلی۔ (ابن المنذر رمنہ)۔

ابلیس اګئ واچولے:-

حضرت شعبیؒ اوفرمائیل: ابلیس پنځهٔ اګئ واچولے۔ دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

هغهٔ ټول اولاد دغے نه پیدا شو. او وئے فرمائیل: ما ته دا خبره هم را رسیدلے ده۔ چه دا شیاطین دَ یو مؤمن دَ گمراه کولو دَ پاره دَ قبیله ربیعه او قبیله مضر نه هم زیات تعداد کښے راجمع کیږی. (ابن ابی حاتم (منه)).

دَ جن انسان سره او انسان دَ جن سره نکاح

دَ جن انسان سره او انسان دَ جن سره نکاح ممکن ده دَ دے امکان درست دے. امام ثعلبیؒ فرمائی: دَ خلقو خیال دے چه نکاح او حمل دَ جن او انس دواړو مینځ کښے واقع کیدے شی. دَ الله تعالی ارشاد دے:

وَ شَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ (سورة اسراء ایت ٦٤)

ترجمه:۔ ته (شیطان) دَ انسانانو مال او اولاد کښے شریک شه.

شیطان دَ انسان اولاد کښے څنګه شریکیدے شی؟

مجاهدؒ فرمائی: هرکله چه یو سړے خپلے ښځے سره جماع کوی۔ او بِسْمِ الله نهٔ وائی نو جن دَ متیازو وتلو سوری سره ونخلی۔ او دَ سړی سره هغه هم جماع کښے شریکیږی. دَ دے متعلق دَ الله تعالیٰ ارشاد دے:

لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ (الرحمٰن ایت ٥٦).

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه :- دَ هغې حورو سره به دے نه مخکښې نه چا سره تصرف کړے وی او نهٔ چا جن. (حکیم ترمذی (نوادر الاصول) ابن جریر (منه))

هیجړا څنګه پیدا کیږی؟

حضرت ابن عباس رضی فرمائی: هیجړا کان دَ جناتو اولاد دے ابن عباس رضی الله عنه ته چا عرض او کړ - دا څنګه کیدے شی ویٔ فرمائیل :- څکه چه موږ الله تعالیٰ او دَ هغهٔ رسول منع فرمائیلی یو چه سړے خپلے ښځے له دَ حیض حالت کښے راشی - هر کله چه هغه دے حالت کښے هغې له ورشی - نو شیطان هغې طرف ته سبقت کوی او هغهٔ نه هغه حامله کیږی او هیجړا جنتی دے. (طرطوسی کتاب تحریم الفواحش باب من ای شئ یکون المخنث (منه).) .

اولاد دَ شیطان نه د بچ کولو طریقه :-

(حدیث شریف) ابن عباس رض فرمائی : جناب رسول الله ﷺ

او فرمائیل :

لَوْ اَنَّ اَحَدَکُمْ اِذَا اَرَادَ اَنْ یَاْتِیَ اَهْلَهٗ قَالَ : بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّیْطٰنَ وَجَنِّبِ الشَّیْطٰنَ مَا رَزَقْتَنَا فَاِنَّهٗ اِنْ یُّقَدَّرْ بَیْنَهُمَا وَلَدٌ فِیْ ذَالِكَ یَضُرُّهٗ الشَّیْطٰنُ اَبَدًا

ترجمه :- هر کله چه تاسو کښې څوک خپلے ښځے له ورځی نو دا دُعا دے اوکړی : بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّیْطٰنَ وَجَنِّبِ الشَّیْطٰنَ مَا رَزَقْتَنَا ط

ترجمه:- زهٔ دَ الله نوم سره شروع کوم: اے الله! موږ دَ شیطان

Maktaba Tul Ishaat.com

نه محفوظ کړے او اولاد زموږ هم دَ شیطان نه محفوظ کړے. که دَ وخت کښې څه اولاد مقدر کښې وے ـ نو شَیطان هغهٔ ته نقصات نه شي رسولے. (بخاري، مسلم (منه، بخاري بدء الخلق باب ۱۱، الوضوء ۸، نکاح باب ٦٦، دعوات باب ۵۵، توحید باب ۱۳، مسلم کتاب الطلاق حدیث ٦، ابوداؤد نکاح باب ۴۵، ترمذی نکاح باب ٦، ابن ماجه نکاح باب ۲۷، دارمی نکاح باب ۱۹، احمد ۱/۲۱۷، ۲۲۰، ۲۴۳، ۲۸۳، ۲۸٦، جامع صغیر سیوطی حدیث نمبر ۴، حدیث صحیح مشکوٰة ۲۴۱٦، ابن ابی شیبه ۴/ ۳۱۱، البدایه والنهایه ۱/ ٦۲) ـ

دَ جن او انسان دَ اشتراک نه دَ پیدا کیدونکی اولاد نوم:-

علامه ثعلبیؒ فرمائی: کوم بچے چه انسان او جن نه پیدا شی هغهٔ ته خُنّس وائی ـ او کوم چه انسان او بھوت یا بھتنی (پیری یا پیرے) نه پیدا شی هغهٔ ته عَملوق وائی. (فقه اللّغت الثعالبی(منه))

دَ جنّ صحبت سره په ښځه غسل دے:-

ابوالمعالی بن المنجا حنبلیؒ فرمائی: که یوه ښځه وائی چه ماله جن راځی ـ څنګه چه خاوند ښځے له راځی ـ نو په هغے غسل نشته. بعضے احناف هم دَ غسے فرمائی ځکه چه دلته دَ غسل سبب موجود نهٔ دے ـ او هغه دے دُخول او انزال. (شرح الهدایه ابوالمعالی بن المنجا حنبلیؒ(منه)).

مؤلف وائی: دے کښے اعتراض دے ـ چه هغے ښځے له غسل کول پکار دی ـ ځکه که دخول نهٔ وے نو ښځے ته به علم نهٔ وے

Maktaba Tul Ishaat.com

چه جن ښځې سره د سړي په شان صحبت کوي
د ملکه بلقیس پلار جن وو:-

وئیلے شي چه د ملکه بلقیس د مور پلار نه یو جِنّ وو۔ ابن الکلبیؒ وائی، د ښځې پلار د جناتو ښځې سره واده کړے وو۔ چه د ښځې نوم ریحانه بنت سکن وو۔ بلقیس د ښځې نه پیدا شوے وه د ښځې نوم بلقیسه کیخودے شو۔ بیان کنیږی چه د بلقیس د پښو مخکښې حصّې د چرپایه د سوموبو په شان وے۔ او د ښځې په پنډو وینښتهٔ وو۔ حضرت سلیمان علیه السلام ښځې سره وادهٔ کړے وو۔ او شیاطینو ته ئے حکم کړے وو۔ چه تاسو حمام او بال صفا پوډر جوړ کړئ (ابن الکلبی (منه))۔

زهٔ (علامه سیوطیؒ) وایم چه:-

(حدیث) حضرت ابو هریرهؓ وائی چه: جنابِ رسول اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اَحَدُ اَبَوَیْ بَلْقِیْسَ کَانَ جِنِّیًّا

ترجمه:- د بلقیس د مور پلار نه یو جِنّ وو۔ (کتاب العظمة ابوالشیخ، ابن مردویه، ابن عساکر (منه)، میزان الاعتدال ۳۱۴۳، کنز العمال، ۲۹۱۶، کامل ابن عدیؒ ۱۲۰۹ھ)

مجاهد رحمة الله علیه وائی: د ملکه سبا (بلقیس مور جن یا پیرے وه۔ (ابن ابي شیبه، ابن المنذر (منه))۔

زبیر بن محمدؒ فرمائی: د بلقیس مور "فارعه" جِنّ وه: (ابن ابي حاتم (منه))۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ابن جریجؒ فرمائی: دَ بلقیس مور "بلغمہ" وہ۔ (ابن ابی حاتمؒ (منثور))

عثمان بن حاضرؒ فرمائی: دَ بلقیس مور دَ جنّات نه وه۔ او دَ هغې نوم بلقیمه بنت (سیصان) وو۔ (حکیم ترمذی نوادر الاصول، ابن مردویه (منثور))۔

ابن عساکر دَ یوحبن نه نقل کوی۔ چه دَ هغه نه ملکه سبا باره کښې سوال اوشو۔ نو هغه اووے: چه دَ هغې مور پلار کښې یو جن وؤ۔ ونے: جن بچی نهٔ راوړی۔ یعنی دَ انسانانو ښځه جنات نه بچی نهٔ راوړی۔ (ابن عساکر (منثور))

انسان کښې دَ شیطان مشارکت:۔

(حدیث) بی بی عائشه رضی الله عنها نه روایت دے۔ رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد او فرمائیلو:

اِنَّ فِيكُمْ مُغَرِّبِيْنَ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَا الْمُغَرِّبُوْنَ؟ قَالَ: اَلَّذِيْنَ يَشْتَرِكُ فِيْهِ الْجِنُّ.

ترجمه:۔ تاسو کښې مغربون دی، عرض اوشو: اے دَ الله رسوله! مغربون څوک دی؟ ارشاد یې او فرمائیلو: دا خلق هغه دی چه هغوئ کښې جنّات مشترك وی. (کتاب العظمة ابوالشیخ، ابن مردویه، ابن عساکر (منثور) میزان الاعتدال ۳۱۴۳، کنز العمال ۲۹۱۶، کامل ابن عدی ۱۲۰۹،)

ابن اثیرؒ فرمائی: دوئ ته مغربون ځکه وئیلے شوی دی چه دوئ کښې دوئیم عرق هم شامل شوے دے۔ یا ځکه ورته وئیلے شوی دی چه دوئ دَ لرے نسب نه پیدا شوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

(تذهة المذاکرة ص۱۸۰) -

فائده :- دَ دوئ تفصیل آینده مضامینو کښې ملاحظه کړئ.

دا هم دَ دے مطلب کښې وئیلے شوی دی - چه انسانانو کښې دَ جنّاتو مشارکت ، دَ جنّاتو انسانانو ته دَ زنا کولو ترغیب ورکول دی. دے باره کښې دَ الله تعالیٰ ارشاد گرامی دے :-

وَ شَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ ط (سورة بنی اسرائیل آیت ۶۴)

ترجمه :- او (اے شیطانه!) دَ دوئ مال او اولاد کښې شریک شه.

دَ جِنّ خوئے :-

ابو سعید خدری رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی : زهٔ دَ حضرت علی رضی الله عنه سره نهروان کښې دَ جدویه قتلولو کښې شامل وم، هغوئ ما سره تالید تلاش کړ- خو هغه ئے بیا نه مُندلو- حضرت علی کرم الله وجهه او فرمائیل : هغه تلاش که - دے نه پس ئے هغه بیا مُندلو- نو حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل : دے څوک پیژنی؟ موجوده حضراتو کښې یو سړی اووے : دے مونږ پیژنو- دا (قوس) دے- او د دهٔ مور هم دلته ده- نو حضرت رضدَ هغهٔ دَ مور طرف ته یو قاصد او لیږلو- او هغې نه ئے تپوس اوکړ- د دهٔ پلار څوک دے؟ هغې جواب ورکړ- زهٔ نوره نهٔ پوهیږم - بس دومره علم راته دے - چه عهد جاهلیت کښې ما دَ خپل قوم چیلئ څرولے چه ما سره دَ یو سایه دار شکل څیز صحبت اوکړ- هغې سره

Maktaba Tul Ishaat.com

زهٔ حامله شوم - دَ هغې نه ما دے راوړے دے (نهایه ابن اثیر(منه) ،نهایه ۲۴۹/۴)

جن انسان سره او دَ انسان جن سره دَ نکاح جواز کښې شرعي اختلاف

امام مالک رح :-

دَ دے متعلق علماء کرامو کښې اختلاف دے. ابو عثمان سعید بن العیاس رازی رح فرمائی: موږ ته حضرت مقاتل رحمة الله علیه بیان اوکړو. هغه فرمائی: ما ته سعید بن ابوداؤد رح بیان اوکړو چه دَ یمن خلقو دَ امام مالک نه جن سره دَ نکاح متعلق لیکلو سره اولیږلو- چه موږ سره دلته یو جن سړے دے- هغه زموږ یوے جینئ سره دَ نکاح پیغام را کړی- هغه وائی چه زهٔ دَ حلال خواهشمند یم- امام مالک اوفرمائیل: دے باره کښې زهٔ دین کښې څه حرج نه ګنړم- لیکن دا هم نهٔ خوښوم- چه هرکله یوه ښځه حامله بیامونده شی- چه هغې نه تپوس اوشی چه ستا خاوند څوک دے؟ نو هغه اووائی چه زما خاوند جن دے- او دغسے اسلام کښې فساد پیدا شی. (الالهام والوسوسه باب نکاح الجنی مصنفه ابوعثمان سعید بن عباس رازی رح (منه)).

حکم بن عتیبہ رح :-

امام سفیان ثوری رح دَ حجاج بن ارطاۃ نه روایت کوی چه هغه دَ حکم بن عتیبه رح نه، چه هغهٔ به جن سره نکاح کول مکروه گڼل۔

امام زهری رح :-

امام زهری رح نه (یا سند حسن) روایت دے: هغوئ فرمائی چه حضور صلی اللہ علیه واله وسلم جن سره نکاح کول منع فرمائیلے ده۔ (مسائل حرب بن الکرمانی رح عن احمد بن حنبل واسحاق بسند ها (منه))۔

حضرت قتاده، حضرت حسن بصری رح :-

حضرت عقبه الرومانی رح فرمائی: ما دَ حضرت قتاده نه جن سره دَ نکاح کولو تپوس اوکړ۔ نو هغهٔ دے ته مکروه اووے او حضرت حسن بصری رح نه دے باره کښې تپوس اوشو۔ نو هغهٔ هم دے ته مکروه اووے۔

عقبه بن عبدالله رح فرمائی: یو سړے حضرت حسن بن ابو الحسن رح ته راغے۔ عرض ئے اوکړ: اے ابو سعید! جنات کښې یو سړے زمونږ جینئ ته دَ نکاح پیغام راکوی۔ نو حضرت حسن ورته اوفرمائیل: هغهٔ سره ئے نکاح مه کوه۔ او دَ هغهٔ عزت مه کوه۔ بیا هغه سړے حضرت قتاده رح له راغے۔ او عرض ئے اوکړ۔ اے ابو الخطاب! جنات کښې یو سړے زمونږ جینئ ته دَ نکاح پیغام راکوی۔ نو هغهٔ هم اوفرمائیل: ته هغهٔ سره دَ هغے

Maktaba Tul Ishaat.com

نکاح مه کوه - لیکن هرکله چه هغه تاسو له راشي نو تاسو هغهٔ ته اووائي: مونږ به په تاسو حمله اوکړو - که ته مسلمان یئ نو مونږ نه لرے شه - مونږ ته تکلیف مه راکوه - هرکله چه شپه شوه نو هغه جن راغے - په دروازه اودریدلو - او هغه اووے: ته حسن له تلے وے - او هغهٔ نه دے تپوس کړے وو - نو هغهٔ ورته څه اوفرمائیل؟ چه ته هغهٔ سره دَ خپلے لور نکاح مه کوه - او دَ هغهٔ عزت هم مهٔ کوه - بیا ته قتادہ رحمة الله علیه له ورغلے - او هغهٔ نه دے تپوس اوکړ - نو هغهٔ ناته اوفرمائیل چه ته هغهٔ سره دَ خپلے لور نکاح مه کوه. بلکه دا ورته اووایه چه مونږ به په تاسو حمله اوکړو - که ته مسلمان سړے یئ نو مونږ نه لرے شه - مونږ ته تکلیف مهٔ راکوه - هغهٔ هغه ته هم دَغسے اووے - هغے سره هغه تړے لاړ - او هیڅ تکلیف ئے ورته اونهٔ رسولو - (الحواتف ابن ابی الدنیا روایت نمبر ۱۶۸ ص۱۲۰ { منه ، اکام المرجان ص۷۱) .

حجاج (بن ارطاة)

حضرت سفیان (بن عیینهؒ) نه روایت دے چه حجاجؒ به جن سره وادهٔ مکروه گنړلو

عقبة الاصمؒ ، قتادهؒ :-

حضرت عقبة الاصم او حضرت قتادهؒ نه جن سره دَ وادهٔ متعلق تپوس اوشو - نو هغوئ دے ته مکروه اووے .

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت حسن بصری رحمۃ اللہ علیہ :-

حضرت حسن رحمۃ اللہ علیہ هغه خلقوته ، او فرمائیل :(چه دَ جن خپلے لور سره دَ نکاح پیغام باندے دَ نکاح کولو متعلق دَ حضرت نه مسئلے تپوس کولو دَ پاره راغلی وو : تاسو هغوئ ته اووایئے : که تاسو ځناتو زمونږ اواز اورئ - او ستاسو قوم مونږ وینی (نو واورئ) مونږ به په تاسو حمله اوکړو (که تاسو خپل دے مذموم حرکت نه منع نه شوئ) هغوئ دَ غسے اوکړل نو هغه جن لاړ .

اسحٰق بن راهویه رحمۃ اللہ علیہ :-

حضرت حرب رحمۃ اللہ علیه وائی : ما دَ حضرت اسحاق رحمۃ اللہ علیہ نه تپوس اوکه - یو سړے دَ سمندر سفر کوی - او کشتئ ماته شی او هغه جن ښځے سره نکاح کوی - نو هغوئ اوفرمائیل : جن سره واده کول مکروه دی -

حنفی مذهب :-

ائمه احناف نه شیخ جمال الدین سجستانی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی : دَ اختلاف جنس په وجه جن او سمندری انسان سره واده کول جائز نه دی (منیة المفتی شیخ جمال الدین سجستانی حنفی بحواله فتاوی سراجیه (منه))

قاضی القضاة شرف الدین بارزی رحمۃ اللہ علیہ حنفی :-

قاضی القضاة شرف الدین بارزی رحمۃ اللہ علیہ نه چه کوم مسائل تپوس شوی دی - هغه کښے شیخ جمال الدین اسنوی ذکر فرمائی : یطوس امکان هرکله چه څوک انسان جن ښځے سره دَ واده کولو اراده اوکړی نو ایا هغه دَ پاره جائز دی یا ممنوع دی ؟ ځکه چه الله تعالی ارشاد

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمائی:

وَمِنْ اٰيَاتِهٖ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا

(سورۂ روم ایت ۲۱)۔

ترجمه:۔ او دَ هغهٔ دَ قدرت دَ نښو نه دا (امر) دے۔ چه هغهٔ ستاسو دَ فائدے دَ پاره ستاسو دَ جنس ښځے پیدا کړے، بیا امام بارزیؒ دَ احسان په طور او ښودل چه الله تعالٰی ښځے دَ انسان دَ جنس نه پیدا کړے۔ چه هغے سره یے اُنس وی۔ نوکه موږ دا جائز اوکړځوو۔ څنګه چه شرح الوجیز کښے دَ ابن یونس حواله سره مذکور دی۔ نو په دے څهٔ اشکال وارد کیږی:

۱۔ ایا جن (خواه هغه مؤنث وی یا مذکر) کور کښے دَ اوسیدو پابند کولے به شی یا نه؟

۲۔ ایا سړی دَ پاره درست دی۔ چه هغه جن ښځهٔ دَ انسانانو دَ شکل نه علاوه دویم شکل اختیارولو نه منع کړی؟ هرکله چه هغے ته دَ شکل بدلولو قدرت وی۔ ځکه چه دے نه نفرت حاصلیږی.

۳۔ شرائط صحت نکاح کښے دَ هغے دَ ولی دَ اجازت متعلق، او موانع نکاح نه دَ هغے دَ بری کیدو متعلق جن ښځو باندے اعتماد کیدے شی یا نه؟

۴:۔ ایا دا دَ جناتو دَ قاضی نه دَ دے دَ قبولیت جواز دے یا نه؟

۵۔ ایا هرکله چه انسان جن ښځهٔ دَ هغے غیر مانوس صورت کښے اووینی؟ او هغه ښځهٔ دعوه اوکړی چه زهٔ هغه ستا ښځهٔ یم۔ ایا په دے به دَ هغهٔ اعتماد کولے شی۔ او هغے سره به صحبت جائز

Maktaba Tul Ishaat.com

وی یا نه؟

٦- او ایا انسانی خاوند به دَ هغې ذمه وارکنړلے شي۔ چه هغه خپلې جن ښځې ته ورځي۔ دَ هغې خوراک مثلاً هډوکي وغیره جمع کړي۔ هرکلهچه یل ځینې سره به دَ هغې روزی مهیا کول ممکن وی یا نه؟۔

نو علامه بارزي اوفرمائیل: انسانانو دَ پاره جائز نه دی چه چه هغه دَ جناتو ښځې سره دَ دے دوه ایتونو دَ مفهوم په وجه نکاح اوکړي. الله تعالی ارشاد فرمائي:

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجاً ط (سورة النحل ایت ۷۲)

ترجمه: او الله تعالیٰ ستاسو دپاره ستاسو دَ جنس ښځې مقرر کړي دی۔

وَمِنْ اٰيَاتِهٖ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجاً (سورة الروم ایت ۲۱)

ترجمه :- او دَ هغهٔ دَ قدرت دَ نښو نه دا امر دے۔ چه هغهٔ ستاسو دَ فائدے دَ پاره ستاسو دَ جنس ښځې پیدا کړې۔

(دَ وَجَعَلَ لَكُمْ مِنْ اَنْفُسِكُمْ) متعلق مفسرین بیان فرمائي: یعنی ستاسو جنس، ستاسو نوع او ستاسو شکل باندے (ستاسو ښځې) پیدا کړے۔ څنګه لچه: لَقَدْ جَاءَكُمْ مِنْ اَنْفُسِكُمْ (سورة التوبه ایت ۱۲۸) کښې ارشاد دے۔ چه بیشکه تاسو ته یو عظیم الشان رسول راغلے۔ چه ستاسو دَ جنس نه دے (یعنی هغهٔ هم انسان دے) او په دے وجه هم چه کومو ښځو سره نکاح ممکن ده۔ هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ ترۀ لونړه ، دَ ترورلونړه ، دَ ماما لونړه دی۔ نو دے اعتبار نه هغه ښځے دَ انسان نکاح کښے راتلے شی چه دَ انسان دپر (غیرمحرم) کښے دی ۔ څنګه چه سورهٔ احزاب کښے دَ الله تبارک وتعالیٰ دا ارشاد دے :

وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّاتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَالَاتِكَ

(سورهٔ احزاب ایت۵۰) مفهوم دا دے ۔

ترجمه : چه ستا دَ پاره دَ ترۀ لونړه ، ستا دَ ترور یانو (پهوپیون) لونړه او ستا دَ ماما ګانو لونړه او ستا دَ خاله ګانو لونړه (ستا دَ نکاح دَ پاره حلالے دی) ۔

او دے نه علاوه ښځے محرم دی او هغه اصول او فروع دی۔ او باقی اصول نهٔ فرع ، څنګه چه سورهٔ نساء کښے ایت ۔ تحریم (پاره خلوریمه اخیر) کښے موجود دے۔ او دا نسب کښے شمار دی۔ هرکله چه انسان او جن کښے هیڅ نسب نشته ۔

دَ اکام المرجان مؤلف فرمائی : امام مالک رح نه چه کومه حواله مخکښے تیره شوے ده ۔ هغه دَ انسان جن ښځے سره دَ نکاح کولو جواز باندے دلالت کوی او دَ دے برعکس دَ جنّ انسان ښځے سره دَ نکاح نفی کوی۔ څکه سړو او ښځو دَ پاره دَ جنّاتو نه مطلقاً دَ نکاح کولو اجازت نشته۔ او په دے وجه اسلام کښے دَ فساد کثرت به هم نهٔ وی

دَ زید العمیؒ دُعاء :۔

دَ مروزی حضرات شیخ محرق رح فرمائی : ما دَ حضرت زید العمیؒ

Maktaba Tul Ishaat.com

نہ دا دُعا کول واوریدل

اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِیْ جِنِّیَّةً اٰتَنَ وَّجُهَا ۔

ترجمہ :۔ اے اللہ ما تہ یوہ جن سنجہ راکرہ ۔ چہ زۂ ورسرہ وادۂ اوکرم ۔

هغوئ نہ تپوس اوشو اے ابوالحواری ! تۂ بہ پہ هغے څۂ کوے ؟ وئے فرمائیل : هغہ بہ ما سرہ سفر کښے ملګرے وی چرتہ چہ زۂ یم هغہ بہ ما سرہ ملګرے وی (څکہ چہ زۂ نابینا یم ، هر مشکل کار کښے بہ هغہ زما مدد کوی

جنّاتو کښے هم فرقے دی :۔

(حکایت) :۔ امام اعمشؒ بیان کوی ۔ دَ بجیلہ قبیلے یو بوډا موږ تہ بیان اوکہ ۔ چہ جنّاتو کښے یو ځلمے زموږ پہ یوہ جینئ عاشق شو ۔ بیا هغۂ موږ تہ دَ هغے دَ نکاح پیغام راکہ ۔ او هغۂ اووے : زۂ دا نۂ خوښوم ۔ چہ بغیر نکاح هغے سرہ حرام صحبت اوکړم ۔ نو موږ دَ هغہ جینئ نکاح هغۂ سرہ اوکړہ ۔ هغہ بہ موږ تہ مخامخ کیدلو ۔ او موږ سرہ بہ ئے خبرے کولے ۔ موږ دَ هغۂ نہ تپوس اوکہ ۔ تۂ څۂ ئے ؟ هغۂ اووے : موږ ستاسو پہ شان اُمتونہ یو ۔ موږ هم ستاسو پہ شان قبائل یو ۔ موږ ترے تپوس اوکہ ۔ تاسو کښے فرقے هم شتہ ؟ هغۂ اوښودل : هاں ۔ موږ کښے هم قدریہ ، شیعہ او مرجیۂ هر قِسم فرقے دی ۔ موږ ترے تپوس اوکہ ؟ تۂ دَ کومے فرقے سرہ تعلق لرے ؟ هغۂ اووے : زۂ د مرجیہ فرقے نہ یم

واتباع السنن والآثار امام دارمی (منہ))

جنّاتو کښے زیاته خرابه فرقه دَ شعیه ده :-

امام اعمشؒ فرمائی : مونږ کښے یو جن نکاح اوکړه ـ ما دَ هغهٔ نه تپوس اوکه ـ ستاسو کوم طعام زیات خوښ دے ؟ هغهٔ اووے : روجے (چاؤل) نو مونږ هغهٔ ته روجے راوړے ـ مونږ اولیدل چه نوړئ اوچتیږی ـ لیکن اوچتوونکے په نظر نهٔ راځی ـ ما ورته اووے تاسو کښے دا فرقے هم دی کوم چه مونږ کښے دی ؟ هغهٔ اووے : جی هان ! ما ترے تپوس اوکه ـ تاسو کښے دَ رافضیانو څه پوزیشن دے ؟ هغهٔ اووے : هغوئ مونږ کښے بد ترینه فرقه ده ـ (امالی احمد بن سلیمان النجاد (منہ) اکام المرجان ص۲۹) ـ

عجیبه حکایت :-

امام اعمش رح فرمائی : دَ یو جن نکاح کښے مقام ((کوثی)) کښے زهٔ شریك شوم ـ یو انسان جناتو کښے نکاح اوکړه ، نو جناتو نه تپوس اوشو ـ ستاسو کوم طعام زیات خوښ دے ؟ هغوئ اووے : وریجے (چاؤل) ، امام اعمشؒ وائی : نو خلقو جناتو ته دَ روجو تبے راوړلو ـ او روجے به ختمیدے ـ لیکن دَ خوړونکو لاسونه نهٔ معلومیدل ـ (هواتف الجان وعجائب ما یحکی عن الجان امام ابوبکر خرائطی (منه) ـ

دَ خطرناکے جن ښځے حکایت :-

حضرت ابو یوسف سروجیؒ فرمائی : یوه ښځه مدینه منورهٔ کښے یو سړی له راغله ـ او ورته ئے اووے : مونږ ستاسو

Maktaba Tul Ishaat.com

کورونو کښې کونړ شوې يو۔ نه ماسره نکاح اوکړه۔ نو هغه ورسره نکاح اوکړله۔ هرکله چه شپه به شوه۔ نو هغه به د ښځې شکل کښې هغه له راتله۔ يوځل چه هغه هغې سړي له راغله ورته ئے اوویٔ: اوس مونږ واپس ځو۔ نو ته مالره طلاق راکړه۔ يو ځل هغه د مدينې منورې په يوه لار تللو۔ ناڅاپي هغه هغه ښځه دانو ټولولو باندې اوليدله۔ چه دانو والاؤ نه پريوتي وے۔ هغه ورته اووے: ته دانے ټولوې؟ نو هغې سړي طرف ته سترګے اوچتے کړے۔ او هغه ته ئے اووے۔ تا زه کومے سترګے سره ليدلے يم؟ سړي ورته اووے: دے سترګے سره۔ نو هغې ښځې خپلے ګوتے سره اشاره اوکړه۔ چه هغې سره د هغې سترګه او بهيده. (ابن ابي الدنيا (منه))

د خوبصورته جنّ ښځے حکايت :-

علامه شبلي بدرالدين مؤلف (اکام المرجان) فرمائي: مونږ ته قاضي القضاة جلال الدين احمد بن قاضي القضاة حسام الدين رازیؒ حنفي بيان اوکه۔ (چه زما پلار قاضي حسام الدين رازیؒ خپله ښځه بيچې مشرق ته راوستلو د پاره زه په سفر روان کړم۔ کوم وخت چه ما بيره پار کړله۔ او باران مونږ يو غار کښې پناه اخستو او خوب کولو باندے مجبوره کړلو۔ زه يو جماعت سره ووم۔ زه اوده ووم چه ناڅاپي څه څيز زما ويښولو شروع کړل۔ کوم وخت چه زه بيدار شوم۔ نو زما خوا کښې د درميانه قد ښځه ولاړه وه۔ د هغې يوه سترګه وه۔ طول کښې خوړے په شان وه۔ چه د هغې ليدو سره زه اويريدم نو هغې ماته اووے: ته يريږه مه۔ زه تاسره خپله د سپوږمۍ په

شان لوړ واده کولو دَ پاره راغلي يم - نو ما ورته ويره کښې اووے؛ الله دے خير کړي - بيا ما اوليدل چه څه خلق ما طرف ته راروان دي - دَ هغوے شکل هم دَ هغه ښځې په شان وو - دَ هغوے سترګې هم طول کښې خوږے وے - يو قاضي هم وو - او ګواه هم - نو قاضي دَ نکاح پيغام راکړلو - او نکاح ئے اوتړله - چه ما قبوله کړه - دے نه پس هغوے لاړل او هغه ښځه دوباره ماته راغله اوس داخل هغے سره يوه حسينه جينۍ هم وه - دَ هغے سترګے هم دَ هغے دَ مور په شان وے - هغې جينۍ ما سره پريښودله - نو زما خوف نور هم زيات شو - خو کښې اوده خلق ما په کنکر ويشتل - چه هغوے بيدار شي - ليکن کښې هيڅوک بيدار نه شو - نو ما دُعا او انکساري شروع کړه - بيا دَ کوچ وخت شو او مونږ روانيدو ليکن جينۍ زه نه پريښودم - دے حالت کښې درے ورځے تيرے شوے - چه څلورمه ورځ شوه - نو هغه ښځه راغله - او هغه دَ تولو نه مخکښې راغلے وه - هغې اووے: دا جينۍ شايد ستا خوښه نه شوه - شايد ته دے نه فراق غواړے - ما اووے هان! قسم په الله - هغې اووے: بيا ته دے له طلاق ورکه (دغسے ما هغه له طلاق ورکه - او هغه لاړه - بيا ما هغه هيڅکله اونه ليدله -

بيا دَ دے متعلق ما دَ قاضي شهاب بن خضل الله نه تپوس اوکړو - چه هغه هغې جنيه ښځې سره صحبت اوکه - و ئے فرمائيل نه - (اکام المرجان ص ۶۹).

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ وحشي جنّ ښځې واقعه :-

حافظ فتح الدين ابن سيد الناس رحمه الله فرمائي : ما دَ امام تقي الدين ابن دقيق العيد رحمه الله نه واوريدل (هغه وائي) چه ما دَ شيخ عزالدين بن عبد السلام نه واوريدل : هغه اوفرمائيل : جناب قاضي ابوبكر ابن العربي رحمه الله (مالكي) جن سره دَ انسان دَ نكاح نه انكار كولو- او- فرمائيل ئې : جن لطيف روح دے، او انسان كثيف جسم، او دواړه جمع كيدے نشي- بيا هغهٔ او فرمائيل : چه هغهٔ يوے جن ښځې سره نكاح اوكړه- چه هغهٔ سره يوے موده پورے وه- بيا هغے دَ اوښ په هډوكي اوويشتلو- بيا هغهٔ په خپل مخ زخم اوښودلو- او هغه اوتښتيده . (تذكره صلاح الدين صفدي (منه)) .

دَ حنابله مذهب :-

ابن العماد رحمه الله فرمائي : -

وَهَلْ يَجُوْزُ نِكَاحُنَا مِنْ جِنِّيَّةٍ ۔ مُؤْمِنَةٍ قَدْ اَيْقَنَتْ بِالسُّنَّةِ
عِنْدَ الْاِمَامِ الْبَارِزِيْ يُمْتَنَعُ ۔ وَقَوْلُهٗ اِلَّا بِالدَّلِيْلِ يُنْدَفَعُ

ترجمه: (۱)۔ كوم جنّ مسلمان ښځې چه په سنت ايمان او يقين قائم كړے وي- آيا هغے سره زمونږ دَ انسانانو نكاح درست ده ؟

(۲)۔ دَ امام رازي رحمه الله په نزد دا ممنوع دي- او دَ هغهٔ دا مسئله بغير دليل نشي پريښبودے . (ارجوزة ابن العماد (منه)) .

شافعي رحمه الله مذهب :-

جنّاتو سره دَ انسانانو نكاح درست ده- او دا دواړه دَ آيتونو مطابق دي- متاخرين دے بحث كښې شرح كوي، بعضے ئې نه منع

Maktaba Tul Ishaat.com

کوی۔ او وائی: خپلو کښې دَ نکاح شرط اتحاد دے، لیکن کومه خبره چه ظاهره ده۔ هغه دَ نکاح دَ جواز ده۔ ځکه چه هغوئ زموتږ روښره دی۔ (شرح الوجیز الیونسی (منه))

دے مسئله کښې چه کوم جانب ظاهر دے هغه دَ نکاح جواز دے۔ ځکه چه هغوئ تر هم ناس او رجال وئیلے شی۔ او هغوئ حضور صلی الله علیه وآله وسلم زموږ روښره فرمائیلی دی۔ ځکه دَ نکاح په جواز چه کوم څیز دلالت کوی۔ هغه دا چه بلقیس سلیمان علیه السلام سره نکاح کړے وه۔ حالا نکه دَ هغې مور جنّیه وه۔ که جنّاتو سره نکاح جائز نهٔ وے۔ نو هغې سره په نکاح څنګه جائز کیده؟ ځکه چه دَ چامور پلار کښې یو داسے وی۔ چه هغهٔ سره نکاح درست نه وی۔ نو دَ لور سره ئے هم نکاح حرام ده، (توقیف الحکام علیٰ غوامض الاحکام (منه))۔

دَ دے تفصیل ضرورت دے۔ که جنّ راشی۔ او خبرے هم اوکړی۔ او دَ هغهٔ جُثّه موږ ته په نظر رانهٔ شی۔ هسے موږ دَ هغهٔ مشاهده کړے وی۔ او دَ هغهٔ دَ مؤمن کیدو هم موږ ته علم وی نو هغهٔ سره نکاح درست ده مع التردد۔

او عماد بن یونس نه نقل دے: هغهٔ او فرمائیل: جن سره نکاح جائز نهٔ ده۔ ځکه چه دَ زوجینو اتفاق او اتحاد دَ جنس صحت نکاح کښې شرط دے۔ او دے شرط کښې شبه ده۔ او په دے هیڅ دلیل هم نشته۔

او حضور صلی الله علیه واله وسلم جنّاتو سره نکاح ممنوع فرمائل

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ زنا اولاد باندے محمول دی۔ د دے دا وضاحت دے : دویم حدیث کښے دی چه :-

لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يَكْثُرَ فِيْكُمْ اَوْلَادُ الْجِنِّ ط

ترجمه :- قیامت به هغه وخته پورے نهٔ قائمیږی- څو پورے چه تاسو کښے دَ جنّاتو دَ اولاد کثرت نهٔ شی .

دَ فوائد الاخبار والا فرمائی : دے نه مراد دَ زنا اولاد دے ځکه چه جنّ نه هم وحشت کیږی- او طبیعت ئے نهٔ غواړی- نو زنا نه پیدا شوو ښځو سره نکاح نهٔ کولو باندے ئے دا حدیث محمول کړے شی . د

دے پورے ټولے خبرے دَ ابن العماد دی - (ارجوزه ابن العماد منه) ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ جنّاتو ځورونه

گنده مقامات دَ جنّاتو ځورونه دی :-

عام طور سره دَ جناتو ځایونه دَ نجاستونو والا مقامات وی لکه دَ قبورو ، دَ گندګئ ډهیر، او حمامات - په دے وجه حمام کښے او دَ اوښانو دَ ناستے ځایونو وغیره پانډے مونځ ادا، کول نه منع کړے شوے ده - ځکه چه دا مقامات د شیاطینو ځایونه دی -

بیت الخلاء دَ جناتو کوروته وی :-

(حدیث شریف) حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه روایت دے :
چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :
اِنَّ هٰذِهِ الْحُشُوْشَ مُحْتَضَرَةٌ فَاِذَا اَتٰى اَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ فَلْيَقُلْ اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ
ترجمه :- دا گنده ځایونه دَ شیاطینو او جناتو دَ اوسید وځایونه دی - تاسو کښے چه څوک قضاء حاجت له ځی ، نو دا دُعا دے کوی:
اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ : اے الله زه ستا سره دَ شریر جناتو (سړو او ښځو) نه پناه غواړم .(ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه (منه) ابوداؤد کتاب الطهارة باب ۳ ، سنن ابن ماجه طهارة باب ۹ ، نسائی طهارة باب ۱۸ ، مسند احمد ۴/۳۶۹ ، ۳۷۳ ، صحیح ابن حبان ۱۲۶ ، مستدرك حاکم ۱/۱۸۷ ، بیهقی ۱/۹۶ ، مشکوٰة ۳۵۷ ،

Maktaba Tul Ishaat.com

طبرانی کبیر ۵/۲۳۲، ۲۳۶، اتحاف السادہ ۲/۳۳۹، ابن خزیمہ ۹۹،
ابن ابی شیبہ ۱/ ۱۱، ۴۵۳، تاریخ بغداد ۴/۲۸۷، ۱۳/ ۳۰۱)

فائدہ:- هر کله چه قضاء حاجت والا دا دُعا اولولی۔ نو دَ جناتو
مخے ته پرده شی۔ بیا دوئ دَ هغهٔ شرمګاه نشی لیدے۔ (منه)۔

بِسْمِ اللهِ دَ جناتو مخے ته پرده ده:-

(حدیث شریف) حضرت انس رضی نه روایت دے۔ جناب رسول الله صلی
الله علیه واٰله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اِنَّ هٰذِهِ الْحُشُوْشَ مُحْتَضَرَةٌ فَاِذَا دَخَلَ اَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ
فَلْيَقُلْ بِسْمِ اللهِ

ترجمه:- دا ګنده مقامات دَ شیاطینو دَ اوسیدو ځایونه دی۔ هر کله
چه تاسو کښے څوک بیت الخلاء (ټټی) ته ځی۔ نو بِسْمِ اللهِ دے
او وائی۔ (ابن سنی (منه) عمل الیوم واللیلة حدیث ۲۰)

(حدیث شریف) دَ حضرت علی کرم الله وجهه نه روایت دے۔ جناب
رسول الله صلی الله علیه واٰله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

سِتْرُ مَا بَيْنَ اَعْيُنِ الْجِنِّ وَعَوْرَاتِ بَنِيْ اٰدَمَ اِذَا دَخَلَ اَحَدُكُمُ
الْخَلَاءَ اَنْ يَّقُوْلَ بِسْمِ اللهِ ط

ترجمه: دَ جناتو دَ سترګو او انسانانو دَ شرمګاه مینځ کښے پرده دا
ده چه کله تاسو قضاءِ حاجت دَ پاره ځئ۔ نو بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
وائئ۔ (مسند احمد، ترمذی، ابن ماجه (منه) ترمذی کتاب الجمعة باب ۴۳،
ابن ماجه کتاب الطهارة باب ۹، مسند احمد ۲/۳۵۳، ۳۶۳، جامع الصغیر
وحسنه حدیث ۴۶۶۲، مجمع الزوائد ۱/ ۲۰۵)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم بہ بیت الخلاء تہ تلو وخت کُنے څہ وئیل؟

(حدیث شریف) حضرت انس رضی اللہ عنہ فرمائی: جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ والہ وسلم چہ بہ کلہ قضاء حاجت تہ تلو نو دا کلمات بہ ئے وئیل:

اَللّٰھُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِکَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ .

ترجمہ: اے اللہ! زۂ تا نہ دَ خبیث (سړو او ښځو) جِنّاتو نہ پناہ غواړم۔

(بخاری، مسلم (منہ)، بخاری کتاب الوضوء باب ۹، کتاب الدعوات باب ۱۵، صحیح مسلم کتاب الحیض حدیث ۱۲۲، ۱۲۳، ابن ماجہ ۲۹۶، ترمذی ۵، ۶، ابوداؤد ۴، مسند احمد ۳/۹۹، ۱۰۱، ۲۸۲، ۳۷۳، بیہقی ۱/۹۵، دارمی ۱/۱۷۱، مشکوٰۃ ۳۳۷، تغلیق التعلیق ۹۷، ۹۸، اتحاف السادۃ ۲/۳۳۹، اذکار ۲۷، ابوعوانہ ۱/۲۱۶، ابن ابی شیبہ ۱/۱)

امام سعید بن منصورؒ دَ دے دُعا شروع کښے دَ بِسمِ اللہ الفاظ هم بیان کړی دی۔ (منہ). (سنن، سعید بن منصور (منہ)، مسند احمد ۶/۳۲۲، ابن ابی شیبہ ۱/۱، کنزالعمال ۲۷۱۸۴، ۲۷۲۲۰.)

کنده نالئ کښے متیازے مۀ کوئ:-

حضرت ابراهیم نخعیؒ فرمائی: کنده نالئ کښے متیازے مۀ کوئ، که دے سره څۀ مرض درته اولږی نو دَ هغے علاج ډیر مشکل کیږی.

(کتاب الوسوسة ابوبکر بن ابی داؤد (منہ))

دَ مسلمانو او مشرکو جِنّاتو کورونه کوم کوم ځائے وی؟:-

(حدیث شریف) حضرت بلال بن حارثؓ فرمائی: مونږ رسول اللہ صلی اللہ علیہ والہ وسلم سره یو سفر کښے یو ځائے کوز شو۔ حضور صلی اللہ

قضاء حاجت دَ پاره تشریف وړی وو۔ او ما حضور صلی الله علیه وآله وسلم
دَ پاره دَ اوبو لوښے وړے وو۔ نو ما دَ څه خلقو جګړه او شور واوریدلو
دا سے شور ما هیڅکله نهٔ وو اوریدلے ۔ کوم وخت چه حضور صلی الله
علیه وآله وسلم تشریف راوړلو۔ نو ما عرض اوکړ : اے دَ الله رسوله!
ما تاسو سره نزدے دَ خلقو جګړه او شور اوریدلے دے۔ چه
داسے ما دَ خلقو نه هیڅکله نهٔ دے اوریدلے۔ نو حضور صلی الله علیه
وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

اِخْتَصَمَ عِنْدِیْ اَلْجِنُّ الْمُسْلِمُوْنَ وَالْجِنُّ الْمُشْرِكُوْنَ
فَسَاَلُوْنِیْ اَنْ اُسْكِنَهُمْ فَاَسْكَنْتُ الْجِنَّ الْمُسْلِمِیْنَ الْجَلْسَ
وَاَسْكَنْتُ الْجِنَّ الْمُشْرِكِیْنَ الْغَوْرَ ط

ترجمه :۔ زما خوا کښے مسلمان جنّاتو او مشرکینو جنّاتو جګړه
کوله۔ هغوے ما نه درخواست کړے وو۔ چه زهٔ هغوے له سکونت
ورکړم نو ما مسلمان جنّاتو له جَلْس ورکړ او مشرک جنّاتو ته م غَوْر
ورکړلو۔ ملخصا

ما (عبدالله بن کثیر وائی) عرض اوکړ۔ دا جَلْس او غَوْر څه
څیزونه دی؟ نو بلال بن کثیر اوفرمائیل۔ جَلْس نه مراد بستیٔ
او غرونه دی۔ او غَوْر نه مراد کنډرے غارونه او سمندری
جزیرے دی۔ (طبرانی، کتاب العظمة ابو الشیخ، دلائل النبوت امام
بیهقی (منه) مجمع الزوائد ۱/۲۰۳، کنز العمال ۱۵۲۳۲)۔

شریر جنّات کوم ځائے اوسیږی :۔

حضرت عمر بن الخطاب رض چه عراق طرف ته دَ تلو اراده اوکړه

Maktaba Tul Ishaat.com

نو کعب احبارؓ ورته عرض اوکړو۔ اے امیر المؤمنین! تاسو دا سفر مه کوئ۔ ځکه چه هلته ۹۰٪ فیصده جادو دے۔ فاسق (بدکار) جنات اوسیږی۔ او عاجزی کوونکے مرض هم دے۔ (مؤطا مالك (منه) مؤطا كتاب الجامع باب الاستئذان حدیث ۳۰)۔

په غوښنه غوړو شوو کپړو کښے اوسیږی:۔

(حدیث شریف) حضرت جابرؓ فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد او فرمائیلو:

أُخْرِجُوا مَنَادِيلَ الْغَمَرِ مِنْ بُيُوتِكُمْ فَإِنَّهُ مَبِيتُ الْخَبِيثِ وَمَجْلِسُهُ ط

ترجمه:۔ دَ خپلو کورونو نه دَ غوښنو دَ غوړوالی والا کپړے اوکاږئ (یعنی غوړوالی والا کپړه صفا کوئ) ځکه چه دا دَ خبیث جنات دَ رهائش او مجلس ځائے دے۔ (ویلمی (منه) ویلمی حدیث ۳۴۳، جمع الجوامع حدیث ۸۲۰، کنز العمال ۴۱۴۹۷، جامع الصغیر سیوطی حدیث نمبر ۲۹۳ (حدیث ضعیف جدا)

دَ جناتو مخکښے دَ شرمګاهونو د پردے دُعا:۔

(حدیث شریف) حضرت انسؓ فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

سِتْرُ مَا بَيْنَ أَعْيُنِ الْجِنِّ وعورات بنی آدَمَ أَنْ يَقُولَ الرَّجُلُ الْمُسْلِمُ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَطْرَحَ ثِيَابَهُ: بِسْمِ اللهِ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ ط. ترجمه:۔ دَ جناتو دَ سترګو او دَ انسانانو دَ شرمګاهونو مینځ کښے پرده دا ده۔ چه مسلمان سړے دَ کپړو ویستلو اراده۔

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکړی نو بِسۡمِ اللّٰهِ الَّذِیۡ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ دے اولولی. (ابن سُنی (منه) عمل الیوم واللَّیۡلَة بَاب مَا یَقُوۡلُ اِذَا خَلَعَ ثَوۡبًا حدیث نمبر ۲۶۸ ص۹۰، الجامع الکبیر حدیث نمبر ۱۴۶۲۲، ۳۳۹/۲، مشکوٰة ۳۵۸، مجمع الزوائد ۱۰۵/۱)

سوړے (بِلُ) دَ جنّاتو کورونه دی:-

حضرت عبدالله بن سرجس رض نه روایت دے: رسول کریم صلی الله علیه وسلم سوړه یا (بل) کښے دَ متیازو کولو نه منع فرمائیلے ده. خلقو دَ حدیث راوی حضرت قتاده رض ته عرض اوکړ. سوړه کښے دَ متیازو کولو دَ کراهت وجه څه ده؟ وے فرمائیل: ویئلے شی چه دَ جنّاتو دَ اوسیدو ځایونه دی. (ابوداؤد (منه) ابوداؤد دَ کتاب الطهارت باب ۱۶، ۲۹، نسائی طهارت باب ۲۹، احمد ۸۲/۵، مستدرك، صحیح ابن خزیمه، بیهقی، ابن سکن، جامع صغیر ۹۵۳۱).

جنّات اوبو کښے هم اوسیږی:-

ابو سعید خدری رض فرمائی: ما حضرت حسن رض او حضرت حسین رض انغمبیتے اولیدل. او په هغوے دوه ښادرونه هم وو. دَ ښادرونو دَ غسے انغمبیتلو ته ما اهمیت ورکړ. او دغسے دَ ښادرونو اچولو وجه مِ دریافت کړه. نو هغوے اوفرمائیل: اے ابوسعید رض! تا ته پته نشته. اوبو باندے هم څه مخلوق اوسیږی. (الکنی للدولابی (منه)).

حضرت (امام باقر) محمد بن علی رض نه روایت دے: حضرت حسن رض او حضرت حسین رض سحر وخت کښے راغلل. هغوے ښادرونو کښے

Maktaba Tul Ishaat.com

ځان انغښتي وو۔ هغوئ اوفرمائيل: اوبو کښې جنات او شياطين اوسي۔ (مصنف عبدالرزاق منه)۔

دَ شپې اوبه دَ جناتو دَ پاره وي :-

وئيلے شي چه دَ شپې اوبه دَ جناتو دَ پاره وي۔ ځکه مناسب نهٔ دى چه هغے کښې متيازے اوکړے شي۔ او نهٔ هغے کښې غُسل اوکړے شي۔ دَ يو مخلوق (جنات) دَ خوف نه چه دَ هغوئ دَ طرف نه څه تکليف ورته اونهٔ رسي۔ (شرح الرافعیؒ (منه) يعنی فتح العزيز فی شرح الوجيز للغزالی)۔

دا وبو دِ نلهٔ ونه دَ جناتو ځايونه دى :-

(حديث شريف) حضرت ابو هريرهؓ نه روايت دے :-

اِنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ نَهٰی اَنْ يَفْرُطَ الرَّجُلُ فِی الْقَرَعِ۔ قِيْلَ وَمَا الْقَرَعُ قَالَ اَنْ يَاْتِیَ اَحَدُکُمُ الْاَرْضَ فِيْهَا النَّبَاتُ کُلَّمَا قَمَّةً قَمَّاسَهٗ فَتِلْكَ مَسَاکِنُ اِخْوَانِکُمْ مِنَ الْجِنِّ

ترجمه:- نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی۔ چه انسان قرع کښې غوټه اووهی۔ تپوس اوشو، قرع څه څيز دے؟ ورته فرمائيل: دا چه تاسو کښې يو سړے داسے ځائ ته ورشی۔ چه هلته بوټی او واښهٔ ډير وی۔ او دَ هغے ځائ اوبه پاندے تو ئے وهی۔ ځکه چه دا ستا سو دَ ورونو جناتو ځايونه دى۔ (کامل ابن عدیؒ (منه)۔

فائده :- شيخ ولی الدين عراقیؒ فرمائی: قرع پټی (کهيت) کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

خالی ځائے نه وائی۔ لکه دَ سر څوکه چه خالی وی۔ (شرح سنن ابی داؤد شیخ ولی الدین عراقی (منه)) ۔

قضاء حاجت دَ پاره سرتور سر مه ځئ :-

ابن رفعه رح وائی : فقهای شافعیهٔ حضرات فرمائی : د لاء مستحب دی - چه سړے سرتور سر قضائے حاجت دَ پاره لاړ نهٔ شی - او که څه څیز بیانهٔ مومی - نو دَ جناتو دَ خوف نه د ه خپل لستوڼړے په سر کیږدی ۔ (کتاب الکنایه علامه ابن الرفعة (منه)) ۔

جنّات دَ شریعت مکلّف دی

دَ جنّاتو مکلف کیدو باندے دَ ټولو اهل نظر اجماع ده ۔

حافظ ابن عبدالبر رح فرمائی : دَ ټو جماعت اهل علم په نزد جنات دَ شریعت مکلف هم دی او د هغے مخاطب هم دی۔ ځکه چه ارشادِ خداوندی دے : يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ ۔

ترجمه :- اے دَ جن او انس جماعته!

مزید ارشاد دے :

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ط

ترجمه :- نو تاسو به دَ خپل رب کوم کوم نعمتونو نه دروغ وائیے ؟ ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دے دواړه ایتونو کښې الله تعالیٰ انسانان او جنّات مخاطب کړی دی۔ نو معلومه شوه چه دا دواړه دَ شریعت مکلف دی.

امام رازی رحمه الله فرمائی: دَ تمام اُمت په دے اتفاق دے چه تمام جنّات مکلف دی. (تفسیر کبیر امام رازیؒ ۔منه،) ۔

قاضی عبد الجبار معتزلی وائی: مونږ دَ جنّاتو دَ مکلّف کیدو متعلق اهل نظر کښې دَ هیچا خلاف نهٔ بیا مومو۔

علامه عزالدین جماعة فرمائی: دَ مکلفینو درے قسمونه دی ۔۔

(۱) هغه قِسم دے چه شروع پیدائش نه بالکل مکلف دے دا فرشتے، حضرت آدم علیه السلام او بی بی هوا دی.

(۲) هغه قِسم دے۔ چه شروع پیدائش نه بالکل مکلف نهٔ دی۔ دا دَ حضرت آدم علیه السلام اولاد دے ۔

(۳) یو قِسم هغه دے۔ چه هغے کښې اختلاف دے۔ ظاهر دا دی چه: دا هم شروع پیدائش نه مکلف دی۔ دا جنّات دی.

(شرح بدء الامالی علامه عزیز الدین بن جماعة)

جنّاتو نه هیڅوک نبی او رسول نهٔ دے شوے

اکثر علمائے سلف او خلف دا فرمائی چه جناتو کښے هیڅوک،

Maktaba Tul Ishaat.com

رسول او نبي نهٔ دے شوے . ابن عباسؓ، مجاهدؒ، حضرت کلبیؒ او حضرت ابو عبیدؒ هم د غسے منقول دی . فرمان خداوندی دے:

یَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اَلَمْ یَاْتِکُمْ رُسُلٌ مِّنْکُمْ

(سوره الانعام ایت ۱۳۰)

ترجمه :- اے دَ جنّاتو او انسانانو ډلے ! تاسو ته ستاسو نه رسول نهٔ دے راغلے ؟

دَ دے تفسیر کښے مجاهدؒ فرمائی : جنّاتو کښے هیڅوک رسول شوے نهٔ دے . رسولان خو انسانانو کښے رالیږلے شوی دی . جنّاتُ نه " نذارة " ویروتکے شوی دی . بیا هغوئ دَ دے دلیل کښے دا ایت اولوستلو :

فَلَمَّا قُضِیَ وَلَّوْا اِلٰی قَوْمِهِمْ مُنْذِرِیْنَ (احقاف ایت ۲۹)

ترجمه :- رُسُلٌ مِّنْکُمْ (ستاسو جنّاتو او انسانانو کښے د رسول) متعلق فرمائی : چه دلته دَ رسولانو قاصدان مراد دی . بیا هغوئ دا ایت اولوستلو . (عبد بن حمید ، ابن المنذر ، ابن ابی حاتم (منه)

وَلَّوْا اِلٰی قَوْمِهِمْ مُنْذِرِیْنَ .

ترجمه :- کله چه جنّاتو دَ حضور صلی الله علیه واله وسلم نه دَ هدایت خبرے واوریدے ، نو خپل قوم ته منذرین (ویرونکی) جوړ یدو سره اوز غلیدل . (ابن منذر (منه)

- - - -

ایا دَ حضور صلی اللہ علیہ وسلم نہ مخکښې جناتو کښې څوک نبی شوے دے؟

د حضرت ضحاکؒ مذهب:-

حضرت ضحاکؒ نہ دَ جناتو متعلق تپوس اوشو۔ ایا دَ حضور صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم دَ تشریف اوړو نہ مخکښې جناتو کښې څوک نبی راغلے دے یا نہ؟۔

نو حضرت اوفرمائیل : ایا تاسو دَ اللہ تعالیٰ دا ارشاد نۂ دے اوریدلے؟ :-

یَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اَلَمْ یَاْتِکُمْ رُسُلٌ مِّنْکُمْ ط

ترجمه: اے دَ جناتو او انسانانو ډلے! آیا تاسو تہ ستاسو نہ رسول نۂ وو راغلے؟

دے ارشاد کښې اللہ تعالیٰ دَ انسانانو او جناتو رسول منودلے دے۔ شاګردانو اووے: ولے نہ۔ مونږ دا ارشاد اوریدلے دے.

(ابن جریر، منذر)۔

حضرت ابن جریجؒ فرمائی: کوم حضرات چہ دَ حضرت ضحاکؒ مذهب لری. دَ جناتو نہ هم رسول شوی دی. چہ هغه جناتو طرف تہ رسول لیږل شوے وو.

دا حضرات فرمائی: کہ دا درست دی۔ چہ دَ انسانانو دَ رسولانو نہ حقیقی انسانی رسولان مراد دی۔ نو دَ انسانانو دَ رسولانو

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ خبرنه دا هم معلومه شوه - چه دَ جنّاتُ نه هم رسول شوی دی۔

دَ علامه ابن حزمؒ مذهب :-

علامه ابن حزم رح فرمائی : دَ حضرت محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم نه مخکینے نبی جنّاتو طرف ته نهٔ وولیږلے شوے - ځکه چه جنّات دَ انسانانو دَ قوم نه نهٔ دی۔

او حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم ارشاد فرمائیلے دے (چه مخکیے اُمتونو کینے) نبیؑ څه نه څه خاص قوم طرف ته لیږلے شو: (دا جمله دَ حدیث یوه ټکړه ده - چه دے کتابونو کینے هدایت ده: بخاری کتاب التیمم باب۱، کتاب الصلوٰة باب ۵٦ ، جهاد باب ۱۲۲، تعبیر الرؤیا باب ۱۱، الاعتصام باب ۱ ، مسلم مساجد حدیث ۵۰۳ ، ۸ ، ترمذی کتاب السیر باب ۵ ، دارمی کتاب السیر باب ۲۸ ، سنن نسائی کتاب الغسل باب ۲۲، الجهاد باب ۱ ، مسند احمد ۱/ ۲۰۱ ، ۲/۲۲۲، ۲٦۴، ۲٦۸ ، ۳۱۴ ، ۳۹٦ ، ۴۱۲ ، ۴۵۵ ، ۵۰۱ ، ۳/ ۳۰۴ ، ۴/ ۱٦ ، ۴ ، ۵/۱٦۲ ، ۲۴۸ ، ۲۵٦ ، بیهقی ۱/ ۲۱۳ ، ۲/ ۴۳۳ ، تعلیق التعلیق ۲۵۴ ، اتحاف السادہ ۱۰ /۴۸۸ ، ۴۸۹ ، فتح الباری ۱/ ۴۳٦ ، ۴۳۹ ، ۵۳۳ ، تفسیر ابن کثیر ۲/ ۲۰ ، ۱۱۲ ، ۲۸۱ ، ۳/ ۴۹۰ ، ۴/ ۳۴ ، ۳۹۷ ، ٦/ ۱۰۱ ، ۵۰٦)

ابن حزمؒ فرمائی : دا خبره خو مونږ یقینی طور سره پیژنو چه هغوئ ویرولے شوی دی او دا هم دَ الله تعالیٰ ارشاد (اَلَمْ یَاْتِکُمْ رُسُلٌ مِّنْکُمْ) نه واضحه ده چه هغوئ ته انبیاء کرام تشریف راوړے دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ حضرت ابن عباس رضؓ تفسیر :-

دَ اکام المرجان مؤلف فرمائی : دَ ضحاکؒ دَ مذهب تائید دَ ابن عباس رضؓ دَ طرف نه فرمان خداوندی : وَمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ (سورۂ طلاق آیت ۱۲) تفسیر کښې روایت دے - چه مزکے هم اووه دی - هره مزکه کښې ستاسو دَ نبیؑ په شان یو نبیؑ دے او دَ آدم په شان یو ادم دے - او دَ نوحؑ په شان یو نوح دے او دَ ابراهیمؑ په شان یو ابراهیمؑ دے ، او دَ عیسٰی په شان یو عیسٰیؑ دے . (ابن جریر، ابن ابی حاتم، حاکم وصححه ، شعب الایمان بیهقی (منه) مستدرك حاکم ۲/۴۹۳)

اکثر علماءُ د دے تأویل دا فرمائیلے دے : چه دا جنات نهٔ خو خلق وو - چه دَ اللّٰه تعالٰی دَ طرف نه رسول نهٔ وو - لیکن اللّٰه تعالٰی هغوئ په مزکه خوارهٔ کړل - او هغوئ دَ اللّٰه دَ رسولانو کلام واورید لو - چه انسانانو ته رالیږلے شوی وو - او خپل جناتو قوم ته واپس راغلل - او هغوئ ئے اوویرول :

زهٔ (علامه سیوطیؒ) وایم

علامه شبلیؒ امام کلبیؒ :-

فرمائی : دَ حضور صلی الله علیه واله وسلم دَ تشریف آوړو نه مخکښې انبیاء کرام انسانانو ته رالیږلے شو - او حضور صلی الله علیه واله وسلم دواړو طرف ته رالیږلے شوے دے . (شبلیؒ فی فتاویه ، کلبی فی ماحکاه الزمخشری (منه))

علامه زمخشری فرمائی : دے خبره کښې دَ امام ضحاکؒ موافقت

Maktaba Tul Ishaat.com

نشته - چه جناتو کښې هم رسول شوے دی . بلکه دا مراد دے چه دَ انسانانو رسول هغوئ ته خصوصی طور سره خطاب کولو . جنات ترے خطاب نهٔ کولو - څنګه چه حضور صلی الله علیه واله وسلم جناتو ته خطاب او فرمائیلو . هر کله چه هغوئ ورته حاضریدل دے جناتُ به دَ انبیاء کرامو نه - یا بعضے مؤمنینو نه دَ انبیاءُ علیهم السلام دعوت) اوریدلو . (زمحشری (منه) لعله فی تفسیره الکشاف) .

Maktaba Tul Ishaat.com

حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم
دَ جِنّ او اِنس نبی دے

دَ مسلمانانو مذاهبو کښې هیچا اختلاف نهٔ دے کړے چه حضور صلی اللہ علیه واله وسلم انسانانو او جناتو دواړو طرف ته پیغمبر رالیږلے شوے دے۔ دَ بخاری او مسلم حدیث :
بُعِثْتُ اِلَی الْاَحْمَرِ وَالْاَسْوَدِ، تفسیر دے نه شوے دے چه زهٔ جنّاتو او انسانانو ته نبی جوړ یدلو سره رالیږلے شوے یم۔
(مسلم شریف حدیث ۳، کتاب المساجد، مسند امام احمد ۱/۲۵۰، ۳۰۱، ۴/۴۱۶، ۵/۱۴۵، ۱۴۸، ۱۶۲، ابن حبان حدیث ۲۰۰، مجمع الزوائد ۲/۶۵، ۸/۲۵۸، ۲۶۹، طبقات ابن سعد ۱/۱/۱۲۷، البدایه والنهایه ۲/۱۵۴، تفسیر ابن کثیر ۶/۱۰۰، ۵۰۶، قرطبی ۱/۴۹)

دَ جنّاتو مؤمن او مسلمان کیدل لازمی دی

شیخ ابوالعباس (ابن تیمیه رحمه الله) فرمائی: الله تعالی جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم دواړه ثقلین (جنّات او انسانانو) طرف ته رسول رالیږلے دے۔ دَ هغوئ په حضور صلی الله علیه واله وسلم ایمان راوړل ئې لازم کړی دی۔ او دَ حضور صلی الله علیه واله وسلم اطاعت ئې پرے هم لازم کړے دے۔ او دا چه هغه حلال اوګڼړی څه چه حضور صلی الله علیه واله وسلم حلال فرمائیلی دی۔ او هغه حرام اوګڼړی۔ څه چه حضور صلی الله علیه واله وسلم حرام فرمائیلی

Maktaba Tul Ishaat.com

دی۔ او هغه سره محبت کوي چا سره چه حضور صلی الله علیه واله وسلم محبت فرمائیلے دے۔ او هغه ناخوښه کړی څه چه حضور علیه الصلوٰة والسلام ناخوښه کړي دی۔ او هر هغه سړے چه په هغهٔ د حضور صلی الله علیه واله وسلم د رسالت دلیل قائم شوے دے۔ هغه انسان وي یا جن۔ او هغه په حضور صلی الله علیه واله وسلم ایمان رانهٔ وړی۔ نو هغه د الله تعالے د عذاب مستحق دے۔ څنګه چه هغه کافر د الله د عذاب مستحق دے۔ چه هغوئ طرفته الله جل جلاله رسول رالیږلے وو۔ او دا داسے اتفاقی قانون دے چه په دے د صحابه کرامو رضی الله عنهم تابعین عظام، ائمه مسلمین او اهل سنت وغیره ټولو جماعتونو اتفاق دے.

د یو جن صحابي د شهادت عجیبه واقعه :-

د ابن مسعود رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه حضور صلی الله علیه واله وسلم څو صحابه کرامو رضی الله عنهم سره سفر کولو چه یوه بربوکئ (د پیریانو دولئ) هغه حضرات راګیر کړی دے نه پس د هغے نه یوه ډیره لویه بربوکئ راغله۔ چه خوره شوه بیا مونږ اولیدل چه یو مار مړ پروت وو۔ نو مونږ کښے یو سړے ورمخکښے شو۔ خپل څادرے دوه حصے که۔ او یوه حصه کښے هغهٔ له کفن ورکولو سره بے دفن کړلو۔ کوم وخت چه شپه شوه ـــ نو دوه ښځو تپوس کولو۔ تاسو کښے چا عمرو بن جابر رض د فن کړے دے۔ مونږ خو عمرو بن جابر نهٔ پیژنو۔ نو هغوئ اووے۔ که

Maktaba Tul Ishaat.com

تاسو د ثواب کوشش کړے وو۔ نو هغه تاسو ته حاصل شو۔
ځنے فاسق جنات مؤمن جنات سره جنګ کړے وو۔ او هغوئ
عمرو بن جابرؓ قتل کړے وو۔ او دا هغه مار وو چه تاسو اولیدهٔ
او دفن کړے مو دے۔ او دے د هغے جن حضرات نه وو۔ چه
هغوئ رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه قرآن اوریدلے وو۔ بیا
خپل قوم ته واعظ جوړ شو سره واپس شوے وو۔ (ابن سلامنه)

شهید جن نه خوشبو۔ د جنات جنګ :۔

حضرت معاذ بن عبیدالله بن معمر رحمة الله علیه وائی۔ زهٔ
د حضرت عثمان رضی الله عنه خدمت کښے حاضر وم۔ یو سړے
راغے او عرض ئے اوکړو۔ زهٔ تاسو ته یوه عجیبه خبره بیانول
غواړم۔ مونږ یو وسیع میدان کښے وو۔ چه زمونږ مخکښے دوه
بربوکئ راغلے۔ یوه د یو طرف نه او بله د بل طرف نه۔ بیا هغوئ
کښے جنګ او مقابله اوشوه۔ بیا هغوئ جدا جدا شوے۔ نو مونږ
اولیدل۔ چه یوه د بلے نه زیاته وه۔ بیا زهٔ د هغوئ دا کهاړے
(کشتئ) ځائے ته ورغلم۔ نو هلته ډیر ماران پراته وو۔ د هغوئ
نه زیات زما سترګو بل څیز او نهٔ لیدلو۔ هغوئ کښے د یو مار نه
د کستوری خوشبوئی راتله۔ او هلته د یو باریک زیړ رنګ مار هم
پروت وو۔ ما هغه اړولو را اړولو چه دا خوشبو د کوم مار نه راځي
نو هغه خوشبو د هغه زیړ مار نه راتله۔ زما یقین اوشو چه دا د
هغهٔ د نیکئ په وجه دے۔ نو ما ترے خپل پټکے چاپیر کړو، او
هغه کښے م دفن کړلو۔ دے نه پس زهٔ تلم چه دیو اعلا نچي

Maktaba Tul Ishaat.com

آواز مِ واوریدلو، چہ ماتہ پہ نظرنۂ راتلو هغهٔ اووئے: اے د الله بندیانو! تاسو داخهٔ خهٔ کری دی ؟ ما هغهٔ تہ هغہ خهٔ اوسنودل، خہ چہ مالیدلی وو- هغهٔ اووے تادرست اوکرل داد جنّاتو قبیلے بنو شیعان او بنواقیش وو- د هغویٔ خپلو کینے جنگ اوشو او د هغویٔ د مقتولینو نہ یو هغہ هم وو چہ هغہ تا اولیدلو او دے شهید شوے دے- او دے دَ هغے جنّ حضراتو نہ وو- چہ هغویٔ د جناب رسول کریم صلی الله علیه واله وسلم نہ قرآن کریم اوریدلے وو. (ابن ابی الدنیا کتاب الهواتف ۱۵۸ ص۱۴، اکام المرجان ص۴۳).

د یو صحابی جنّ د وفات واقعه :-

کثیر بن عبدالله ابوهاشم تابعی رحمة الله علیه فرمائی. مونږ ابو رجا عطاروی رحمة الله علیه تہ حاضر شو- او هغهٔ نہ مو تپوس اوکړو، چہ تاتہ د هغے جناتو صحابہ کرام رضی الله عنهم علم شتہ؟ چہ هغویٔ د حضور صلی الله علیه واله وسلم د بیعت شرف حاصل کړے وو ؟ نو هغہ مُسکے شو- او وئے فرمائیل: زهٔ درتہ هغہ خبره بنایٔم چہ ما پخپله اولید لہ- او اوریدلے مِ وه- هغہ داچہ: مونږ یو سفر کښے وو- هر کله چہ د اوبو یو ځائے کښے کوز شو، او خپلے خیمے مونصب کړے او زهٔ د غرمے آرام کولو لہ لاړم، نو خیمہ کښے زما مخکښے یو مار آوهیدلو راوهیدلو- ما خپل لوښے راواخست- او پہ هغهٔ مِ اوبهٔ چرقاؤ کول شروع کړل نو هغهٔ تہ سکون اوشو، کوم وخت چہ مونږ د مازیگر مونځ اوکړو

Maktaba Tul Ishaat.com

نو هغه مړ شو۔ نو ما د خپلے تهیلۍ نه د یوے سپینے کپړے ټکړه راوښکله۔ او هغه مې پکښے اونغښتلو او کنده مې اوښکله۔ هغے کښے مې دفن کړو۔ او باقي ورځ اوشپه مونږ سفر کښے مصروف وو، هرکله چه وسخ راوختله۔ او مونږ د اوښو په یو ځائے کوز شو۔ او خیمے مو اولګولے۔ او زۀ د غرمے آرام د پاره لاړم۔ نو ما دوه ځله د سلام علیکم آواز واوریدلو۔ د اخلق یو یا لسئ یا نهلل یا زر نه وو۔ بلکه دے نه هم ډیر زیات وو۔ ما د هغوئ نه تپوس اوکړه تاسو کوم خلق یئے؟ هغوئ اووے: مونږ جنات یو۔ الله دے تا له برکت درکړی۔ تا زمونږ یو داسے کار کړے دے۔ چه د هغے د بدلے ورکولو مونږ کښے طاقت نشته۔ ما ترے تپوس اوکړو۔ ما ستاسو کوم کار کړے دے؟ هغوئ اووے هغه مار چه ستاخوا کښے وفات شوے وو۔ هغه د هغے آخری حضراتو نه وو۔ کوم چه د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم نه د بیعت شرف حاصل کړے وو۔ (ابن ابی الدنیا، دلائل النبوت ابونعیم اصبهانی (منه) الهواتف ابن ابی الدنیا ۵۳ ص۳۹، حلیه ابونعیم ۲/۳۰۴، دلائل النبوت ابونعیم اصبهانی ۲/۱۲۷)

حضور صلی الله علیه واله وسلم ته د جناتو څو وفدونه راغلی وو:۔

مؤلف امام شبلی رحمة الله علیه فرمائی: د دے کښے شک نشته چه د هجرت نه پس مکه او مدینه کښے حضور صلی الله علیه واله وسلم ته د جناتو وفدونه حاضر شوی دی،

Maktaba Tul Ishaat.com

د شیاطینو د اسمان نه خبرے غلا کول کله بند شو؟

(حدیث) حضرت ابن عباس رضی اللہ تعالیٰ عنہ فرمائی:

اِنْطَلَقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّمَ فِيْ طَائِفَةٍ مِنْ اَصْحَابِهٖ عَامِدِيْنَ اِلٰى سُوْقِ عَكَاظٍ وَقَدْ حِيْلَ بَيْنَ الشَّيَاطِيْنَ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَآءِ وَ اُرْسِلَتْ عَلَيْهِمُ الشُّهُبُ فَرَجَعَتِ الشَّيَاطِيْنُ اِلٰى قَوْمِهِمْ فَقَالُوْا حِيْلَ بَيْنَنَا وَ بَيْنَ خَبَرِ السَّمَآءِ وَ اُرْسِلَتْ عَلَيْنَا الشُّهُبُ قَالُوْا مَا حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَآءِ اِلَّا شَيْئٌ حَدَثَ، فَاضْرِبُوْا مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَمَغَارِبَهَا فَانْظُرُوْا مَا هٰذَا الَّذِيْ حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَآءِ فَانْطَلَقُوْا يَضْرِبُوْنَ مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَمَغَارِبَهَا فَانْصَرَفَ اُولٰٓئِكَ النَّفَرُ الَّذِيْنَ تَوَجَّهُوْا نَحْوَ تِهَامَةَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِنَخْلَةٍ وَهُوَ يُصَلِّيْ بِاَصْحَابِهٖ صَلٰوةَ الْفَجْرِ، فَلَمَّا سَمِعُوا الْقُرْاٰنَ اِسْتَمَعُوْا اِلَيْهِ فَقَالُوْا هٰذَا وَاللّٰهِ الَّذِيْ حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَآءِ فَهُنَالِكَ لَمَّا رَجَعُوْا اِلٰى قَوْمِهِمْ قَالُوْا: اِنَّا سَمِعْنَا قُرْاٰنًا عَجَبًا يَهْدِيْ اِلَى الرُّشْدِ فَاٰمَنَّا بِهٖ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا اَحَدًا.

ترجمہ:- نبی کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم د خپل صحابہ کرامو رضی اللہ عنہم یو جماعت سرہ د عکاظ بازار پہ ارادہ روان شولو۔ او هغه وخت د شیاطینو مخکښې د اسمان مینځ کښې بندیز پیدا شوے وو۔ او پہ هغوئ د اور لمبې پریښودلے شوے۔ دا شیاطین چه کوم وخت خپل قوم تہ واپس شول۔ نو هغوئ اووے: ستاسو

او د آسمان د اطلاع مینځ کښې څه خیز خنډ کیدے نۀ شي. ۔
معلومیږی دا سے چه څهٔ نوے خیز وجود کښې راغلے دے، تاسو
د مشرق او مغرب اطراف کښې خوارهٔ شئ او اوګورئ کوم خیز
ستاسو او آسمان د خبر مینځ کښې حائل واقع شوے دے ۔ نو
هغوئ مشرق او مغرب چاپیر کړلو ۔ نو یوه ډله تهامه جانب ته
د حضور علیه السلام جانب ته راغله ۔ حضور صلی الله علیه وآله وسلم
نخله کښې وو ۔ او خپلو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته ئے د سهار
مونځ ورکولو ۔ هرکله چه هغوئ قرآن پاك واورولو ۔ نو هغې طرف
ته متوجه شو ۔ او هغوئ اووے : قسم په خدائے دا خیز دے چه
ستاسو او د آسمان د اطلاع مینځ کښې حائل دے ۔ هغه وخت هغوئ
خپل قوم ته واپس راغلل ۔ او هغوئ اووے : اے زمونږ قومه !
جنات " مونږ یو عجیبه قرآن اوریدلے دے ، چه د هدایت رهنمائي
کوی ۔ نو مونږ پرے ایمان راوړے دے او مونږ به خپل
پروردګار سره هیڅوك شریك نه کړو . (نجدی شریف کتاب
الاذان باب ۱۰۵ ، کتاب التفسیر تفسیر سورة ۷۲ ، صحیح مسلم
کتاب الصلوٰة حدیث ۱۴۹ ، سنن ترمذی تفسیر سورة ۷۲) .

د جنّاتو د وفدِ نصیبین حضور صلی الله علیه وآله وسلم سره ملاقات :-

حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی : اهل
صفّه خلقو ته هر یو چا نه چا طعام د پاره بوتلو ۔ او زۀ یاتے شوم
زۀ هیچا بونهٔ تلم ۔ زۀ جومات (مسجد) کښې ناست ووم ۔ چه حضور
صلی الله علیه وآله وسلم تشریف راوړلو ۔ او د حضور صلی الله علیه وسلم ،

Maktaba Tul Ishaat.com

لاس مبارک کښې د قجورے لختہ وہ۔ حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم هغه زما پہ سینه اووهله۔ او وې فرمائیل: ما سره ځه! بیا حضور صلی اللہ علیه واٰله وسلم روان شولو۔ زهٔ هم حضور صلی اللہ علیه واٰله وسلم سره روان شولم۔ حتی چه مونږ بقیع غرقد ته اورسید لو۔ بیا حضور صلی اللہ علیه واٰله وسلم خپله عصاء شریف سره یوه کرښه راښکله۔ او وې فرمائیل: په دے کښه۔ څو پورے چه زهٔ واپس رانشم دلته اوسه۔ بیا حضور صلی اللہ علیه وسلم روان شولو۔ ما وریته د قجورو مینځ کښې کتل۔ تر دے چه یو توره غبار خوره شولو۔ او زما د حضور صلی اللہ علیه واله وسلم سره رابطه قطع شوله۔ ما د حضور صلی اللہ علیه واٰله وسلم نه واوریدل۔ چه خپله عصاء مبارکه ئے ټکوله۔ او فرمائیل ئے: کینئ۔ حتیٰ چه سحر ظاهر شو۔ بیا غبار اوچت شو۔ او هغوئ لاړل۔ او حضور صلی اللہ علیه واله وسلم ما ته تشریف راوړلو۔ ارشاد ئے اوفرمائیلو: که تهٔ د دے حلقے نه زما امن د رکولو نه پس وتلے وے۔ نو هغوئ کښې چا جن به تهٔ تښتولے وے۔ آیا تا څهٔ لیدلی وو۔ ما عرض اوکه: ما څهٔ تور خلق د غبارالود کپړو کښې لیدلی وو۔ حضور صلی اللہ علیه واٰله وسلم ارشاد اوفرمائیلو: دا د نصیبین د جناتو وفد (جرګه) وو۔ هغے ما نه د ساماں او توښې سوال اوکه۔ ما هغوئ ته د هر قسم هډوکي او خاشترو سامان خرچ ورکړے دے۔ ما عرض اوکه دا به د هغوئ په څه کار راځی؟ حضور صلی اللہ علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو: هغوئ ته چه کوم هډوکے هم حاصل شی۔ په هغے به هغسے غوښه بیا موجی

په کومه ورځ چه هغه خوړلے شوے وه۔ او هغوئ ته به سوټے (گوبر) حاصلیږی۔ په هغے به هغوئ غله بیاموندی۔ چه د هغے د خوراك په ورځ به هغے موجود وه۔ ځکه تاسو کښے دے هیڅ سړے هډوکی او سوټهو سره آستنجاء نۀ کوی. (ابن جریر تفسیر طبری، ابونعیم (منه) نصب الرایه ۱/۱۴۵، تفسیر ابن کثیر ۷/۲۸۲)

حضور صلی الله علیه واله وسلم د جنّاتو مخکښے سورة الرحمن تلاوت کړلو

(حدیث) حضرت جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم ته تشریف راوړلو۔ او د هغوئ مخکښے اوّل نه اخره پورے سورة رحمٰن تلاوت کړ۔ نو صحابه رضی الله تعالی عنهم خاموش وو۔ حضور صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل: تاسو ولے خاموش یئ؟ ما چه دا سورة لیلة الجن کښے د جنّاتو مخکښے اولوستلو نو هغوئ تاسو نه زیات بهتر جواب ورکولو۔ هر کله چه زهٔ ارشاد باری تعالی (فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ) ته اورسیدم۔ نو هغوئ اووے: اے زمونږ پروردګاره! مونږ ستا د نعمتونو نه انکار نشو کولے ټول تعریفونه تا لره دی. (ترمذی، حاکم، بیهقی وصححه (منه) سنن ترمذی تفسیر سورة ۵۵، دلائل نبوت بیهقی ۲/۲۳۲، ۱۷، ۳/۴۷۳، درمنثور ۶/۱۴۰، کنزالعمال حدیث نمبر ۲۸۳۲، ۴۱۳۶۰، مستدرك حاکم ۲/۴۷۳، الشکر لابن ابی الدنیا حدیث نمبر ۲۷، تهذیب تاریخ دمشق ابن عساکر ۲/۲۰۴، ۵/۳۹۶، میزان الاعتدال

Maktaba Tul Ishaat.com

٢٩١٨ ، زاد المسیر ٨/١١٢ ، تفسیر ابن کثیر ٧/٢٨٥)

د شیطان د کړوسي (پړپوتي) عجیبه قصه :-

(حدیث) حضرت عمر رض فرمائي : مونږ د جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره د تهامه غرونو کښې په یو غر ناست وو- یو بوډا خپل لاس کښې همسا اخستو سره مخې ته راغي - او رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ته ئې سلام اوکړ- حضور صلی الله علیه واله وسلم جواب ورکولو سره د هغه ژبه کښې تپوس اوکړ - ته څوک یې ؟ هغه اووے : زه هامه بن هیم بن لا قیس بن ابلیس یم حضور صلی الله علیه واله وسلم ورته اوفرمائیل : ستا او شیطان مینځ کښې صرف دوه پلارانو فاصله ده- تا څومره زمانه قطع کړې ده ؟ هغه اووے : ما د دنیا عمر پوره کړے دے - بس لږ شان نور باقي دے - کوم شپه کښې چه قابیل هابیل قتل کړے دے - هغه وخت زه د څو کالو بچے وم په غرو پوهیدم ، په دیبو (ټیلو) به م دانګل - د طعام خرابولو او قطع رحمئ حکم نه م کولو - نو جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو د جدائي اچونکے بوډا او سستي کوونکے ځوان کله ډیر خراب دے ؟ هغه اووے : ما دے باره کښې معاف کړئ - زه الله تعالی ته توبه کوم زه حضرت نوح علیه السلام سره د هغوئ جومات (مسجد) کښې هغې خلقو سره ووم چه د هغوئ قوم کښې به هغوئ ایمان راوړے وو، ما به همیشه هغوئ ته د خپل قوم په دعوة سخت سست وئیل - حتی چه هغوئ خپله هم په ژړا شو- او زه ئې هم اوژړولم - هغوئ

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمائیلی وو (کہ زۀ ستا خبرہ اومنمٔ نو) زۀ بہ ضرور د شرمندګئ اوچتوونکو نہ شم۔ او زۀ پناہ غواړم چہ زۀ د جاهلانو نہ شم، ما ورتہ عرض اوکہ۔ اے نوح! زۀ د هغے خلقو نہ یم۔ چہ د قابیل بن آدم د سعادت مند شهید خون کولو کښے شریک ووم۔ ایا تاسو د رب تعالیٰ پہ نزد زما د توبے قبولیت بیا مومئ۔ هغوئ اوفرمائیل اے هامه! د خیر نیت اوکہ او د حسرت او ندامت نہ مخکښے (نیکی) شروع کړه۔ اللہ تعالیٰ چہ پہ ما څہ نازل کړی دی۔ ما هغے کښے لوستی دی چہ کوم سړے د خپلے پوره دینداری سره د اللہ تعالیٰ مخکښے توبہ تائب شی نو اللہ تعالیٰ د هغہ توبہ قبلوی، پاڅه او دس اوکہ او دوه رکعتہ اوکہ۔ نو ما هغہ وخت عمل شروع کہ۔ چہ د هغے، هغوئ ماتہ حکم فرمائیلے وو۔ بیا هغوئ ماتہ آواز اوکہ۔ چہ خپل سر اوچت کہ۔ ستا توبہ د آسمان نہ نازلہ شوے دہ۔ نو زۀ اللہ د پاره یو کال پورے پہ سجده پروت ووم او زۀ حضرت هود علیہ السلام سره توبہ کښے شریک ووم۔ هر کلہ چہ هغوئ خپل قوم سره سجده کړے وه۔ ما به هغوئ تہ د هغوئ د جاهل قوم بار بار دعوت ورکولو باندے عتاب کولو۔ حتیٰ چہ هغوئ هم پہ خپل قوم اوژړل۔ او زۀ ئے هم اوژړولم او ما به د حضرت یعقوب علیہ السلام زیارت هم کولو۔ او یوسف علیہ السلام سره د امانت داری پہ عهده فائز ووم۔ او زۀ بہ حضرت الیاس علیہ السلام سره وادیو (وادیو) کښے یوځائے کیدم او اوس هم هغوئ سره یوځائے کیږم۔ (کتاب الضعفاء عقیلی، ابو نعیم، بیهقی (منه)، دلائل النبوت ابو نعیم اصبهانی ١٣١) زما حضرت موسیٰ علیہ السلام سره

Maktaba Tul Ishaat.com

ملاقات شوے وو۔ هغهٔ راته تورات سنودلے وو۔ او فرمائیلی ئے وو۔ که ته حضرت عیسیٰ علیه السلام سره ملاقات اوکړے۔ نو هغوئی ته زما سلام وایه۔ او زهٔ حضرت عیسیٰ علیه السلام سره هم یو ځائے شوے یم، او هغوئی ته مې د هغوئی سلام رسولے دے او حضرت عیسیٰ علیه السلام ما ته فرمائیلی وو۔ که ته حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم سره یو ځائے شے۔ نو هغوئی ته زما له طرف نه سلام پیش کړه۔ نو د حضور صلی الله علیه وآله وسلم سترګو ته اوښکے راغلے۔ او په ژړا شولو۔ بیائے اوفرمائیل: او په عیسیٰ علیه السلام دے هم دُنیا پاتے پورے سلام وی۔ او اے هامه! د امانت رسولو په وجه په تا دے هم سلام وی۔ هام اووے: اے رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم! تا سو هم ما سره هغه اوکړئ څهٔ چه موسیٰ علیه السلام کړی وو۔ هغوئی ما ته تورات سنودلے وو نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم هغهٔ ته سورهٔ واقعه، سورهٔ مرسلات سورهٔ عمّ یتساءلون، سورهٔ اذاالشمس کوّرت او معوذتین او قل هوالله احد اوسنودلو۔ او وے فرمائیل: اے هامه! خپل ضرورت زمونږ مخکښے پیش کړه۔ او زمونږ زیارت مهٔ پریږدهٔ حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه وائی: بیا چه د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم وفات حسرت آیات اوشو۔ او د هغه (هامه) مونږ ته خبر او نهٔ شو۔ نو معلومه نهٔ ده چه هغه (هامه) ژوندے دے یا وفات شوے دے (د حضرت الیاس او حضرت خضر علیهم السلام د دواړو ارواح ته الله تعالیٰ حسب منشاء خداوندی د اشکال

بدلولوطاقت ورکړے دے۔ اوس هم د هغوئ ارواح څه نه څه اولیاء حضرات وغیره سره ملاقات کوی. تفسیرمظهری مأخوذ ازحضرت مجدد الف ثانیؒ

فائده :- دا مذکوره حدیث زوائد زهد کښے حضرت عبد الله د امام احمد رحمة الله علیه د حضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت کړے دے۔ او عقیلی (ضعفاء کښے) او شیرازی کتاب الالقاب کښے او ابونعیم (دلائیل ۽ کښے او ابن مردویه هم ذکر کړے دے۔ او هم دارنګه دا روایت علامه فاکهیؒ کتاب مکة کښے د حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه نه نقل کړے دے. د دے حدیث څو طریقے دی۔ چه د هغے په وجه دا حدیث درجه حسن ته رسی . (علامه سیوطی)

د ابلیس کړوسے جنت کښے :-

(حدیث) حضرت بی بی عائشه صدیقه رضی الله تعالیٰ عنها فرمائی: جناب نبی کریم صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اِنَّ هَامَّةَ بْنَ هَيْثَمَ بْنِ لَاقِيْسَ فِي الْجَنَّةَ .

ترجمه: هامة بن هیثم بن لاقیس به جنت له ځی . (کتاب السنن ابوعلی بن اشعثِ (منه) تذکرة الموضوعات پټنوی ۱۱۱، لآلی مصنوعه ۱/ ۹۲) .

دوه نبیانو باندے ایمان راوړونکے جن صحابی :-

سهیل بن عبدالله (تستریؒ) فرمائی: زهٔ د قوم عاد یو علاقے طرف ته لاړم۔ ما هلته یو غار اولیدلو چه کنولے شوے

Maktaba Tul Ishaat.com

وو۔ د هغې مینځ کښې د کاڼو یو محل وو۔ چه هغې کښې جنّات اوسیدل زهٔ هغې کښې داخل شوم۔ نو هلته یو بوډا اسپے دیو هیکل جسم کښې کعبې طرف ته مخ کړے مونځ یې اداء کولو۔ په هغهٔ د وړیو (اُون) یوه جُبه هم وه۔ چه هغې کښې تازګی وه۔ زهٔ د هغهٔ عظیم الجثه کیدو د ومره تعجب کښې وانه اچولم څومره چه د هغهٔ د جُبې تازګئ او تراوت تعجب کښې واچولم۔ ما هغهٔ ته سلام اوکړ۔ او هغهٔ ما ته د سلام جواب راکړلو۔ هغهٔ اووې: اے سهیل! جسم کیږے نهٔ زړوی۔ بلکه هغه د ګناهونو بدلو او حرام خوراک یې زړوی۔ دا جُبه په ما د اووه سوه کالو نه پرته ده۔ د دے کښې ما د حضرت موسی علیه السلام او حضرت عیسٰی علیه السلام سره ملاقات کړے دے۔ او په هغوئ م ایمان راوړے وو۔ ما تپوس اوکړ۔ ته څوک یې؟ هغهٔ او فرمائیل: زهٔ د هغې حضراتو نه یم چه د هغوئ متعلق دا ایت نازل شوے وو:

قُلْ اُوْحِیَ اِلَیَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ (سورة الجن ایت ۱) (صفة الصفوة ابن جوزی (منه))۔

جنت کښې د جنّاتو نکاح :۔

ما ته احادیثو کښې د مؤمن جناتو متعلق دا خبره معلومه نهٔ شوه چه هغوئ به جنت کښې نکاح هم کوی یا نه؟ لیکن جنت کښې د داخلیدو استدلال د دے ایت مبارک نه شوے دے:

لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ (سورة الرحمٰن ایت ۵۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

کہ هغوئ جنّت کښې داخل شي نو ظاهره خبره داده ۔ چه هغوئ کښې به هم سړي چينو داسې نکاح کوي څنګه چه سړي نکاح کوي ۔ ليکن سړي چه څنګه حورعين سره نکاح کوي ۔ د غسې به جنّتي ښځو سره هم نکاح کوي ۔ خو مؤمن جنّات به صرف حورعين او جن ښځو سره نکاح کوي (انساني ښځې سره نه) ځکه چه جنت کښې به هيڅوک بےخاونده نۀ وي ۔ ليکن د جنّات انسان ښځو سره او د انسان جنّات ښځو سره نکاح کول محل نظر دي ۔

جنّاتو باندې ظلم کول حرام دي :۔

د جنّاتو انسان باندې او خپلو کښې يو بل باندې ظلم کول حرام دي ۔ دلائلونه داظاهر دي ۔ حديث شريف کښې دي :

يَا عِبَادِيْ اِنِّيْ حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلٰى نَفْسِيْ وَجَعَلْتُهٗ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا فَلَا تَظَالِمُوْا

ترجمه : اے زما بنديانو! ما ظلم په خپل ځان هم حرام کړے دے ۔ او ستاسو مينځ کښې م هم حرام کړے دے ۔ تاسو په يو بل ظلم مۀ کوئ ۔ (تعليق التعليق ابن حجر ۶۰، ۵۶۰، ترغيب وترهيب ۲/۲۷۵، اتحاف السادة ۵/۶۰، اتحافات السنيه ۲۹۴، تهذيب تاريخ دمشق ابن عساکر ۷/۲۰۶، اذکار امام نووي حديث ۳۶۷، مشکوٰة حديث ۲۳۲۶، زاد المسير ۳/۲۷۰) ۔

داخبره معلومه ده چه څوک ظلم او تعدئ اوکړي ۔ هغۀ ته تنبيه کول حتی الوسع ضروري وي ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د اسیب تښتولو طریقه :-

زمونږ شیخ ته چه به د مرګی مریض راغے۔ نو هغهٔ ته به یۓ د مرګی وعظ اورولو۔ او امر ونهی به یۓ ورته فرمائیلو۔ که هغه به ترے منع شو۔ او د مرګی مریض به یۓ پریښودلو۔ نو د هغهٔ نه به یۓ د دے عهد اخستلو۔ چه هغه به دوباره نهٔ راځی۔ او که هغه به نهٔ جدا کیدل۔ نو هغه به یۓ وهلو۔ حتیٰ چه هغه جدا شی ظاهر کښے خو وهل د مرګی په مریض پریوځی۔ لیکن حقیقت کښے مرګی غورځوونکی (جنّ) باندے پریوځی۔ په دے وجه هغه دردمند کیږی او چغے وهی۔ او د مرګی مریض په هوش راتلو نه پس چه به ترے د وهلو تپوس کیدلو۔ نو هغهٔ ته به د هغے علم نهٔ وو۔

د جناتو متعلق مختلف مسائل :-

حضرت ابوالمعالی رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی : یواځے کښے د ښځو او جناتو نه د شرم پرده کولو کښے د فقهاءُ (شافعیه) ظاهری کلام دا دے۔ چه جناتو نه هم پرده ده۔ حُکه چه هغوئ د اجنبی حکم کښے دی۔ او هغوئ ته دا پرده هغه وخت وی هرکله چه د جناتو د موجودګئ علم وی، او که جنات چا ته غسل ورکړی۔ نو د هغوئ غسل ورکول کافی دی۔ حُکه چه هغوئ هم مکلف دی۔ او د هغه فرض کفایه والا مسائل هم ادا کیږی صرف د هغوی اذان به د انسانانو دپاره کافی نهٔ وی او که د هغوئ دا اذان کولو خپن رښتیا وی۔ نو د هغوئ اذان به هم کافی وی۔ حُکه چه اذان د کافی کیدو څه مانع نشته۔ او د څهٔ مانع نهٔ کیدو په وجه د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغوئ ذبح شوے ځناور هم حلال دے۔

نوټ :- مونږ دے باب کښې د لقط المرجان د چیده چیده عباراتو ترجمه کړے ده - چه د قارئین پوره دلچسپی برقرار وی- د تفصیل طالب دے اصل کتاب طرف ته رجوع اوکړی۔

عقائد او عبادات

جنّات کافردی یا مسلمان:

د فرمان خداوندی کُنَّا طَرَائِقَ قِدَدًا (سورة الجن ایت ۱۱) تفسیر کښې حضرت مجاهد رحمة الله علیه فرمائی: چه جنات په دوه قسمونو کښې تقسیم شوی وو: (۱) مسلمانان، (۲) کافر (عبد بن حمید (منه))۔

د جنّاتو مختلفے فرقے:-

د مذکوره ایت تفسیر کښې حضرت قتاده رضی الله عنه فرمائی: جنّاتو کښې هم مختلفے فرقے دی:-

حضرت سری رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی: جناتو کښې هم قدریه مُرجیه، رافضی او شیعه فرقے موجود دی۔ (الناسخ والمنسوخ امام احمد، کتاب العظمة ابوالشیخ (منه)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

متبع سنت سړے جناتو باندے زیات بوج وی :-

حماد بن شعیب رحمة الله تعالیٰ علیه د یو داسے سړی نه روایت کوی - چه د جناتو متعلق به ئے کلام کولو - چه جنات وائی : موږ باندے متبع سنت زیات بوج دے.(الابانه ابونصر سجزی (متن).

د تهجد مونځ کوی :-

حضرت یزید رقاشی رحمة الله علیه فرمائی : حضرت صفوان بن محرز مازنی چه به تهجد مونځ د پاره د شپے پاسیدلو - نو هغه سره کور کښے اوسید ونکی جنات به هم پاڅیدل - او هغه به هغوئ هم مونځ اداء کولو - او د هغه تلاوت قرآن به ئے هم اوریدلو - حضرت سری رحمة الله تعالیٰ علیه د یزید رقاشی رحمة الله تعالیٰ علیه نه پوښتنه اوکړه - چه صفوان رحمة الله تعالیٰ علیه ته به د دے علم څنګه کیدلو - وے فرمائیل - چه چغه او آواز به ئے واوریدلو - نو ویریدلو به - نو د هغوی آواز به راتلو - اے د الله بنده ! مه ویریږه - ستا وروڼه تاسره د تهجد مونځ د پاره ولاړ دی - دے نه پس دے حرکت سره به د هغه وحشت ختم شو .(ابن ابی الدنیا (متن) الهواتف ابن ابی الدنیا (۱۰۷) ص ۹۲)

جنّات تلاوت اوری :-

(حدیث ، معاذ بن جبل رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی : جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

مَنْ صَلّٰی مِنْکُمْ مِنَ اللَّیْلِ فَلْیَجْهَرْ بِقِرَاءَتِهٖ فَاِنَّ الْمَلَائِکَةَ تُصَلِّیْ بِصَلَاتِهٖ وَتَسْمَعُ لِقِرَاءَتِهٖ وَاِنَّ مُؤْمِنِی الْجِنِّ الَّذِیْنَ یَکُوْنُوْنَ فِی الْهَوَاءِ وَجِیْرَانِهٖ مَعَهٗ فِیْ مَسْکَنِهٖ یُصَلُّوْنَ بِصَلَاتِهٖ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَيَسْتَمِعُوْنَ لِقِرَاءَتِهٖ وَاِنَّهٗ لَيَطْرُدُهٗ بِجَهْرِهٖ بِقِرَاءَتِهٖ مِنْ دَارِهٖ وَمِنَ الدُّوْرِ الَّتِيْ حَوْلَهٗ فَسَاقُ الْجِنِّ وَمَرَدَةِ الشَّيَاطِيْنِ[عله]

ترجمه :- تاسو کښې چه کوم سړے د شپې مونځ اداء کوی ۔ هغهٔ له پکار دی چه اوچت آواز سره قرائت کوئ ۔ ځکه چه فرښتے هم د هغهٔ مونځ سره مونځ اداء کوی ۔ او د هغهٔ تلاوت اوری ۔ او د انسان اوچت آواز سره تلاوت کول د هغهٔ د خپل کور او د خواو شا کورونو نه شریر جنات او سرکش شیاطین تښتوی ۔

آیا جنات او شیاطین تلاوت قرآن کوی ؟

امام ابن صلاح (شافعیؒ) نه د هغے سړی متعلق تپوس اوشو ۔ چه شیطان او د هغهٔ جماعت ته قدرت دے چه هغوئ تلاوت قرآن پاک کولے شی ۔ او مونځ هم کولے شی ؟ حضرت جواب کښے اوفرمائیل : د قرآن او حدیث ظاهری دلائلو نه د هغوی د قرآن تلاوت کول نهٔ معلومیږی ۔ دے نه د هغوئے مونځ نهٔ کول هم معلومیږی ۔ ځکه چه تلاوت قرآن د قرآن یوجزء دے ۔ او داخیر خوبخه ده ۔ چه ملائکه کرامو ته د قرآن تلاوت فضیلت نهٔ دے عطاء شوے ۔ حالانکه هغوئ د دے حریص دی چه قرآن پاک د انسانانو نه واوری ۔ تلاوت قرآن داسے شرف دے چه د دے اعزاز انسانانو ته عطاء شوے دے ۔ هاں ! دا خبره درست ده ۔ چه د جنات د قرآن پاک د لوستو خبره هم مونږ ته رسیدلے (فتاوی ابن صلاح (مسنه))

عله مسند بزار (منه) ترغیب وترهیب ۱/۴۳۱ ، مجمع الزوائد ۲/۲۶۲ ، الحادی للفتاوی ۲/۳۰ ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د جنّاتو جوماتونه (مساجد) :-

سعید بن جبیر رحمة الله تعالیٰ علیه ذکر کوی - جنّاتو حضورﷺ صلی الله علیه واله وسلم ته عرض اوکړه - مونږ ستاسو جوماتونو (مسجد) کښې تاسو سره مونځ کولو د پاره څنګه حاضر شو؟ مونږ خو تاسو نه ډیر لرې علاقو کښې اوسیږو - په دے خبره د ایت نازل شو :

اَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا (سورة الجن ایت ۱۸)

ټول جوماتونه (مساجد) الله د پاره دی (چرته چه غواړئ مونځ اداء کوئ، مسجد نبویﷺ ته راتلو سره مونځ اداء کول ضروری نه دی - خو د دے خبرے خیال ساتئ - چه الله تعالیٰ سره څوک عبادت کښې مه شریکوئ - څنګه چه یهود او نصاریٰ اوکړل - (تفسیر حضرت سفیان ثوری رحمة الله تعالیٰ علیه ۲منه، معارف القرآن ۸/۵۷۷ د تفسیر مظهری په حواله) -

د مار شکل کښے عمره کووینکے جن :-

حضرت طلق بن حبیب وائی : مونږ حضرت عبدالله بن عمرو العاص رضی الله عنه سره یو ے کا نړیرے مزکے باندے ناست وو - چه سوړے راغونډ شو - او محافل برخواست شو - مونږ ناڅاپی اولیدل چه بیرنی مقام نه باب بنی شیبه نه یو مار ظاهر شو خلقو هغه طرف ته کتل شروع کړل - هغه د کعبے نه چاپیره اووه ځله طواف اوکړه - او د مقام ابراهیم شاته ئے د طواف دوه رکعاته اوکړل -

Maktaba Tul Ishaat.com

مونږ هغه طرف ته ورغلو۔ او هغهٔ ته مو اووے: اے عمره کوونکیه الله ستا عمره پوره کړے ده۔ دلته زمونږ غلامان او بے وقوف تا پوهه بچی او ښځے هم دی) مونږ د هغوئے له خاطره تاسو نه ویریږو۔ نو هغه خپل سر طرف ته د بطحا په څوکه ټوپ اووهلو۔ او خپله لکئ ئے په هغے کینبوده۔ بیا هغه آسمان طرف ته والوتلو۔ او زمونږ د نظر نه غائب شو. (تاریخ مکهٔ ازرقی رمنه ۲/۷/۱)

د طواف کوونکی جن په قتل جنګ:۔

حضرت ابو طفیل رح فرمائی: زمانهٔ جاهلیت کښے د جناتو ښځه وادی ذی طوی کښے اوسیده۔ د هغے صرف یو ځوئے وو۔ بل څهٔ اولاد ئے نهٔ وو۔ دے هغهٔ سره ډیر محبت کولو۔ دا هللٔ خپل قوم کښے د لوئے مرتبې والا وو۔ هغهٔ واده اوکه۔ او خپلے ښځے له راغے چه اووه ورځے تیرے شوے۔ نو خپلے مور ته ئے اووے: اے مورے! زهٔ غواړم چه د کعبے اووه ځله د ورځے طواف اوکړم۔ مور ورته اووے: اے ځوئیه! زهٔ ستا متعلق د قریشو بے وقوفو نه ویریږم هللٔ ورته اووے: زما امید دے چه زهٔ به صحیح او سالم واپس راشم۔ نو مور هغهٔ ته اجازت ورکړلو۔ او هغه د مار شکل اختیار ولو سره روان شو۔ اووه ځله د بیت الله شریف طواف ئے اوکه۔ او مقام ابراهیم شاه ته ئے مونځ اوکه۔ بیا واپس راتلو نو د بنی سهم قبیلے یو ځلمے هغهٔ له راغے۔ هغه ئے قتل کړ۔ نو مکه کښے جنګ شروع شو۔ او غر هم نهٔ سنکاریدلو۔

حضرت ابو طفیل رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی: مونږ ته دا

Maktaba Tul Ishaat.com

خبره رسیدلے وه چه دا دغیرت جنګ د پر لوړے شان والا جن په مړګ کینږی. هرکله چه معیا شو. نو د جناتو د لاسه د بنی سهم قبیلے خلق خپلو خپلو بسترو باندے مړه پراته وو. د هغے حُلمی نه علاوه اویا بوډاګان وژلے شوی وو. (تاریخ مکه منه، جدّه فیه مع کثرة التفحص (مترجم) -

عمره کوونکے جن مار :-

د حضرت عطاء بن ابی رباح رحمة الله علیه نه روایت دے :

مونږ عبد الله بن عمرو رضی الله تعالیٰ عنه سره مسجد حرم کښے موجود وو. یو سپین او د تور رنګ مار راغے. او د کعبے شریفے اووه حُله طواف ئے اوکړ. بیا مقام ابراهیم له راغے. ګویا هلته ئے مونځ کولو. نو عبد الله بن عمرو رضی الله تعالیٰ عنه هغهٔ له راغے. او د ریدو سره ئے ورته اووے : اے ماره امید دے چه تا به د عمرے احکام پوره کړی وی. اوس زهٔ ستا باره کښے د خپلے علاقے د حکم عقلو نه ویریږم. چه تا قتل نهٔ کړی. نو ته دلته نه لاړ شه. نو هغه تاؤ شو او آسمان طرف ته والوتلو.

(دلائل النبوت ابونعیم اصبهانی (منه)) -

ختم قرآن کښے د جناتو حاضری :-

ابن عمران النمار رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی : زهٔ یو ورځ د سحر نه مخکښے د حسن بصری رحمة الله علیه مجلس د پاره اووتلم. خه ګورم چه د جومات (مسجد) دروازه بند ده. او یو سړے دُعا غواړی. او پوره جماعت د هغهٔ په دُعا امین وائی.

Maktaba Tul Ishaat.com

زه کیناستم- حتیٰ چه مؤذن راغے- او اذان ئے اوکړه- او د جومات (مسجد) دروازه ئے پرانستله- زهٔ دننه داخل شوم نو ځلته حسن بصری رحمة الله علیه یواځے تشریف فرما دے- د هغهٔ مخ قبلے طرف ته دے- ما عرض اوکړه- زهٔ د فجر کیده نه مخکښے راغلے ووم- هغه وخت تاسو دُعا کوله- او خلقو امین وے- هرکله چه زهٔ دننه راغلم- نو تاسو نه علاوه م بل هیڅوک اونهٔ لیدل- هغهٔ اوفرمائیل: دا د اهل نصیبین جنات وو- دوئ د جمعے په شپه ختم قرآن کښے ماسره راځی- بیا ځی.

(المجالس امام دینوری (منه)).

د جناتو د مونځ ځائے:-

(حدیث) جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

لَا تُحَدِّثُوا فِي الْقَرَعِ فَإِنَّهُ مُصَلَّى الْخَافِينَ ۔

ترجمه: تاسو خلق واښو والا ځکه باندے قضائے حاجت مهٔ کوئ- دا د جناتو د مونځ کولو ځائے دے. (نهایهٔ ابن اثیر (منه) مجمع بحار الانوار ۴/ ۲۵۳)

حضور صلی الله علیه وآله وسلم نه ئے د قرآن لقمه واخسته:-

(حدیث) حضرت جابر رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: موږ د نبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم سره روان وو- چه یوه لویه اژدها مخے ته راغله- او خپل سر ئے د حضور صلی الله علیه وآله وسلم په غوږ مبارک کیښودلو- او حضور صلی الله علیه وآله وسلم خپله خُله

Maktaba Tul Ishaat.com

مبارکه د هغهٔ په غوږ کښې کینښودله - او غوږ کښې ئې خبرې اوکړې بیا دا سې اوشو - لکه چه مخکښې هغه تیر کړې وی - موږ عرض اوکړه - اے د الله رسوله صلی الله علیه وسلم ! موږ خو ستاسو بارې کښې ویریدلی وو - وې فرمائیل : دا د جنّاتو د وفد سربراه وو - جناتو نه یو سورة هیر شوې وو - او ما طرف ته ئې د دے رالیږلے وو - او ما هغوئې ته د قرآن پاك هغه ځائ اوښودلو. (روات مالك خطيب بغدادی (منه) تاریخ جرجان سهمی حدیث ۵۲۶)

لیمو (نیمبو) والا کور کښې نهٔ داخلیږی :-

د قاضی (علی بن حسن بن حسین) خلعی حالات کښې دی : چه جنات به هغوئ ته راتلل - بیا هغوئ ډیرې مودې پورې رانغلل - نو قاضی صاحب ترې سبب او تپوسلو ؟ هغوئ ورته اووې - ستاسو کور کښې لیمو وو - او موږ هغې کور کښې نهٔ داخلیږو چه هغې کښې لیمو موجود وی - (ترجمة القاضی الخلعی (منه).

حضور صلی الله علیه واله وسلم ته د سلام پیغام :-

ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمائی : یو سړے د خیبر نه روان شو - نو دوه سړی هغهٔ پسے اولګیدل - او یو بل هغې دواړو پسے اولګیدلو - هغه دا وے : تاسو دواړه واپس شئ تاسو دواړه واپس شئ - حتیٰ چه هغهٔ هغوئ اونیول - او هغوئ ئې واپس کړل - بیا هغې ړومبئ سړی سره یو ځائے شو - ورته ئې اووے ; دا دواړه شیطانان دی - زهٔ دے دواړو سره پاتے شوے یم - حتیٰ چه هغوئ م تا نه لرې کړل - هرکله چه تهٔ رسول

Maktaba Tul Ishaat.com

اللہ صلی اللہ علیه واٰله وسلم ته حاضر شے۔ نو هغوئ ته زما سلام وایه۔ او ورته عرض اوکړه۔ مونږ صدقات جمع کیدلو کښې لګیا یو۔ چه تیار شی نو تاسو ته به ئے در اولیږو۔ هر کله چه هغه سړے مدینے منورے ته اورسیدلو۔ نو حضور صلی اللہ علیه واٰله وسلم ته حاضر شو۔ او حضور صلی اللہ علیه واله وسلم ته ئے دا واقعه واوروله۔ نو هغے وخت نه جناب رسول اللہ صلی اللہ علیه واٰله وسلم ځانله سفر کولو نه منع اوفرمائیله۔ ځکه چه دغسے سړے ګناهونو کښې هم ډیر ځله ملوث کیږی او د جناتو او شیاطینو فساد او شر کښې هم مبتلا کیدلے شی۔ (احمد، بیهقی (منه) — مسند احمد ۱/۲۷۸۔ ۲۹۹، دلائل نبوت امام بیهقی فیما روی فی شان الرجل الذی تبعه الشیطانان ۷/۱۱۳)

یو جن محدث سره د ملاقات عجیبه واقعه :-

د ابوادریس پلار رح فرمائی: وهب او حسن بصری رحمة اللہ علیهم د حج موسم کښې مسجد خیف کښې یو ځائے کیدل۔ یو ځل څه خلق ناڅاپی راپریوتل۔ او په سترګو ئے خوب خور شو۔ دے دواړو حضراتو سره دوه سړی داسے ناست وو چه خپلو کښې خبرے کولے۔ یوه شپه دے دواړو خپلو ملګرو سره خبرے کولے۔ چه یوه معمولی شان مارغه مخے ته راغے۔ او د وهب یو جانب ته حلقه کښې کیناستو او سلام ئے اوکړه۔ نو حضرت وهب د هغه د سلام جواب ورکړه۔ او پوهه شو چه دے د جناتو نه دے۔ بیا هغه طرف ته متوجه کیدو سره حدیث ئے بیانولو۔ وهب رح د هغه نه تپوس اوکړه۔ اے ځلمیه! ته څوک ئے؟ هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

اووے: مسلمان جناتو نه یو۔ جن یم۔ تپوس ےئ ترے اوکه۔ ستا خه کار دے؟ هغهٔ اووے: ایا تاسو د اشیه نه ګنړئ۔ چه موښ ستاسو مجلس کښے کینو؟ تاسو نه علم نقل کړو۔ موښ کښے ستاسو علم بیانوونکی ډیر حضرات دی۔ موښ تاسو سره مونځ، جهاد، د مریض پوښتنے، جنازه، حج، عمره وغیره ډیرو کارونو کښے شریکیږو موښ تاسو نه علم حاصلوو، تاسو نه قرآن اورو۔ حضرت وهب ترے تپوس اوکړو۔ ستاسو په نزد کوم جن راوی افضل دے۔ هغهٔ حضرت حسن بصری صاحب رحمة الله علیه طرفته اشاره کولو سره اووے: د دے شیخ راوی۔ کوم وخت چه حضرت حسن بصری رحمة الله علیه حضرت وهب رحمة الله علیه دویم طرف ته مصروف اولیدلو۔ نو تپوس ئے ترے اوکه۔ اے ابو عبدالله ته چاسره خبرے کوے؟ هغهٔ اووے خپل یو هم مجلس سره۔ کوم وخت چه هغه جن لاړ۔ نو حضرت حسن بصری رحمة الله علیه د حضرت وهب رحمة الله علیه نه تپوس اوکه۔ نو هغهٔ د جن واقعه اوښودله۔ حضرت وهب رحمة الله علیه مزید اوښودل۔ چه زهٔ دے جن سره هر کال د حج موسم کښے یو ځاے کیږم۔ هغه ما نه سوال (تپوس) کوی۔ او زهٔ جواب ورکوم۔ زهٔ یو کال هغهٔ سره د طواف حالت کښے یو ځاے شوے ووم۔ کوم وخت چه موښ طواف پوره که۔ نو زهٔ او هغهٔ د مسجد حرام یو ګټ کښے کینا ستو۔ ما هغهٔ ته اووے: ما ته خپل لاس اوښایه۔ نو هغهٔ ما طرفته خپل لاس را مخکښے کړو۔ نو هغه د پیشو د پنجے په شان وو۔ او په هغے ویښته هم وو۔ بیا ما خپل لاس د هغهٔ اوږے پورے یوړلو۔ نو هغه د

Maktaba Tul Ishaat.com

پرې چه شان معلومیدلو- بیا ماخپل لاس دیرے تیزئ سره بهر راوښکلو- دے نه پس مومنې لږشان خیرو کښې مصروف وو- بیا هغهٔ ماته اووے: اے ابوعبدالله! ته هم خپل لاس ما ته اوښایه- ځنګه چه ما تاته خپل لاس ښودلے دے- هرکله چه ما هغهٔ ته خپل لاس اوښودلو- نو هغهٔ دومره زور سره دیاؤ کړو چه قریب وو زما نه چغه اوځی- بیا هغهٔ اوخا ندل- زهٔ به هغے جن سره هرکال دحج موسم کښې یو ځائے کیدم- داځل هغه ماسره یو ځائے نهٔ شو- زما خیال دے چه هغه وفات شوے دے- بیا حضرت وهب رحمة الله تعالیٰ علیه د هغے جن نه تپوس اوکه- ستاسو د یاره کوم جهاد افضل دے؟ هغهٔ اووے: مونږ خپله یو بل سره جهاد کول افضل دی. (ابن ابی الدنیا ومنه)).

د دوه جناتو خوشخبری:-

(حدیث) یو صحابی ځلمی نه روایت دے: چه زهٔ تیاره شپه کښې رسول الله صلی الله علیه واله وسلم سره روان ووم- حضور صلی الله علیه واله وسلم د یو سړی نه «قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ» لوستل واوریدل- نو ارشاد ئے اوفرمائیلو: دا سړے د شرک نه بری شو- بیا مونږ تلو- بیا یو سړی نه ئے قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ لوستل واوریدل- نو حضور صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو- د دے سړی مغفرت شوے دے- ما خپله سورلئ اودروله- چه اوګورم دا سړے څوک دے؟ ما ښی او ګس طرف ته اوکتل- خو هیڅوک په نظر رانغے. (بیهقی ومنه بیهقی دلائل النبوة ۷/۸۶، مسند احمد ۴/۶۴)

، ٦٥٨ ، ٥/ ٦٧٦ ، ٣٧٨ ، ٣ ، درمنثور ٦ /٣٠٥) .

جناقو ته د حج دعوةِ ابراهیمی :-

حضرت سعد بن جبیر رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی : کوم وخت چه حضرت ابراهیم علیه السلام د بیت الله شریف تعمیر مکمل کړو نو الله تعالیٰ هغوی ته وحی اوکړه - چه خلقو کښې د حج اعلان اوکه - نو حضرت ابراهیم علیه السلام خلقو ته اعلان کولو د پاره اووئیلو - چه اے خلقو! ستاسو رب یو کور جوړ کړے دے - تاسو د هغې حج کوئ - نو د حضرت آواز مؤمن انسان او مؤمن جناتو اوریدو سره اووے : لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ

(ابن جریر، منه) -

خطرناکه واقعه :-

ابن عقیل رحمة الله علیه فرمائی : زمونږ یو کور وو - کله چه به خلقو د هغې سکونت اختیارولو - نو سحر کښې به مړه بیا مندے شو - یو ځل یو مغربي سړے راغے - هغهٔ هغه کور په کرایه واخستلو - او هغه ئے خوښ کړلو - او شپه ئے تیره کړه - او سحر ته صحیح او سالم وو - دے لیدو سره گاونډیان حیران شول ، هغه سړی یو مودے پورې هغې کښې وو - بیا چرته لاړو - هغهٔ نه د هغهٔ صحیح سالم کیدو سبب معلوم کړے شو - نو هغهٔ اووے : زهٔ چه د شپې هغې کښې پاتے شوم - نو د ماسختن مونځ م اوکړو - او د قرآن پاك څه قدرے تلاوت م اوکړو - ناڅاپي ما یو ځلمے اولیدلو - چه د کوهي نه پورته راختلو - هغهٔ ما ته سلام

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکه ـ نو زهٔ د هغهٔ نه اوبریدم ـ هغهٔ اووے خوف مهٔ کوه
ما ته هم څه قرآن اوښایه ـ نو ما هغهٔ ته ښودل شروع کړل ـ
بیا ما د هغهٔ نه تپوس اوکه ـ د دے کور څه قصه ده ؟ هغهٔ
اووے : مونږ مسلمان جنات یو ـ تلاوت هم کوو ، مونځ هم
کوو ـ خو دے کور کښې اکثر د بدکارو سکونت وی ـ چه د شرابو
مجلس منعقد کوی ـ ځکه مونږ د هغوئ مرئ راتاؤ کړو
ما هغهٔ ته اووے : زهٔ د شپے وخت تا نه ویرېږم ـ ته د ورځے
راځه ـ هغهٔ اووے ډیره ښه ده ـ بیا به هغه د ورځے وخت کښې
د کوهی نه راوتلو ـ یوه ورځ هغهٔ قرآن پاک لوستلو ـ چه یو
منتر لوستونکے دروازے ته راغے ـ آواز ئے اوکه ـ چه زهٔ د
مار ، بد نظر اوجن دم کوم ـ نو هغه جن اووے دا څه خیز دے ؟
ما ورته اووے : دے تپوتکے (منترکوونکے) دے ـ هغهٔ اووے
دے راوغواړه ـ نو زهٔ پاسیدم هغهٔ م راوستلو ـ نو ما ولیدل
چه هغه جن چت باندے ډیر لوئ مار جوړ شوے وو ـ هغهٔ ځلی
منتر اوکه ـ نو هغه مار تاویدهٔ راتاویدهٔ ـ حتیٰ چه د کور مینځ کښې
راالوغورځیدلو ـ نو دا ځوان راپاسید ـ چه هغه ښولو سره خنپل
کند کښې واچوی ـ خو ما هغه منع که ـ هغهٔ ځلی اووے ته ما د
ښکار نه منع کوے ـ بیا ما هغهٔ له یوه اشرفئ ورکړه ـ او هغه لاړ
نو هغهٔ اژدها حرکت اوکه ـ او د جن شکل کښې ظاهر شو ـ لیکن هغه
کمزوری کیدو سره زیړ شوے وو او نرے شوے وو ـ ما هغهٔ
ته اووے : تا له څه شوی دی ؟ هغهٔ اووے هغهٔ زهٔ اسماء مبارکه

Maktaba Tul Ishaat.com

سره قتل کړم - زما یقین نهٔ وو چه زهٔ به تر ے خلاص شم اوس چه تهٔ د کوهی نه د چغې آواز واورے نو د ے ځائے نه لاړ شه - ما د شپې وخت آواز واوریدلو - چه اوس تهٔ لرے لاړ شه -
ابن عقیلؒ فرمائی چه د ے نه پس خلق هغه کوهی کښې اوسیدل نه منع شو - (کتاب الفنون ابن عقیل (منه) دا کتاب الفنون په څلور جلدونو مشتمل د ے - حاشیه لقط المرجان ص۱۰۵)

د جنّ اقتداء کښې د انسان مونځ :-

شیخ ابوالبقا عکبری حنبلیؒ رحمة الله تعالی علیه نه د جنّ متعلق تپوس اوشو چه هغوئ پسے مونځ درست د ے یا نه؟ هغوئ اوفرمائيل: درست د ے - ځکه چه دوئ هم مکلف دی او حضور صلی الله علیه واله وسلم هغوئ طرف ته هم مبعوث شوے د ے - (فوائد ابن صیرفی حرانی حنبلیؒ (منه)) -

فائده :- دا اقتداء په هله درسته وی - هرکله چه انسان ته د جن د اقتداء کامل علم وی - صرف آواز اوریدو باندے اقتداء نهٔ درستیږی - که هغه امامت کوونکے جن په نظر راځی نو هغهٔ پسے مونځ درست کیږی کنی نه -
والله اعلم -

جنّاتو سره د انسانانو مونځ :-

(حدیث شریف) حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمائی: مونږ حضور صلی الله علیه واله وسلم سره مکهٔ معظمه کښې ناست وو - حضور صلی الله علیه واله وسلم سره د صحابه کرامو

Maktaba Tul Ishaat.com

رضی اللہ تعالیٰ عنهم جماعت هم موجود وو۔ ناڅاپي حضور
صلی اللہ علیہ والہ وسلم او فرمائیل: تاسو کښې دے یو سړے ما
سره اودریږی۔ لیکن داسے سړے دے نه اودریږی۔ چه
د هغهٔ زړهٔ کښې ذره برابر کهوټ (نقص) وی۔ نو زهٔ حضور
صلی اللہ علیه والہ وسلم سره اودریدم۔ او داوبو یولوښے ئے هم
اوچت که۔ زما خیال دے هغے کښې اوبه هم وے۔ نو زهٔ حضور صلی
اللہ علیه واله وسلم سره اووتلم۔ هرکله چه مونږ د مکے بالائی حصّے
ته اورسیدو۔ نو ما ډیر ماران جمع اولیدل۔ حضور صلی اللہ علیہ والہ
وسلم ماد پاره یوه کرښه راښکله۔ او وے فرمائیل زما راتلو پورے
دلته ایسار اوسه۔ نو زهٔ هلته ایسار ووم۔ او حضور صلی اللہ علیہ
وسلم هغوی طرفته روان شولو۔ ما هغه ماران (جنات) اولیدل
چه هغوی حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم طرف ته راغورځیږی
او حضور صلی اللہ علیه واله وسلم سره هغوی د شپے ډیر وخته
پورے خبرے کولے۔ حتیٰ چه حضور صلی اللہ علیه واله وسلم زما طرفته
تشریف راوړلو۔ او وے فرمائیل: آیا تا سره اودس د پاره اوبه
شته؟ بیا حضور صلی اللہ علیه واله وسلم اودس اوکړلو۔ کوم
وخت چه مانځهٔ د پاره اودریدلو۔ نو هغے جنّاتو کښې دوه سړی
حضور صلی اللہ علیه وآلہ وسلم ته راغلل، او عرض ئے اوکه: یا رسول
اللہ صلی اللہ علیه واله وسلم! مونږ غواړو چه تاسو خپل مونځ کښې
زمونږ امامت اوکړئ۔ نو مونږ حضور صلی اللہ علیه واله وسلم پسے۔
صف جوړ کړلو۔ او حضور صلی اللہ علیه واله وسلم مونځ راکړلو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ما تپوس اوکړو- یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم! دا کوم خلق وو؟ وے فرمائیل: دا د نصیبین جنات وو- د هغوئ خپلو کښے څه جګړے وے- د هغے په حقله ما ته راغلی وو- او ما نه ئے د سفر توښه هم اوغوښتله- ما هغوئ ته د سفر توښه هم ورکړے ده- ما عرض اوکړو- تاسو هغوئ ته څه توښه ورکړي ده؟ وے فرمائیل: سو تے او خاشتړه- دوئ چه چرته خاشتړه بیاموی- په هغے به قجوړے بیاموی- او چرته چه څه هډوکے بیاموی- په هغے به غذا بیاموی- هغے وخت نه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم خاشتړو او هډوکی باندے استنجاء کولو نه منع اوفرمائله- (نوادر ابن صیرنی د طبرانی په حواله او ابونعیم (منه)، طبرانی ۱۰/ ۷۹، مجمع الزوائد ۸/ ۳۱۳، مسند احمد ۱/ ۴۵۸، بیهقی ۱/ ۹)-

مؤذن د پاره د قیامت په ورځ ګواهی کول:-

د حضرت ابن ابی صعصعه نه روایت دے- ابو سعید خدری رحمة الله تعالیٰ علیه هغه ته اوفرمائیل: ما ته لید لے ئے چه ته چیلے او صحرانشینی خوښوے- هر کله چه ته خپلو چیلو یا صحرا کښے ئے او د مونځ اذان ورکوے- نو آذان کښے آواز اوچتوه- ځکه چه څومره جنات او انسان او نور څیزونه دا اذان آواز اوری، نو د قیامت په ورځ به دوئ ګواهی کوی- ابو سعید خدری رحمة الله تعالیٰ عنه فرمائی: ما دا خبره د جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه اوریدلے ده- (بخاری (منه)، بخاری کتاب الاذان باب ۵، بدء الخلق

Maktaba Tul Ishaat.com

باب[۱۴]، التوحید باب[۵۲]، نسائی آذان باب ۱۴، ابن ماجه باب[۵]، مؤطا مالك النداء للصلوٰة حدیث ۵، مسند احمد ۳/ ۶، ۳۵، ۴۳، مشکوٰة ۶۵۶، تلخیص الجیر ۱/ ۱۰۸، اذکار نووی حدیث ۳۵، اتحاف السادہ ۳/ ۵۰) امام احمد بن حنبلؒ نه د ے باره کښې روایت مختلف دے۔ چه هرکله څوک جِنّ دَ مونځ ځکذار مخکښې نه تیر شي نو مونځ ماتیږی یا نه؟

یو روایت کښې خو هغوئ نه دا منقول دی۔ چه دَ هغه مونځ ماتیږی۔ ځکه چه حضور صلی الله علیه وآله وسلم د تور سپی مخې نه تیریدو سره دَ مونځ ماتولو حکم فرمائیلے دے او دَ هغې وجه ئې دا بیان کړے ده۔ چه تور سپے شیطان دے۔

او هغوئ نه دویم روایت دا دے: چه دَ مونځ ګذار مونځ نه ماتیږی۔ او دَ حضور صلی الله علیه وآله وسلم دا فرمائیل چه عفریت جِنّ تیره شپه زما مونځ ماتولو پسے شو (صحیح بخاری کتاب الصلوٰة باب[۷۵]، الانبیاء باب[۴۰]، تفسیر سوره[۳۸]، مسلم مساجد حدیث ۳۹، مسند احمد ۲/ ۲۹۸)۔ دے کښې دا احتمال دے۔ چه دَ هغه تیریدو سره مونځ ماتیږی۔ او هغه دا سے چه دَ هغه مدافعت کښې حضور صلی الله علیه وآله وسلم ته دا سے افعال کول پریوتل۔ چه هغې سره مونځ ماتیږی۔

فائده:۔ فقه حنفی کښې دا دی چه دَ شیطان او جن دَ مونځ ګذار مخې نه تیریدلو سره دَ انسان مونځ نه ماتیږی او نه د جن مونځ دَ جِنّ مخې نه تیریدو سره ماتیږی او

Maktaba Tul Ishaat.com

دا دَ مونځ ذ ماتیدو او نهٔ ماتیدو مسئله هم هله ده۔ هرکله چه مونځ ګذار ته د جن تیریدو علم اوشی ۔ که مونځ ګذار ته د جن د تیریدو علم نه وی نو دا سے به ګنړ لے شی ۔ چه د مونځ ګذار مخے کښے څهٔ جن نهٔ دے تیر شوے هاں ! د مونځ ګذار مخکښے د خرجن یا انسان تیریدو سره مونځګذار ته هیڅ نهٔ کیږی ۔ تیریدونکی ته ګناه ضرور وی ۔

حدیث روایت کوونکے جن :-

ابی بن کعب فرمائی : یو جماعت د مکے سفر اوکړه ۔ او لار ئے غلطه کړه ۔ هرکله چه د هغوئ د مرګ یقین اوشو ۔ یا د مرګ وخت ئے قریب شو ۔ هغوئ کفنونه واغوستل او د مرګ انتظار کښے سملاستل ۔ نو د هغوئ مخے ته یوجن د اونے د مینځ نه راووتلو ۔ هغهٔ اووے : زهٔ د هغه حضراتو نه باقی پاتے شوے یم ۔ چه هغوئ د حضور صلی الله علیه وآله وسلم نه د سورهٔ جنّ سماع کړے وه ۔ ما د حضور صلی الله علیه وآله وسلم دا ارشاد واوریدلو :

اَلْمُؤْمِنُ اَخُو الْمُؤْمِنِ (وَعَيْنُهٗ) وَدَلِيْلُهٗ لَا يَخْذُلُهٗ، هٰذَا الْمَآءُ وَ هٰذَا الطَّرِيْقُ ط

ترجمه :- مؤمن د مؤمن ورور دے ۔ او د هغهٔ نګران دے ۔ او د هغهٔ تقاضا دا ده ۔ چه هغه بے مدده او لار خطا پرے نږدی ۔

(دلائل النبوت ابونعیم (منه) دلائل ۱۲۸) ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا هغے جن هغوئ ته اوبه هم اوښودلے۔ او د لارے رهنمائی ئے هم اوکړله۔ (دلائل النبوة ابونعیم (منه) دلائل ۱۲۸)۔

د یو بل جن واقعه :۔

مولیٰ عبدالرحمٰن بن بشرؒ فرمائی: یو قوم د حضرت عثمان رضؓ په زمانه کښے د حج په اراده لاړ۔ هغوئ لار کښے ډیر تږی شو او یو ځائ ترخو اوبو ته اورسیدل۔ هغوئ کښے یو اووے: که تاسو دلته نه مخکښے لاړ شئ۔ نو بهتره ده۔ مونږ سره خوف دے۔ چه دا اوبه مونږ هلاک نه کړی۔ مخکښے هم اوبه موجود دی۔ نو هغه خلق روان شو۔ حتیٰ چه ماښام شو لیکن اوبو ته او نه رسیدل هغوئ یو بل ته اووے: کاش د ارمان) تاسو هغے ترخو اوبو ته واپس شئ۔ بیا هغوئ ټول شپه سفر کولو۔ تر دے چه دیکیر یوے اونے سره ایسار شو۔ نو د هغوئ مخکښے یو تور غټ تازه ځلیمے ظاهر شو۔ هغه اووے: اے قافلے والو! ما د جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم دا ارشاد اوریدلے دے:

مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُحِبَّ لِلْمُسْلِمِيْنَ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهٖ وَيَكْرَهُ لِلْمُسْلِمِيْنَ مَا يَكْرَهُ لِنَفْسِهٖ ط

ترجمه:۔ کوم سړے چه په الله تعالیٰ او د قیامت په ورځ یقین لري۔ هغه له پکار دی چه هغه مسلمانانو لپاره هغه څه خوښ کړی چه ځان د پاره ئے خوښوی۔ او مسلمانانو د پاره هغه څیز ناخوښه کړی کوم چه ځان د پاره ئے نه خوښوی۔

تاسو دلته نه روان شئ۔ هرکله چه تاسو ډیپے (ټیلے) ته

ته اورسئ - نو دَ هغې نبي طرف ته تاؤ شئ- هلته به تاسو اوبه بیامومئ - نو هغې خلقو کښې چا اووے : زمونږ خیال دے چه دا شیطان دے - او دویم اووے : شیطان داسې خبره نه کوی خلکه چه دهٔ کړے ده - دا خوک مؤمن جن دے - نو هغې ځائے ته روان شول - چه د هغې هغهٔ نشاندهی کړے وه - نو هغوی هلته اوبه بیامندے : (ابن ابی الدنیا (منه) الهواتف ابن ابی الدنیا (۱۰۳) صـ۹)

یو بل راوی د حدیث :-

ابن حبان رح د خپل پلار نه روایت کوی - د تمیم قبیلے یو جماعت یوے علاقے ته سفر اوکړو - تندے هغوئ راګیر کړل - نو هغوی یو اواز واوریدلو - چه هغه وائي - حضور صلی الله علیه واله وسلم نه مونږ اوریدلی دی :

إِنَّ الْمُسْلِمَ اَخُوْا الْمُسْلِمِ وَعَيْنَ الْمُسْلِمِ ط

ترجمه :- مسلمان د مسلمان ورور او د هغهٔ محافظ دے .

یو کوهے فلانی ځائے باندے دے - تاسو هلته لاړ شئ - او هلته اوبه اوښکئ (مکارم الاخلاق خرائطی (منه)) .

لارکښے مرے جن :-

حضرت عمر بن عبدالعزیز رح قچر باندے سور خپلو ملګرو سره سفر کولو - ناڅاپي لار کښے یو مړ ه ته اورسیدل هلته حضرت کوز شولو - او د هغهٔ متعلق ئے حکم اوکړو - چه هغه د لارے نه لرے کړئ - بیا هغهٔ د پاره ئے کنده اوکنوله - او هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

ئے هغے کښے پټ کړلو۔ بيا لاړل۔ ناڅاپي يو اوچت آواز ئے واوريدلو حالانکه هغوئ ته هيڅوک په نظر نه راتلل۔ هغه داسے ووے:
اے امير المؤمنين! د الله تعالىٰ د طرف نه دے تاسو ته بشارت وی۔ چه زه او زما دا ملګرے چه تاسو اوس دفن کړے دے د هغے جماعت نه دے۔ چه د هغے متعلق ارشاد باری دے:
وَ اِذْ صَرَفْنَآ اِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ ۝
کوم وخت چه مونږ الله او د هغه په رسول ايمان راوړے، وو۔ نو حضور صلى الله عليه واله وسلم زما دے ملګری ته فرمائلی وو:
اَمَآ اِنَّكَ سَتَمُوْتُ فِيْ اَرْضِ غُرْبَةٍ يُدْفِنُكَ فِيْهَا يَوْمَئِذٍ خَيْرُ اَهْلِ الْاَرْضِ ط
ترجمه:۔ ته به پرديس کښے دفن کيږے۔ هلته به هغه وخت مزکے والو نه د ټولو نه ښه سړے تا دفن کوی۔ (ابن ابي الدنيا (منه) الهواتف ابن ابي الدنيا ص۳۸ حديث ۴۳)

يو بل روايت:۔

حضرت عباس بن ابي راشد خپل پلار نه بيان کوی۔ چه حضرت عمر بن عبد العزيز زمونږ ميلمه شو۔ کوم وخت چه هغه واپس تلو۔ نو ما ته زما غلام اووے: تاسو دوئ سره سواره شئ۔ او دوئ ته الوداع اوکړئ۔ زه هم سور شوم۔ مونږ په يوے وادئ تير شو۔ مونږ اوليدل۔ چه هلته په لاره يو غوږ کښلے مار پروت دے۔ نو حضرت عمر بن عبد العزيز راکوز شو۔ او

هغه یې یو جانب ته اخوا کولو سره پټ کړلو - او سور شولو - د دې دوران کښې موږ روان وو - چه یو هاتف آواز اوکړو - هغه وې اے خرقاء! اے خرقاء! موږ بنی کس طرف ته اوکتل - نو موږ ته هیڅوک په نظر رانغی - نو هغه ته حضرت عمر بن عبد العزیز اوفرمائیل: زه تا ته د الله واسطه درکوم - که ته د ظاهریدو نکو نه یې نو زموږ مخکښې ظاهر شه - او که د ظاهریدونکو نه نه یې - نو موږ ته د خرقاء متعلق اوښایه - هغه اووے دا ما چه تاسو اوس دفن که - د ده متعلق ما د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه اوریدلی دی. حضور علیه واله وسلم ده ته اوفرمائیل

يَا خَرْقَاءُ تَمُوْتِيْنَ بِفَلَاةٍ مِنَ الْأَرْضِ وَ يُدْفِنُكَ خَيْرُ مُؤْمِنٍ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ يَوْمَئِذٍ ط

ترجمه:- اے خرقاء! ته به بیابان کښې مرے - او تا به د هغې ورځې د روے زمین افضل مؤمن دفن کوي۔

نو عمر بن عبد العزیز وس ته اوفرمائیل: تا د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا فرمان پخپله اوریدلے دے ؟ - هغه اووے جی هاں! نو د عمر بن عبد العزیز سترګې د اوښکو نه ډکے شوے - بیا موږ واپس شو۔

(عباس بن عبد الله ترقفی فی جزئه (منه) دلائل النبوت، بیهقی ۶/۴۹۴، ۴۹۵، ابن کثیر ۶/۲۴۰):

د اسمانونو د پیدا ښت نه مخکښې الله تعالیٰ کوم ځا وو؟

عبد الله بن حسین فرمائي: زه طرسوس ته لاړم - نو ما ته اطلاع اوشوه - چه دلته یوه سنځه ده - هغې هغه جنات لیدلی دی،

Maktaba Tul Ishaat.com

چه حضور صلی اللّٰه علیه واله وسلم ته وفد جوړید وسره ورغلی وو. زهٔ هغې سره ځئ له ورغلم. هغه نیغه ملاسته وه۔ او د هغې چاپیره یوجماعت موجود وو۔ ما هغې ته اووے: ستاخه نوم دے؟ هغې اووے: منوسه۔ ما ورته اووے ایا تا هغه جنّات لیدلی دی چه د وفد شکل کښے د جناب رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه واله وسلم خدمت کښے حاضر شوی وو؟ هغې اووے هاں! ما ته سمجح (چه د هغهٔ نوم عبداللّٰه دے) اُوبښودل۔ ما عرض اوکړه یا رسول اللّٰه د آسمانونو د پیدائش نه مخکښے زمونږ رب کوم ځائے وو؟ وے ئے فرمائیل: د نور په کب (مچهلی) وو۔ چه نور نه به ئے حرکت کولو. (طبرانی کبیر، شیرازی فی الالقاب، الاصابه ابن حجر، کتاب الضعفاء، ابن حبان (منه) فائده:۔ ابن حبّان فرمائی: د مذکوره پورتنئ خبرے راوی عبداللّٰه بن حسین روایات اړول راړول، او د هغې سرقه (غلا) کښے مبتلا وو۔ هرکله چه دے متفرد وی نو هغهٔ سره احتجاج درست نهٔ دے. (کتاب الضعفاء، ابن حبان (منه)).

ابوموسیٰ خپل کتاب الصحابه کښے دا روایت نقل کولو سره وئیلے دے۔ چه مونږ دا حدیث ځکه روایت کړے دے۔ چه جناب رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه واله وسلم جنّات او انسان دواړو طرف ته رالیږلے شوے وو۔ او د سمجح ذکر یو بل روایت کښے هم راغلے وو۔ ما ته نه ده معلومه۔ چه دا هغه سمجح دے یا د هغهٔ نه علاوه دے. (کتاب الصحابه ابوموسیٰ (منه) .

Maktaba Tul Ishaat.com

د نبی خلاف جوش کښې راوستونکے شیطان قتل کیږی:

عیاس بن عامر بن ربیعه (رضی الله عنه) فرمائی: موږ ابتدائی اسلام کښې حضور صلی الله علیه وآله وسلم سره مکه کښې وو۔ یو هاتف د مکے په یو غر آواز اوکړ۔ او د مسلمانانو خلاف ئے کفار جوش کښې راوستل۔ نو حضور صلی الله علیه واله وسلم اوفرمایل: دا شیطان دے۔ او هیڅ شیطان هم د یو نبیؑ په قتل خلق جوش کښې نهٔ دی راوستی۔ خو الله تعالیٰ هغه قتل کړے دے بیا حضور صلی الله علیه واله وسلم څه وخت پس او فرمائیل: الله تعالیٰ هغه د یو عفریت جن په لاس قتل کړے دے۔ چه د هغهٔ نوم سمحج دے۔ ما د هغهٔ نوم عبدالله ایښے دے۔ کوم وخت چه ماښام شو۔ نو موږ یو هاتف نه هغه ځائے نه واوریدل۔ هغهٔ داوے: نَحْنُ قَتَلْنَا مُسْعِرًا لَمَّا طَغٰى وَاسْتَكْبَرَ۔ وَصَغَّرَ الْحَقَّ وَسَنَّ الْمُنْكَرَ بِشَتْمِهٖ نَبِيِّنَا الْمُطَهَّرَا

ترجمه: موږ مسعر هغه وخت قتل کړ۔ هر کله چه هغهٔ سرکشی او تکبر اوکړلو۔ حق ورانول ئے اوغوښتل۔ او د ګناه بنیاد کیښودل ئے اوغوښتل۔ زه موږ کامیاب نبی علیه السلام ته ئے بد رد او وے (کتاب مکه فاکهی (منه))۔

فائده:۔ دلته هم د سمحج یو روایت د مذکوره روایت هم معنیٰ بیان شوے دے۔ موږ د تکرار معنیٰ په وجه د هغے ترجمه پریښے ده۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د سورۃ یٰسٓ فائدہ :۔

عبداللہ (سمجح جن صحابی) فرمائی : ما د جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم نہ دا ارشاد واوریدلو :

مَامِنْ مَرِيْضٍ يُقْرَأُ عِنْدَهٗ سُوْرَةُ يٰسٓ اِلَّا مَاتَ رَيَّانًا وَاُدْخِلَ قَبْرَهٗ رَيَّانًا وَحُشِرَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ رَيَّانًا .

ترجمہ :۔ کوم مریض تہ چہ سورۃ یٰسٓ اولوستلے شی۔ نو د مرگ پہ وخت بہ ھغہ سیراب کیدو سرہ وی۔ او قبر کښے بہ ھم سیراب کیدو سرہ وی۔ او قیامت پہ ورځ بہ ھم سیراب وی۔ (یعنے دے درے مقاماتو کښے بہ ورتہ تندہ نہ وی۔ (رباعیات ابوبکر بن محمد بن عبداللہ الشافعی (منہ)) .

د څاښت دمونځ درخواست :۔

عبداللہ سمحج رضی اللہ تعالی عنہ فرمائی : ما دجناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم نہ اوریدلی دی :

مَامِنْ رَجُلٍ كَانَ يُصَلِّيْ صَلٰوةَ الضُّحٰى ثُمَّ تَرَكَهَا اِلَّا عَرَجَتْ اِلَى اللّٰهِ تَعَالٰى عَزَّ وَجَلَّ فَقَالَتْ يَارَبِّ اِنَّ فُلَانًا حَفَظَنِيْ فَاحْفَظْهُ وَاِنَّ فُلَانًا ضَيَّعَنِيْ فَضَيِّعْهُ .

ترجمہ :۔ کوم سړے چہ د څاښت مونځ ادا کوی۔ بیا ھغہ پریږدی نو دا مونځ د اللہ تعالی مخکښے وائی : اے پروردگارہ فلانی سړی زما حفاظت اوکړہ تہ ھم د ھغہ حفاظت اوکړہ۔ او فلانی سړی زہ ضائع کړے یم۔ نو تہ ھم ھغہ ضائع کړہ۔ (ابوبکر الشافعیؒ فی رباعیاتہ

(منہ) کنز العمال حدیث نمبر ۲۱۵۲۶، مسند الفردوس دیلمی ۴/۲۱ حدیث نمبر

Maktaba Tul Ishaat.com

۶۰۶۰، زهرالفردوس ۴/۱۱، تجریة الصحابه (۱/ ۳۲۸ (۲۴۹۹)).

سورة النّجم کښې حضور صلی الله علیه واله وسلم سره سجده اوکړله:

حضرت عثمان بن صالح رح فرمائی: ماته جنّ صحابی حضرت عمرو رض بیان اوکړه - چه زهٔ د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم خدمت بابرکت کښې موجود ووم - حضور صلی الله علیه واله وسلم سورة النجم تلاوت کړ - بیا حضور صلی الله علیه واله وسلم سجده اوکړله - نو ما هم حضور صلی الله علیه واله وسلم سره سجده اوکړله - (طبرانی کبیر، منه)

سورهٔ حج کښې د تلاوت دوه سجدې دی:-

عثمان بن صالح رح فرمائی: ما د حضرت عمرو بن طلق جنّ صحابی رضی الله تعالی عنه زیارت اوکړه - ما ترې تپوس اوکړه - آیا تا د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د زیارت شرف حاصل کړے دے؟ هغهٔ اوفرمائیل: هاں! او ما ترې بیعت هم کړے دے - او اسلام مِ هم راوړے دے - او حضور صلی الله علیه واله وسلم پسې د سحر مونځ مِ هم کړے دے - رسول الله صلی الله علیه واله وسلم هغې کښې سورهٔ حج تلاوت کړ - او هغې کښې (د تلاوت) دوه سجدې اداء کړلے - (کامل ابن عدی (منه)).

جن صحابی رض سنه ۲۱۹ھ کښې وفات شو:-

حافظ ابن حجر عسقلانی رح فرمائی: حضرت عثمان بن صالح رح (جن صحابی رض) دوه سوه نولس هجری کښې وفات شو - که یو جنّ هغوئ نه حدیث روایت کړے وی - نو د هغې به تصدیق اوکړے شی نو هغه صحیح حدیث چه هغې کښې داوی - چه د حضور صلی الله علیه وسلم

Maktaba Tul Ishaat.com

دوفات دکال نه واخله سل کاله پورے د مزکے په مخ به هیڅ سړے ژوندے پاتے نشي- د حضور صلی الله علیه واله وسلم د دے ارشاد فرمائیلو دوخت نه- نو د حضور صلی الله علیه وآله وسلم دا ارشاد به صرف د انسانانو متعلق وی- نه چه د جناتو متعلق (الاصابه ابن حجر عسقلانی- منه) .

بس د دے اعتبار نه ۲۱۹ه پورے څه احادیث ثلاثی الرواة هم وی اگرکه اکثر روایات مشاره دی . (بتغیره) .

(نوټ) : دلته علامه سیوطي د مذکوره پورته معنیٰ څو اشعار ذکر کړی دی- موږ د تکرار معنیٰ په وجه د هغے ترجمه پریښے ده-

کوم جن چه د مار شکل کښے اووژلے شی د هغے قصاص نشته:

(پومبئ واقعه) حکایت دے چه حضرت نور الدین علی بن محمد مقول کښے وو- د هغهٔ مخکښے یو هولناک قسم مار ظاهر شو دے د هغے نه اوېریدلو- او هغه ئے اووژلو- نو هغه هغه وخت هلته نه اوچت کړے شو- او خپل کور والاؤ نه ورک شو- او هغه جناتو سره اوساتلے شو- تر دے چه د هغوئ قاضی مخکښے پیش کړے شو- او د مقتول وارث په هغهٔ د قتل دعویٰ اوکړه- حضرت ترے انکار اوکړلو (چه ما څوک جن نهٔ دے قتل کړے) نو قاضی د هغے وارث جن نه تپوس اوکړ- مقتول په کوم صورت وو؟ وتړ اووئیلے شی- هغه د اژدها شکل کښے وو- نو قاضی خپل خوا کښے ناست سړی طرف ته متوجه شو- نو هغهٔ اوښودل: چه ما د جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم نه اوریدلی دی: حضور صلی الله علیه واله وسلم ارشاد

Maktaba Tul Ishaat.com

او فرمائیلو:

مَنْ تَزَيَّا لَكُمْ فَاقْتُلُوْهُ .

ترجمه: چاچه ستاسو مخکښې شکل بدل کړی لو نو تاسو هغه قتل کړئ. (انباء الغمر ابن حجر (منه) فتح الباری ۲۱)

نوځن قاضی د هغهٔ د رها کولو حکم ورکړلو- او هغه خپل کورته واپس راغے . (انباء الغمر ابن حجر (منه)) دا نورالدین سنه ۸ھ کښے وفات شو-

فائده:- یو روایت کښے د حدیث الفاظ دا دی:

مَنْ تَزَيَّا بِغَيْرِ زِيِّهٖ فَقُتِلَ فَدَمُهٗ هَدْرٌ .

ترجمه: چاچه خپل شکل بدلولو سره د خه بل خپل شکل اختیار که- او هغه قتل کړے شو نو د هغهٔ خون معاف دے. (اسرار المرفوعه ۳۳۸، تذکرة الموضوعات ۱۵۸، کشف الخفاء ۲/۳۳۱)

(دویمه فائده):- د غسے یوه واقعه د شاه عبدالعزیز محدث دهلوی رحمة الله تعالی عنه په زمانه کښے هم پیښه شوے وه- چا جومات (مسجد) کښے یو مار قتل کړے وو- نو چنانو هغه سړے گرفتار که- خپل حاکم ته ئے پیش که- او د شاه عبدالعزیز رحمة الله تعالی علیه دے حدیث مذکوره بیانولو- او د دے د یوځن صحابی رض نه تصدیق کولو باندے د هغے ځن قاتل رها کړے شو-

(دویمه واقعه): د تیرے واقعے یو نظیر دا دے: چه یو بزرگ سیل د پاره خپل یو ملګری سره اووتلو- نو هغه ئے څه کار له اولیږلو- او هغهٔ تاخیر اوکه - سحر پورے د هغهٔ څه پته اونهٔ لګیدله- بیاچه

Maktaba Tul Ishaat.com

هغهٔ ته راغے۔ نو د هغهٔ عقل په ځائے نۀ وو۔ هغوئ ورسره خبره اوکړه۔ نو هغهٔ کافی تاخير نه پس جواب ورکه۔ نو هغوئ ترے تپوس اوکه۔ ستا دا حالت څنګه شو؟ هغهٔ اوښودل: زۀ يوه ويرانه کښے ميتيازو کولو د پاره داخل شوم۔ نو هلته ما يو مار اوليدلو۔ او هغه مے قتل که۔ هرکله چه ما هغه قتل که نو څه څيز زۀ اونيولم۔ او مزکے ته کوز ولو سره ئے بوتلم۔ او يو جماعت زۀ ګير کړم۔ هغوئ اووے: دهٔ فلانے قتل کړے دے موږ دے قتلوو۔ چا اووے: دے شيخ له يوځئ۔ نو زۀ ئے هغهٔ ته بوتلم۔ هغه شيخ د ډير خوبصورته بشکل وو۔ طويل سپين ږيرے وو۔ موږ چه د هغهٔ مخکښے اودريدو۔ نو هغهٔ تپوس اوکه۔ څهٔ خبره ده؟ هغوئ ورته خپله مقدمه پيش کړه۔ شيخ تپوس اوکه۔ هغه کوم شکل کښے ظاهر شوے وو؟ هغوئ ورته اوښودل هغه د مار شکل کښے ظاهر شوے وو۔ نو شيخ اوفرمائيل: ما د جناب رسول الله صلی الله عليه واله وسلم نه اوريدلی دی۔ حضور صلی الله عليه واله وسلم موږ ته ليلة الجن کښے فرمائيلی وو:

مَنْ تَصَوَّرَ مِنْكُمْ فِيْ صُوْرَةٍ غَيْرَ صُوْرَتِهٖ فَقُتِلَ فَلَا شَيْئَ عَلٰى قَاتِلِهٖ ۔

ترجمه:۔ تاسو کښے چه چا خپل شکل بدل که۔ او څه بل شکل ئے اختيار که۔ او اووژلے شو۔ نو د هغهٔ په قاتل ضمان او قصاص وغيره هيڅ نشته۔ (تعليق التعليق ابن حجر عسقلانی، فتح الباري، تهذيب التاريخ دمشق بن عساکر ۱۵۵/۴) دے پريږدئ نو هغوئ زۀ پريښودم۔ (تاريخ

Maktaba Tul Ishaat.com

ابن عساکر (منه) مع حوالہ جات مذکورۂ بالا).

دجنّ د روایت حدیث معیار :-

حضرت عثمان بن صالح (دجن صحابی) د حدیث متعلق حافظ ابن حجر عسقلانی فرمائی: هغه جن چه هغهٔ داحدیث بیان کړے دے- هغهٔ رښتیا وئیلی دی- د ابن حجر دا ارشاد د دے خبرے دلالت کوی- چه د جن روایت کښے به توقف کولے شی- ځکه چه راوی حدیث کښے "عدالت" او ضبط دواړه شرطونه دی- د غسے خو ل چه د صحابی کیدو دعویدار وی- هغهٔ د پاره هم عادل کیدل شرط دی او د جنّاتو عدالت معلومیدے نهٔ شی- د دے نه علاوه داچه د شیطان پاره کښے (احادیثو کښے) تنبیه وارد ده- چه هغوئ به قرب قیامت د خلقو مخے ته راځلو سره د خپل طرف نه د ځان نه جوړ کړے (من گهړت) حدیثونه بیانوی- (انباء الغمر (منه))-

ابلیس په بازارونو کښے دروغ احادیث اوروی :-

حضرت واثله بن اسقع فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد او فرمائیلو:

لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يَطُوْفَ اِبْلِيْسُ فِي الْاَسْوَاقِ وَيَقُوْلُ حَدَّثَنِيْ فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ بِكَذَا وَكَذَا ط

ترجمه:- قیامت به هغے پورے نهٔ قائمیږی- څو پورے چه ابلیس به بازارونو کښے گرځیدو سره دا اونهٔ وائی: چه ما ته فلانی بن فلانی دا سے او دا سے حدیث بیان کړے دے- (ابن عدی، بیهقی (منه) کامل ابن عدی ۱/ ۵۹، ۷۹، بیهقی دلائل النبوت ۶/ ۵۵۱ باب ماجاء فی اخباره

Maktaba Tul Ishaat.com

عما یکون فی آخر امته من الکذابین والشیاطین الذین یکذبون فی الحدیث فکان کما اخبر)

شیطان به د انسان صورت کښې ظاهریږي وسره د دین کښې فساد کوي

(حدیث) حضرت عبد اللّٰه بن عمرو نه روایت دے: رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه واله وسلم ارشاد او فرمائیلو:

يُوشِكُ أَنْ تَظْهَرَ فِيكُمْ شَيَاطِينُ كَانَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ أَوْثَقَهَا فِي الْبَحْرِ يُصَلُّونَ مَعَكُمْ فِي مَسَاجِدِكُمْ وَيَقْرَءُونَ مَعَكُمُ الْقُرْآنَ وَيُجَادِلُونَكُمْ فِي الدِّينِ وَإِنَّهُمْ لَشَيَاطِينُ فِي صُورَةِ الْإِنْسَانِ

ترجمه :- حضرت سلیمان بن داؤد علیه السلام شیاطین سمندر کښې پابند کړي وو۔ هغه زمانه قریب ده چه شیاطین به تاسو کښې ظاهر شي۔ تاسو سره به ستاسو جوماتونو (مسجدونو) کښې مونځونه کوي، تاسو سره به د قرآن پاك تلاوت کوي۔ او تاسو سره به د دین باره کښې جګړه او فساد کوي۔ خبردار! دا به د انسان صورت کښې شیاطین وي۔ (طبرانی (منه، جامع کبیر سیوطی ۱/ ۱۹۱-۱، کنز العمال ۱۰/ ۲۹۱۲۶، دلائل النبوت بیهقی بلقطه ۶/ ۵۵۰)

د مذکوره ارشاد مزید تفصیل :-

(حدیث) عبد اللّٰه بن عمرو نه روایت دے جناب رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه واله وسلم ارشاد او فرمائیلو:

إِنَّ سُلَيْمَانَ بْنَ دَاوُدَ أَوْثَقَ شَيَاطِينَ فِي الْبَحْرِ فَإِذَا كَانَتْ

Maktaba Tul Ishaat.com

سَنَةُ خَمْسٍ وَثَلَاثِيْنَ وَمِائَةٍ خَرَجُوْا فِيْ صُوَرِ النَّاسِ وَاَبْشَا
رِهِمْ فِي الْمَجَالِسِ وَالْمَسَاجِدِ وَتَنَازَعُوْهُمُ الْقُرْاٰنَ وَالْحَدِيْثَ

ترجمه :- حضرت سلیمان بن داؤد علیه السلام شیاطین
سمندر کښې پابند کړي وو- هرکله چه ۱۳۵ سَنَهٔ ه شي - نودوئ
به د انسانانو شکل او صورتونو کښې جوماتونو (مساجدو) او
مجالسو کښې ظاهرېږي- او هغوئ سره به قرآن او حدیث کښې
جګړې کوي. (شیرازی فی الالقاب (منه) جامع کبیر ۱/ ۲۴۴،
حدیث ع۶۵۹۸، کنز العمال ۱۰/ ۲۹۱۲۷).

(حدیث) حضرت ابوسعید خُدری رضی الله تعالیٰ عنه فرمائي:
جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اِذَا كَانَ سَنَةُ خَمْسٍ وَثَلَاثِيْنَ وَمِائَةٍ خَرَجَتْ شَيَاطِيْنُ
كَانَ حَبَسَهُمْ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوٗدَ فِيْ جَزَائِرِ الْبَحْرِ ذَهَبَ،
مِنْهُمْ تِسْعَةُ اَعْشَارٍ اِلَى الْعِرَاقِ يُجَادِلُوْنَهُمْ بِالْقُرْاٰنِ وَعُشْرٌ
بِالشَّامِ ٥

ترجمه :- هرکله چه ۱۳۵ سَنَهٔ ه شي - نو هغه شیاطین چه سلیمان
بن داؤد علیه السلام د سمندر جزیرو کښې قید کړي وو- نو
هغوئ به راووځي - هغوئ کښې به نو د ها ئیان (۹۰٪ فیصد)
د عراق رُخ کوي - او هلته به قرآن پاك سره فساد پیدا کوي
(یعنی غلط تلاوت کولو سره به خلق ګمراه کوي ځنګه چه نن هم
نا اهله خلق قرآن سره دا لوبه کوي) او یو دهائی (۱۰ فیصد) به
د شام رخ کوي. (عقیلی ابن عدی (منه) کنز العمال حدیث ع۲۹۱۲۸ جلد

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۰ ص۲۱۳ زبحوالۂ عقیلی، ابن عدیٰ، الابانہ ابونصر سجزی، ابن عساکر
قال العقیلی لا اصل لهذا الحدیث، قال ابونصر غریب الاسناد والمتن
واوردہ ابن الجوزی فی الموضوعات، ۳/ ۱۹۴، عقیلی فی الضعفاء
۲/ ۲۱۳، ابن عدیٰ ۴/ ۱۴۰۳، تنزیہ الشریعة ۱/ ۳۱۳، فوائد
مجموعہ ۵۰۴، لآلی مصنوعہ ۱۲۹) -

مسجد خیف کښې قصہ ګوئي کوونکے جن :-

حضرت سفیانؒ فرمائي: ماتہ هغے سړي بیان اوکړہ چہ هغہ
یو قصہ ګو مسجد خیف کښې په قصہ ګوئي کولو اولید لو- هغہ وائي:
کوم وخت چہ ما هغہ قصہ خوان طلب کړ- نو هغہ شیطان اوختلو
(تاریخ کبیر، بخاری (منہ) دلائل النبوت بیهقی ۶/ ۵۵۱) .

مسجد منیٰ کښې د ځان نہ (من ګهړت) حدیث اوروونکے شیطان :

حضرت سفیان ثوریؒ فرمائي: چہ ماتہ یو سړي بیان اوکړہ
چہ هغہ ځپله لیدلے وو- چہ شیطان مسجد منیٰ کښې حضور صلی اللہ
علیہ وآلہ وسلم طرف تہ منسوب کولو سره (من ګهړت) احادیث اوروی
اوخلقو د هغې نہ هغہ احادیث اوریدو سره لیکل۔ (ابن عدیٰ منہ)

مسجد منیٰ کښې د ځان نہ حدیث اوروونکے :-

حضرت عیسیٰ ابن ابی فاطمہ فرازیؒ فرمائي: زہ مسجد حرام
کښې یو محدث سره ناست د هغې نہ م احادیث لیکل۔ هرکلہ چہ
هغے محدث اوفرمائيل: ماتہ شیبانی حدیث بیان کړ- نو یو سړے
چہ هلتہ موجود وو- هغہ اووے: ماتہ هم شیبانی حدیث بیان
کړ- نو محدث اووے: امام شعبيؒ روایت فرمائي: نو هغے سړي هم

Maktaba Tul Ishaat.com

اووے : چه ما ته هم امام شعبیؒ حدیث بیان کړے دے۔ نو محدث اووے حارثؓ روایت کوی۔ نو هغه سړی اووے : قسم په خدائے ما د حارث زیارت هم کړے دے۔ او د هغهٔ نه مې د حدیث سماعت هم کړے دے۔ نو محدّث اووے : حضرت علیؓ نه روایت دے۔ نو هغه سړی اووے : قسم په خدائے ما د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه زیارت هم کړے دے۔ او زهٔ جنګ صفین کښې هغوی سره شریک شوے هم یم۔ هرکله چه ما د هغهٔ دا خبره واوریده۔ نو آیت الکرسی مې اولوستله۔ هرکله چه زهٔ (وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا) ته اورسیدم او تاوید و سره مې اوکتل۔ نو هیڅ څيز په نظر رانغے (ابن عدی (منه دلائل النبوت بیهقی ۶/ ۵۵۱)۔

د روایت حدیث یو اصول :۔

حضرت امام شعبهؒ بیان فرمائی : هرکله چه تاسو ته څوک داسے محدث حدیث بیانوی۔ چه د هغهٔ مخ تاسو ته په نظر نهٔ راځی۔ نو هغهٔ نه روایت مهٔ کوئ۔ کیدے شی چه هغه شیطان وی۔ او د محدّث شکل اختیار ولو سره راغلے وی۔ او وائی (حدثنا واخبرنا)۔

تنبیه :۔ محدثین کرام د صحیح، ضعیف، او د ځان نه جوړ شوی احادیث کامل تحقیق فرمائیلو سره خپلو کتابونو کښې تفصیل لیکلے دے۔ د دروغژن او ریښتینی راویانو حالاتو باندے هم څو څو جلدونو باندے د اسماء الرجال کتابونه موجود دی۔ (مثلاً میزان الاعتدال، لسان المیزان، تهذیب التهذیب، تذکرة الحفاظ، سیر

Maktaba Tul Ishaat.com

اعلام النبلاء ، الاکمال ، تهذیب الکمال ، الکمال وغیره) ځکه مذکوره واقعات ملاحظه کولو سره هیڅ شک شبهه دے نه کوی ذخیره حدیث پوره احتیاط او دیانت سره صحاح سته او دحدیث نورو مستند کتابونو شکل کښے زمونږ مخکښے موجود ده - او محدثینو د دروغجن راویانو د ځان نه جوړ شوی روایات پوره محنت سره جدا جدا خپلو کتابونو کښے لیکلی دی . مثلاً : تنزیه الشریعة ، موضوعات کبریٰ ، المقاصد الحسنه ، کشف الخفاء ، الفوائد المجموعه لآلی مصنوعه ، تذکرة الموضوعات وغیره وغیره

(امداد الله انور)

Maktaba Tul Ishaat.com

د جنّاتو ثواب او عذاب

کافر جنّات به دوزخ ته ځي :-

د علماء اسلام په دے اتفاق دے چه کافر جناتو ته به آخرت کښے عذاب ورکولے شي. د الله تعالیٰ ارشاد دے :

قَالَ النَّارُ مَثْوَاكُمْ ط (سورة انعام آیت ۱۲۸)

ترجمه : وئي فرمائيل دوزخ ستاسو ټيکاونړه ده -

او ارشاد ئے فرمائيلے دے :

وَ اَمَّا الْقَاسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ط (سورة جن ایت ۱۵)

ترجمه :- (مومن جنّاتو کښے) چه څوك ظالم (کافر و مشرك) وی هغوئ به د دوزخ خشاك جوړيږي -

د مؤمن جنّاتو حکم :-

د مؤمن جنّاتو متعلق څو مذهبونه دی :

رومبے مذهب :-

هغوئ ته به هيڅ ثواب نۀ ورکول کيږی. صرف دوزخ نه نجات به د هغوئ انعام وی - بيا به هغوئ ته حکم ورکولے شي چه تاسو هم د ځناورو په شان خاورے شئ - دا د امام اعظم ابوحنيفه مذهب دے . (ابن حزم الملل والنحل (منه)) -

حضرت ليث بن سليم رح فرمائي : د جناتو ثواب دا دے - چه هغوئ ته به دوزخ نه نجات ورکړے شي - بيا به هغوئ ته او وئيلے شي:

Maktaba Tul Ishaat.com

چه تاسو خاوره شئ (ابن ابی الدنیا منثر)

حضرت ابو الزنا رح فرمائی: هرکله چه جنتیان جنت کښے اودوزخیان دوزخ کښے داخل شی - نو الله تعالیٰ به مؤمن جناتو او ټولو مخلوقاتو ته حکم وکړی - چه تاسو خاورے شئ - نو هغوی به خاورے شی - په دے موقع به کافر هم د ارمان په طور اووائی:

يَا لَيْتَنِي كُنْتُ تُرَابًا ط (سورة نباء آيت ۴۰)

ترجمه: ارمان چه زه هم خاورے شوے وے ، (عبد بن حمید ، ابن المنذر ، کتاب العجائب والغرائب امام ابن شاهین (منثر)) .

دویم مذهب :-

دوی ته به د اطاعت انعام حاصلیږی - او د نافرمانۍ سزا به ورکیږی - دا د ابن ابی لیلیٰ رح ، امام مالك رح ، امام اوزاعی رح امام شافعی رح ، امام احمد رح او د دوئ د شاګردانو مذهب دے .
او یو روایت کښے د امام اعظم ابو حنیفه رح او د هغوی د صاحبین (امام ابو یوسف او امام محمد) نه دا قول نقل کړے شوے دے .
علامه ابن حزام فرمائی: مؤمن جنات به جنت له ځی - (الملل والنحل (منثر))

ابن ابی لیلیٰ رح :-

امام ابن ابی لیلیٰ رح فرمائی: جناتو ته به آخرت کښے انعام هم حاصلیږی - د دے تصدیق مونږ ته د قرآن پاك د دے ایت نه حاصلیږی:

وَ لِكُلٍّ دَرَجَاتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ط (سورة انعام ایت ۱۳۲)

ترجمه: او هریو انسان او جن د پاره چه د هغوئ د اعمالو حساب

Maktaba Tul Ishaat.com

سره (د جنت او دوزخ) درجات دی۔ (ابن ابی حاتم(منہ))

حضرت خزیمہ رح فرمائی: چہ د حضرت ابن وهب رضی اللہ تعالیٰ عنہ نہ سوال اوشو۔ چہ ما هم اوریدلو۔ چہ جناتو تہ بہ ثواب یا عذاب وی کہ نہ؟ نو ابن وهب او فرمائیل:

اللہ تعالیٰ ارشاد فرمائی:

حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ط (سورۃ حم سجدہ ایت ۲۵)

ترجمہ:۔ او پہ (کفر د اصرار کولو پہ وجہ) د دوی حق کیٔ بہ هم هغہ خلقو سره د اللہ قول (یعنے د دوزخ عذاب) پوره کیږی۔ کوم چہ دوی نہ مخکښے جن او انسان (کفار) تیر شوی دی۔ بیشکہ دوی خساره کښے دی۔

وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ط (سورۃ انعام ایت ۱۳۲)، سورۃ احقاف ایت ۱۹)

ترجمہ:۔ او هر یو انسان او جن د پاره د هغوی د اعمالو حساب سره (د جنت او دوزخ) درجات دی۔ (کتاب العظمۃ ابوالشیخ(منہ))

حضرت ابن عباس:۔

حضرت ابن عباس رضی اللہ تعالیٰ عنہ فرمائی: مخلوقات پہ خلور قسمہ دی۔ یو مخلوق بہ جنت لہ ځی، یو مخلوق بہ دوزخ لہ ځی او دوه مخلوقات بہ جنت او دوزخ لہ ځی۔ نو هغہ مخلوقات چہ کامل طور سره بہ جنت لہ ځی۔ د املائکہ مخلوق دی۔ او هغہ مخلوقات چہ کامل طور سره بہ دوزخ لہ ځی۔ دا شیاطین مخلوق دے۔ او هغہ مخلوقات چہ جنت او دوزخ لہ بہ ځی۔ دا جنات او

Maktaba Tul Ishaat.com

د انسانانو مخلوق دے۔ دوئ کښے به مسلمانانو ته انعام او اکرام حاصلیږی۔ او کافرو ته به عذاب۔ (کتاب العظمة ابوالشیخ (منثور)).

مغیث بن سمیؒ:۔

حضرت مغیث بن سمیؒ فرمائی: تمام مخلوقات چه الله ج پیدا کړی دی د دوزخ خشاک دی۔ خو دوه مخلوقات (جنات او انسان) چه په هغوئ ثواب او عذاب دے۔ (کتاب العظمة ابوالشیخ منثور)

حضرت حسن بصریؒ:۔

حضرت حسن بصریؒ فرمائی: جنات د ابلیس اولاد دے۔ او انسان د آدم علیه السلام اولاد دے۔ دوئ کښے هم مؤمن دی او هغوئ کښے هم۔ او دوئ انعام او عذاب کښے هم حصه دار دی۔ څوک دے یا هغے مخلوق کښے مؤمن وی۔ هغه د الله تعالیٰ دوست دے۔ او څوک چه دے یا هغے مخلوق کښے کافر وی۔ هغه شیطان دے۔ (ابن ابی حاتم، ابوالشیخ (منثور)).

جنّات به جنت له ځي

حضرت ضحاك رحمه الله فرمائي: جنات به جنت کښې داخلیږي او خوري څکي به هم. (تفسیر سفیان ثوري، تفسیر منذر بن سعید، تفسیر ابن المنذر، ابوالشیخ (منه)).

حضرت ارطاة بن منذر رحمه الله فرمائي: مونږ د حضرت حمزه بن حبیب رحمه الله مجلس کښې دد ے مذاکره اوکړه - چه جنات به جنت کښې داخلیږي یا نه؟ نو هغوئ اوفرمائیل: هغوئ به جنت کښې داخلیږي - دد ے خبر ے تصدیق د قرآن مبارك دے ایت کښې د ے:

لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ط (سورة الرحمٰن ایت ٥٦).

ترجمه :- د جنت دا حورے به د ے نه مخکښې نه انسانانو مسح کړے وي او نه جناتو.

د جناتو د پاره به جنتي ښځې وي او انسانانو د پاره به انسان ښځې وي. (ابن المنذر، ابوالشیخ (منه)).

جنت کښې به انسان جنات ویني، جنّات به انسان نه ویني :-

علامه محاسبي رحمه الله فرمائي: هغه جنات چه جنت کښې به داخلیږي انسان نه ئے ویني - لیکن جنات به انسانان نه ویني - هلته به د دُنیا برعکس معامله وي.

ایا جنات به جنت کښې د الله زیارت کوي؟ :-

شیخ عزیزالدین بن عبدالسلام رحمه الله دا بے دلائل ذکر کړي دي - چه

Maktaba Tul Ishaat.com

مؤمن جنّات جنت کښې داخل شي۔ نو د الله تعالیٰ زیارت سره به نهٔ مشرف کیږي۔ زیارت خداوندي فقط مؤمن انسانانو سره مخصوص او داخبره هم واضحه طور سره معلومه ده۔ چه ملائکه کرام به هم جنت کښې د الله تعالیٰ زیارت نشي کولے۔ نو د دے خبرے مقتضیٰ داوي چه جنات به هم الله تعالیٰ جنت کښې نهٔ ویني۔ (القواعد الصغریٰ ابن عبدالسلام (منه))۔

زهٔ (علامه سیوطیؒ) وایم: د دے خبرے حجت موجود دے چه ملائکه کرام به د الله تعالیٰ زیارت کوي۔ امام بیهقیؒ هم د دے فیصله کړے ده۔ او د دے متعلق هغویٔ خپل کتاب کتاب الرویه کښې باب هم قائم کړے دے۔ (کتاب الرویه (منه))۔

قاضي جلال الدین بلقیني خپل طرف نه په دے تبصره کولو سره فرمائلي دي: عموم دلائیل داوائي: چه جنات به د الله تعالیٰ زیارت کوي۔ داخبره ابن عماد په (شرح ارجوزة في الجنّ) کښې خپل شیخ سراج الدین بلقینيؒ نه هم نقل کړے ده۔ (شرح ارجوزة في الجنّ (منه))

لیکن د ائمه احناف امام حضرت (اسماعیل) صفار کتاب (السلة الصفاً) کښې وي۔ چه جنات به جنت کښې د الله تعالیٰ زیارت نهٔ کوي۔ (السلة الصفاً منه)

دریم مذهب :-

جنات به جنت کښې څهٔ خوري؟

حضرت مجاهدؒ نه د مؤمن جنانو متعلق تپوس اوشو۔ چه دویٔ به جنت کښې داخلیږي؟ حضرت اوفرمائیل: دویٔ به جنت ته خو خوري څکي به نه۔ دوي ته به صرف د تسبیح او تقدس الهام اوکړے

Maktaba Tul Ishaat.com

شي۔ چه جنت والا انسانان به ئے د خوراك څکاك دوران کښے کوی۔(ابن ابي الدنیا۔ منه)۔

څلورم مذهب :۔

جنات به جنت کښے نهٔ داخلیږی۔ بلکه د هغے یوه پست علاقه کښے به وی۔ چه هلته به ئے انسان لیدے شی۔ نو دوئ به انسانان نهٔ شی لیدے۔

حضرت لیث بن ابي سلیمؒ فرمائی: مسلمان جنّات به نهٔ خو جنت له ځی۔ نهٔ دوزخ له۔ د دے وجه داده چه د دوئ پلار ابلیس همیشه د پاره جنت نه اوشړلے شوے وو۔ څکه هغه به د دوباره جنت کښے نهٔ داخلیږی۔ او د هغهٔ اولاد به هم جنت کښے نهٔ داخلیږی۔ (ابوالشیخ (منه) فی العظمة، البدور السافره حدیث ۱۳۸۵)۔

پنځم مذهب :۔

جنات به مقام اعراف کښے وی :۔

(حدیث شریف) حضرت انس رضی اللّٰه تعالیٰ عنه نه روایت دے رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

اِنَّ مُؤْمِنِي الْجِنِّ لَهُمْ ثَوَابٌ وَعَلَيْهِمْ عِقَابٌ، نَسْأَلْنَاهُ عَنْ ثَوَابِهِمْ فَقَالَ عَلَى الْاَعْرَافِ وَلَيْسُوْا فِي الْجَنَّةِ مَعَ اُمَّةِ مُحَمَّدٍ فَسَأَلْنَاهُ وَمَا الْاَعْرَافِ؟ قَالَ حَائِطُ الْجَنَّةِ تَجْرِي فِيْهِ الْاَنْهَارُ وَتُنْبِتُ فِيْهِ الْاَشْجَارُ وَالثِّمَارُ (

ترجمه :۔ مؤمن جناتو باندے ثواب هم شته او عذاب هم۔ مونږ هم عرض اوکړ۔ هغوئ ته به څهٔ حاصلیږی؟ وے ئے فرمائیل: دوئ به اعراف

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې وی - جنت کښې به اُمت محمدی سره نهٔ وی- مونږ عرض اوکه - دا اعراف څه څیز دے؟ ویئے فرمائیل : د جنت دیوال دے - چه هغې کښې به نهرونه بهیږی- او اونے او میوے به زرغونیږی -

(نوټ ، امام ذهبی فرمائی : دا حدیث منکر جدًّا دے (ابوالشیخ، البعث بیهقی (منه) البدور السافره حدیث ۱۳۸۴ ، البعث و النشور بیهقی حدیث ۱۱٤ ، تفسیر ابن کثیر ۳/ ۲۱٦ بحوالهٔ بیهقی و ابن عساکر)

د جنّاتو مرګ

د حضرت حسن بصریؒ مذهب :-

حضرت قتادهؒ فرمائی : حسن بصری اوفرمائیل : جناتو ته به مرګ نهٔ راځی - ما عرض اوکه : الله تعالیٰ خو فرمائی :

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِي أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ ط (سورۃ الاحقاف آیت ۱۵)

ترجمه :- او هغه حق دی چه د دوی حق کښې د عذاب خبره ثابته شوے ده - په شمول د هغې فرقو چه تیرے شوے وی - د دوی نه مخکښې د جناتو او انسانانو (ابن ابی الدنیا، ابن جریر (منه))-

مؤلفؒ فرمائی : د حسن بصریؒ د ارشاد مطلب دا دے - چه د ابلیس سره جناتو ته هم مهلت ورکړے شوے دے - هر کله چه ابلیس باندے مرګ راشی ، نو دوی به هم مړهٔ شی - لیکن د دے خبرے هیڅ دلیل نشته - چه

Maktaba Tul Ishaat.com

ټولو جنّاتو ته تر قیامة پورې مهلت ورکړې شوې دے۔ حُکم چه دے نه محکمینې د ډیرو مذکوره روایاتو نه د هغوئ مرګ ثابتیږي۔

د حضرت ابن عباس رضہ مذهب :-

یو سړي د حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه تپوس اوکه چه جنات هم مري؟ وې فرمائیل : هان! دا ماران چه تاسو ورته "جان" وائیئ۔ دا واړه جنّات دی۔ (کتاب العظمة ابوالشیخ (منه)۔

دابلیس بوډاتوب او ځلمیتوب :-

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمائی : هرکله چه یوه زمانه تیره شي۔ نو ابلیس بوډا شي۔ دے نه پس هغه دوباره دیرش کالو عمر ته واپس راشي۔ (غرائب السنن ابن شاهین (منه))۔

انسان سره شیطان کله مري؟ انسان سره څومره شیطانان دی؟

حضرت عاصم احول رح فرمائی : ما د ربیع بن انس رح نه تپوس اوکه۔ ایا دا شیطان چه انسان سره وي۔ دا نهٔ مري؟ وئیے فرمائیل : دا څوک یو شیطان وي۔ د مسلمان ګمراه کولو دپاره خو د قبیلہ ربیعه او قبیلهٔ مُضر برابر تعداد کښې شیطانان هغهٔ پسے وي۔ (ابن ابی الدنیا منه)۔

د شیطان والدین کنوارے (ناوادهٔ) وو :-

حضرت قتادهٔ د حضرت عبدالله بن حارث رح نه روایت کوی۔ چه جنات هم مري۔ لیکن شیطان ځلمے وی۔ دے نهٔ مري۔ حضرت قتادهٔ رح فرمائی : د هغهٔ پلار هم کنوار (ناوادهٔ) وو۔ او د هغهٔ مور هم کنوارے (ناوادهٔ کړے پیغله) وه۔ او دے هم کنوارے پیدا شوے دے (ابن ابی الدنیا

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوالشیخ، کتاب العظمه۔ منہ) ۔

د عمرداوږدوالی عجیبه واقعه :-

حضرت حجاج بن یوسفؒ ته داخبره اورسیدله - چه د چین ملک کښې یو مکان داسې دے - که خلق لار رخطاء کړی نو هغوئ دا اواز ورکوی۔ چه لار دیخوا ده - لیکن هغوئ چاته په نظر نه راځی نو حجاج څه خلق اولیږل - او هغوئ ته ئے حکم ورکړه - چه تاسو دا تسته لار غلطه کړئ - هرکله چه هغوئ تاسو ته دا اووائی - چه لار دیخوا ده - نو تاسو په هغوئ حمله اوکړئ - او هغوئ اوګورئ - چه داکوم خلق دی - هغوئ د غسې اوکړل - په هغوئے ئے حمله اوکړه - نو هغوئے ورته اووئے - تاسو موږ هیڅکله نه شئ لیدے - هغوئ ترے تپوس اوکړ - تاسو څومره موده نه دلته یئ؟ هغوئ اووے : موږ کلونه نه شمیرو - هاں! دا معلومه ده - چه ملک چین اته ځله وران شوے وو - او په اتم ځل اباد شوے دے - اوموږ هغه وخت نه دلته یو - (کتاب العجائب ابوعبد الرحمٰن بن منذ رمعروی المعروف په شکر، کتاب النوادر ابوالشیخ (منہ)

دجناتو روح قبضوونکے فرشته :-

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمائی : ملک الموت د انسانانو او فرښتو د روح قبضولو ذمه وار دے - او دجناتو فرښته جدا ده - د شیاطینو جدا فرښته ده، او د پرندو کانو، وحشی ځناورو، د زندکانو کیانو او میږو فرښته جدا ده - داټولے څلور فرښتے دی (تفسیر جویبر - منہ) ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

قرین

د هر انسان سره اوسیدونکے شیطان

د حضرت بی بی عائشه رضی الله تعالیٰ عنها نه روایت دے یوه شپه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د هغے نه بهر تشریف یوړو لو۔ بی بی عائشه رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: ما سره فکر شو (چه شاید حضور صلی الله علیه واله وسلم یوے بلے بی بی له ورغلے وی) کوم وخت چه حضور صلی الله علیه واله وسلم واپس تشریف راوړلو۔ او زه یے اولیدم۔ نو ویئے فرمائیل: ستا شیطان ته وسوسه کینے واچولے۔ ما عرض اوکړه یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم! ایا ما سره شیطان شته؟ ویئے فرمائیل هان! شیطان خو هر انسان سره دے۔ ما عرض اوکړه: یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم۔! ایا تاسو سره هم شیطان شته؟ ویئے فرمایل: هان! لیکن زما رب زما دستګیری اوکړله۔ او هغه مسلمان شولو۔ (مسلم منه، مسلم فضائل صحابه حدیث ۸۸، صفات المنافقین باب تحریش الشیطان حدیث ۷۰، بیهقی دلائل النبوت باب ماجاء فی ان مع کل احد قرینه من الجن ۱۰۲/۷)

حضور صلی الله علیه وسلم سره اوسیدونکے شیطان مسلمان شو:

حضرت ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: چه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

Maktaba Tul Ishaat.com

مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا وَقَدْ وُكِّلَ بِهٖ قَرِيْنُهٗ مِنَ الْجِنِّ وَقَرِيْنُهٗ مِنَ الْمَلٰئِكَةِ قَالُوْا وَاِيَّاكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! قَالَ وَاِيَّايَ اِلَّا اَنَّ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ اَعَانَنِيْ عَلَيْهِ اَسْلَمَ فَلَا يَاْمُرُنِيْ اِلَّا بِخَيْرٍ ط

ترجمه :- تاسو کښې هيڅ سړے داسے نشته - خو هغهٔ سره د هغهٔ يو ملګرے د جناتو نه او يو ملګرے د فرښتو نه لګيدلے شي - صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم عرض اوکړو - يارسول الله! ايا تاسو سره هم؟ وئيې فرمائيل : هاں! ما سره هم. خو الله تعالیٰ د هغهٔ مقابله کښې زما مدد فرمائيلے دے - او هغه مسلمان شوے دے - او س ما ته هغه د نيکۍ نه علاوه بله څه خبره نهٔ کوی.

(حديث شريف) حضرت شريك بن طارق رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: چه جناب رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ارشاد اوفرمائيلو :

مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا وَلَهٗ شَيْطَانٌ قَالَ وَلَكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ وَلِيْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اَعَانَنِيْ عَلَيْهِ فَاَسْلَمَ

ترجمه :- تاسو کښې هر سړی سره شيطان دے - يو صحابی عرض اوکړ - يارسول الله ايا تاسو سره هم دے - وئيې فرمائيل : ما سره هم دے لیکن الله تعالیٰ زما مدد اوفرمائيلو - او هغه مسلمان شولو - (مسلم - صلٰوة المسافرين حديث ۶۹، سنن دارمی کتاب الرقاق باب ۲۵، مسند احمد ۱/ ۳۸۵، ۳۹۷، ۴۰۱، ۴۶۰، بيهقی دلائل النبوت باب ماجاء فی ان مع کل احد ۷/ ۱۰۰، درمنثور ۶/ ۱۸، مشکل الاثار ۱/ ۲۹، کنز العمال ۱۲۳۳ اتحاف السادة ۵/ ۱۳ ۳، ۷/ ۲۶۷، مشکوة ۹۷، طبرانی ۱۰/ ۲۶۹، دلائل

Maktaba Tul Ishaat.com

النبوت ابونعیم ۱/ ۵۸ ، بدایه والنهایه ۱/ ۵۳، ۶۷، تفسیر ابن کثیر ۴/ ۳۶۱ ، ۸/ ۵۵۸، قرطبی ۷/ ۶۸) (ابن حبان، طبرانی (منحہ ابن حبان ۱-۲۱)، اتحاف السادة ۷/ ۳۶۷، دلائل النبوة بیهقی ۷/ ۱۰۱، کنزالعمال ۱۳۷۷ ، کشف الخفاء ۳/ ۱۹۴ ، جامع کبیر ۱/ ۳۳۷) -

د حضور ص او حضرت آدم ع شیطان کښې فرق :-

(حدیث شریف) حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنہ فرمائی : جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

فُضِّلْتُ عَلَى اٰدَمَ بِخَصْلَتَيْنِ : كَانَ شَيْطَانِيْ كَافِرًا فَاَعَانَنِيَ اللهُ عَلَيْهِ حَتّٰى اَسْلَمَ وَكَانَ اَزْوَاجِيْ عَوْنًا لِّيْ - وَكَانَ شَيْطَانُ اٰدَمَ كَافِرًا وَ زَوْجَتُهٗ عَوْنًا عَلٰى خَطِيْئَتِهٖ ط

ترجمه : - ما ته په ادم علیه السلام دوه فضیلتونه (داهم) راکړے شوی دی - چه زما شیطان کافر وو - الله تعالی د هغه خلاف زما مدد اوفرمائیلو حتی چه هغه مسلمان شو - او زما ازواج زما مدد ګارے وے - او د حضرت ادم علیه السلام شیطان کافر وو - او د هغه ښځه د هغه په لغزش کښې مدد ګاره وه . (دلائل النبوت ابونعیم - منه - دلائل النبوة بیهقی ۵/ ۴۸۸) اتحاف السادة ۵/ ۳۱۳ ، درمنثور ۱/ ۵۴، کنزالعمال ۳۱۹۳۹، تاریخ بغداد ۳/ ۳۳۱ ، تخریج عراقی ۳/ ۳۲، علل متناهیه ۱/ ۱۷۶)

فائده :-

دا حدیث د حضور صلی الله علیه وآله وسلم د قرین اسلام راوړلو واضحه دلیل دے - او دا د حضور صلی الله علیه واله وسلم خصوصیت دے - د مذکوره حدیث یوه معنی به داهم وی - چه الله تعالی د حضور

Maktaba Tul Ishaat.com

علیه السلام مدد فرمائیلے وو- چه حضور صلی الله علیه واله وسلم دهغهٔ د شر نه محفوظ وو-

دسړی فرښته او شیطان څهٔ کوی؟ :-

(حدیث شریف) د حضرت ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے- جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اِنَّ لِلشَّیْطَانِ لَمَّةً بِابْنِ اٰدَمَ وَلِلْمَلَكِ لَمَّةً فَاَمَّا لَمَّةُ الشَّیَاطِیْنِ فَاِیْعَادٌ بِالشَّرِّ وَتَکْذِیْبٌ بِالْحَقِّ وَاَمَّا لَمَّةُ الْمَلَكِ فَاِیْعَادٌ بِالْخَیْرِ وَتَصْدِیْقٌ بِالْحَقِّ فَمَنْ وَجَدَ ذٰلِكَ فَلْیَعْلَمْ اَنَّهٗ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰی فَلْیَحْمَدِ اللّٰهَ، وَمَنْ وَجَدَ الْاُخْرٰی فَلْیَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ثُمَّ قَرَءَ (اَلشَّیْطٰنُ یَعِدُکُمُ الْفَقْرَ سورة بقرایت ۲٦۸)

ترجمه:- د شیاطینو هم انسانانو سره تعلق وی او د فرښتے هم، د شیاطینو تعلق خو شر طرف ته رهنمائی کول او حق دروغ کول دی، او د فرښتے تعلق خیر طرف ته رهنمائی کول او د حق تصدیق کول دی. نو کوم سړی ته چه دا معلومه شی- نو په دے خبره دے پوهه شی چه دا د الله تعالیٰ مهربانی ده- او په دے خبره دے د الله تعالیٰ تعریف اوکړی- او چا ته چه د دے نه علاوه حاصل شی- نو هغه دے د شیطان مردود نه د الله تعالیٰ پناه اوغواړی- بیا حضور صلی الله علیه واله وسلم دا ایت تلاوت کړلو (اَلشَّیْطٰنُ یَعِدُکُمُ الْفَقْرَ) ترجمه: شیطان تاسو ته د فقر او محتاجئ دعوت درکوی: (ترمذی، نسائی -منه- جامع الصغیر وصححه حدیث ۲۲۸۴، ترمذی ۲۹۸۸، تفسیر ابن کثیر ۱/۴۷۵، تفسیر طبری ۲/۵۹، مشکوٰة ۴۷، تلبیس ابلیس ۳٦،

Maktaba Tul Ishaat.com

اتحاف السادہ ۷/۲٦٦، درمنثور ۱/۲۴۸، کنزالعمال ۱۲۴۰).

مؤمن خپل شیطان ستړے کوی :-

(حدیث شریف) حضرت ابوهریره رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرما ئیلو:

إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُنْضِي شَيْطَانَهُ كَمَا يُنْضِي أَحَدُكُمْ بَعِيرَهُ فِي السَّفَرِ.

ترجمه:- مؤمن خپل شیطان دومره بے بس کړی۔ څنګه چه تاسو کښے یو سړے خپل اوښ سفر کښے ستړے کړی۔ (مسند احمد، ابن ابی الدنیا -منه- مسند احمد ۲/۳۸۰، نوادر الاصول حکیم ترمذی ۲٦، مکائد الشیطان ابن ابی الدنیا حدیث ۲۰، اکام المرجان ۱۲۴، جامع صغیر حدیث ۲۱۰۱، فیض القدیر ۲/۳۸۵، کنزالعمال ۷۰٦، مجمع الزوائد ۱/۱۱٦)

د مؤمن شیطان کمزورے وی:-

حضرت ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: د مؤمن شیطان کمزورے او پریشانه وی. (ابن ابی الدنیا -منه- مکائد الشیطان ابن ابی الدنیا حدیث ۱۹، اکام المرجان ۱۲۴، احیاء العلوم ۳/۲۹).

فائده:- یو روایت کښے دادے دی چه د مؤمن او کافر شیطانانو کښے ملاقات شو- د مؤمن شیطان کمزورے وو- او د کافر شیطان غټ تازه- د کافر شیطان اووے- څه خبره ده ته دومره کمزورے ولے یئے؟ هغه اووے څه اووایم- هغه سره زما هیڅ نصیب نشته- هرکله چه هغه خپل کور کښے داخلیږی- نو د الله ذکر کوی- هرکله چه خوړی- نو د الله ذکر کوی، هرکله چه څکی- نو د الله ذکر کوی- نو دویم اووے:

Maktaba Tul Ishaat.com

لیکن زۀ خو هغۀ سره طعام هم خورم، ځکه هم (ځکه غټ او تازه یم)
(مصائب الانسان ابن مقلح مقدسی ص۶۸)۔

شیطان د کوترے نه مرغۍ جوړ شولو :-

حضرت قیس بن حجاج رح فرمائی: زما شیطان ماته اوښودل چه کله چه زۀ تا کښے داخل شوے ووم۔ نو د سپی (دوړوکی بچی یا کوترے) هومره ووم۔ اونن د مرغۍ په شان یم۔ ما ترے تپوس اوکړو: دا ولے اوشو؟ هغۀ اووے: تۀ ما قرآن پاک سره ویلے کوے (قرآن پانډے عمل کولو سره اودهغے تلاوت کولو سره) (ابن ابی الدنیا ۔منه۔ فی مکائد الشیطان حدیث ۱۸، آکام المرجان ص۱۲۴، احیاء العلوم ۲/۲۹)۔

شیطان د انسان سره خوړی څکی او اوده کیږی :-

حضرت وهب بن منبه رح فرمائی: هر انسان سره د هغۀ شیطان وی۔ د کافر شیطان د کافر سره خوړی، هغۀ سره څکی۔ او هغۀ سره په بستره اوده کیږی۔ لیکن د مؤمن شیطان د هغۀ نه لرے اوسی۔ او دے ستوګنے وی۔ چه مؤمن کله غافل شی۔ او دے ترے فائده اوچته کړی۔ شیطان زیات خوښ نکے او زیات خوب کونکے خوښوی۔ (کتاب الزهد امام احمد ۔منه۔)

د کافر شیطان دوزخ کښے :-

ارشاد خداوندی دے:-

وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ ۝ (سورة زخرف آیت ۳۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: او کوم سړے چه د الله د ذکر نه سترګے پټوی په هغهٔ موږ یو شیطان مسلط کوو- هغه هر وخت د هغه ملګر جوړیږی .

دد ے ارشاد تفسیر کښے حضرت سعید جریری فرمائی: چه مونږ ته داخبره رارسیدلے ده- چه کافر د قیامت په ورځ ژوندے کړے شی- نو د هغهٔ شیطان به د هغهٔ مخکښے ځی- هغهٔ نه به نهٔ جدا کیږی- حتیٰ چه الله تعالیٰ هغه دواړه دوزخ کښے داخل کړی هغه وخت به شیطان آرزو کوی :(

يَا لَيْتَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ

ترجمه:- کاش چه ستا او زما مینځ کښے د مشرق او مغرب فاصله وے.

او د قیامت په ورځ به مؤمن ته یوه فرښته حواله وی- ترڅو پورے چه د خلقو مینځ کښے فیصله کیږی- هغه نه پس به هغه جنت کښے داخل کړی. (عبد الرزاق، ابن المنذر رح منه- تفسیر القرآن عبد الرزاق جلد ۳ ص ۱۹۶).

د شیطان وسوسے

الله تعالیٰ ارشاد فرمائی:

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ . مَلِكِ النَّاسِ . اِلٰهِ النَّاسِ . مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ الَّذِیْ یُوَسْوِسُ فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ مِنَ الْجِنَّةِ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالنَّاسِ ۔ (سورۃ الناس)

ترجمہ:- (اے پیغمبره! دوئ ته) اووایه! زه د خلقو مالك۔ د خلقو د بادشاه، د خلقو د معبود پناه اخلم۔ د وسوسه اچوونکی په روستوکیدونکی (شیطان) د شر نه۔ چه د خلقو زړونو کښے وسوسه اچوی۔ خواه هغه وسوسه اچوونکے جن وی یا سړے۔

وسوسه څه ده؟ د کوم ځائے نه اچولے شی؟

قاضی ابوالعلیٰ رحمة الله تعالیٰ عنه فرمائی: د وسواس متعلق یو احتمال خو دا دے۔ چه دا یو مخفی کلام دے۔ چه د هغے زړهٔ ۔ ادراك کوی۔ او یو امکان دا دے: چه دا هغه څیز دے۔ چه د فکر په موقع حاصلیږی۔ او دے سره اجزائے انسان کښے مَس سلوك او دُخول کیږی۔ بعضے متکلمین د انسانانو اجسامو کښے د شیطان د دخول انکار کوی۔ د هغوئے خیال دا دے چه یو جسم کښے دوه روحونه موجود کیدل جائز نهٔ دی۔ د هغوئ دا ارشاد خداوندی اَلَّذِیْ یُوَسْوِسُ فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ) دے۔ یعنے چه د خلقو زړونو کښے (د بهر نه) وسوسه اچوی۔ او د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دے:

اِنَّ الشَّیْطٰنَ یَجْرِیْ مِنِ ابْنِ اٰدَمَ مَجْرَی الدَّمِ وَاِنِّیْ خَشِیْتُ اَنْ یَّقْذِفَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ شَیْئًا۔

ترجمہ: شیطان د انسان جسم کښے د وینے په شان گرځی۔ ما سره ویره د چه هغه زړونو کښے څه مهلك څیز وانهٔ اچوی۔ (مسند احمد ۱۵۶/۳، ۲۸۵، دارمی ۳۲۰/۲، مشکل الآثار ۲۹/۱، فتح الباری ۲۸۲/۴، ۳۳۱/۹،

Maktaba Tul Ishaat.com

١٥٩/١٣، زاد المسیر ٢٧٨/٩، اَلْادب المفرد ١٢٨٨، قرطبی ٣٠١/١، ٣١١، ٢٠/٢٤٣، ابن کثیر ٥٥٨/٨، اتحاف السادہ ٣٠٥/٥، ٦/٤، ٣٠٤، ٣٤٩/٧، ٢٨٣، ٣٣٩، بدایہ والنهایہ ٥٩/١، الطب النبوی ذهبیؒ ١٣٨، ٢٣٥، ابو داؤد کتاب الصوم باب ٧٨، ابن ماجہ صوم باب ٦٥، بخاری کتاب الاحکام باب ٢١، بدء الخلق بخاری شریف باب ١١، بخاری اعتکاف باب ١١ باب ١٢).

ابن عقیلؒ فرمائی: کہ بسوال اوکړے شی چہ د ابلیس وسوسہ څنګہ وی؟ او هغہ زړهٔ تہ څنګہ رسی؟ نو جواب داد ے: چہ وسوسہ یو مخفی کلام د ے چہ هغے طرفتہ نفوس او طبائع خپلہ مائل کیږی او د اجواب هم ورکړے شوے د ے۔ چہ داد انسان وجدان کښے داخلیږی ځکہ چہ دا یو لطیف جسم د ے۔ او وسوسہ غورځوی۔ او وسوسہ دادہ چہ نفس تہ د رډی افکارو تلقین کوی۔ (کتاب الفنون علامہ ابن عقیل پہ درے سوہ ٣٠٠ جلدونو کښے)۔

وسوسو کښے د حضور صلی اللہ علیہ وسلم دُعاء:۔

حضرت معاویہ بن ابی طلحہ رضی اللہ تعالیٰ عنہ فرمائی: حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم بہ یوہ دُعاء دا فرمایله:

اَللّٰهُمَّ اَعْمِرْ قَلْبِیْ مِنْ وَسَاوِسِ ذِکْرِكَ وَاَطْرُدْ عَنِّیْ وَسَاوِسَ الشَّیْطٰنِ ط

ترجمہ:۔ اے اللہ! زما زړهٔ د خپل ذکر خیالا تو سرہ معمور کړے۔ او ما نہ شیطانی وسوسے لرے کړے۔ (ذم الوسوسہ ابن ابی ابوبکر۔ منثور۔ در منثور ٣٢٠/٦)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د الوسواس الخنّاس تفسیر :-

حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: د شیطان مثال نولی په شان دے - چه هغه خپله خله د زړهٔ په سوری (سوراخ) را ایښے ده - هغے سره زړهٔ کښے وسوسے غورځوی - هرکله چه انسان د الله ذکر کوی - نو دے په روستو شی - او کله چه خاموش شی نو دے واپس راشی - دا الوسواس الخنّاس دے . (ذم الوسوسه ابن ابی داؤد - منه)

شیطان وسوسے کله اوخنګه غورځوی :-

حضرت عیسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ نه دُعا اوغوښتله چه هغهٔ ته انسان کښے د شیطان د اوسیدو ځائے اوښائی: الله تعالیٰ ورته ظاهر کړلو - نو حضرت اولیدل چه د شیطان سر د مار په شان دے، چه هغهٔ خپله خُلهٔ د زړهٔ په سر ایښے ده - هرکله چه انسان د الله تعالیٰ ذکر کوی - نو دے لرے کیږی - او هرکله چه ذکر خداوندي پریږدی نو دے خپل خیالات او وسوسے اچول شروع کړی . (سعید بن منصور، الوسوسه ابن ابی داؤد - منه)

شیطان زړهٔ نوړے (لقمه) جوړوی :-

(حدیث شریف) حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اِنَّ الشَّیْطٰنَ وَاضِعٌ خَطْمَهٗ عَلٰی قَلْبِ ابْنِ اٰدَمَ فَاِنْ ذَکَرَ اللهَ خَنَسَ وَاِنْ نَسِیَ اللهَ اِلْتَقَمَ قَلْبَهٗ ط

ترجمه:- شیطان خپل خرتم د انسان په زړهٔ ایښے دے - هرکله چه هغه د الله ذکر کوی - نو هغه لرے کیږی - او هرکله چه الله هیر کړی

Maktaba Tul Ishaat.com

نو شیطان هغه نوړی (لقمه) جوړ کړی. (مکائد الشیطان ۶ ابو لیلیٰ شعبه الایمان، بیهقی - منه - ذم الهوی ابن جوزی ۱۴۴، تلبیس ابلیس ص۳۶ اکام المرجان ۱۹۷، فیض القدیر ۲/۲۵۵، الجامع الصغیر ۲۰۳/۲، احیاءُ العلوم ۳/۲۷، درّ منثور ۶/۳۶۰، المطالب العالیه حدیث ۳۳۸۴، کامل ابن عدی ۳/۱۰۴۴، حلیة الاولیاء ۶/۲۶۸، ترغیب و ترهیب منذری ۲/۳۰۰، مکائد الشیطان ابن ابی الدنیا حدیث ۲۲ ص۴۳)

د وسوسو والا شیطان شکل :-

حضرت عمر بن عبد العزیز رحمة الله تعالیٰ عنه نه منقول دی: یو سړی د الله تعالیٰ نه سوال اوکړ - چه هغه ته د شیطان ځائے اوښائی. نو هغه ته یو حیران کن جسم اوښودلے شو - چه د هغے د ننه طرف دیکھ نه په نظر راتلو - او دا شیطان د چینډخ شکل کښے بالمقابل د اوږے جوړ والا مقام باندے ناست وو - د هغه پوزه د ماشی د پوزے په شان وه - چه هغه زړه کښے اچولو سره وسوسه غورځوله - (ابوالقاسم سهیلی - منه - مکائد الشیطن ص۹۸ روایت نمبر ۹۷، مصائب الانسان ص۱۰۹.)

د حضور صلی الله علیه وسلم مهر ختم نبوت په اوږه ولے وو؟

علامه سهیلی رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی : د حضور صلی الله علیه وآله وسلم مهر ختم نبوت د اوږے د ختمیدو په ځائے ځکه وو - چه حضور صلی الله علیه وآله وسلم د شیطان د وسوسو نه معصوم وو - د دے ځائے نه شیطان انسانانو کښے وسوسے اچوی. (ابوالقاسم) سهیلی - منه)

Maktaba Tul Ishaat.com

د وسوسو دروازه :-

حضرت یحیٰی بن ابی کثیرؒ فرمائی: د انسان سینه کښې د وسوسو یوه دروازه ده - چه هلته نه شیطان وسوسے غورځوی - (ابن ابی الدنیا -منه- مکائد الشیطان، ۷ ص۹۱) -

شیطان د زړۀ نه د لرے کولو عمل :-

حضرت ابوالجوزاءؒ فرمائی: شیطان د انسان زړۀ سره انښتے وی چه د هغې په وجه انسان د الله تعالیٰ ذکر نشی کولے - تاسو نۀ ګورئ چه انسان بازارونو او مجالسو کښې تول ورځ تیروی - الله تعالیٰ نۀ یادوی خو د قسم په وخت په هغه ذات م د ے قسم وی - چه د هغۀ قبضه کښې زما ساه ده - د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ نه سِوا شیطان هیڅ څیز د زړۀ نه لرے کولے نه شی - بیا هغوئ دا ایت تلاوت که :

وَاِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْاٰنِ وَحْدَهٗ وَلَّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِهِمْ نُفُوْرًا

(سورۀ اسراء ایت ۴۶)

ترجمه :- هرکله چه تۀ قرآن پاك کښې صرف د الله تعالیٰ ذکر کوے - نو دا شیاطین (کفار وغیره) شاه کولو سره تښتی - (ابن ابی الدنیا ،منه، اکام المرجان ص۱۹۶، ذم الهویٰ ابن جوزی ۱۴۳، مکائد الشیطان ۲۳ ص۴۲ حُلیة الاولیآء ۳/۸۰ بسند ه) -

د جګړے بلیا د شیطانی حرکت د ے :-

حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: شیطان د تهلو نه لاند ے مرکه کښې قید د ے - هرکله چه هغه حرکت کوی نو د مخکے د پاسه جنګ د وه یا دد ے نه زیات تعداد خلقو مینځ کښې جګړے کیږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه دد ے حرکت په پناه دی ۔ (ابن ابی الدنیا ۔ منه ۔ فی مکاید الشیطان صـ۴۶ حدیث ۲۶، آکام المرجان ۱۶۴،)۔

وسوسے د چا زړه کښے اچوی ؟ :۔

د جریر بن عبد اللہؓ پلار فرمائی: ما ته به وسوسے کیدے ۔ ما علامه بن زیادؒ ته اووے : نو هغهٔ اوفرمائیل : اے ورارهٔ! دَ هغهٔ مثال د غلو په شان دے ۔ هرکله چه هغه په داسے کور تیریږی چه هغے کښے مال وی ۔ نو هغے نه د غلا کولو کوشش کوی ۔ اوکه هغے کښے هیڅ نهٔ وی ۔ نو هغه پریږدی ۔ (الوسوسه ابن ابی داؤد ۔ منه)

وسوسه خالص مؤمن ته هم کیږی :۔

حضرت بی بی عائشه رضی الله تعالیٰ عنها فرمائی: صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم خدمت کښے د وسوسے شکایت اوکړلو ۔ حضور صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل داد خالص ایمان دلیل دے ۔ (مسند احمد ۔ منه ۔ ۲/ ۴۵۶، ۶/ ۱۰۶ ۔ صحیح مسلم کتاب الایمان حدیث (۲۱)، اتحاف الساده ۸/ ۲۹۵، ۲۹۶، شرح السنة بغوی ۱/ ۱۰۹، مشکل الآثار ۲/ ۲۵۱، درّمنثور ۱/ ۳۷۶، کنز العمال حدیث ۱۲۱۵۔)

د حضرت عبد الله بن زید بن عاصم رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چو اصحابو کرامو رضی رسول الله صلی الله واله وسلم ته د خپلے وسوسے متعلق عرض اوکړ ۔ چه موږ د پاره دا بهتره ده ۔ چه موږ د ثریا نه راوغورځیږو په نسبت د دے چه موږ وسوسو سره خبرے لوکړو ۔ نو حضور صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

Maktaba Tul Ishaat.com

ذَٰلِكَ صَرِيْحُ الْاِيْمَانِ اِنَّ الشَّيْطٰنَ يَاْتِي الْعَبْدَ فِيْمَا دُوْنَ ذٰلِكَ فَاِذَا عَصِمَ مِنْهُ وَقَعَ فِيْمَا هُنَالِكَ ۔

ترجمه :- دا دخالص ایمان دلیل دے۔ شیطان په انسان د نورو عملونو په ذریعه حمله کوی۔ هر کله چه د هغے نه محفوظ شی۔ نو هغه په زړه حمله کوی۔ او وسوسے غورځوی۔ (مسند بزار۔ متنه۔ مشکل الآثار ۲/ ۲۵۱، اتحاف السادة ۸/ ۲۹۵، درّ منثور ۱/ ۳۷۶، کنز العمال ۱۵۷۱، تخریج عراقی ۳/ ۳۵)۔

وسوسه د ایمان دلیل دے :-

(حدیث شریف) حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے: یو سړی عرض اوکړه یا رسول الله! موبږ کښے کوم خوک زړه کښے خدشه بیاموی؛ نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ رَدَّ كَيْدَهُ اِلَى الْوَسْوَسَةِ ۔

ترجمه: ټول تعریفات الله لره دی۔ چه هغه د شیطان فریب وسوسے طرف ته او دیکلو۔ (ابوداؤد، نسائی۔ متنه۔، ابوداؤد کتاب الادب باب ۱۰۹، مسند احمد ۱/ ۲۳۵، مشکل الاثار ۲/ ۲۵۲، مطالب عالیه حدیث ۲۹۸۰ تخریج عراقی ۳/ ۳۰۶)

د اودس د وسوسے نه پناه غوارئ :-

(حدیث شریف) حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه وائی: جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

تَعَوَّذُوْا بِاللّٰهِ مِنْ وَسْوَسَةِ الْوُضُوْءِ ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه:- د اودس وسوسه کښې الله تعالیٰ نه پناه غواړي (کتاب الوسوسة ابن ابی داود - منه-)

د اودس شیطان (ولهان):-

(حدیث شریف) ابی بن کعب رضی الله تعالیٰ عنه فرمائي: جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم اوفرمائل:

اِنَّ لِلْوُضُوْءِ شَيْطَانًا يُقَالُ لَهٗ « وُلْهَانُ » فَاتَّقُوْا وَسْوَاسَ الْمَاءِ - ترجمه:- د اودس هم یو شیطان دے. د هغهٔ نوم وَلْهَان دے - تاسو د اوبو د وسوسے نه بچ اوسئ. (ترمذی ابن ماجه، حاکم - منه -، بیهقی ۱/۱۹۷، صحیح ابن خزیمه ۱۲۲، تلخیص الحبیر ۱/۱۰۱، مشکوٰة ۴۱۹، اتحاف السادة ۲/۲۸۸، تخریج عراقی ۳/۲۷، میزان الاعتدال ۲۳۹۷).

حضرت حسن بصری رح فرمائي: د اودس د شیطان نوم ولهان دے - دے خلقو سره اودس کښې مزاق کوي - حضرت طاؤس رح به فرمائل: چه دے د تمامو شیاطینو نه زیات طاقتور دے. (ابن ابی الدنیا - منه - فی مکائد الشیطان ۲۹ صفه، ترمذی (۵۷) ، ابن ماجه ۴۲۱، مستدرک حاکم ۱/۱۶۲، ابن خزیمه حدیث ۲۲، بیهقی ۱/۱۹۷).

وسوسے اودس نه شروع کیږي:-

حضرت ابراهیم تیمی رح فرمائي: د وسوسو ابتداء د اودس نه کیږي. (ابن ابی شیبه - منه)

Maktaba Tul Ishaat.com

غسل خانه کښې میتیازو کولو نه د وسوسو بیماري پیدا کیږي:۔

(حدیث شریف) حضرت عبدالله بن مغفل رض نه روایت دے: چې رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

لَا یَبُوْلَنَّ اَحَدُکُمْ فِیْ مُسْتَحَمِّهٖ فَاِنَّ عَامَّةَ الْوَسْوَاسِ مِنْهُ.

ترجمه:۔ تاسو غسل خانه کښې میتیازے هیڅکله مه کوئ ۔ عام طور سره د وسوسو مرض د دے نه پیدا کیږي. (ابوداؤد، ترمذی، نسائی ۔منه۔ ابوداؤد حدیث ۲۷، نسائی ۱/۳۴، ابن ماجه حدیث ۳۰۴، مسند احمد ۵/۵۶، بیهقی ۱/۹۸، مستدرک حاکم ۱/۱۶۷، ۱۸۵، عبد الرزاق حدیث ۹۷۸، مشکوٰة حدیث ۳۵۳، اتحاف السادة ۲/۳۴۸، موضح اوهام الجمع والتفریق خطیب بغدادی ۱/۲۴۰، فتح الباری ۸/۵۸۸).

فائده:۔ عبدالله بن مغفل رضی الله تعالیٰ عنه پخپله فرمائی چې غسل خانه کښې متیازو کولو سره وسوسے پیدا کیږي (ابن ابی شیبه ۔منه)

د وسوسو نه ځیدو یو صورت:۔

(د حضرت حسن بصری رح ورور) حضرت سعید بن ابی الحسن رح فرمائی: غسل خانه کښې میتیازو کولو سره وسوسے زیاتیږي۔ که روانو لوبو کښې میتیازے اوکړي۔ نو څه حرج نشته. (الوسوسه ابن ابی داؤد ۔منه۔ اکام المرجان ص۱۶۵ مع حاشیه عبدالله الصدیق).

خِنزب شیطان:۔

حضرت عثمان بن ابی العاص رض فرمائی: ما رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ته عرض اوکړه ۔ یارسول الله! شیطان زما او زما د مونځ او قرائت مینځ کښې حائل شوے او قرائت ئے په ما مشتبه کړے دے. حضور ص ارشاد اوفرمائیلو:

Maktaba Tul Ishaat.com

ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ «خِنْزِبٌ» فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنْهُ وَاتْفُلْ عَلٰى يَسَارِكَ ثَلَاثًا ۔

ترجمه:۔ دا شیطان دے دده نوم خِنزب دے ۔ هرکله چه تاته د ده علم اوشی ۔ نو هغهٔ نه د الله پناه غواړه ۔ او خپل کس طرف ته درے ځله اوتوکه ۔ (دلته د توکلو نه مراد ځلے سره لړ بیلے د توک په شان وبیشتل دی)۔ (مسلم ۔منه ۔السلام: ۶۸، نسائی: ایمان باب ۱۲، مسند احمد ۱۸۷/۲، ۲۱۶، طبرانی کبیر ۴۳/۹، ۴۴، مشکل الاثار ۱۶۰/۱، ۷۷۵، مصنف عبد الرزاق ۲۵۸۲، ۳۲۲۰، ترغیب وترهیب ۳۶۲/۲، ابن ابی شیبه ۳۵۳/۱۰، دلائل النبوة بیهقی ۳۰۷/۵)۔

شیطان د پاره چاره :—

(حدیث شریف) د حضرت ابوالملیح د پلار نه روایت دے: یو سړی عرض اوکړ ۔ یا رسول الله! ما تا سو ته شکایت راوړے دے ۔ چه وسوسو زما د سینے نه اوځی ۔ هرکله چه زهٔ مونځ کښے پاځم ۔ نو ما ته یاد نهٔ پاتے کیږی ۔ چه ما دوه رکعته کړی دی یا درے؟ نو جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

وَإِذَا وَجَدْتَ ذٰلِكَ فَارْفَعْ إِصْبَعَكَ السَّبَّابَةَ الْيُمْنٰى فَاطْعَنْهُ فِيْ فَخِذِكَ الْيُسْرٰى وَقُلْ بِسْمِ اللّٰهِ فَإِنَّهَا سِكِّيْنُ الشَّيْطٰنِ ۔

ترجمه:۔ هرکله چه تا ته دا صورة پیښ شی ۔ نو د خپل شهادت ګوته اوچته کړه ۔ کښے پنډۍ باندے ئے اوټوهبه ۔ او اووایه بسم الله دا شیطان د پاره چاړه د ۔ (د دے طریقے سره به شیطان نه لرے شے ۔ (بزار، طبرانی ۔منه ۔جامع کبیر ۹۲/۱ بحواله حکیم ترمذی والباوردی والطبرانی

کنز العمال حدیث ۱۲۷۳، طبرانی کبیر ۱/ ۱۲۰، میزان الاعتدال ۶/ ۸۸،
لسان المیزان ۶/ ۳۶۳).

د وسوسے علاج :-

ابو حازم رحمة الله علیه له یو ځلمی راغے هغهٔ اووے: شیطان ما
له راځي او ماته وسوسه اچوي زهٔ څپله هم د هغهٔ ماته راتلل وینم ـ دا
شیطان ماته وائی : چه تا خپلے ښځے له طلاق ورکړے دے۔ نو ابو حازم رح
ورته او فرمائیل : آیا تا ماته راتلو سره خپلے ښځے له طلاق نه دے ورکړے
؟ هغهٔ اووے: په الله قسم ما هغے له بالکل طلاق نهٔ دے ورکړے۔ نو ابو
حازم رح ورته اوفرمائیل : بس تهٔ د شیطان مخکښے هم داسے قسم اوچت کړه
څنګه چه زما مخکښے دے اوچت کړے دے. (کتاب الوسوسه ابن ابی داؤد۔
منه۔

وسوسو باندے عمل کول زیات خطرناک دی :

عمرو بن مره رض تعالی عنه فرمائی : هغه وسوسے چه تا ته په نظر راځی دا
د خپل عمل نه زیاتے د لفریبه نهٔ دي. (ابن ابی شیبه منه ـ)

د خنّاس په ذریعه د نا ویلے خبرے اظهار :-

حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه خپل زړه کښے د یوے ښځے خیال اوکړه
لیکن د هغے نے چا سره ذکر اونهٔ کړلو نو یو سړے ورله راغے. او ورته ئے اووے
تا د فلانئ ښځے ذکر کړے دے. هغه ډیره خوبصورته، شریفه، د نیکے کورنئ
ده ـ حضرت ورته اوفرمائیل : تا ته دا خبره چا اوکړه ؟ هغهٔ اووے خلق دا
خبره کوی ـ حضرت ورته اوفرمائیل : قسم په الله ما دا خبره د هیچا مخکښے
نهٔ ده ظاهره کړے. دا د کوم ځائے نه مشهوره شوه ؟ هغهٔ اووے : زهٔ
پوهیږم خنّاس دا خبره خوره کړے ده. (الوسوسه ابن ابی داؤد ـ منه ـ)

Maktaba Tul Ishaat.com

دویم حکایت :-

حضرت ابو الجوزاء رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی : ما خپلے ښځے له طلاق ورکړے وو ۔ او زړه کښے مے د ا اراده کړے وه ۔ چه زه به د جمعے په ورځ هغے ته رجوع کوم ۔ لیکن د دے مے چاته اطلاع او نه کړه ۔ نو زما ښځے اووے : ستا د ا اراده ده ۔ چه تاسو به دجمعے په ورځ ما ته رجوع کوئ ماورته اووے ، دا داسے خبره ده چه ما چاته نه ده ذکر کړے ۔ بیا ما د حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه خبره رایاده کړه ۔ چه دیو انسان وسوسه د دویم انسان وسوسے ته اطلاع ورکوي ۔ بیا خبره اوځی ۔ (الوسوسه ابن ابی داؤد ۔ منه ۔)

دحجاج بن یوسف حکایت :-

دحجاج مخکښے یو داسے سړے پیش کړے شو چه هغه طرفته د جادوګرئ نسبت کیدلو ۔ حجاج هغه ته اووے : ته جادوګر یئے ؟ هغه اووے نه ۔ نو حجاج د کنکرو یو موټے ډک کړ ۔ او هغه ئے شمیر کړل ۔ او تپوس ئے اوکړ ۔ زما لاس کښے څومره کنکر دی ؟ هغه اووے دومره او دومره بیا حجاج هغه او غورځول ۔ بیا ئے بل موټے ئے ډک کړ او هغه ئے شمیر نه کړل بیائے تپوس اوکړ ۔ دا زما لاس کښے څومره کنکر دی ؟ هغه اووے : نه ده معلومه ۔ حجاج اووے : تا د وړمبي تعداد څنګه او پیژندلو ؟ او دویم دے ولے او نه پیژندلو ۔ نو هغه اووے : هغه تا پیژندلے وو ۔ او هغے نه ستا وسواس پیژندلے وو ۔ او ستا وسواس زما وسوسو ته دا اطلاع ورکړے وه ۔ او دا ځل تاته هم معلومه نه وه ۔ ځکه ستا وسواس هم هغه او نه پیژندلے شو ۔ نو ځکه ستا وسواس زما وسواس ته او نه ښودلے

ځکه ماته هم علم او نهٔ شو. (الوسوسه ابن ابي داؤد - منه -)

دامیر معاویه حکایت :-

حضرت معاویه بن ابو سفیان رضی الله تعالیٰ عنه خپل منشي ته حکم اوکه چه یو خفیه رجسټر تیار کړه - نو دے اسناء کښے هغه لیک کولو یو مچ راغے - د رجسټر په غاړه کیناستلو. هغے منشي هغه قلم سره اووهلو - چه هغے سره د هغهٔ لاس پښے پرے کړے شوے بیا هغه منشي بهر راغے - نو خلقو د محل په دروازه د هغهٔ استقبال اوکه - او هغوی اووے : امیر المؤمنین دا سے او دا سے لیکلي دي - هغهٔ اووے : تاسو ته څنګه معلومه شوه - هغوے اووے - یو کس حبشي چه زمونږ مخے ته راوتلے دے هغهٔ مونږ ته ښودلي دي - نو هغه منشي حضرت امیر معاویه ته واپس لاړ - او هغهٔ ته ئے اطلاع ورکړله - نو معاویه اوفرمائل : زما دے په هغه ذات قسم وي - چه د هغهٔ قبضه کښے زما ساه ده - دا حبشي هغه مچ دے - کوم چه تا وهلے وو - (الوسوسه ابن ابي داؤد - منه -)

○

Maktaba Tul Ishaat.com

د جناتو انسانان مِرګی کښې مبتلا کول

ایا جن مرګی والا جسم کښې داخلیږی :-

د معتزله فرقې دے نه انکار کړے دے چه جنّات د مرګی زده سړی بدن کښې داخل شی. امام ابوالحسن اشعری رح ذکر فرمائی : د اهل سنت والجماعت مذهب دا دے چه جن مِرګی زده والا جسم کښے داخلیږی. (مجموالفتاوی ابن تیمیه رح ۲۴/۲۷۶، ۱۹/۱۲) .

څنګه چه الله تعالیٰ ارشاد فرمائیلے دے :

اَلَّذِیْنَ یَاْکُلُوْنَ الرِّبٰوا لَا یَقُوْمُوْنَ اِلَّا کَمَا یَقُوْمُ الَّذِیْ یَتَخَبَّطُهُ الشَّیْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ ط (سورۂ بقره ایت ۲۷۵)

ترجمه :- کوم خلق چه سود خوری هغوئ به د قیامت په ورځ نه پاڅی خو د هغے سړی په شان چه د هغهٔ خواص شیطان خراب کړی وی.

د امام احمد رح مذهب :-

حضرت عبدالله بن امام احمد رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی : ما خپل پلار بزرګوار ته عرض اوکړ- یو جماعت دا وائی: چه جن مرګی والا جسم کښے نهٔ داخلیږی- نو هغوئ ارشاد او فرمائیلو: اے ځویه ! دوئ دروغ وائی- دا خو د هغهٔ په ژبه خبرے کوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

حضورﷺ مرګی والا نه جن اوښکلو :-

له حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے : یوے ښځے خپل ځوئے د جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خدمت یا برکت کښے حاضر کړے لو۔ او عرض ئے اوکړه یا رسول الله! دا زما ځوئے لیونے دے۔ او په دے د لیونتوب حمله سحر او ماښام کیږی. دے زمونږ د ډوډئ مزه ترخه کوی۔ نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم د هغهٔ په سینه خپل لاس مبارک راښکلو۔ او هغهٔ د پاره ئے دُعا اوغوښتله نو هغه بچی قئ اوکړلو۔ چه هغه سره د هغهٔ د خیټے نه د سپی تور کوتره را اووتلو او اوتښتیدلو۔ (مسند احمد، دارمی، طبرانی، ابونعیم دلائل النبوة، بیهقی دلائل النبوت-منه-) . دا اصل کښے جن وو چه هغه د سپی د بچی شکل ئے اختیار کړے وو۔

حضورﷺ د یو بل بچی نه جن اوښکلو :-

د بی بی ام ابان بنت الوازع رحمها الله تښیکه د جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم خدمت کښے خپل یو لیونے بچے راوستلو۔ حضور صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل : دے ماته را نزدے کړه۔ او د دهٔ شاه زما مخے ته کړه۔ بیا حضور صلی الله علیه وآله وسلم پورته لاندے نه هغه د کپړو نه اونیولو۔ او د هغهٔ شا ئے وهله۔ او فرمائیل ئے : اے د الله د ښمنه! اوځه! نو هغه بچے تندرست کیدو سره لیدل ئے شروع کړل۔ (مسند احمد، ابوداؤد، طبرانی-منه-)

حضورﷺ یو بل جن اوښکلو :-

(حدیث) حضرت اسامه بن زید رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی :-

Maktaba Tul Ishaat.com

موږن رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د پاره روان شو۔ بطن روحا مقام باندے یوے ښځے خپل بچے پیش کړ۔ او عرض ئے اوکړو یا رسول الله! دا زما ځوئے دے۔ د کله نه چه دے مانه پیدا شوے دے او سه پورے دے ښه شوے نه دے۔ نو جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم هغے نه هغه بچے واخستلو۔ او هغه ئے د خپلے سینے او پښو منځ کښے کښینولو۔ او د هغه خُله کښے ئے توک کړل۔ او وے فرمائیل: اے د الله دښمنه اوځه! زه د الله رسول یم۔ بیا حضور صلی الله علیه وآله وسلم هغه بچے د هغه مور له ورکړلو۔ او وے فرمائیل: دے پوځه! او س ده ته هیڅ تکلیف نشته۔ (ابوالعلی، ابونعیم دلائل النبوة بیهقی دلائل النبوت، منه، دلائل النبوة بیهقی ۲۵/۶، مجمع الزوائد ۷/۹)

د امام احمدؒ د جن اوښکلو واقعه:۔

ابوالحسن علی بن احمد بن علی عسکریؒ نیکه (دادا) وائی: د امام احمد بن حنبلؒ جوماټ (مسجد) کښے ناست ووم۔ هغه ته متوکل بادشاه خپل یو وزیر اولیږلو۔ چه هغه تاسو ته د دے اطلاع اوکړی۔ چه شهزادګۍ ته مرګی مرض لګیدلے دے۔ او خواست کوی چه تاسو د هغے د صحت د پاره دُعا اوکړئ۔ نو حضرت امام احمد بن حنبلؒ او د س کولو د پاره د قجورے د پانړی د قسمے د مرګی پیزره اوښکله۔ او هغے وزیر ته ئے اوفرمائیل: د امیرالمؤمنین کور ته ورشه او د هغے جینئ سر سره کینه! او هغے جن ته اووائه! چه امام احمدؒ فرمائی: ستا دے جینئ نه وتل خوښ دی۔ یا احمد رحمه اویا پیزرے خوړل خوړل دے خوښ دی؟ نو هغه وزیر هغے

جنّ لہ ورغے او هغۀ تہ د اپیغام ورداورسولو۔ نو هغے سرکش جنّ د جینئ د زړ یے نہ اووے۔ مونږ بہ اورو او اطاعت بہ کوو۔ اوکہ امام احمدؒ مونږ تہ د عراق نہ د وتلو حکم اوکړی۔ نو مونږ بہ عراق هم پریږدو۔ هغہ خو د اللہ جل جلالہ فرمانبردار دے اوخوك چہ د اللہ جل جلالہ فرمانبرداری کوی۔ نو ټول مخلوق بہ د هغۀ فرمانبرداری کوی۔ بیا هغہ د هغے جینئ نہ اووتلو۔ اوجینئ تندرستہ شوہ۔ او د هغے اولاد هم اوشو۔

کوم وخت چہ امام احمد وفات شو۔ نو هغہ سرکش جنّ دوبارہ هغے جینئ لہ راغے۔ نو متوکل بادشاہ خپل وزیر د امام احمد شاگرد حضرت ابوبکرؒ مروزی تہ اولیږلو۔ او ټولہ واقعہ یے ورتہ واورولہ۔ حضرت مروزیؒ خپلہ پڼړہ اوچت کړہ۔ اوجینئ طرف تہ روان شو۔ نو هغے سرکش جن د جینئ پہ ژبہ اووے۔ زۀ د دے جینئ نہ نۀ اوځم۔ زۀ ستا خبرہ نۀ منم۔ امام احمد بن حنبل خو د اللہ تعالیٰ فرمانبردار وو۔ نو مونږ د هغۀ د فرمانبردارئ پہ وجہ د هغۀ حکم منلے وو۔ (طبقات حنابلہ قاضی ابوالعلیٰ حنبلی۔منہ۔)

انسان تہ جن ولے کیږی ؟ :۔

علامہ ابن تیمیہؒ فرمائی: انسان باندے د جن حملہ د شهوت محبت اوعشق پہ وجہ کیږی او کلہ د بغض او بدلے اخستلو پہ خاطر کیږی۔ چہ یا خو هغۀ هلتہ متیازے کړے وی یا هغوئ ئے نہ ئے خوك قتل کړے دے۔ اگر کہ د هغے د قتل هغہ انسان تہ علم نہ وی۔ او کلہ محض د لوبے ټوقے او تکلیف ورکولو د پارہ وی۔ څنګہ چہ بے وقوف

Maktaba Tul Ishaat.com

انسان هم د غصې کوي۔

په مینې صورت (عشق، محبت او شهوت) کښې جن خبرې کوي او علم کیږي۔ چه دا د حرام او ګناه په وجه دي۔ او دویم صورت انتقام وغیره کښې انسان ته علم نهٔ وي۔

او کوم انسان چه جناتو ته د تکلیف ورکولو نیت نهٔ کوي هغه د جناتو د طرف نه د سزا مستحق نهٔ وي۔ او که هغه خپل کور او خپل ملکیت کښې د هغوئ د تکلیف کار کړے وي۔ نو هغوئ دا وائي: چه دا ځائے د هغوئ ملکیت کښې دے۔ او هغهٔ ته د هر قسم تصرف حق حاصل دے۔ او تاسو (جنات) د انسان ملکیت کښې د هغوئ د اجازت نه بغیر نهٔ شئ پاتے کیدے۔ بلکه ستاسو د پاره هغه مقامات دي۔ چرته چه انسان نهٔ اوسیږي. مثلاً ویرانے او خالي ځایونه. (مجموع فتاوی ابن تیمیہؒ ۱۹/۳۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

د جناتو دفاع څنګه اوکړے شي؟

د جنات دفع کولو وظائف:

د جناتو مقابله په ذکر، دُعاء، اعوذ بالله من الشیطن الرّجیم
او موږ سره کيدے شي۔ که د جناتو په وجه څه خلقو ته بیماري
یا مرګ لاحق شي۔ نو دوئ خپله په ځان ظلم کوونکي دي۔
د ټولو نه لوئ عمل چه هغے سره د جناتو خلاف مدد حاصليږي
ایت الکرسی لوستل دي۔ تجربه کار حضراتو د دے ډیره تجربه
کړے ده۔ انسان نه د شیاطینو تښتولو کښے د ایت الکرسی ډیر
عظیم تاثیر دے۔ او مرګي والا د پاره هم۔ او د جناتو حالات
غلط کولو د پاره، او د هغوئ د آفاتو نه د بچ کیدو د پاره هم
ایت الکرسی ډیر عظیم تاثیر لري۔ (مجموعه فتاوی ابن تیمیه ۱۹/۴۶
، ۵۵۔ ۲۴/ ۲۷۷)۔

غیر شرعي طريقه علاج:۔

د جناتو مقابله کښے غیر شرعي منتر، غیر شرعي تعویذ۔ چه
هغے د طالب علم هم نه وي۔ ټول ناجائز دي۔ عام طور سره چه
کوم عامل لولي۔ هغے کښے هم شریک وي۔ د دے نه پرهیز ضروري دے۔
(مجموعه فتاوی ابن تیمیه ۱۹/ ۴۶، ۵۵، ۲۴/ ۲۷۷)

د جناتو د دفع کولو بل عمل:۔

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه وائي: زهٔ او جناب

Maktaba Tul Ishaat.com

رسول الله صلی الله علیه واله وسلم د مدینے منورے په لوره لاره روان وو۔ یو سړی ته مرګی شوی وو۔ زهٔ هغهٔ ته نزدے شوم۔ او د هغهٔ غوږ کښے مې تلاوت اوکړ۔ هغه سنهٔ شو۔ نو جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم او فرمائیل: تا د هغهٔ غوږ کښے څه لوستی دی؟ ما غرض اوکړ۔ ما اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّ اَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ط (سورهٔ مؤمن ایت ۱۱۵) آخر د سورته پورے لوستے وو۔ نو حضور صلی الله علیه واله وسلم ارشاد او فرمائیلو:

وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ لَوْ اَنَّ رَجُلًا مُّؤْمِنًا قَرَءَ بِهَا عَلٰی جَبَلٍ لَّزَالَ ۔

ترجمه: زما په هغه ذات قسم دی چه د هغهٔ قبضه کښے زما ځان دے۔ که یو مؤمن سړے دا یو غر باندے هم تلاوت کړی نو هغه به هم لرے شی۔ (حکیم ترمذی ابو یعلیٰ، ابن ابی حاتم، عقیلی، حلیة الاولیاء، ابو نعیم، ابن مردویه۔ منه۔ در منثور ره ۵/۱۷ قرطبی ۱۲/۱۵۷، عقیلی ۲/۱۶۳، موضوعات ابن جوزی ۱/ ۱۵۶)

د جن او پیکلو عجیبه واقعه:-

ابو یاسین وائی: د بنی سلیم قبیلے یو دیهاتی (بانډیسے) جومات (مسجد) ته راغے او د حسن بصری رحمه الله یاره کښے ئے تپوس اوکړ۔ ما ورته اووے: ته هغهٔ ته څهٔ وائیے؟ هغهٔ اووے: زهٔ د دیهات (بانډے) اوسیدونکے یم۔ زما یو ورور خپل قوم کښے د ټولو نه لوے پهلوان وو۔ هغهٔ باندے یو داسے مصیبت راغے۔ چه د ټولو نوم ئے نهٔ اخستلو حتی چه موږ هغه اوسپنه کښے او تړلو۔ دے دوران کښے موږ خپلو

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې خبرے کولے۔ چه یو هاتف اووے «السلام علیکم» مونږ هغهٔ ته جواب خو ورکړلو۔ لیکن مونږ ته څه په نظر رانغلل۔ هغے جنات اووے: مونږ ستاسو ګاونډیان یو۔ مونږ ستاسو ګاونډی، جوړ یدو۔ څه حرج مو نهٔ کنړلو۔ لیکن زمونږ یو بے وقوف ستاسو دے ملګری مقابله اوکړه۔ مونږ هغهٔ ته د پریښودو اووے۔ لیکن هغهٔ انکار اوکه۔ هر کله چه مونږ ته علم اوشو۔ نو مونږ اوغوښتل چه تاسو خلقو ته معذرت اوکړو۔ بیا د هغهٔ ورور (یعنی ماته) ئے اووے: چه فلانئ وسخ شی۔ نو ته خپل قوم جمع کړه او دے کلک اوتړه۔ که دے په تاسو غالب راشی۔ نو تاسو هیڅکله د دهٔ جن او دهٔ باندے قابو نشئ بیا مُتد ے۔ دے نه پس هغه اوبن باندے کینولو سره فلانئ وادی ته ئے راولئ۔ او د هغے وادی سبزی اخستو سره وئے تهکوئ۔ بیا په هغهٔ ئے پورے کړئ د دے خبرے دے خیال وی چه هغه تاسو نه خلاص نشی۔ که خلاص شی۔ نو تاسو هیڅکله په هغهٔ غالب نشئ راتلے۔

ماورته اووے: الله دے په تا رحمت اوکړی۔ ماته به هغه وادی او سبزی لځوک اوښائی؟ هغهٔ اووے چه دا وسخ راشی۔ نو ته به یو آواز واورے۔ ته هغے آواز پسے راځه۔ هر کله چه هغه وسخ راغله۔ نو ما هغه په یو اوبن کینولو۔ نو زما مخے ته یو آواز راغے، او زهٔ هغے پسے شوم۔ بیا هغهٔ اووے۔ دے وادی کښې کوز شه! بیا ئے اووے: دا سبزی واخله: او دا سے دا سے اوکړه۔

مونږ هغسے اوکړه۔ هر کله چه هغه دوائی د هغهٔ خیټے ته اورسیده

Maktaba Tul Ishaat.com

نو هغه د هغې جن نه اوخپل مصیبت نه آزاد شو۔ او خپلے ستر کے
ئے پرانستے۔ هغې راهنما جن اووے۔ اوس د دهٔ لار پریږدئ
او د هغهٔ زنځیر پرانیزئ۔ ما اووے: زهٔ ویریږم چه دے
اونهٔ تښتی۔ هغهٔ اووے: قسم په خدائے اوس به دا جن
دهٔ ته قیامته پورے نهٔ راځی۔

ما اووے: الله دے په تا رحم اوکړی۔ تا په مونږ احسان
کړے دے۔ اوس یو خیز پاتے شوے دے هغه هم اوښایه!
هغهٔ اووے: هغه څهٔ خیز دے؟

ما ورته اووے: هرکله چه تا مونږ ته تسلی راکړې وه۔ نو
ما نذر منلے وو۔ که الله تعالی زما دے ورور ته صحت عطا کړی
نو زهٔ به پوزه تکیل (مهار) اچولو سره د حج سفر پیاده اوکړم۔ هغهٔ
اووے: دا دا سے خبره ده چه د دے مونږ ته علم نشته۔ لیکن زهٔ تا ته
ښایم۔ ته دے وادی کښے کوز شه۔ او بصری ته لاړ شه حسن بصری
رحمة الله تعالی علیه نه تپوس اوکه۔ هغه نیک سړے دے۔ (ابن ابی
الدنیا۔منه۔ فی الهواتف ص۱۱۶ (۱۶۳)۔

فائده:۔ مذکوره واقعه لقط المرجان کښے مکمل نه ده۔ اصل کتاب
(الهواتف ابن ابی الدنیا صـ) کښے مزید تفصیل هم شته، مونږ د هغے خلا
دلته نقل کوو۔ چه بیا حضرت ابویاسین هغه حضرت حسن بصری ته بوتلو
او هغهٔ ټوله واقعه اوخپل نذر عرض کړلو۔ نو هغوے ورته اوفرمائیل:
پوزه کښے تکیل (مهار) اچول خو شیطانی کار دے۔ دا سے خو مهٔ کوه۔ لو د
خپل قسم کفاره ورکړه۔ او بیت الله شریف ته پیاده تلو سره حج اوکړه

Maktaba Tul Ishaat.com

اوخپل نذر اداء کړه. (الهواتف بن ابی الدنیا ص۱۱۸ (۱۶۳)) (د داستا د سوال جواب دعے.)

د شاعر په بنځه جنات :-

دیو شاعر بنځے ته جن شو۔ نو هغهٔ هغه دم منتر اوکړه۔ کوم چه عامل حضرات کوی۔ بیا ئے ترے تپوس اوکړه ته مسلمان یئے یا یهودی یئے؟ یا عیسائی؟ شیطان د هغے بنځے زبانی جواب ورکړلو زهٔ مسلمان یم نو هغهٔ ورته اووے بیا تا زما بنځے سره تعرض کوله ولے حلال او کړنو؟ زهٔ هم ستا په شان مسلمان یم۔ هغهٔ جواب ورکړه۔ ځکه چه زهٔ دا خوښوم ستا عر ورته اووے: ته د کوم ځائے نه راغلے یئے؟ هغهٔ جواب ورکړه۔ د جرجان نه۔ تپوس ئے ترے اوکړه۔ ته ولے په دے حمله آور شوے؟ جواب ئے ورکړه۔ ځکه چه دا کور کښے سرپرانستے ګرځیدهٔ نو شاعر اووے: که ته دومره غیرتمند وے نو جرجان نه د دے دپاره لوپټه ولے رانهٔ وړله؟ چه هغهٔ سره ئے سر پټ کړے وے؟

(تذکرهٔ حمدونیه۔ منه۔)

رافضی یا ند ے جنات :-

حسین بن عبد الرحمٰن وائی: زما کښے یو مرګی والا مریض سره زهٔ یو ځائے شوم۔ هغهٔ چه به څهٔ فریضه د ادائنګئ یا ذکر الله اراده کوله۔ نو هغهٔ ته به مرګی کیدل۔ نو ما هم هغهٔ ته هغه اووے۔ څه چه به خلقو و که ته یهودی یئے نو د موسیٰ علیه السلام په واسطه، او که عیسائی یئے نو د عیسیٰ علیه السلام په واسطه او که مسلمان یئے نو محمد صلی الله علیه واله وسلم واسطه درکوم۔ چه ته دے پریږده۔ هغوے اووے مونږ نهٔ یهود یان

Maktaba Tul Ishaat.com

یو نهٔ عیسائیان - موږ لید لی دی چه دے حضرت ابوبکرؓ او حضرت عمرؓ سره بُغض لری - حُکه موږ دے د اهمو فرائضو نه منع کړے دے۔ (عقلاء المجانین (ابن جوزیؒ) منه -)

یو معتزلی پاندے جن :-

حضرت سعید بن یحیٰی رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی : ما یو مجنون خمس نبار کښے مړکی مرض کښے اولیدلو - چه خلق ورته را جمع شوی وو - زهٔ هغهٔ ته قریب ورغلم ورته مې اووے : الله تعالیٰ تاته په دهٔ دحملے کولو اجازت درکړے وو - یا ته لهٔ خپله حُانه د اشرارت کوے ؟ نو هغهٔ د مجنون زبانی اووے : موږ په الله تعالیٰ جراءت نه کوو - تاسو دے پرینږدئ چه دے مړشی - حُکه چه دے وائی : چه قرآن پاک مخلوق دے (یعنی د الله تعالیٰ صفتی کلام نه دے - حالانکه دا کفر دے (عقلاء والمجانین بحواله ابن ابی الدنیا - منه -)

یو بل معتزلی پاندے جن :-

حضرت ابراهیم خواص (اجری نیشاپوریؒ) فرمائی : زهٔ یو داسے سړی له ورغلم - چه شیطان هغه مړکی مرض کښے مبتلا کړے وو ما د هغهٔ غوږ کښے آذان کول شروع کړل - نو شیطان د دننه نه ما ته آواز اوکړه - ما پرینږده چه زهٔ دے قتل کړم - حُکه چه دے وائی چه قرآن پاک مخلوق دے۔ (رسالهٔ قشیریه (امام ابوالقاسم قشیری) - منه)

Maktaba Tul Ishaat.com

د جناتو انسانان اغوا کول

رومبئ واقعه :-

حضرت عبدالرحمٰن بن ابی لیلیٰ نه روایت دے۔ د هغهٔ د قوم یو سړے ماسختن مونځ د پاره د کور نه اووتلو۔ او ورک شولو۔ نو د هغهٔ ښځهٔ حضرت عمرؓ ته حاضره شوه۔ او هغهٔ ته ئے واقعه بیان کړه۔ هغوئ هغې ته د څلورو کالو انتظار کولو حکم اوکړلو۔ هغې انتظار اوکړه۔ بیا هغې ته ئے اجازت اوکړو۔ چه هغه نکاح کولے شی هغې د دویمې نکاح کولو نه څه موده پس د هغې رومبئ خاوند واپس راغے۔ خلقو د هغهٔ واقعه حضرت عمر رضی اللہ تعالیٰ عنه ته پیش کړه۔ حضرت اوفرمائیل۔ تاسو کښې یو سړے یوے زمانے پورے غائب وی۔ چه د هغهٔ د ژوند علم د هغهٔ کور والو ته نهٔ وی۔ نو هغې سړی عرض اوکړه۔ زما یو عذر وو۔ حضرت ترے تپوس اوکړه۔ څهٔ عذر وو ؟ هغهٔ اووے۔ زهٔ د ماسختن مونځ د پاره اووتلم۔ نو جناتو زهٔ قید کړم۔ او د یوے اوږدے مودے پورے هغوئ سره ووم۔ بیا هغوئ سره مؤمن جناتو جنګ اوکړه او غالب شول۔ هغوئ قیدیانو ته هم اوږسیدل۔ چه هغوئ کښې زهٔ هم موجود ووم۔ هغوئ ما ته تپوس اوکړه۔ ته په کوم مذهب یئ ؟ ما اووے مسلمان یم۔ نو هغوئ اووے : ته خو زمونږ په دین یئ۔ مونږ د پاره جلال نهٔ دی۔ چه مونږ تا خپل قیدی جوړ کړو۔ بیا هغوئ ما ته هلته د اوسیدو، بیا

هلته نه د واپس کیدو اختیار راکړلو۔ نوما واپسی خوښه کړله۔ هغوئ به د شپې ما سره انسانی شکل کښې وو۔ او د ورځې به د بېړبوکئ شکل کښې وو۔ زهٔ به هغې پسې پسې تلم۔ حضرت عمرؓ تپوس اوکه۔ تا به خهٔ خوړل؟ عرض ئې اوکه۔ هر هغه طعام چه په هغې به د اللّٰه تعالیٰ نوم وا خستې شو۔ حضرت دویم تپوس اوکه۔ تا به څهٔ څکل؟ عرض ئې اوکه هغه رس چه اوس به لا شراب نهٔ وو جوړ شوے۔ نو حضرت هغې سړی ته د هغې ښځې د بی بی جوړولو یا هغې ته د طلاق ورکولو اختیار ورکړلو (ابن ابی الدنیا (منه) آکام المرجان ص۸۷ تحقیق عبد اللّٰه الصدیق، الهوا کف ابن ابی الدنیا ص۹۶ (۱۱۳)۔

دېوے جینئ د تښتولو واقعه:۔

حضرت امام شعبیؒ د حضرت نظر بن عمرو حارثیؓ نه روایت کوی د جاهلیت زمانه کښې زمونږ جانب یو کوهے وو۔ ما خپلې لور ته یوه پیالهٔ ورکړه چه هغې کښې اوبه راوړی۔ خو هغې راتلو کښې تأخیر اوکه۔ مونږ د هغې ډیر تلاش اوکه۔ لیکن ستړی شو۔ او د هغې د بیا مندو نه نا اُمیده شو۔ په اللّٰه مې دې قسم وی زهٔ یوه شپه د خپل سائبان په چت ناست ووم۔ چه زما مخې ته یو سورے (سایه) په نظر راغے۔ کوم وخت چه هغه رانزدے شو۔ نو هغه زما هغه لور وه۔ ما آواز اوکه۔ زما لور ئې؟ هغې اووے جی هاں! ستاسو لور یم۔ ما ترے تپوس اوکه: اے لورے! ته چرته وے؟ هغې اووے: تاسو ته یاد دی۔ چه تاسو زهٔ یوه شپه کوهی ته اوبو راوړلو د پاره لیږلے ووم۔ نو زهٔ یو جن اوتښتولم۔ زهٔ هغهٔ سره ووم تر دے چه د هغهٔ او جناتو د یو جماعت مینځ کښې جنګ

واقع شو، نو هغې جن ما سره عهد اوکه - که هغه په هغوئ کامیاب شو نو ما به واپس راولیږی - هغه کامیاب شو او زهٔ یے تا سو ته واپس کړم -

ما هغه جینئ اولیده - چه د هغې سپین رنګ تور والی ته مائل شوے وو - او د هغې وینیته غرځیدلی وو - او غوښه یے ختم شوے وه -

بیا هغه موږ سره وه - او تندرسته شوه - او د تره خوئ سره یے نکاح اوشوه -

هغې جن هغې جینئ سره یو علامت مقرر کړے وو - چه هغه به یے لیده - نو هغهٔ ته به علم کیده چه هغه هغې ته اشاره کوی -

د هغې جینئ خاوند به همیشه هغه عتاب کښے ساتلو - ځکه یو ځل یے خپلے سځے ته اووے - تهٔ جن یے یا شیطان یے - انسان نهٔ یے - نو هغهٔ ته یو آواز کوونکی آواز اوکه - دے ستا څهٔ نقصانات کړے دے ؟ که دے ته دے نیت بد کړو - نو زهٔ به ستا سترګے ماتے کړم - ما د جاهلیت زمانه کښے د خپل مقام او مرتبے د وجے نه د دے حفاظت کړے دے - او مسلمانیدو نه پس د دین د اعتبار نه به د دے حفاظت کوم - نو هغې ځلی اووے : تهٔ زموږ مخکښے ولے نهٔ راځے ؟ چه موږ خو دے هم اووینو - هغهٔ اووے موږ د اتے نهٔ شو کولے - ځکه چه زموږ نیکه موږ د پاره د درے څیزونو سوال کړے دے . (١) دا چه موږ خپله خو وینو لیکن چا ته نهٔ ښکاره کیږو . (٢) دا چه موږ د زمکے په سطح اوسو .

(٣) دا چه زموږ هر یو د بوډاتوب کښې و ته رسیدو سره

دو باره ځلمے شی .

نو هغهٔ اووے: تهٔ موږ ته د ځلوراښے ورځے د بچا علاج نه ښایئے؟ هغهٔ اووے ولے نه- آیا تا د جولاګی (مکړی) په شان ځناور داوبو په مخ لیدلے دے؟ هغه اونیسه او د هغهٔ یوه پینبه د مالوچو په تار او تړه - بیا هغه په خپله کسه اوبږه - باندے اوتړه - هغهٔ د غسے اوکړل: نو هغه د هغے بخار نه د غسے آزاد شو- څنګه چه د هغهٔ رسئ پرانستے شوه - نو هغے ځلمی ترے تپوس اوکه - اے جنّ! د هغے سرړی علاج به او نهٔ ښایئے چه هغه اراده کوی - کوم چه سنځهٔ اراده کوی - هغهٔ اووے: آیا هغهٔ نه سړو ته تکلیف وی؟ هغهٔ اووے هاں! هغهٔ اووے که دا سے نهٔ وے نو ما به تاته د هغهٔ علاج هم ښودلے وو . (الهواتف ابن خرائطی- منه- الهواتف ابن ابی الدنیا ص۹۴ ، روایت ۱۱۰-)

فائده:- علامه سیوطی رح د امام خرائطی رح د الهواتف حوالے سره داقصه بیانولو نه پس دا مزید تفصیل سره دویم روایت کښے د خرائطی د الهواتف حوالے سره ذکر کړے دے - دا امام ابی الدنیا هم خپل الهواتف کښے خرائطی پورے خپل سند سره ص۹۵ باندے ذکر کړے دی- موږ د تکرار معنیٰ په وجه د دے ترجمه پرېښے ده-

نوټ:- دا دواړه واقعات د امام شبلی رحمة الله تعالیٰ علیه آکام المرجان کښے د الهواتف ابن ابی الدنیا حوالے سره ذکر کړی دی- د علامه سیوطی رح د الهواتف خرائطی حواله ورکول خطاء دی .

(حاشیه الهواتف ابن ابی الدنیا از مجدی سید ابراهیم طبع المکتبه القرآن

Maktaba Tul Ishaat.com

بولاق قاهره صـ۹۶) ۔

د جناتو عجائبات بیانونکے :۔

(حدیث شریف) د حضرت بی بی عائشےؓ نه روایت دے : جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم خپلو پاکو بیبیانو ته یوه شپه یوه قصه واوروله ۔ نو د حضور صلی الله علیه وآله وسلم یوے بی بی اووے ۔ دا خبره خو د خرافه د خبرے په شان ده ۔ حضور صلی الله علیه وآله وسلم ورته اوفرمائیل : تاته معلومه ده چه خرافه څوک دے؟ خرافه یو سړے وو ۔ چه د اسلام نه مخکښے د جاهلیت زمانه کښے جناتو قید کړے وو ۔ او دا سړے یوے اوږدے مودے پورے هغوی سره وو ۔ بیا جناتو هغه انسانانو ته واپس کړلو ۔ نو هغهٔ چه کوم عجائبات جناتو کښے لیدلی وو ۔ هغه به ئے خلقو ته بیانول او خلقو به د تعجب په بنا ووے ۔ دا خبره خو د خرافه په شان ده (مسند احمد ، شمائل ترمذی ـ منه ـ کنزالعمال ۳/ ۸۳۴۴ ، نهایه ابن اثیر ۲/ ۲۵ ، جمع الوسائل شرح شمائل ملا علی قاری ۲/ ۵۸ مع هامش المناوی ، مسند احمد ۶/ ۱۵۷ ، میزان الاعتدال ۳/ ۵۶ لسان المیزان ۴/ ۱۵۴) ۔

حضور صلی الله علیه واله وسلم خپلو بیبیانو ته د خرافه حدیث واورولو :

(حدیث شریف) حضرت انس رضی الله تعالی عنه فرمائی : د جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم خدمت کښے د حضور بیبیانے میاشتے کے تشریف فرما شوے ۔ نو حضور صلی الله علیه واله وسلم هغوی ته دا سے خبرے کولے ۔ څنګه چه انسان ئے خپل کور والا و ته کوی ۔ نو هغے بیبیانو

Maktaba Tul Ishaat.com

نه یوے بی بی اووے: دا خود خرافه په شان یعنی عجیبه خبره ده نو حضور صلی الله علیه واله وسلم تپوس اوکه۔ آیا تا سو ته معلومه ده۔ چه د خرافه قصه څه ده؟ هغوئ عرض اوکه موږ ته نه ده معلومه۔ نو حضور صلی الله علیه واله وسلم ورته اوفرمائیل:

خرافه د عذره خاندان نه وو۔ هغه پیریانو (جناتو) تښتولے وو۔ دے هلته کافی موده پورے وو۔ بیا انسانانو ته واپس راغے۔ او داسے حکایات ئے بیانول۔ کوم چه جناتو کښے واقع کیدل هغه یو حکایت دا بیان که۔ چه یو جن ته د هغه مور دواده کولو حکم ورکړلو۔ نو هغه جواب ورکړلو۔ ما ته خطره ده۔ چه د هغے په وجه به تا ته تکلیف وی۔ خو د هغه مور هغه پسے لګیدلے وه۔ حتی چه دیوے جن ښځے سره ئے د هغه واده اوکه۔

دا جن به یوه شپه ښځے سره وو۔ او یوه شپه به مور سره وو۔ یوه شپه د هغه مور یواځے وه۔ او دے خپلے ښځے سره وو۔ یو اجنبی د هغه مور ته سلام اوکه۔ هغے د سلام جواب ورکه هغه اووے: د شپے د پاتے کیدو څه ځائے شته؟ هغے ورته اووے هاں! شته۔ هغه اووے د خوراک څه شته؟ هغے ورته اووے هاں! د خوراک هم شته۔ هغے اووے: څوك قصه کونی والا هم شته؟ هغے ورته اووے ته زما ځوئ له څوك اولیږه۔ قصه کونی به هم اوکړی هغه تپوس اوکه۔ دا د څه خیز آواز دے؟ چه زه ئے ستا د کور نه اورم۔ هغے اووے: دا اوښان او چیلے دی۔ هغوئ نه یو سړی دوېم ته اووے۔ آرزو کوونکے چه د څه خیز آرزو کوی۔ ورکه۔ نو خرافه

اووے: هر کله چه سبا شو نو د هغې ښځې کور د چیلو او اومښانو نه ډک شوے وو- هر کله چه د هغې خبیث النفس خوئے اولیدل نو مور خوئے ته اووے: ستاخه خیال دے؟ ښتاید ستا ښځې تا ته ویئلی وی- چه دا څاروی زما کور له راوله- د هغې خوئے اووے هان!- نو مور ورته اووے: ټهیک ده- ته دا د هغې کور ته منتقل کړه- نو هغه د غسے اوکړل- دوئ څه موده ایسار وو- چه (هغه دواړه یو ځل اجنبی) د هغه ښځې له ورغی- هر کله چه د هغې خاوند خپلے مور له ورغلے وو- هغه سلام اوکړه- د هغې ښځې جواب ورکړه نو هغه اووے: دلته د اوسید و څه څائے شته؟ ښځې ورته اووے نه بلے هغه اووے: خوراك د پاره څه شته؟ هغې ورته اووے: خوراك د پاره هیڅ نشته، هغه اووے: دلته څوك انسان شته؟ چه مونږ سره خیر ے اترے اوکړی- هغې اووے هغه هم نشته-

نو هغه اووے: دا ستا کور کښې مونږ د څه څیز آواز اورو؟ ښځې اووے دا درنده ګان (شلوونکی ځناور) دی- نو هغې دواړه نه یو دوئم ته اووے: آرزو مند چه دکوم څیز آونږو کوی هغه ورکړه اګر که شی ولے نه وی- نو د هغه د ښځې کور د درنده ګانو نه ډك شو هر کله چه هغه ښځه سحر کښې پاسیده- نو هغې درنده ګانو هغه خپلے او اومښان خوړلی وو- (تاریخ ابن حبان - منه- علل المتناهیه ۱/۵۱، ۵۳، تذکرة الموضوعات ابن قیسرانی ۳۶۳، کتاب المجروحین ابن حبان ۲/۹۷، کشف الخفاء ۱/۲۶۴، میزان الاعتدال ۵۵۶۰، لسان المیزان ۴/۳۶۰).

انسانان وبا او طاعون کښې مبتلا کول

طاعون ولې کیږی؟

(حدیث شریف) ابوموسیٰ اشعری رضی اللہ تعالیٰ عنہ فرمائی:
جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ واٰلہ وسلم ارشاد اوفرمائیلو:
فَنَاءُ اُمَّتِیْ بِالطَّعْنِ وَ الطَّاعُوْنِ، قَالُوْا یَا رَسُوْلَ اللّٰہِ هٰذَا الطَّعْنُ عَرَفْنَاهُ فَمَا الطَّاعُوْنُ؟ قَالَ وَاخْذُ اَعْدَائِکُمْ مِنَ الْجِنِّ ط

ترجمہ:۔ زما د امت فناه به وبا او طاعون سره وی۔ صحابہ کرامو عرض اوکړ۔ یا رسول اللہ وبا خو مونږ پیژنو خو دا طاعون څه څیز دے؟ حضور صلی اللہ علیہ واٰلہ وسلم ارشاد اوفرمائیلو: دا ستاسو د دشمن جناتو چوله دے۔ (مسند احمد، مصنف ابن ابی شیبہ، کتاب الطواعین ابن ابی الدنیا، بزار، ابو یعلیٰ، ابن حزیمہ، طبرانی، حاکم وصححہ، دلائل النبوۃ، بیہقی۔ منہ۔ بذل الماعون فی فضل الطاعون، مسند احمد ۴/۳۹۵، ۴۱۷، ۶/۲۵۵، ۳/۳۷۴، ۴/۲۳۸، دلائل النبوۃ بیہقی ۶/۳۸۴، مجمع الزوائد ۲/۳۱۱، ۳۱۲، معاجم طبرانی ثلاثہ، جامع صغیر حدیث ۵۹۰۱، تمہید ابن عبدالبر ۶/۳۱۲، اتحاف السادۃ ۶/۳۹۲، کنزالعمال حدیث ۱۱۱۷۳، ترغیب و ترھیب ۲/۳۳۶، جامع المسانید خوارزمی ۱/۵۹، ۱۹۰، مسند ابی حنیفہ ۱۴۱، ۱۴۲، قرطبی ۳/۲۳۴، تاریخ بخاری ۴/۱۳۰(۲)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده :- علامه شبلی رحمة الله تعالی علیه د مسند احمد حوالے سره وَخَزُ اَعْدَائِكُمْ په ځائے وَ خَزُ اِخْوَانِكُمْ ذکر کړے دے - حالانکه دا الفاظ نه خو مسند احمد کښې دی نه څه د حدیث بل کتاب کښې - حافظ ابن حجر عسقلانی خپل کتاب " بذل الماعون فی فضل الطاعون " کښې لیکی: د علماءُ یو جماعت وَخَزُ اِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِّ الفاظ ذکر کړے دی حالانکه د انتهائی کوشش باوجود دا الفاظ بیا نهٔ مُندے شو - او نهٔ معلوم شو، نهٔ مشهورو کتابونو کښې، نهٔ مختلفو اجزاوو کښې - اهـ -

په طاعون هلاکیدونکے شهید دے :-

(حدیث شریف):- حضرت بی بی عائشه رضی الله تعالیٰ عنها نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :-

فِي الطَّاعُوْنِ وَخْزَةٌ تُصِيْبُ اُمَّتِيْ مِنْ اَعْدَائِهِمْ مِنَ الْجِنِّ غُدَّةٌ كَغُدَّةِ الْاِبِلِ مَنْ اَقَامَ عَلَيْهَا كَانَ مُرَابِطًا، وَمَنْ اُصِيْبَ بِهٖ كَانَ شَهِيْدًا، مَنْ فَرَّ مِنْهُ كَالْفَارِّ مِنَ الزَّحْفِ .

ترجمه:- طاعون یو شدت دے - چه زما اُمت ته به د هغوی دښمن جناتو طرف نه رسیږی - د هغهٔ قُب به د اوښ د قب په شان وی کوم سړے چه د دے طاعون علاقه کښې وی - هغه سړے به د اسلامی سرحدونو د حفاظت کوونکی مجاهد په شان وی - څوک چه هغے کښے وفات شو هغه به د شهادت مرتبه بیاموی - او څوک چه دے نه اوتښتی هغه به جنګ کښې د دشمن اسلام مقابله کښے د تښتیدونکی په شان وی.

(ابو یعلیٰ- منه - مجمع الزوائد بهذ اللفظ ۲/ ۳۱۴، و بعدة الفاظ اخریٰ وغرها لاحمد و ابی یعلی والطبرانی والبزار وغیرهم انظر مجمع الزوائد ۲/ ۳۱۴، ۳۱۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

د جنّاتو بد نظر

(حدیث شریف) حضرت بی بی ام سلمه رضی الله تعالیٰ عنها نه روایت دے: جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم خپل کور کښې یو بچې اولیده چه هغې ته د جن بد نظر لګیدلے وو۔ حضور صلی الله علیه واله وسلم ارشاد او فرمائیلو: د دے فلانی نه دَم چُف اوکړئ۔ د دے ته بد نظر لګیدلے دے
(بخاری، مسلم۔ منه۔ بخاری کتاب الطب باب ۳۵، صحیح مسلم کتاب السلام حدیث ۸۵، مستدرک حاکم ۲۱۳/۴، مصابیح السنت ۱۶۳/۱۲، مصنف عبد الرزاق ۱۹۷۶۹، مشکوٰة المصابیح حدیث ۴۵۲۸)

فائده:- مذکوره حدیث کښې د بد نظر په ځائے عربي کښې "سفعة" لفظ دے۔ چه د هغې متعلق حسین ابن مسعود فراء (بغوی محی السنة فقیه، محدث، مفسر صاحب مصابیح السنة و معالم التنزیل وغیره) فرمائی: چه د سفعة یعنی جن بد نظر دے۔ مطلب دا دے چه هغې بچې ته د جن بد نظر لږیدلے وو۔ مؤلف اکام المرجان فرمائی: سترګه په دوه قسمه ده یو انسانی سترګه، یو جنی سترګه۔

بعضے علماء د مذکوره حدیث تتمه کښې فرمائی: چه د هغوئ د دے بد نظر علاج تعویذات او دَم چُف سره کړے وو۔ او په هغې ئے د بیمارئ د تکلیف او به واچولے۔ او وے ئے چه هغې ته د جن بد نظر لږیدلے وو۔ که هغوئ د نظر لږیدلو علم لرلے (هم) نو د انسانی نظر علاج به ئے کولے۔ (اکام المرجان منه۔ ص ۱۱۸)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

جنّات او شیاطینو نه

دحفاظت اعمال و وظائف

داعوذ بالله په ذریعه پناه :-

ارشاد خداوندی دے :

وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ؕ

ترجمه :- او که تاسو د شیطان شرارت پریشانه کړئ نو د الله ج فنا طلب کوئ، بیشکه هغه هرڅه اوری او پوهیږی ۔

غل شیطان نه پناه :-

(حدیث شریف) حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه فرمائی : رسول الله صلی الله علیه واله وسلم زه د رمضان زکوٰة (فطرانه) پاندے مقرر کړم ۔ نو ما ته یو راتلونکے راغے ۔ او طعام نه ئے لپے د کول شروع کړل ۔ ما هغه اونیولو ۔ ورته م اووے : زه تا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ته پیش کوم ۔ هغه اووے : زه محتاج یم ۔ عیال دار یم، ډیر ضرورتمند یم ۔ په دے خبره ما هغه پریښود لو ۔ سحر چه زه د حضور صلی الله علیه واله وسلم خدمت کښے حاضر شوم ۔ نو رسول الله صلی الله علیه واله وسلم او فرمائیل : قیدی ستا څه اوکړل؟ ما اووے : یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم هغه خپل سخت ضرورت او عیال داری شکایت کړے وو ۔ نو ما په هغه ترس اوخوړلو ۔ نو حضور

Maktaba Tul Ishaat.com

صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائیل: قسم په الله هغه دروغ ویلي دی۔ هغه به عنقریب بیا تا ته راشي۔ نو ما داخبره یاد اوساتله۔ اود هغه په سوکیدو کیناستم۔ هغه بیا راغے۔ او د طعام لپے ډکول ئے شروع کړل۔ نو ما هغه بیا اونیولو۔ ورته مې اووے: زه به تا ضرور د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم په خدمت کښې پیش کوم۔ هغه اووے: ما پریږده، زه محتاج او عیالدار یم۔ زه به بیا نه راځم۔ نو ما په هغه ترس اوخوړلو۔ او هغه مې پریښودلو۔ چه سحر شو نو حضور صلی الله علیه واله وسلم ما ته اوفرمائیل: ستا قیدی څه اوکړل؟ ما عرض اوکه یا رسول الله! هغه د ضرورت او عیالدارۍ شکایت کړے وو۔ او ما په هغه ترس خوړلو سره پرے ښودلو۔ نو حضور صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل: قسم په الله هغه دروغ ویلي دی۔ او عنقریب هغه به بیا راځي۔ په دریم ځل بیا هغه سوکیدو کیناسته۔ نو هغه بیا راغے او طعام نه لپے ډکول ئے شروع کړل۔ ما هغه اونیولو۔ ورته مې اووے: زه به دے ضرور د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم خدمت کښې پیش کوم۔ دا دریم او آخري ځل دی۔ زما خیال دا دے چه ته به نه راځې۔ لیکن بیا هم ته راځې۔ نو هغه اووے: ما پریږده۔ زه تا ته څو کلمات ښایم۔ چه د هغے نه به درته الله تعالی فائده اورسوی۔ ما ورته اووے: هغه څه دی؟ نو هغه اووے: هرکله چه ته خپلے بسترے سره ډډه اولګوے نو آیت الکرسی: اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ آخر دا آیت پورے لوله۔ د غسے به په تا د الله تعالی له طرف نه یو محافظ قائم شي۔ او سحر پورے به شیطان تا

Maktaba Tul Ishaat.com

نه قریب نشی راتلے - نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلی
دے خو هغه دروغجن - لیکن داخیره ئے درته رینبتیا کړے ده.
(بخاری، نسائی۔منه- بخاری کتاب الوکالت باب ۱۰، کتاب فضائل القرآن
باب ۱۰، کتاب بدء الخلق باب ۱۲، فتح الباری ۴/ ۴۸۷ ، درّمنثور ص
۳۲۶/۱، المغنی عن حمل الاسفار ۳۳۹/۱، مشکوٰة حدیث ص ۲۱۲۳
کنزالعمال ۳۵۶۱، اتحاف السادة المتقین ۵/ ۱۳۲) .

دیوبیل غل جنّ واقعه:-

(حدیث شریف) حضرت ابی ابن کعب رضی الله تعالیٰ عنه نه
روایت دے - هغهٔ سره یو مشك قجورے وے - چه د هغے به ئے سنهٔ
حفاظت کولو- او د دے باوجود به هغه کمیدے - هغه یوه شپه د هغے
حفاظت کښے اولن یدلو- نو یو ځناور چه د بالغ هلك مشابهٔ وو- د هغهٔ
مخے ته راغے - حضرت ابی رض فرمائی: ما سلام اوکړ- نو هغهٔ د سلام جواب
راکړ- ما تر ے تپوس اوکړ- تهٔ څوك یئے ؟ جن یئے یا انسان یئے ؟
هغه اووے جن یم - ما ورته اووے : تهٔ خپل لاس زما لاس کښے اوږده کړه!
نو هغهٔ خپل لاس ما ته راکړ - هغه د سپی په شان لاس او د سپی په
شان ویښته وو- ما ورته اووے : آیا د جناتو پیدائښ داسے دے ؟ هغهٔ اووے
ما ته معلومه ده- چه جناتو کښے ما نه هم طاقتور موجود دی- ما ورته
اووے تهٔ په دے کار کوم څیز مجبور کړے - هغهٔ اووے ما ته معلومه
شوے ده- چه تهٔ صدقه ورکول خوښوونکے سړے یئے - نو مونږ هم
اوغوښتل چه ستا د طعام نه خپله نصیبه واخلو- نو حضرت ابی رض د هغهٔ
نه تپوس اوکړ- ښه دا راته اوښایه چه هغه کوم عمل دے- چه مونږ تا سو

نه محفوظ ساتلے شي ؟ هغهٔ اووے : دا آيت : اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ (ایة الکرسی ۔ نو حضرت اُبَي رضی الله تعالی عنه هغه پریښود لو ۔ بیا چه دے د حضور صلی الله علیه وآله وسلم خدمت کښې حاضر شو ۔ حضور صلی الله علیه وآله وسلم ته اطلاع ورکړه، نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائلو، تا ته خبیث رښتیا اووے ، (ابو یعلی ، ابن حبان ، ابوالشیخ فی العظمة ، حاکم وصححه ، ابونعیم دلائل النبوة ، بیهقی دلائل النبوة ۔منه ۔ دلائل النبوت ۷/ ۱۰۸، ۱۰۹) ۔

دیو دوئم غل جن واقعه :-

(حدیث شریف) حضرت ابوالاسود دُئلی رحمة الله تعالی علیه فرمائی : ما حضرت معاذ بن جبل رضی الله تعالی عنه ته خواست اوکه چه ما ته د هغے شیطان قصه واوروئ ۔ چه هغه تاسو گرفتار کړے دے ۔ نو هغوئ اوفرمائیل : جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم زهٔ د صدقات مسلمین نگران مقرر کړم ۔ نو ما هغه کجورے یو کمره کښې کیښودلے ۔ بیا ما اولیدل : چه کجورے کمیږی ۔ ما جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته د دے اطلاع ورکړه ۔ نو حضور صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل : دا شیطان دے ۔ چه کجورے تښتوی ۔ نو زهٔ هغے کمره کښې داخل شوم ۔ او دروازه م بند کړه ۔ نو یوه ډیره لویه تیارهٔ (تاریکی) راغله ۔ په دروازه خوره شوه ۔ بیا هغے د هاتی شکل اختیار کړلو بیا یو بل شکل ئے اختیار کړلو ۔ بیا د دروازے په چوند (شگاف) کښې داخل شو ۔ نو ما هم همت اوتړلو ۔ هغهٔ کجورے خوړل شروع کړل ۔ نو ما په هغهٔ ور تو پ کړو اوړم نیولو،

Maktaba Tul Ishaat.com

او هغه طرف ته لاس کولو سره م اووے - اے د الله دښمنه! نو هغهٔ اووے: ما پرېږده - زهٔ بوډا ایم، عیال دار یم، فقیر یم او د نصیبیٖن د جناتو نه یم - هغے بستیٔ کښے چه هغه کښے ستاسو نبي علیه السلام رالیږلے شوے دے - هغے کښے به مونږ اوسیدلو - هرکله چه هغوئ رالیږلے شو نو مونږ هلته نه اوښکلے شو - ته ما پرېږده زهٔ به بیا تا ته هیڅکله نهٔ راځم - ما هغه پرېښودلو - نو د جناب نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم خدمت با برکت کښے حضرت جبرائیل علیه السلام تشریف راوړلو - او د دے واقعے اطلاع ئے ورکړه - حضور علیه السلام چه د سحر مونځ ورکړلو - نو یو آواز کوونکی آواز اوکړ - چه معاذ بن جبل رضی الله تعالیٰ عنه کوم ځائے دے؟ زهٔ اودریدم: نو حضور علیه السلام اوفرمائیل: مَا فَعَلَ اَسِيْرُكَ ؟ (ستا قیدی څهٔ اوکړل)؟ ما حضور صلی الله علیه واله وسلم ته ټوله واقعه واورولہ - نو وئے فرمائیل: هغه به دوباره راځی ته تیار اوسه!

نو زهٔ بیا هغے کمرہ کښے داخل شوم - او دروازه م بند کړه - هغه بیا راغے او د دروازے چوند (شګاف) کښے داخل شو - ټجوړے خوړل ئے شروع کړل - نو ما بیا هغسے اوکړل - څنګه چه مخکښے ځل کړے وو - هغهٔ اووے: ما پرېږده زهٔ به دوباره هیڅکله نهٔ راځم ما اوویل: اے د الله د ښمنه! تا نهٔ وو ویلی چه زهٔ به دوباره هیڅکله نهٔ راځم؟ هغهٔ اوویل: اوس به زهٔ هیڅکله نهٔ راځم او د دے نښه داده چه تاسو کښے کوم سړے د سورۀ بقره آخری حصه تلاوت کړي - نو مونږ جناتو کښے به هیڅوک هغه شپه کښے د هغهٔ کور ته نشی ننوتے -

Maktaba Tul Ishaat.com

(ابن ابی الدنیا ، طبرانی ، حاکم ، ابونعیم ، بیهقی (منہ) مجمع الزوائد ۶/۳۲۱ ، حاکم وصححہ ۱/۵۶۳ ، دلائل النبوۃ ، بیهقی ۷/۱۰۱ ، ابن ابی الدنیا مکائد الشیطان (۱۴) ص۳۳ ، الدر المنثور ۱/۳۲۴ ، طبرانی ۲۰/۱۶۱-۱۶۲ ، ۵۱ ، ۱۰۱) ۔

فائدہ : یو روایت کښې مزید دا الفاظ هم دی چه هغه د آیت الکرسی او آخر سورۂ بقرہ (آمَنَ الرَّسُولُ ۔۔۔۔ تر اخره پورې) ذکر اوکه ۔ نو ما د هغهٔ لار پریښوده ۔ او سحر کښې د حضور صلی الله علیه واله وسلم خدمت کښې حاضر شوم ۔ او د هغهٔ خبره م ذکر کړه ۔ نو حضور صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو : هغه خبیث دروغجن رښتیا اووې ۔ حضرت معاذ رضی الله تعالی عنه فرمائی : ما به دا دواړه آیتونه لوستل ۔ بیا هغه کښې م هیڅ کمے نهٔ بیا مندلو ۔ (سابقه حوالجات ملاحظ کړئ ۔

یو بل غلجن :-

(حدیث شریف) د حضرت ایوب انصاری رضی الله تعالی عنه یو تاخ (طاقچه) وو ۔ هغه کښې به ئې قجورې ایښودلې یو پیرې (بهوت) به راتهٔ ۔ او هغې نه به ئې غلا کوله ۔ ابوایوب انصاری رضی د حضور صلی الله علیه واله وسلم خدمت کښې شکایت اوکړو ۔ نو حضور اوفرمائیل : ته لاړ شه او هرکله چه هغه اووینې ۔ نو دا سے اووایه :

بِسْمِ اللّٰهِ اَجِیْبِیْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ، زهٔ د الله تعالی نوم سره وایم چه ته د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم خدمت کښې پیش شه ۔ د غسے هغه ئې اونیولو ۔ نو هغهٔ حلف اوچت که ۔ یعنی قسم ئې اوخوړلو چه

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه به دوباره نه راځي. نو هغه پرېښودلو او د حضور صلی الله علیه و اله وسلم په خدمت کښې حاضر شو. حضور صلی الله علیه واله وسلم ورته اوفرمائيل: ستا قيدی څه وکړل؟ هغه عرض اوکړو. هغه حلف او کړے دے. چه دوباره به نه راځي حضور صلی الله علیه واله وسلم ورته اوفرمائيل: هغه د روغ وئيلی دی. هغه به دوباره راځي. نو ابو ايوب رض هغه دوباره اونيولو. او ورته وئې فرمائيل: زه دے نه پرېږدم. ته د حضور صلی الله علیه واله وسلم خدمت کښې حاضر شه. هغه اووے زه تا ته ايت الکرسی ښائم. ته هغه خپل کور کښې لوله. دے سره به هيڅ شيطان وغيره تا له نه راځي. نو دے د حضور صلی الله علیه واله وسلم خدمت کښې حاضر شو. حضور صلی الله علیه واله وسلم ترے تپوس اوکړو. ستا قيدی څه اوکړل؟ نو هغه اوښودل څه چه ورته هغه وئيلی وو. حضور صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائيل: دے خو هغه دروغجن ليکن تا ته ئې رښتيا وئيلی دی. (ابن ابی شيبه، مسند احمد، ترمذی وحسنه، ابن ابی الدنيا، ابوالشيخ کتاب العظمة، حاکم، ابونعيم منه، ترمذی فی ثواب القرآن باب ۳ ،۳۰۴۰، مسند احمد ۵/۴۲۳، دلائل النبوت بيهقی ۷/۱۱۱، مکائد الشيطان (۱۳) ص۳۱، د رمنثور ۱/۳۲۵، ابن ابی شيبه ۱۰/۳۹۸ طبرانی کبير ۴۰۱۱، ۴۰۱۲، ۴۰۱۳، ۴۰۱۴، ۲۶۳/۱۹، مجمع الزوائد ۶/۳۲۳، حاکم ۳/۴۵۹، ترغيب وترهيب ۲/۳۷۴) .

د ابواُسَيد رض غل جن:-

(حديث شريف) د حضرت ابو سيد ساعدی رضی الله تعالی عنه د باغ والا ميوے اوشکولے. او د هغے اېښودلو د پاره ئې کمره جوړه کړه

لیکن پیرے (بهوت) به دوئمے لارے سره د هغوئ د میوو غلا کوله. او هغه به ئے خرابولے. هغهٔ رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم ته شکایت اوکړو. نو حضور صلی الله علیه واله وسلم ورته اوفرمائیل: دا پیرے دے. هرکله چه ته د هغهٔ آواز واورے، نو دا کلمات اووایه! بِسۡمِ اللّٰهِ اَجِبۡنِیۡ رَسُوۡلَ اللّٰهِ (د الله نوم سره د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم حضور ته پیش شه!). نو پیری اووے ما معاف کړه. ما ته حضور صلی الله علیه واله وسلم ته د پیش کیدو تکلیف مهٔ راکوه. زهٔ تا سره د الله د نوم پخه وعده کوم. چه بیا به ستا کور ته نهٔ راځم. او ستا د کجورو غلا به هم نهٔ کوم. او زهٔ تا ته یو داسے ایت ښایم. که هغهٔ ته خپل کور کښے لولے. نو کوم جن یا شیطان چه ستا کور ته راځی هغه به هلاک شی. او که ته هغه په خپل لوښی اولولے. نو د هغے برغولے (ډهکن) به نهٔ پرانستے کیږی. او هغهٔ ته ئے دومره اعتماد ورکه. چه هغه ئے راضی که. هغهٔ ورته اوفرمائیل: د کوم ایت د ښودلو سره چه تا وئیلی دی. هغه خو اوښایه. هغهٔ اووے هغه ایت الکرسی ده. بیا هغهٔ تیزاچولو سره خپل کونا تی اوچت کړل. نو ابو سعید رضی الله تعالی عنه د نبی کریم ص خدمت کښے حاضر شو. او د هغهٔ قصه ئے بیان کړه. او وئے ښودل چه کوم وخت هغه واپس شو. نو یو تیز ئے هم واچولو. نو حضور صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل: هغهٔ رښتیا اووے اگر که هغه دروغجن دے. (ابن ابی الدنیا، طبرانی، ابونعیم منه. مکائد الشیطٰن (۱۳) ص ۳۲ در منثور ۱/ ۳۲۵، حاکم ۳/ ۴۵۸، مجموع الزوائد ۶/ ۳۲۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت زید بن ثابتؓ غل جن :-

یوه ورځ حضرت زید بن ثابت خپل دیوال له ورغے - نو د توپ آوازے واوریدلو - وئے فرمائیل : دا څوک دی؟ یو جن اووے : په مونږ قحط راغلے دے - ما اوغوښتل چه ستاسو د میوو نه څه په کار راولم - ته څه هدیه کړه - حضرت ورته اوفرمائیل : ولے نه - بیا ئے اوفرمائیل : ته به مونږ ته هغه څیز اونه ښائے - چه د هغے په ذریعه مونږ تاسو نه محفوظ شو - نو هغه اووے هغه آیت الکرسی ده - (ابن ابی الدنیا، کتاب العظمة ابو الشیخ - منه - مکائد الشیطان (۱۵) ص۳۵ ، در منثور ۱/۳۲۷)

اونه باندے شیطان :-

حضرت ولید بن مسلمؒ فرمائی : یو سړی دیوے اونے نه څه حرکت واوریدلو - دا خبره کول ئے ورسره اوغوښتل - خو هغه هیڅ جواب ورنه کړلو - نو هغه آیت الکرسی اولوستله - نو هغه ته یو شیطان راکوز شو - هغه ترینه تپوس اوکړ - زمونږ یو بیمار دے - زمونږ یو بیمار دے مونږ د هغه علاج څه څیز سره اوکړو؟ شیطان ورته اووے - هغه څه سره چه هغے سره زه تا اونے نه راکوز کړم - (ابن ابی الدنیا - منه - مکائید الشیطان (۱۶) ص۳۹)

سورة بقرة والا کور کښے شیطان نه داخلیږی :-

(حدیث شریف) د حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے - جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

لَا تَجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ مَقَابِرَ وَاَنَّ الْبَيْتَ الَّذِىْ تُقْرَاُ فِيْهِ -

Maktaba Tul Ishaat.com

الْبَقَرَۃُ لَا یَدْخُلُہُ الشَّیْطَانُ

ترجمه: خپل کورونه قبرونه مه جوړوئ۔ هغه کور چه هغې کښې د سورۃ بقره تلاوت کیږی هغې کښې شیطان نه شی داخلیدے.

(ترمذی ـ منه ـ ترمذی فی ثواب القرآن باب ۲، مسلم حدیث ۲۱۳، من المسافرین، مسند احمد ۲/۲۸۴، ۳۳۷، ۳۷۸، ۳۸۸، ابوداؤد مناسک باب ۹۹، مشکوۃ ۲۱۱۹، شرح السنة ۴/۴۵۶، ترغیب و ترهیب ۲/۳۶۹، درمنثور ۱/۱۹، فتح الباری ۱/۵۳۰، زاد المسیر ۱/۱۹)

حضرت عمرؓ شیطان راوغورځولو:۔

حضرت ابن مسعود رضی اللہ تعالی عنه فرمائی: اصحاب رسول صلی اللہ علیه وآله وسلم کښې یو سړی چرته تشریف یوړلو۔ نو د هغه شیطان سره ملاقات اوشو۔ اوکُشتی او سینه مقابله ئې وړسره اوشوه آخر د حضور صلی اللہ علیه واله وسلم صحابی هغه راوغورځولو. شیطان ورته اووے: ماپریږده۔ دا سے عجیبه خبره درته ښائم۔ چه ته به ئې خوښه کړے۔ نو هغه پریښودلو۔ او وئے فرمائیل: بیان کړه! هغه اووے نه ښائم درته۔ دوباره مقابله شوه۔ د حضور صلی اللہ علیه واله وسلم صحابی دوباره راوغورځولو۔ هغه اووے: ماپریږده! داسے خبره درته ښائم۔ چه ستا به خوښه شی۔ هغه پریښودلو او وئے فرمائیل: بیان که۔ هغه اووے نه ئې ښائم درته. نو په دریم ځل بیا مقابله شوه۔ نو شیطان ئې بیا راوغورځولو۔ او په هغه سوریدو سره کیناستلو۔ او د هغه غټه گوته ئې ولو سره چکه ئې پرے اولګولو۔ شیطان ورته اووے: پریږده۔ حضرت ورته اووے: ترڅو پورے چه او نه ښائے

نۀ دے پریښو دم - نو هغۀ اووے: هغه سورۃ بقره ده - د دے هم ایت دانے دے - چه د هغې لوستلو سره شیطان تښتي - او کوم کور کښې چه دا سورۃ لوستے شي هغې کښې شیطان ننني داخلیدے .

د حضرت ابن مسعود شاګرد انو تپوس اوکه - اے ابوعبد الرحمن! دا کوم صحابي وو ؟ نو ورته ئے اوفرمائیل: دا حضرت عمر ابن خطاب رض نه سیوا تا سو ته څوک په نظر راځي ؟ (ابن ابي الدنيا، ابونعيم - منه - مکائد الشیطان (٦٣) ص۸۵ ، کتاب الغریب ابوعبید ، دلائل النبوة ۷/۱۲۳، دلائل النبوة ابونعیم) .

د شیطان علاج دوه آیتونه :-

(حديث شريف) حضرت نعمان بن بشير رضي الله تعالى عنه نه روايت دے : جناب رسول الله صلى الله عليه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ اَنْ يَّخْلُقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِاَلْفَيْ عَامٍ اَنْزَلَ مِنْهُ اٰيَتَيْنِ خَتَمَ بِهِمَا سُوْرَةَ الْبَقَرَةِ وَلَا يُقْرَاٰنِ فِيْ دَارٍ ثَلَاثَ لَيَالٍ فَيَقْرَبُهَا الشَّيْطٰنُ .

ترجمه :- الله تعالى د آسمانونو او مزکے د پیدا کولو نه دوه زره کاله مخکښې یو کتاب لیکلے وو - هغې نه ئے دوه آیتونه نازل کړل - چه په هغې ئے سورة بقره ختم که - کوم کور کښې چه درے شپې دا ایت اولوستلے شي - نو شیطان هغې کور ته قریب هم ننني ورتلے - (ترمذي - منه - سنن ترمذي في ثواب القرآن باب ۴ ، سنن دارمي في فضائل القرآن باب ۱۴ ، مسند احمد ۴/۲۷۴ ، جامع صغير، حديث ۱۷۶۴ ، فيض القدير ۲/۲۴۷ ، بخاري ۹/۱۹٦ ، طبراني كبير ۷/۳۴۲ ، مجمع الزوائد ٦/۳۱۲ ، در منثور ۱/۳۷۸ ، کنز العمال ۸۳ ۵ ، ۲۵۴۱) .

Maktaba Tul Ishaat.com

مشکوۃ ۲۱۴۸ ، ۵۰۰۷ ، معالم التنزیل بغوی ۱/ ۳۱۶ ، تفسیر قرطبی ۳/۲۳ ، فاضل رامهرمزی ۱۸۹ ، شرح السنة ۴/ ۴۶۶ ، طبرانی صغیر ۱/ ۵۵ ، ترغیب وترهیب ۲/ ۳۷۲ ، تفسیر ابن کثیر ۴/ ۲۳۳ ، الاسماء والصفات ۲۳۲ ، کتاب العلل ابن ابي حاتم ۱۶۷۸ ، کامل ابن عدی ۷/ ۲۴۹۰)

د شیطان یو بل علاج :-

(حدیث شریف) ابو هریره رضی الله تعالی عنه فرمائی : جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

مَنْ قَرَءَ حٰمٓ غَافِرِ اِلٰی قَوْلِهٖ (اِلَیْهِ الْمَصِیْرُ) وَاٰیَتَ الْکُرْسِیِّ حِیْنَ یُصْبِحُ حُفِظَ بِهِمَا حَتّٰی یُمْسِیَ وَمَنْ قَرَءَهُمَا حِیْنَ یُمْسِیَ حُفِظَ بِهِمَا حَتّٰی یُصْبِحَ .

ترجمه : کوم سړی چه سحر وخت سورة حمٓ سجده... الیه المصیر پورې او ایت الکرسی تلاوت کړی - د دې په ذریعه ماښام پورې د هغه حفاظت کیږی - او څوك چه دا دواړه ماښام وخت تلاوت کوی - د دې په ذریعه د هغهٔ سحره پورې حفاظت کیږی - (ترمذی - منه - سنن ترمذی حدیث ۲۸۷۹ ، مشکوة ۲۱۴۴ ، کنزالعمال ۳۵۰۲ ، درمنثور ۱/ ۳۲۶ ، ۵/ ۳۴۴ ، الاذکار نووی - ۷۹)

د قران پاك اثر :-

حضرت ابو خالد والبی ؒ فرمائی : زهٔ خپلے ښځے بچو سره د حضرت عمر رض خدمت کښے حاضریدو د یاره د وفد شکل کښے روان شوم - مونږ چه په یو منزل کوز شو - زما اهل وعیال هم ما پسے وو - ما د بچو ستوری او غوغا واوریده - ما خپل آواز قرآن پاك سره اوچت کړلو - نو د څهٔ خیر

د غوږ څیدو آواز مِ واوریدلو- تپوس مِ ترے اوکه- نو هغوے اووے شیاطین مونږ نیولی وو- او مونږ سره ئے لویه تماشه شروع کړے وه- کوم وخت چه حضرت قرآن پاك سره آواز اوچت که- نو هغوے مونږ نه غوږ څیدو سره اوتښتیدل- (ابن ابی الدنیا- منه- مکائد الشیطن روایت نمبر ۲۱ صـ۲۲۲ ، اکام المرجان صـ۹۸)

د شیطان دفاع:-

(حدیث شریف) حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے: جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

مَنْ قَالَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ فِيْ يَوْمِهٖ مِائَةَ مَرَّةٍ كَانَتْ لَهٗ عَدْلُ عَشْرِ رِقَابٍ، وَكُتِبَتْ لَهٗ مِائَةُ حَسَنَةٍ وَ مُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ وَكَانَتْ لَهٗ حِرْزًا مِّنَ الشَّيْطٰنِ يَوْمَهٗ ذَالِكَ يُمْسِي.

ترجمه: کوم سړے چه روزانه سل ځله لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ. لولی- هغهٔ ته د لسو غلامانو د آزادولو ثواب حاصلیږی- او سل نیکئ ورته لیکلے شی- او سل ګناهونه ئے معاف کړے شی- او دا کلمه هغهٔ دپاره د هغه ورځے ماښامه پورے د شیطان نه پناه وړ کوی.

(بخاری، مسلم، ترمذی، ابن ماجه- منه- صحیح بخاری، بدء الخلق باب۱۱، والدعوات باب۶۵، صحیح مسلم فی الذکر حدیث ۲۸، سنن ترمذی فی الدعوات باب۵۹، ۶۲، سنن ابن ماجه فی الدعاء باب۱۴، موطا مالك حدیث ۲۰ من الامر بالوضوء لمن مس القرآن، مسند احمد ۳۰۲/۲، ۳۷۵، ۲۲۷/۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترغیب وترهیب ۱/۴۵۱، فتح الباری ۱۱/۲۹۱، کنز العمال ۳۷۲۱)

د شیطان مخکښې د ذکرالله قلعه :-

(حدیث شریف) حضرت حارث اشعری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے: جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى أَمَرَ يَحْيٰى بْنَ زَكَرِيَّا بِخَمْسِ كَلِمَاتٍ .... الحديث.

وَفِيْهِ: وَآمُرُكُمْ أَنْ تَذْكُرُوا اللّٰهَ فَإِنَّ مِثْلَ ذٰلِكَ كَمَثَلِ رَجُلٍ خَرَجَ الْعَدُوُّ فِيْ أَثَرِهٖ سِرَاعًا حَتّٰى أَتٰى عَلٰى حِصْنٍ حَصِيْنٍ فَأَحْرَزَ نَفْسَهٗ مِنْهُمْ، كَذٰلِكَ الْعَبْدُ لَا يُحْرِزُ نَفْسَهٗ مِنَ الشَّيْطَانِ إِلَّا بِذِكْرِ اللّٰهِ ٥

ترجمه:- الله تعالی حضرت یحیٰی بن زکریا علیهما السلام ته د پنځه څیزونو حکم اوفرمائیلو: هغې کښې یو داهم دے۔ چه الله تعالی تاسو ته حکم درکړے دے۔ چه تاسو هغهٔ ذکر کوئ، ځکه چه د هغهٔ او د هغې سړی مثال چه هغې پسے دشمن لر پیدلے وی داسے دے۔ لکه هغه سړے چه یوے محفوظے قلعه ته راغے۔ او خپل ځان ئے د دشمن نه بچ کړلو۔ د غسے یو سړے خپل ځان د شیطان نه نهٔ شی بچ کولے خو د الله تعالی د ذکر سره۔ (ترمذی۔منه۔سنن ترمذی فی کتاب الادب باب ۷۸، ۲۸۶۳، مستدرک ۱/۱۱۷، ۱۱۸، ۲۳۶، ۴۲۱، مسند احمد ۴/۱۳۰، ۲۰۲، ابن حبان ۱۲۲۲، ۱۵۵۰، طبرانی کبیر ۳/۳۲۴، کنز العمال ۴۳۵۷۷، ابن حزیمه ۹۳۰، کتاب الشریعة آجری ۸، درمنثور ۱/۱۸۱، ابن کثیر ۱/۸۷، تفسیر قرطبی ۲/۲۰۹، جامع التحصیل للعلائی ۱۶۲، ۳۵۲، شرح السنة ۱۰/۴۹، ترغیب وترهیب ۱/۳۶۶، طبقات ابن سعد ۴/۲/۷۶).

Maktaba Tul Ishaat.com

د شیطان تخت :-

حضرت ابوالاسمر عبدیؒ بیان کوی: یو سړے د شپې د رات کښې کوفې جانب ته لاړو۔ نو د تخت شکل کښې څیز ورته مخې ته راغے او هغې نه چاپیره یو جماعت هم وو۔ چه هغه ئے گیر کړے وو۔ دا سړے اودرید و سره هغې ته ئے اوکتل۔ دے کښې یو سړے راغے۔ او په هغه تخت کیناستلو۔ هغهٔ یوه خبره اوکړه۔ چه دے سړی اورېدله۔ چه عروه بن مغیره څنگه دے؟ نو یو سړے هغې مجمعے نه اودرېدلو۔ هغهٔ اووے زهٔ به ئے تا سو ته پیش کړم۔ هغهٔ اووے: اوس اودا وخت ئے پیش کړه۔ نو هغهٔ خپل رُخ مدینے شریفې طرف ته کړو۔ اولږ ساعت کښې واپس راغے۔ او هغهٔ اووے: زما په عروه هیڅ وس اونهٔ رسیده۔ هغهٔ ترې تپوس اوکه۔ څهٔ وجه ده؟ هغهٔ اووے هغه سحر ماښام یو کلام لولی څکه په هغهٔ لاس نشی اچولے کیدے۔ بیا هغه مجمع تس نس شوه۔ او دا سړے خپل کورته واپس راغے۔ چه سحر شو نو هغې سړی یو اوبن خرید که۔ او روان شو۔ تر دے چه مدینے منورے ته اورسیدلو۔ کوم وخت چه عروه بن مغیره سره ئے ملاقات اوشو۔ او د هغې کلام متعلق ئے تپوس اوکه۔ چه هغه سحر ماښام څهٔ لولی؟ بیا د هغهٔ مخکښې ئے هغه قصه واوروله۔ نو هغهٔ اوفرمائیل: زهٔ سحر او ماښام دری کرته دا کلمات لولم :- اٰمَنۡتُ بِاللّٰهِ وَحۡدَهٗ وَكَفَرۡتُ بِالۡجِبۡتِ وَالطَّاغُوۡتِ وَاسۡتَمۡسَكۡتُ بِالۡعُرۡوَةِ الۡوُثۡقٰى لَا انۡفِصَامَ لَهَا وَاللّٰهُ سَمِيۡعٌ عَلِيۡمٌ ط

ترجمه :- ما په الله واحد باندے ایمان راوړلو د بُت کاهن جادوگر او غیرالله نه انکار کوم او د اسلام مضبوطه رسئ تهٔ نگه نیسم۔ چه

Maktaba Tul Ishaat.com

چه شلیدونکے نهٔ ده او الله تعالیٰ ښهٔ اوریدونکے دے. (ابن ابي الدنیا في الهواتف -منه- الهواتف (۴ ۱۵) ص۱۱۲).

د پیرئ (بهوتنی) خطرناکه واقعه :-

حضرت عبد الرحمٰن بن زید بن اسلم فرمائی د قبیله اشجع دوه سړی خپل یو واده کښے شریک شو - هرکله چه هغوی یو ځائی ته اورسیدل - نو یوه ښځه ورته مخے ته راغله - هغے ورته اووے: تاسو څهٔ غواړئ؟ هغوئ ورته اووے: زمونږ یو واده دے - هغے ته تحفے ورکول دی - هغے اووے: ما ته د هغے ښهٔ علم دے - هرکله چه تاسو فارغ شئ - نو ما ته راشئ - کوم وخت چه فارغ شول نو هغے ته ورغلل - هغے ورته اووے: زهٔ به تاسو پسے ځم - نو هغوئ دوه اوښانو کښے په یو هغه سوره کړله - او دویم ئے هغے پسے چلولو - تر دے چه هغوئ د شکو (ریت) یو د پیپے (ټیلی) ته اورسیدل - ښځے ورته اووے: زما یو کار دے - نو هغوئ هغے د پاره اوښ کینولو - او یو ساعت انتظار ئے اوکړ - هرکله چه هغے تأخیر اوکړ - نو هغے د وو کښے یو د هغے په نقش قدم لاړ - او هغهٔ هم تأخیر اوکړ - نو هغه سړے وائی - زهٔ د هغے سړی تلاش کښے اووتم - زهٔ چه هغهٔ ته اورسیدم - نو هغه ښځه د هغهٔ په خیټه سوره یده سره د هغهٔ اینه (جګر) راښکلو سره ئی اوخوړلو - ما چه دا اولیدل - نو واپس راغلم - او سوریدو سره خپله لاره واخسته نو هغے واپس راتلو سره اووے: تا ډیره تادی کړے ده - ما ورته اووے تا چه تأخیر اوکړ - نو هغے زهٔ اونیولم - او زما په چغولیدو سره هغے اووے تا له څهٔ اوشو؟ - ما ورته اووے زمونږ مخکښے یو جابر بادشاه دے. هغے

Maktaba Tul Ishaat.com

اووے: زۀ تا تہ یوہ دُعا ښایمٔ: هرکله چه ته هغه دُعا اوکړے نو هغه دُعا به هغه هلاک کړی۔ او هغۀ نه به ستا حق درکړی۔ ما اووے: هغه څۀ دُعا ده؟ هغے اووے: دا اولوله:

اَللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمٰوٰتِ وَمَا اَظَلَّتْ وَرَبَّ الْاَرْضِيْنَ وَمَا اَقَلَّتْ، وَرَبَّ الرِّيَاحِ وَمَا اَذْرَتْ، وَرَبَّ الشَّيَاطِيْنِ وَمَا اَضَلَّتْ، اَنْتَ الْمَنَّانُ بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ذُو الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ تَاْخُذُ لِلْمَظْلُوْمِ مِنَ الظَّالِمِ حَقَّهٗ فَخُذْ لِیْ حَقِّیْ مِنْ فُلَانٍ فَاِنَّهٗ ظَلَمَنِیْ

ترجمه: اے الله! د اسمانونو ربه! او د هغے څیزونو ربه! اچه په هغو اسمانونو کښے سوړے اوکه۔ او د مزکو ربه! او څه چه مزکو اوچت کړی دی۔ د هواګانو ربه! او د هغے چه هواګانو والوزول او د شیاطینو ربه! او د هغے څیزونو چه شیاطینو هغه ګمراه کړل۔ ته احسان کوونکے یے۔ جلال او اکرام والا یے۔ ته د ظالم نه د مظلوم حق وصولوے۔ زما حق هم د فلانی نه وصول کړے۔ ځکه چه هغۀ په ما ظلم کړے دے۔

ما ورته اووے اے ښځے دا دُعا ماته بیا واوروه!۔

هرکله چه هغے ښځے راته دُعا یاده کړه نو ما د هغے سړی خوړے ښځے خلاف دا دعا اوغوښتله۔ او دا یے م اووے:

اَللّٰهُمَّ اِنَّهَا ظَلَمَتْنِیْ وَاَكَلَتْ اَخِیْ.

ترجمه: اے الله! دے په ما ظلم کړے دے او زما ورور ئے خوړلے دے هغه سړے وائی: د اسمان د جانب نه د هغه ښځے په شرمګاه اور نازل شو۔ چه هغے ئے دوه ټکړے کړه۔ او یو حصه ئے دے طرفته او دویمه حصه ئے هغے طرف ته اوغورځیده۔ دا ښځه پیریٔ وه۔ چه انسانان به ئے

Maktaba Tul Ishaat.com

خوړلې. (ابن ابي الدنيا في مکائد الشيطان - منه - (٩)، ص٢٩)

د جناتو يوه بله خطرناکه واقعه :-

حضرت ابوالمنذر رحمة الله عليه فرمائي : مونږ حج کولو نه پس د يو لوئ غر غار کښې کوز شو- قافلې والو خيال اوکه - چه دلته جنات اوسي - مونږ يو بوډا اوبو طرف ته راتلونکے اوليده- نوما ورته اووے: اے ابوشمير! تهٔ د دے غر متعلق څه وائې؟ تا دے غر کښې څهٔ ليدلي دي؟ هغهٔ اووے: هاں! يوه ورځ ما خپله لينده او تير اوچت کړل او د خوف نه دے غر ته اوختم - او د ابوچپينې سره د اوښ يو کوهان جوړ کړلو - او هغه کښې اوسيدم - يو ځل ما ناڅاپي څهٔ غرسټه پچيلي اوليدے چه ما طرف ته راتلې - څهٔ څيز نه ويريدے نه - هغوئي د چپينې نه اوبه اوڅکلې - او د هغه چاپيره کيناستې - هغه کښې يو ګډ ماپه تير اوويشتلو- چه د هغهٔ په زړهٔ اولګيدلو - يوه چغه اوسکونکې چغه اووهله - نو غر کښې هيڅ څيز باقي پاتې نهٔ شو- خو بيا مخه اوتښتيدل - نو يو شيطان دويم ته زما متعلق اووے: تهٔ تباه شے - دے ولے نهٔ قتلوے؟ هغهٔ ورته اووے ما کښې د ده طاقت نشته - هغهٔ ورته اووے تباه شے طاقت در کښې ولې نشته؟ هغهٔ ورته اووے: ځکه چه دهٔ په غو کوهان جوړولو سره د الله پناه غوښتې ده - هر کله چه ما دا خبره واوريده نو مطمئن شوم. (ابن ابي الدنيا - منه - مکائد الشيطان ص٢٩ (١٧)).

د معوذتين په ذريعه د جنات او انسانانو نه پناه :-

(حديث شريف) حضرت ابوسعيد رضي الله تعالى عنه فرمائي: چه انحضرت صلى الله عليه وآله وسلم به د جناتو او انسانانو د بدنظر نه پناه غوښتله

Maktaba Tul Ishaat.com

ترد ے چہ آخری دوارہ سورتونہ نازل شو۔ نو حضور صلی اللہ علیہ واٰلہ وسلم دواڑہ لوستل شروع کړل۔ او باقی اوراد ئے پریښودل (ترمذی وحسنہ۔ منہ۔ سنن ترمذی فی کتاب الطب باب۱۶، سنن نسائی فی کتاب الاستعاذہ باب۳۷، سنن ابن ماجہ فی کتاب الطب باب۳۶، مشکوۃ حدیث ۴۵۶۳، کنزالعمال ۱۸۰۳۸، فتح الباری ۱۰/ ۱۹۵، کتاب الاذکار حدیث ۲۸۳)۔

داودس او مونځ په ذریعه پناه:۔

دَ اٰکام المرجان مصنف رح فرمائی: شیطان نه پناه غوښتلو دپاره اودس او مونځ هم یو عمل دے۔ ځکه حدیث شریف کښے دی:

اِنَّ الْغَضَبَ مِنَ الشَّيْطَانِ وَاَنَّ الشَّيْطَانَ خُلِقَ مِنَ النَّارِ وَاِنَّمَا تُطْفَأُ النَّارُ بِالْمَاءِ فَاِذَا غَضِبَ اَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ

ترجمه:۔ غصه د شیطان د طرف نه ده او شیطان د اور نه پیدا شوے دے۔ او اور او به سره مړکیږی۔ هر کله چه تاسو کښے چاله غصه راشی۔ نو هغه دے اودس اوکړی۔ (احمد، ابوداؤد۔ منه۔ ابوداؤد ۴۷۸۴ درمنثور ۲/ ۷۴، مسند احمد ۴/ ۲۲۶، فتح الباری ۱۰/ ۴۶۷، الطب النبوی المذهبی ۲۴، ترغیب وترهیب ۳/ ۴۵۱، تخریج عراقی ۳/ ۱۶۳، تفسیر ابن کثیر ۲/ ۱۰۲، تفسیر قرطبی ۲/ ۲۸۷، مشکوۃ ۵۱۱۳، جمع الجوامع ۵۷۵۰، اتحاف السادۃ ۸/ ۱۱، ۲۳، طبرانی کبیر ۱۷/ ۱۶۷، کتاب الاذکار ۲۶۸، شرح السنة ۱۳/ ۱۶۱۔)

مزید علاج:۔

فضول نظر نه، فضول کلام نه، فضول طعام نه، د فضول خلقو د ملاقاتونو

Maktaba Tul Ishaat.com

نه منع کیدل هم شیطان نه د حفاظت طریقه ده ـ ځکه چه شیطان دے خلوتو دروازو نه په انسان مسلط کیږی۔

بدنظر نه د بچ کیدو انعام :-

(حدیث شریف) دَ حضرت حذیفه رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے ، جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو: -

اَلنَّظْرَةُ سَهْمٌ مِنْ سِهَامِ اِبْلِيْسَ مَسْمُوْمَةٌ فَمَنْ تَرَكَهَا مِنْ خَوْفِ اللّٰهِ اَثَابَهُ اِيْمَانًا يَجِدُ حَلَاوَتَهُ فِيْ قَلْبِهٖ۔

ترجمه :- بد نظر د ابلیس د زهرآلود تیرونو نه یو تیر دے. څوك چه د الله د خوف په بناء بد نظر پریږدی ـ الله تعالیٰ به هغه ته ایمان عطاء کړی ـ چه د هغے خوږ والے به هغه خپل زړه کښے بیا مومی۔

(حاکم ـ منـ ـ مستدرک، حاکم ۳۱۴/۴ وصححه واقره الذهبی واخرجه الطبرانی عن ابی مسعود رض مرفوعاً ، در منثور ۵/ ۴۱ ، کشف الخفاء ۴۳۸/۲ ، ۴۳۹، ۲۵۵)

د شیطانی مکر علاج :-

(حدیث شریف) حضرت حسن بصری رح نه روایت دے : جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

اِنَّ جِبْرِيْلَ اَتَانِيْ فَقَالَ : اِنَّ عِفْرِيْتًا مِّنَ الْجِنِّ يَكِيْدُكَ فَاِذَا اَوَيْتَ اِلٰى فِرَاشِكَ فَاقْرَاْ اٰيَةَ الْكُرْسِيِّ

ترجمه :- حضرت جبریل علیه السلام ما ته راغے ـ او وے فرمائیل: عفریت ـ ن ستا خلاف سازش کوی ـ کوم وخت چه تاسو خپله بستره کښے د ره لګوئ ـ نو ایت الکرسی لولئ ۔ (مکائد الشیطان ۶۷ صفحه ۸۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

لابن ابي الدنيا، لمجالسة الدينوريؒ منه۔ احياء العلوم ۳/ ۳۶،
در منثور ۱/۳۲۷)

دوه فرښتے حفاظت کوی :۔

(حدیث شریف) حضرت قتاده رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی :

مَنْ قَرَءَ اٰیَةَ الْكُرْسِیْ اِذَا اٰوٰی اِلٰی فِرَاشِهٖ وُكِّلَ بِهٖ مَلَكَانِ یَحْفَظَانِهٖ حَتّٰی یُصْبِحَ .

ترجمه : کوم سړے چه بستره کښے د ده لړ ولو سره ایت الکرسی اووائی۔ دوه فرښتے هغهٔ ته اوسپارلے شی۔ چه سحره پورے د هغهٔ حفاظت کوی۔ (فضائل القرآن ابن الضریس۔ منه۔)

د ایت الکرسی شان :۔

(حدیث شریف) د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے :

جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل :

سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ فِیْهَا اٰیَةٌ سَیِّدَةُ اٰیِ الْقُرْاٰنِ لَا تُقْرَاءُ فِیْ بَیْتٍ وَفِیْهِ شَیْطَانٌ اِلَّا خَرَجَ مِنْهُ : اٰیَةُ الْكُرْسِیْ

ترجمه :۔ سورة البقره کښے یو داسے ایات دے۔ چه د قران پاک د ټولو ایاتونو سردار دے۔ کوم کور کښے چه شیطان وی۔ او هغه اولوستے شی۔ نو هغه د هغے کور نه اوځی۔ هغه ایت الکرسی دے. (شعب الایمان بیهقی۔ منه۔ مستدرک حاکم ۱/ ۵۶۰، ۲/ ۲۵۹، طبرانی کبیر ۱۰/ ۱۰۶، ۳۰۲۳، درمنثور ۱/ ۳۲۶، کنز العمال ۲۵۵۷، تفسیر ابن کثیر ۱/ ۴۵۴، جمع الجوامع ۱/ ۵۴۸، شعب الایمان بیهقی)

— — — — —

Maktaba Tul Ishaat.com

شیطان کور ته ننتی راتلے :-

(حدیث شریف) حضرت ابن مسعود رضی اللہ تعالیٰ عنہ فرمائی:
کوم سړے چہ د سورۃ بقرۃ لس ایتونہ د شپے لولی - پہ ھغہ شپہ
شیطان د ھغۂ کور کښے نہ شی داخلیدے - څلور ایتونہ خو د شروع
د سورۃ دی - یو ایت الکرسی دہ - دوہ آیتونہ د ھغے نہ پس دی - او
درے ایتونہ اخر د سورۃ دی: لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ نہ. (دارمی ابن المنذر
، طبرانی - منہ - سنن دارمی - فی کتاب فضائل القرآن)

او دارمی او د ابن ضریس روایت کښے د ابن مسعود رضی اللہ عنہ
نہ دا ہم روایت دے: چہ کوم سړے د سورۃ البقرۃ ابتدا ئی څلور
ایتونہ، ایت الکرسی او د ھغے نہ پس دوہ ایتونہ او د سورۃ بقرۃ اخری
درے ایتونہ لولی - پہ ھغہ ورځ بہ نۂ ھغۂ تہ او نۂ د ھغۂ اھل
خانہ تہ شیطان راځی - او نۂ بہ د ھغۂ کور والاؤ تہ څہ تکلیف
درہ ځیز ظاھریږی - نۂ د ھغۂ مال کښے - او کہ دا ایتونہ یو مجنون
(لیونی) باندے اولوستے شی - نو ھغۂ تہ بہ ھم فائدہ وی. (دارمی
ابن الضریس - منہ - سنن دارمی فی کتاب فضایل القرآن).

د بد نظر علاج :-

(حدیث شریف) حضرت عمران بن حصین رضی اللہ تعالیٰ عنہ فرمائی
جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ والہ وسلم ارشاد اوفرمائلو:
فَاتِحَةُ الْكِتٰبِ وَاٰيَةُ الْكُرْسِيِّ لَا يَقْرَأُهَا عَبْدٌ فِيْ دَارٍ -
فَتُصِيْبُهُمْ ذٰلِكَ الْيَوْمَ عَيْنُ اِنْسٍ اَوْ جِنٍّ -
ترجمہ :- سورۃ فاتحہ او ایت الکرسی چہ څوک خپل کور کښے لولی - پہ

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه ورځ به نه د هغه انسان او نه د هغه جن بد نظر ورته لګي۔
(ویلمی، منه۔ اتحاف السادة المتقین ۱۳۳/۵، در منثور ۵/۱، کنز العمال ۲۵۰۲، تفسیر قرطبی ۱۱۱/۱، کشف الخفاء ۱۰۷/۲)

سرکش شیاطینو باندې سخت آیات :۔

(حدیث شریف) حضرت انس رض فرمائي: چه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

لَيْسَ شَيْءٌ أَشَدُّ عَلَى مَرَدَةٍ مِنْ هٰؤُلَاءِ الْآيَاتِ فِيْ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ (وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ......) الآيتين .

ترجمه :۔ د سورة بقره دا دوه ایتونه : وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ .. .. نه زیات سخت شدید جناتو د پاره نور هیڅ ایات نشته. (ویلمی، منه۔ ویلمی حدیث ۵۱۷۷، ۳۸۵/۳، الدر المنثور ۱۶۳/۱، کنز العمال حدیث ۲۵۵۶، الجامع الکبیر ۶۷۸/۱)

د حضرت حسن رض ضمانت :۔

حضرت حسن رضی الله تعالی عنه بن حضرت علی رض فرمائي: کوم سړی چه دا نلس ایتونه هره شپه تلاوت کوی۔ د هغه ضامن یم چه الله تعالی به هغه د هر ظالم حکمران، هر سرکش شیطان او هر شلوونکی درنده او هر عادی غل نه حفاظت کوی۔ هغه ایتونه دا دي: (ایت الکرسی، د سورة اعراف (اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ)، نه لس ایاته، د سورة صٰفّٰت لس ابتدائی ایتونه، او د سورة رحمٰن يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ نه دری ایتونه او د سورة حشر نه اخری ایت. (کتاب الدعاء ابن ابی الدنیا، تاریخ بغداد، خطیب بغدادی، منه۔

مدینے نه جنّات کوم ایات اوُستکل ؟

حضرت سعد بن اسحاق بن کعب بن عجرة رحمة الله تعالی علیه فرمائی: هرکله چه دا ایت (اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ ...) نازل شو۔ نو یو ډیر لوی جماعت حاضر شو۔ چه په نظر نهٔ راتهٔ۔ لیکن دا معلومیده چه دا عرب دی۔ نو صحابه کرامو رضی الله عنهم د هغوئ نه تپوس اوکه۔ تاسو څوک یئ ؟ هغوئ اووے: موږ جنّات یو۔ د مدینے منورے نه وتلی یو۔ او موږ دلته نه دے ایت اوښکلی یو۔ (ابن ابی حاتم (فی تفسیره)۔منه۔)

سحر پورے د فرشتے د وزر سورے :۔

حضرت عبد الله بن ابی مرزوق فرمائی: چا چه د اوده کیدو په وخت (اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ....) پورے ایت اولوستلو په هغهٔ یوه فرشته سبا پورے خپل وزر خور کړے لری۔ (ابن ابی الدنیا، تفسیر ابو الشیخ هنه۔)

د سورهٔ یٰس تاثیر :۔

حضرت عبید الله محمد بن عمرو الدباغ رحمة الله علیه فرمائی: ما یوه دا سے لار خپله کړه۔ چه هغے کښے پیریان او دیوان اوسیدل ناڅاپی یوه ښځهٔ مخے ته راغله۔ چه په هغے د زیړ رنګ کپړے وے۔ او خپله په یو تخت ناسته وه۔ او کیرچاپیره ترے شمعے وے۔ هغے زهٔ او بللم۔ هرکله چه ما اولیدهٔ۔ نو ما سورهٔ یٰس لوستل شروع کړل۔ نو د هغے ټولے شمع مړے شوے۔ او هغے اوویل: اے د الله بنده! تا ما سره څهٔ اوکړل ؟ د غسے زهٔ د هغے نه

Maktaba Tul Ishaat.com

محفوظ شوم . (کتاب العظمة ابوالشیخ۔منہ۔) .

یو بل تأثیر:۔

حضرت سعید بن جبیر رحمۃ اللہ علیہ په یو مجنون (لیونی) باندے سورۂ یٰسٓ تلاوت که۔ نو هغه سنه شو. (فضائل قرآن، ابن ضریس ۔منہ)

اویا زره فرشتے حفاظت کوی:۔

(حدیث شریف) حضرت ابوامامه رضی اللہ تعالی عنہ فرمائی:

جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

مَنْ تَعَوَّذَ بِاللّٰهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ قَرَاَ اٰخِرَ سُوْرَتِ الْحَشْرِ بَعَثَ اللّٰهُ تَعَالٰی سَبْعِیْنَ اَلْفَ مَلَكٍ یَطْرُدُوْنَ عَنْهُ شَیَاطِیْنَ الْاِنْسِ وَالْجِنِّ اِنْ كَانَ لَیْلًا حَتّٰی یُصْبِحَ، وَاِنْ كَانَ نَهَارًا حَتّٰی یُمْسِیَ[1]

ترجمه:۔ کوم سړے چه درے ځله اعوذ باللہ اووائی: بیا د سورۂ حشر اخری حصه تلاوت کړی۔ نو اللہ تعالی هغه د پاره اویا زره فرشتے رالیږی۔ چه د هغه د شیطان، انسان او جن نه حفاظت کوی۔ که د شپے ئے اولولی۔ نو سبا پورے ئے حفاظت کوی او که د ورځے ئے اولولی نو د ماښام پورے ئے حفاظت کوی.

فائده:۔ مذکوره حدیث د حضرت انس رضی اللہ تعالی عنہ د سند سره هم روایت دے۔ خو هغے کښے د تعوذ متعلق دا سے دی: چه حضور صلی اللہ علیہ واله وسلم اوفرمائیل: شیطان نه لنړ ځله پناه اوغواړی. (ابن مردویه۔منہ۔)

---

[1]: ابن مردویه۔منہ۔ درمنثور ۲۰۲/٦

د آخر سورهٔ حشر تاثیر :-

د حضرت ابو ایوب انصاری رضی اللہ تعالی عنه کور کښې وچولو یو ځائے وو۔ هغهٔ کښې به کجورے په کمیدو اولیدے۔ نو د شپې به د هغې نګرانی اوکړله۔ ځنګه کوری یو سړے راغے۔ حضرت د هغهٔ نه تپوس اوکړه۔ ته څوک یې ؟ هغه اووئیل: جناتو کښې یو سړے یم زمونږ دے کور ته د راتلو اراده ده۔ مونږ سره د خوراك د پاره هیڅ نشته ځکه مونږ ستا کجورے اخلو۔ الله تعالی به د دے کښې ستا د پاره کمے نهٔ راولی۔ ابو ایوب انصاری رضی اللہ تعالی عنه ورته اوفرمائیل: که ته ځان ته رښتینے یې نو خپل لاس ماله راکړه۔ نو هغهٔ خپل لاس ورکړه۔ هغه د سپی لاس په شان وینښتو والا وو۔ نو حضرت ایوب انصاری ورته اوفرمائیل: څو مره قیچرے چه تا اوړی دی۔ هغه درته معاف دی اوس ته هغه افضل ترین عمل راته اوښایه! چه د هغې په ذریعه انسان د جن نه پناه حاصلولے شی۔ نو هغهٔ اووے: د سورهٔ حشر د آخری ایت۔ (ابن مردویه منه-)

د سورت اخلاص تأثیر :-

حضرت علی کرم الله وجهه فرمائی: چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

مَنْ صَلَّى صَلٰوةَ الْغَدَاةِ ثُمَّ لَمْ يَتَكَلَّمْ حَتّٰى يَقْرَءَ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ، عَشْرَ مَرَّاتٍ لَمْ يُدْرِكْهُ ذَالِكَ الْيَوْمَ ذَنْبٌ وَ اُجِيْرَ مِنَ الشَّيْطٰنِ -

ترجمه :- کوم سړے چه د سحر مونځ اوکړی اوخبرے اترے او نهٔ کړی

Maktaba Tul Ishaat.com

تر دے چہ سورۃ "قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ" لس ځله اولولی۔ هغهٔ ته به په هغه ورځ هیڅ تکلیف او نقصان نهٔ رسی او شیطان نه به هم په حفاظت کښے وی۔ (ابن عساکر۔ منه۔ درّ منثور ۴ / ۴۱۴، کنز العمال حدیث ۲۵۴۰)۔

د جبرائیل ؑ وظیفه :-

حضرت ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی چه : په کومه شپه چه د جناتو یو جماعت حضور صلی الله علیه وآله وسلم ته حاضر شو۔ نو زه د حضور صلی الله علیه وآله وسلم سره وم۔ د جناتو یو جماعت د اور شغله اخستے حضور صلی الله علیه واله وسلم باندے ئے حمله اوکړله۔ نو د حضور صلی الله علیه واله وسلم خدمت کښے حضرت جبرائیل علیه السلام حاضر شو۔ او عرض ئے اوکه، اے محمد صلی الله علیه واله وسلم زهٔ تا ته دا سے کلمات اونهٔ ښایم چه هغه اولولے۔ نو د هغوئ شغله به مړه شي۔ او هغوئ به په مخے راوغورځیږی۔؟ تاسو دا کلمات اولولئ :-

اَعُوْذُ بِوَجْهِ اللّٰهِ الْكَرِيْمِ وَكَلِمَاتِهِ الَّتِيْ لَا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلَا فَاجِرٌ مِنْ شَرِّ مَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيْهَا، وَمِنْ شَرِّ مَا ذَرَءَ فِي الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمِنْ شَرِّ فِتَنِ اللَّيْلِ وَفِتَنِ النَّهَارِ، وَمِنْ طَوَارِقِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ اِلَّا طَارِقًا يَطْرُقُ بِخَيْرٍ يَا رَحْمٰنُ.

ترجمه :- زهٔ دالله کرم، عزت او مرتبه او کلمات تامه سره پناه غواړم د هغے شرنه چه آسمان نه راکوزیږی یا خیژی، هغوئ سره هیڅ

نیکۓ او بد دے کلماتو نه سبقت نشي کولے - او مزکه کښې د هغو داخلیدونکي او وتونکي د شرنه او د شپې او ورځې د فتنو د شر نه او د شپې او ورځې د غلو د شرنه، د خیر راوړونکي نه سیوا - اے الله!
(دلائل النبوة ابو نعیم - منه - بخاری ۶/ ۷۱، ۹/ ۱۲۵، احمد ۳/ ۳۰۹، مجمع الزوائد ۱۰/ ۱۲۳، تفسیر ابن کثیر ۳/ ۱۲۸، ابن عساکر ۱/ ۳۴۲، دلائل النبوه ابو نعیم (۱/ ۶۰) .

د شیاطینو حمله او د حضور ﷺ دفاعي وظیفه :-

(حدیث شریف) حضرت ابو التیاح رحمة الله علیه نه روایت دے: چه عبد الرحمن بن حُبَیش رضی الله عنه نه تپوس اوشو - کوم وخت چه شیاطینو په حضور صلی الله علیه واله وسلم حمله کړے وه - نو حضور صلی الله علیه واله وسلم خپله دفاع څنګه کړے وه ؟ هغوئ کښې د یو شیطان لاس کښې د اور شغله هم وه - د هغۀ دا اراده وه - چه هغه سره به حضور صلی الله علیه واله وسلم (نعوذ بالله) او سوزوی . نو حضور صلی الله علیه واله وسلم ته حضرت جبرائیل علیه السلام راغے - او عرض ئے اوکه : یا محمد ﷺ تاسو دا کلمات اولولئ :

اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ الَّتِیْ لَا یُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَّلَا فَاجِرٌ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ وَذَرَأَ وَمِنْ شَرِّ مَا یَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمِنْ شَرِّ مَا یَعْرُجُ فِیْهَا وَمِنْ شَرِّ مَا یَلِجُ فِی الْاَرْضِ وَمِنْ شَرِّ مَا یَخْرُجُ مِنْهَا وَمِنْ شَرِّ فِتَنِ اللَّیْلِ وَفِتَنِ النَّهَارِ وَمِنْ طَوَارِقِ اللَّیْلِ وَالنَّهَارِ اِلَّا طَارِقًا یَطْرُقُ بِخَیْرٍ . یَا رَحْمٰنُ ط

ترجمه: (د مخکینۍ دُعا په شان ده ځکه چه کلمات تقریبًا یو شان دی)

Maktaba Tul Ishaat.com

دی)۔

حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم چہ دا کلمات اولوستل۔ تو د شیاطینو اور مړ شو۔ او اللہ تعالی هم هغه شیاطین او سوزول (ابونعیم بیهقی۔منہ۔ دلائل النبوة بیهقی ۹۵/۷، مسند احمد۔ ۴۱۹/۲، دلائل ابونعیم ۶۰/۱، الاسماء والصفات بیهقی حدیث ۱۸۵،۱۸۴،۲۵ء، کنزالعمال ۵۰۱۸ بحواله ابن ابی شیبه وبزار وحسن بن سفیان وابوزرعه فی مسنده وابن منده وابونعیم فی دلائل النبوت والبیهقی فی دلائل النبوت وهو صحیح)۔

د تعوذ تاثیر:۔

(حدیث شریف) حضرت انس رضی اللہ تعالی عنہ فرمائی: جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ والہ وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

مَنْ قَالَ حِيْنَ يُصْبِحُ أَعُوْذُ بِاللّٰهِ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ أُجِيْرُ مِنَ الشَّيْطٰنِ حَتّٰى يُمْسِيَ ۔

ترجمه: کوم سړے چه سحر وخت أَعُوْذُ بِاللّٰهِ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ اولولی هغه به ماښامه پورے د شیطان نه محفوظ کړے شی۔ (ابن سنی۔منہ۔عمل الیوم واللیلة حدیث ص۶۹، دارمی ۴۵۸/۲، الادب المفرد حدیث (۱۲۰۱)۔

د حضرت خضرؑ او الیاسؑ ملاقات کښے آخری کلمات:۔

(حدیث شریف) د حضرت ابن عباس رضی اللہ تعالی عنہ نه روایت دے۔ جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ والہ وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

يَلْتَقِى الْخِضْرُ وَ اِلْيَاسُ كُلَّ عَامٍ فِى الْمَوَاسِمِ وَ يَفْتَرِقَانِ

Maktaba Tul Ishaat.com

عَنْ هٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ : بِسْمِ اللّٰهِ مَاشَآءَ اللّٰهُ لَا يَسُوْقُ الْخَيْرَ اِلَّا اللّٰهُ ۔ مَاكَانَ مِنْ نِعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ بِسْمِ اللّٰهِ مَاشَآءَ اللّٰهُ لَا يَصْرِفُ السُّوْءَ اِلَّا اللّٰهُ مَاشَآءَ اللّٰهُ لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ

ترجمه:۔ حضرت خضر علیه السلام او حضرت الیاس علیه السلام دواړو هر کال د حج موسم کښے ملاقات کوي۔ او دے کلما تو باندے جدا کیږي : بِسْمِ اللّٰهِ مَاشَاءَ اللّٰهُ ..... آخره پورے۔

ترجمه : د الله نوم سره ۔ څه چه الله تعالیٰ غواړی ۔ خیر الله تعالیٰ عطا کوی ۔ کوم نعمت چه وی ټول د الله تعالیٰ له طرفه دی ۔ د الله نوم سره څه چه الله تعالیٰ غواړی ۔ تکلیف هیڅوک لرے کولے نه شی سوا د الله نه څه چه الله غواړی هیڅ قدرت او طاقت نشته مګر د الله تعالیٰ له طرفه نه ۔ (ضعفاء عقیلی ، کتاب الافراد دارقطنی ، تاریخ ابن عساکر منه ۔ عقیلی ۱/ ۲۲۵ ، تهذیب تاریخ دمشق ۵/ ۱۵۵ ، اتحاف السادة ـ ۵/ ۶۹ ، ۱۱۲ ، کامل ابن عدی ۲/ ۷۴۰ ، بدایه والنهایه ۱/ ۳۳۳ ، کنز العمال ۵۲ ۳۴۰ ، شرح السنة ۸۱ ، ۴۴۳ ، درمنثور ۴/ ۲۴۰ ، لسان المیزان ۲/ ۹۲۰ ، تذکرهٔ زرکشی عن ابن عباس ، مسند حارث بن اسامه من حدیث انس ، زوائد زهد عبد الله بن احمد من حدیث عبد العزیز بن ابی رواد بسند معضل المقاصد الحسنه) ۔

حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی هر هغه څوک چه دا مذکوره کلمات درے مرتبے سحر او ماښام لولی ۔ الله تعالیٰ هغه د غرق کیدو نه ، د سوځیدو نه ، د غلا کیدو نه ۔ د شیطان نه ۔ د بادشاه د ظلم نه ، د مار او لړم نه محفوظ ساتی ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د تمام تکالیفو نه نجات:۔

(حدیث شریف) حضرت عبد الرحمٰن بن غنم رضی اللہ تعالیٰ عنہ نه روایت دے: جناب رسول اللہ صلی اللہ علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:۔

مَنْ قَالَ قَبْلَ اَنْ یَّنْصَرِفَ وَ یُثْنِیَ رِجْلَهٗ مِنْ صَلٰوةِ الْمَغْرِبِ وَالصُّبْحِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْکَ لَهٗ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ بِیَدِهِ الْخَیْرُ یُحْیِیْ وَ یُمِیْتُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ. عَشْرَ مَرَّاتٍ کُتِبَ لَهٗ بِکُلِّ وَاحِدَةٍ عَشْرُ حَسَنَاتٍ وَمُحِیَتْ عَنْهُ عَشْرُ سَیِّئَاتٍ وَ رُفِعَ لَهٗ عَشْرَ دَرَجَاتٍ وَ کَانَتْ لَهٗ حِرْزًا مِنْ کُلِّ مَکْرُوْهٍ وَحِرْزًا مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط

ترجمه:۔ کوم سړے چه دما بنام مونځ او سحر د مونځ نه فارغ شی او قدم اوچتولو نه مخکښے لس ځله دا کلمات اووائی د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْکَ لَهٗ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ بِیَدِهِ الْخَیْرُ یُحْیِیْ وَیُمِیْتُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ۔

۔ هغه ته هر ځل لوستلو سره لس نیکئ حاصلیږی، لس ګناه ئے معاف کیږی، لس درجات ئے بلندیږی۔ او د هر مصیبت او شیطان مردود نه حفاظت کښے وی۔

فائده:۔ دا کلمه تمجید ده۔ د دے ترجمه دا ده: الله نه سیوا بل معبود نشته، هغه ایکی یو دے، د هغه څوک شریک نشته۔ حکومت د هغه دے، تعریف هم هغه له دے، خیر هم د هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

لاس کښې دے۔ هغه ژوندے کوی هم او وژنی هم۔ هغه په هر
څيز قادر دے۔ (مسند احمد منه۔ ترغيب وترهيب ۱/۳۰۷، مجمع
الزوائد ۱۰/۱۰۷، کنزالعمال ۳۵۳۲، مشکوٰة ۹۷۵، ۹۷۶)۔

دکلمهٔ تمجيد مزيد فائده:۔

(حديث شريف) حضرت عمارة بن شبيب رضی الله تعالی عنه فرمائی:
چه جناب رسول الله صلی الله عليه واله وسلم ارشاد اوفرمائيلو:
مَنْ قَالَ لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ
وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِیْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ،
عَلٰی اَثَرِ الْمَغْرِبِ بَعَثَ اللّٰهُ تَعَالٰی لَهٗ مُسْلِحَةً يَحْفَظُوْنَهٗ مِنَ
الشَّيٰطِيْنِ حَتّٰی يُصْبِحَ ۔
ترجمه:۔ کوم سړے چه: لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ
الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِیْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ
د ماښام د مانځه نه روستو اولولی الله تعالی هغهٔ لره څو محافظ (ربل)
ليږی چه د هغے تر سحره پورے نګهبانی (حفاظت) اوکړی۔
(ترمذی منه۔ سنن ترمذی فی کتاب الدعوات باب ۹۷)۔

په تورات کښې د جناتو نه د حفاظت وظيفه:۔

حضرت ابوهريره رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی۔ چه موږ ته
حضرت کعب رضی الله تعالی عنه (احبار) اووئيل۔ چه هغهٔ غير محرف
تورات کښې دا ليکلی بيامندی دی۔ چه کوم سړے دا کلمات اولولی ماښام
نه سحره پورے به شيطان ورته نزدے نهٔ راځی:
اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِاِسْمِكَ وَكَلِمَاتِكَ التَّآمَّةِ مِنَ الشَّرِّ

Maktaba Tul Ishaat.com

فِي السَّامَّةِ وَ فِي الْعَامَّةِ وَ اَعُوْذُ بِاِسْمِكَ وَ كَلِمَاتِكَ التَّامَّةِ عَنْ عَذَابِكَ وَ شَرِّ عِبَادِكَ . اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِاِسْمِكَ وَ كَلِمَاتِكَ التَّامَّةِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ بِاِسْمِكَ وَ كَلِمَاتِكَ التَّامَّةِ مِنْ خَيْرِ مَا تُسْئَلُ وَخَيْرِ مَا تُعْطِيْ وَخَيْرِ مَا تُبْدِيْ وَخَيْرِ مَا تُخْفِيْ ، اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ وَكَلِمَاتِكَ التَّامَّةِ مِنْ شَرِّ مَا تَجَلّٰى بِهِ النَّهَارُ وَ اِنْ كَانَ اللَّيْلُ قَالَ مِنْ شَرِّ مَا دَجٰى بِهِ اللَّيْلُ.

ترجمه : اے اللّٰه! زه ستا نوم سره او کلمات تامه سره پناه نیسم د هر خاص وعام ځیز د شر نه او زهٔ ستا پناه نیسم - ستا نوم او کلمات تامه سره ستا د عذاب او د بندیانو د شر نه - اے اللّٰه! زهٔ ستا نوم او کلمات تامه سره پناه نیسم د شیطان مردود نه - اے اللّٰه! زه تا نه ستا نوم او کلمات تامه سره د هغه خیر سوال کوم - کوم چه د تا نه ئے طلب کیږی - او د هر هغه خیر چه عطاء کولے شی او د هر هغه خیر چه ظاهرولے شی - او د هر هغه خیر چه مخفی ساتلے شی - اے اللّٰه! زهٔ ستا نوم او کلمات تامه سره پناه نیسم هر هغه ځیز د شر نه چه په هغے نمر رونبانه کیږی - او که شپه وی نو داسے دے اووائی: د هر هغه ځیز د شر نه چه شپے پټ کړے وی.

(ابن ابي الدنیا منته - (فی کتاب الدعاء له) .

د امام ابراهیم نخعی رح وظیفه :-

حضرت امام نخعی رح فرمائی : کوم سړے چه سحر وخت کښے لس ځله اَعُوْذُ بِاللّٰهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ اولولی د هغهٔ ماښام

Maktaba Tul Ishaat.com

پورے د شیطان نہ حفاظت کیږی۔ او څوک چہ ئے ماښام اولولی نو سحر پورے شیطان نہ د هغہ حفاظت کیږی۔ (ابن ابی الدنیا منہ)

فائدہ:۔ د احدیث حضرت انس رضی اللّٰہ تعالی عنه د حضور صلی اللّٰہ علیہ والہ وسلم نہ مذکورہ طریقے باندے ذکر کړے شوے دے۔ او هغے کښے د دے خبرے هم اضافہ دہ۔ چہ د هغہ او شیطان مینځ کښے یوہ فرشتہ خنډ (رکاوټ) جوړیږی۔ چہ شیطان د هغہ دا سے لرے ساتی څنګہ چہ غیر مملوکہ اوښ لرے کولے شی۔ (ابن ابی الدنیا۔ منہ۔ درمنثور ۲۰۲/۶ بلفظہ)۔

د بِسْمِ اللّٰہ مهر:۔

حضرت صفوان بن سلیمؒ فرمائی: چہ جنات د انسانانو سامان او کپړے استعمالوی۔ نو تاسو کښے چہ څوک یوہ کپړہ اوچتہ کړی یا ئے کیږدی۔ نو بِسم اللّٰہ دے وائی: ځکہ چہ د اللّٰہ نوم مهر دے۔ (کتاب العظمۃ ابوالشیخ۔ منہ۔) د غسے بہ جنّات هغہ کپړے بیا نہ استعمالوی۔

د مکار جنّ علاج:۔

(حدیث شریف) حضرت خالد بن ولید رضی اللّٰہ تعالی عنہ عرض اوکړ: یا رَسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ والہ وسلم! جنّات کښے یو مکار ما تہ فریب راکوی نو حضور صلی اللّٰہ علیہ والہ وسلم ورتہ اوفرمائیل: دا کلمات وایہ:

"اَعُوْذُ بِکَلِمَاتِ اللّٰہِ التَّامَّاتِ الَّتِیْ لَا یُجَاوِزُھُنَّ بَرٌّ وَّلَا فَاجِرٌ، مِنْ شَرِّ مَا ذَرَءَ فِی الْاَرْضِ وَمِنْ شَرِّ مَا یَخْرُجُ مِنْهَا وَمِنْ شَرِّ مَا یَعْرُجُ فِی السَّمَآءِ وَمَا یَنْزِلُ مِنْهَا، وَمِنْ شَرِّ کُلِّ طَارِقٍ اِلَّا طَارِقًا یَطْرُقُ بِخَیْرٍ یَا رَحْمٰنُ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

چنانچه حضرت خالد بن بن ولید فرمائی: ما په دے عمل اوکړه، نو الله تعالی هغه زما نه دفع کړل۔ (دلائل النبوة بیهقی۔ منه۔ دلائل النبوت ۷/۹۶، مسند احمد ۳/۴۱۹، کتاب السنة ابن ابی عاصم ۱/۱۶۴، تجرید التمهید ابن عبدالبر ۷۱)۔

فائده:۔ د مذکوره دُعاء ترجمه سابقه عنوان د حضرت جبرئیل د ترجمے په شان ده۔ هلته دے ملاحظه کړے شی۔

دحضور ص تهدیدی خط مبارک:۔

حضرت ابودُجانه رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: ما د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم خدمت کښے شکایت او عرض اوکړه: یارسول الله صلی الله علیه واله وسلم! زهٔ په خپله بستره اوده کیږم۔ او د ژرندے پل (چکی) دچلید و آواز خپل کور کښے اوروم۔ او د شاتو د مچئ په شان بنې بنې اوروم۔ هرکله چه ویره کښے سر اوچتوم نو ما ته یو تور سورے په نظر راځئ۔ چه بلند کیدو (لوړیدلو) سره زما د کور په صحن کښے خوریږی بیا زهٔ هغے طرف ته شکنته کیږم۔ او د هغے جلد مَس کوُم نو د هغهٔ جلد د سکونړه په شان معلومیږی او هغه ما طرفته اور شغلے راولی۔ زما داخیال وی چه هغه به ما هم اوسوزوی او زما کور هم۔

نو حضور صلی الله علیه واله وسلم ورته ارشاد اوفرمائیلو: ستا کور کښے او سیدونکے جن ډیرخراب دے۔ اے ابودوجانه! د کعبے په رب م دے قسم وی ایا ستا په شان هم د ایذا ورکولو قابل دے۔ بیائے اوفرمائیل: ما ته مشوانړئ او قلم راوړئ۔ هرکله چه هغه پیش کړے شو۔ نو هغه ئے حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه ته ورکړل۔ او ورته ئے

Maktaba Tul Ishaat.com

او فرمائیل: اے ابوالحسن! اولیکہ! هغهٔ عرض اوکړو: زهٔ څهٔ اولیکم؟ حضور صلی الله علیه وآله وسلم ورته او فرمائیل دا اولیکه!

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط هٰذَا كِتَابٌ مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُوْلِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ اِلٰى مَنْ طَرَقَ الْبَابَ مِنَ الْعُمَّارِ وَالزُّوَّارِ، اَمَّا بَعْدُ فَاِنَّ لَنَا وَلَكُمْ فِي الْحَقِّ مُنْعَةً فَاِنْ يَكُ عَاشِقًا مُوْلِعًا اَوْ فَاجِرًا مُقْتَحِمًا اَوْرَاعِمًا حَقًّا مُبْطِلًا، هٰذَا كِتَابُ اللّٰهِ يَنْطِقُ عَلَيْنَا وَعَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ، اِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ وَرُسُلُنَا يَكْتُبُوْنَ مَا تَكْتُمُوْنَ، اُتْرُكُوْا صَاحِبَ كِتَابِيْ هٰذَا وَانْطَلِقُوْا اِلٰى عَبَدَةِ الْاَصْنَامِ وَاِلٰى مَنْ يَزْعَمُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ، لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ، كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهُ، لَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ، تُغْلَبُوْنَ «حٰمٓ»، لَا تُنْصَرُوْنَ، حٰمٓ عٓسٓقٓ تَفَرَّقَ اَعْدَاءُ اللّٰهِ وَبَلَغَتْ حُجَّةُ اللّٰهِ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ — فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ط

حضرت ابو دجانه فرمائی: ما دا تهه یدی نامه مبارکه اونغښتله خپل کور ته مې یوړله - او د خپل سر لاندے اېښودو سره سره شپه مې خپل کور کښې تېره کړله - نو دیو چغې وهونکی چغې سره زهٔ بیدار شوم چه دا ئې وے: اے ابو دجانه! په لات عزیٰ قسم - دے کلماتو مونږ اوسوزولو ستا دے په خپل نبیٔ قسم وی - دا نامه مبارکه دلته نه اوچته کړه - مونږ به ستا کور ته هیڅکله نهٔ راځو - او یو روایت کښے دی - چه مونږ به تا ته ایزاء د رزله کړو - نهٔ ستا گاونډیانو ته او نهٔ هغې ځائ ته چرته چه دا خط مبارک وی - ابو دجانه رض فرمائی: ما جواب ورکړو - زما دے زما د رسول په حق قسم

Maktaba Tul Ishaat.com

وی (چه الله په ما واجب کړې دې) زهٔ به دا دې ځائې نه اوچت نهٔ کړم۔ څو پورې چه زهٔ د جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه مشوره وانخلم۔ حضرت ابودُجانه فرمائی: د جناتو ټولا اوچتو سره هغه شپه ماته ډیره اوږده شوه۔ چه سحر شو نو زهٔ روان شوم او د سحر مونځ مې حضور صلی الله علیه واله وسلم سره ادا کړه۔ اوځه چه مې د جناتو نه اوریدلی وو۔ اوځه جواب چه مې هغوئ ته ورکړې وو۔ هغه ټول مې حضور صلی الله علیه واله وسلم ته عرض کړل۔ نو حضور صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو: اے ابودُجانه! ته هغه نامه مبارکه د جناتو نه اوچته کړه۔ په هغه ذات مې دې قسم وی چه هغهٔ زهٔ په حقه سره نبی رالیږلے یم۔ دے جناتو ته به قیامته پورې تکلیف وی۔

(بیهقی عنه۔ فی دلائل النبوة ۷/۱۲۰، تذکرة الموضوعات ابن جوزیؒ ۲۱۱، اللالی المصنوعه ۲/۳۴۷)۔

د لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ تاثیر:۔

(حدیث شریف) حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه فرمائی:

جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

يَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ: قُلْ لِاُمَّتِكَ يَقُوْلُ لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ عَشْرًا عِنْدَ الصُّبْحِ وَعَشْرًا عِنْدَ الْمَسَاءِ وَعَشْرًا عِنْدَ النَّوْمِ يُدْفَعُ عَنْهُمْ عِنْدَ النَّوْمِ بَلْوَى الدُّنْيَا وَعِنْدَ الْمَسَاءِ مَكَائِدَ الشَّيْطَانِ وَعِنْدَ الصُّبْحِ اَسْوَاءُ غَضَبِيْ۔

ترجمه: الله تعالیٰ ارشاد فرمائی: (اے نبیؐ) ته خپل امت ته اوفرمایه! چه هغوئ لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ لس ځله سحر

Maktaba Tul Ishaat.com

وخت کښې لولی او لس نځله ماښام کښې، او لس ځله ئې اوده کیدو وخت کښې لولی۔ د خوب په وخت کښې به د دنیا مصیبتونه د هغوی نه لرې کړې شي۔ او ماښام وخت کښې به ترې د شیطان مکرونه لرې کړې شي۔ او سحر وخت کښې به ترې زړه سخته غصه ختم شي۔ (دیلمی منه۔ مسند الفردوس ۵/۲۴۸، زهر الفردوس ۴/۲۶۴، جمع الجوامع ۱/۱۰۰۷، تسدید القوس، کنز العمال ۳۶۰۷، اتحافات سنیه ۲۶)۔

د درې قسمه افراد د شیاطینو نه محفوظ وی:۔

(حدیث شریف) حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: رسول اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

ثَلَاثَةٌ مَعْصُوْمُوْنَ مِنْ شَرِّ اِبْلِيْسَ وَجُنُوْدِهٖ. اَلذَّاكِرُوْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَالْمُسْتَغْفِرُوْنَ بِالْاَسْحَارِ وَالْبَاكُوْنَ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ.

ترجمه:۔ درې قسمه افراد به د ابلیس او د هغه د لښکر د شر نه محفوظ وی:

۱۔ شپه او ورځ کښې د الله تعالیٰ ښه ذکر کوونکی۔

۲۔ شپانه سحر د ګناه نه استغفار (توبه) کوونکی۔

۳۔ د الله عزّوجلّ د خوف نه ویریدونکی۔

د سپین چرګ برکات:۔

(حدیث شریف) حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

Maktaba Tul Ishaat.com

اِتَّخِذُوْا الدِّيْكَ الْاَبْيَضَ، فَاِنَّ دَارًا فِيْهَا دِيْكًا اَبْيَضَ لَا يَقْرَبُهَا شَيْطَانٌ وَ لَا سَاحِرٌ وَ لَا الدُّوْرَ حَوْلَهَا .

ترجمه :- سپین چرګ ساتئ کوم کور کښې چه سپین چرګ وی - نهٔ شیطان هغهٔ ته قریب ورځی - نهٔ جادوګر هغې کور ونو ورځي چه د هغې کور ګرد چاپیره وی .

(حدیث شریف) د حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے :

جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

اَلدِّيْكُ يُؤَذِّنُ بِالصَّلٰوةِ مَنِ اتَّخَذَ دِيْكًا اَبْيَضَ حُفِظَ مِنْ ثَلَاثَةٍ : مِنْ شَرِّ مَحَلِ الشَّيْطَانِ وَسَاحِرٍ وَكَاهِنٍ .

ترجمه : چرګ مونځ د پاره اذان کوی - څوک چه سپین چرګ ساتی : د هغهٔ درے څیزونو نه حفاظت کیږی :-

۱- د شیطان د شر نه . (۲) د جادوګر د شر نه . (۳)

(۳) د کاهن د شر نه - (شعب الایمان بیهقی - منه - جامع صغیر ۴۲۹۵ کنز العمال ۳۵۳۸۸، تذکرة الموضوعات طاهر پټنوی ۱۵۳، الاسرار - المرفوعه ۴۳۱ .)

(حدیث شریف) حضرت ابو زید انصاری رضی الله تعالی عنه فرمائی : جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

الدِّيْكُ الْاَبْيَضُ صَدِيْقِيْ يَحْرُسُ دَارَ صَاحِبِهٖ وَسَبْعَ دُوْرٍ حَوْلَهَا .

ترجمه :- سپین چرګ زما هم دوست دے او زما د دوست هم دوست دے د خپل مالک د کور حفاظت کوی او د خواؤشاه د اووه کورونو هم .

Maktaba Tul Ishaat.com

(مسند حارث بن اسامہ ۔ منہ ۔ کشف الخفاء ۱۳۲۳، جامع صغیر)

فائدہ :۔ حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم هم خپل کور کښې چرګ ساتلے وو ۔ (منہ) ۔

(حدیث شریف) دَ حضرت انس رضؓ نه روایت دے چه رسول اللہ صلی اللہ علیه واله وسلم ارشاد او فرمائیلو :

اَلدِّیْكُ الْاَبْیَضُ الْاَفْرَقُ حَبِیْبِیْ وَحَبِیْبُ حَبِیْبِ جِبْرِیْلَ یَحْرُسُ بَیْتَهٗ وَ سِتَّةَ عَشَرَ بَیْتًا مِنْ جِیْرَتِهٖ : اَرْبَعَةٌ عَنِ الْیَمِیْنِ وَ اَرْبَعَةٌ عَنِ الشِّمَالِ وَ اَرْبَعَةٌ مِنْ قُدَّامَهٗ وَ اَرْبَعَةٌ مِنْ خَلْفِهٖ ط عله

ترجمه : شاخ شاخ کلغۍ والا سپین چرګ زما هم دوست دے ۔ او زما د دوست حضرت جبرائیل علیه السلام هم دوست دے ۔ دے د خپل کور هم حفاظت کوی او د خپل ګاونډی د شپاړس کورونو هم ځلور ښی طرف ته، ځلور کسٔ طرف ته، ځلور د مخے ته او ځلور د روستو ته ۔

ه (حدیث) حضرت ابن عمر رضی اللہ تعالی عنه فرمائی : چه جناب رسول اللہ صلی اللہ علیه واله وسلم ارشاد او فرمائیلو :

وَلَا تَسُبُّوا الدِّیْكَ الْاَبْیَضَ فَاِنَّهٗ صَدِیْقِیْ وَاَنَا صَدِیْقُهٗ، وَ عَدُوُّهٗ عَدُوِّیْ وَاِنَّهٗ لَیَطْرُدُ مَدّٰی صَوْتِهٖ مِنَ الْجِنِّ ۔ عله

۴۲۹۴

عله ضعفاء، عقیلی، کتاب العظمة ابوالشیخ ۔ منه ۔ کشف الخفاء ۱۳۲۳، جامع صغیر، کنز العمال ۳۵۲۱۷، ضعفاء عقیلی ۱/ ۱۲۷، لآلی مصنوعه ۲/ ۱۲۳، الاسرار المرفوعه ۴۳۰، کتاب الموضوعات ابن جوزی ۳/ ۶۰ ۔ عله ضعفاء ابن حبان، کتاب العظمة ابوالشیخ ۔ منه ۔ کتاب الموضوعات ۳/ ۶۳، اسرار المرفوعه ۲۰۰، ۴۳۰، تذکرة الموضوعات قیسرانی ۹۶۶

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمہ۔ تاسو سپاں چرګ تہ بد ردمہ وائی: دا زما دوست دے او زہ دَ دۂ دوست یم۔ د دۂ دشمن زما دشمن دے۔ ځو لوړے چہ د دۂ آواز رسی دَ اجناتو دفع کوی۔

دجناتو او ښکلو عجیبہ واقعہ:۔

امام جوزیؒ نقل کوی۔ یو طالب العلم سفر کولو۔ لارکښے یو سړے ورسرہ یو ځائے شو۔ کوم وخت چہ خپل منزل تہ قریب اورسیدۀ کوم خواچہ تلو۔ نو طالب علم تہ ئے اووے: پہ تا زما یو حق او ذمہ دہ۔ زہ جن یم او زما تاسرہ یو کار دے۔ طالب علم ورتہ اووے: ھغہ څہ؟ جن ورتہ اووے: ھرکلہ چہ تۂ فلانی کور تہ لاړ شے۔ نو هلتہ بہ دَ چرګو مینځ کښے یو چرګ بیامومے۔ دَ ھغۂ د مالک نہ ھغہ خریدہ کړہ۔ او ذبح ئے کړہ۔ ما ورتہ اووے: اے بھائی! زما ھم تاسرہ یو کار دے: جن تپوس او کہ ھغہ څہ؟ ما ورتہ اووے: ھرکلہ چہ شیطان سرکش شی او مریض تہ دم تعویذ وغیرہ ھیڅ فائدہ ورنکړی او سړے پریشان کړی نو دَ دے څہ علاج دے؟ جن اووے: دوړو کے لګی والا پارہ سنګئ څرمن یو عدد او کارہ او د جن والا سړی د لاسونو دواړہ ګتے کوٹے پرے مضبوطے اوتړہ۔ بیا د سداب بُری تیل اوښکلو سرہ د ھغۂ د پوزے ښی سوړہ کښے څلور ځلہ او ګسہ سوړہ کښے درے ځلہ واچوہ۔ نو دے سرہ بہ جن مړ شی۔ او څوک د ویم بہ ھم ھغۂ تہ نشی راتلے۔ نو ھغہ طالب العلم وائی: کوم وخت چہ زہ ښہر کښے داخل شوم۔ نو ھغے مکان تہ راغلم۔ معلومہ شوہ چہ دَ یو زړے یو چرګ دے۔ ما ھغے تہ خرڅولو دپارہ اووے: نو ھغے انکار اوکړو

Maktaba Tul Ishaat.com

نو ما په څوچند ه قیمت خرید کړلو - کله چه ما هغه خرید که - نو جن
د لرې نه ماته شکل اوښودلو او اشارې سره ئې اووې : داذبح
کړه - نو هغه وخت سړی او ښځې پهر راووتې او زه ئې او وهلم
هغوئ ماته اووے : ته جادوګر یې : ما ورته اووے : نه زه
جادوګر نه یم : هغوئ اووے : د کله نه چه تا چرګ ذبح که زمونږ
په جینئ جن حمله کړې ده - نو ما په هغوئ د وېرې لګئ والد باره
سنګئ یوه خرمن او د سداب تېری تیل راوغوښتل - هر کله چه ما هغه
اوکړل - نو هغې جن چغې کړې او هغه اووے : آیا ما تاته دا عمل
د خپل ځان برخلاف ښودلے وو ؟ بیا ما د هغې مریضې پوزه کښې د
تیل قطرې واچولے . نو هغه وخت هغه جن مړ کیدو سره راوغورځیدلو
او الله تعالیٰ هغه جینئ ته شفا ورکړله ، او دے نه پس هیڅ شیطان
هغې ته رانغے - (کتاب العرائس امام ابن جوزیؒ منه) -

د دے وظیفے په برکت ابلیس هم ناکام :-

حضرت ابن هشام بن عروهؒ فرمائی : حضرت عمر بن عبد العزیز
خلیفه جوړیدو نه مخکښې زما پلار حضرت عروه بن زبیرؓ ته تشریف
راوړلو - او وې فرمائیل : ما تیره شپه یو عجیبه خوب لیدلے دے : په
خپل جهت بستره پاندے ملاست ووم - چه لاندې کښې مې یوه د هما کسه
واوریدله - ناڅاپي مې اولیدل - چه هلته شیطانان راټولیدل حتی
چه هغوئ زما د کور په شان ویران ځائے کښې جمع شو - بیا ابلیس
راغے - او اوچت آواز سره ئې اووے : ما ته به عروه بن زبید څوک پیش
کړي؟ نو هغوئ کښې یو جماعت اووے : مونږ به ئې پیش کړو - نو یو

Maktaba Tul Ishaat.com

بل جماعت اووے: مونږ به ئے پیش کړو۔ نو هغوئ لاړل او کافی وخت تیرولو نه پس واپس راغلل ۔ او هغوئ اووے: مونږ په هغهٔ قابو بیانهٔ مُندے شوه۔ بیا هغهٔ په دویم ځل چغے کړے ما خیال اوکړ چه شاید مړکړه اوشلید ه۔ څوك به عروه بن زبیر رح ماته پیش کړی؟ نو یو بل جماعت راپا سید او لاړ۔ ډیر وخت نه پس واپس راغے ۰ او هغوئ اووے: مونږ په هغهٔ قابو بیانهٔ مندے شو۔ بیا ابلیس ناراض کیدو سره لاړ۔ دا جنات هم هغهٔ پسے پسے لاړل ۔ نو حضرت عروه بن زبیر رض حضرت عمر بن عبد العزیز رح ته اوفرمائیل ۔ ما ته زما پلار بزرګوار حضرت زبیر بن العوام رض اوفرمائیل: چه ما د حضور صلی الله علیه واله وسلم نه اوریدلی دی: حضور صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل: کوم سړے چه د شپے او د ورځے په شروع کښے دا دعا اولولی: نو الله تعالی به هغه د ابلیس او د هغهٔ د لښکر نه محفوظ اوساتی:

بِسْمِ اللّٰهِ ذِی الشَّانِ عَظِیْمِ الْبُرْهَانِ شَدِیْدُ السُّلْطَانِ مَا شَاءَ اللّٰهُ مَا كَانَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطَانِ ط

ترجمه:۔ د شان والا الله تعالی نوم سره چه عظیم البرهان دے رشدید السلطان دے څه چه غواړی هغه کوی الله تعالی سره د شیطان نه پناه غواړم ۔ (تاریخ حاکم، مسند الفردوس ویلمی، تاریخ ابن عساکر ۔ منه ۔ کنز العمال ۳۸۶۲ ، ۵۰۱۷)

د شیطان د بے بس کولو عمل :۔

حضرت عروه بن زبیر رض فرمائی: یوه ورځ زهٔ نمر (دهوپ) کښے مسجد نبوی ص کښے یوازے ناست وم چه یو راتلونکے راغے هغهٔ اووے:

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا ابْنَ الزُّبَيْرِ :

ترجمه : اے ابن الزبیر ! په تا دے سلام وی -

نو ما بنی او کس پله او کتل - هیڅ څیز په نظر را نغے - ما هغهٔ ته جواب ورکړلو لیکن زما بدن باندے ولینبتهٔ اود ریدل - هغهٔ اووے : ته ویرېږه مه - زهٔ د خافیه علاقے والا سړے یم . زهٔ تا ته یو خبر سنود لو د پاره راغلے یم او یو تپوس کولو لپاره راغلے یم .

زهٔ ابلیس سره درے ورځے ووم - هغه تو مځی ، شینے سترګو والا شیطان ته ما بنام وخت وویل : تا هغے سړی سره څهٔ اوکړل ؟ نو هغے شیطان ته جواب ورکړو - ما هغه قابو نهٔ کړے شو - ځکه چه هغه یو کلام سحر او ما بنام لولی .

هر کله چه دریمه ورځ شوه - نو ما شیطان ته اووے : تا نه ابلیس د چا پاره کښے تپوس کولو ؟ هغهٔ اووے : هغهٔ ما نه د عروهٔ بن زبیر رض مطالبه کوله - چه هغهٔ زهٔ راتینتولو سره راولم - لیکن زهٔ د هغے کلام په وجه چه هغه ئے سحر او ما بنام لولی په هغهٔ قادر نهٔ شوم .

ځکه زهٔ تا له راغلم . دا اوښایه ! چه ته ئے سحر او ما بنام څه لولے ؟ حضرت عروه رض اوفرمائیل : زهٔ دا لولم .

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ وَاعْتَصَمْتُ بِهٖ وَ كَفَرْتُ بِالطَّاغُوْتِ وَا سْتَمْسَكْتُ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى الَّتِيْ لَا انْفِصَامَ لَهَا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ط .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: ما په الله عظیم الشان ایمان راوړلو۔ هغه مې مضبوطې سره اونیولو۔ طاغوتانو سره مې کفر اوکړه۔ او مضبوطه رسۍ مې اونیوله چه شلیدونکې نه ده۔ بلا شبهه الله تعالیٰ سننه اوریدونکې او سنه پوهیدونکې دے۔ (الدینوری فی مجالسة، تاریخ ابن عساکر منه)

د جنّاتو قتل

د وادهٔ کلي صحابي او د جن قتل:۔

د حضرت ابن هشام بن زهره غلام ابو السائب یو ځل د ابو سعید خدری رضی الله تعالیٰ عنه کور کښې حاضر شو۔ وئې فرمائیل: ما ابو سعید رضی الله تعالیٰ عنه په مونځ کولو اولیدلو۔ نو زهٔ د حضرت د مونځ مکمل کیدو په وجه انتظار کښې ناست ووم۔ د دے دوران کښې ما د کور کټ کښې د کجورو لښتو کښې حرکت اولیدلو۔ نو هغې طرفته متوجه شوم هغه یو مار وو۔ ما د هغهٔ د قتلولو د پاره حمله کوله۔ خو حضرت ابو سعید ماته د کیناستو اشاره اوکړله۔ کوم وخت چه حضرت د مونځ نه فارغ شو۔ نو د کور یو کمرے طرفته اشاره کولو سره ئې اوفرمائیل تهٔ دا کمره وینې؟ ما عرض اوکړه۔ جی هاں اوینم ئې۔ وئې فرمائیل: د دے کښې زمونږ یو ځلمے اوسیدلو۔ هغهٔ نوے نوے وادهٔ کړے وو۔ مونږ د حضور صلی الله علیه واله وسلم د غزوهٔ خندق کنلو د پاره وتلی وو۔ د دے ځلمی به غرمه وخت د حضور صلی الله علیه واله وسلم

Maktaba Tul Ishaat.com

نه اجازت اخستلو۔ او خپلې ناوې له به ورتلو۔ یوه ورځ هغهٔ اجازت
طلب که۔ نو حضور صلی الله علیه واله وسلم ورته ارشاد اوفرمائیلو: خپل
هتیار ځان سره واخله! زهٔ ستا متعلق د بنو قریضه نه فکرمند یم۔

نو هغهٔ خپل هتیار اوچت کړل او واپس لاړ۔ کوم وخت چه
خپل کور ته اوړسیدلو۔ نو وې کتل: چه دَ هغهٔ ناوې د دروازې
مینځ کښې ولاړه ده۔ داځلمې نیزې سره هغې طرف ته ور منځکښې شو
چه هغې کښې یې ور اوتومبي۔ د هغهٔ غیرت غالب وو۔ ناوې ورته
اووې: خپله نیزه ایساره کړه۔ او کور کښې اوګوره! چه زهٔ څه څیز را
وسبکلې یم۔ هغه چه دننه داخل شو۔ نو هلته په بستره یو ډیر غټ
او لوئ مار راغونډه شوې ناست وو۔ نو هغهٔ نیزه په حمله کولو
سره په مار کښې ور اوتومبله۔ بیا بهر ته راووتلو۔ او هغه یې د
کور په دیوال او غورځولو۔ نو مار واپس په هغهٔ راغې اومونږ
ته معلومه نهٔ شوه چه هغوې کښې کوم یو مخکښې مړ شو؟ مار یا د
واده ځلمې؟

بیا مونږ د حضور صلی الله علیه واله وسلم خدمت کښې حاضر شو۔ او
داحادثه مو ورته واوروله۔ او عرض مو اوکه۔ چه تاسو صلی الله علیه واله وسلم
الله تعالیٰ نه دُعا اوغواړئ۔ چه هغه مونږ د پاره راژوندے کړي
نو حضور صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو: تاسو خپل د
ملګري د پاره استغفار کوئ۔ بیا یې اوفرمائیل: مدینه کښې چه کوم
جنات دي۔ هغوئ مسلمان شوي دي۔ هر کله چه تاسو هغوې کښې
څوک اووینئ۔ نو هغهٔ ته درې ورځې مهلت ورکړئ۔ بیا هم که هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

ستاسو مخے تہ راشی - نو هغه قتل کړئ - ځکه چه دے نه پس واپس راتلونکے شیطان کیدے شی . (مسلم، ابوداؤد - منه - صحیح مسلم فی تفسیر سورت ۲۸، ۲۹، وفی السلام حدیث ۱۳۹، ۱۴۱، سنن ابوداؤد کتاب الادب باب ۱۷۲، مؤطاء مالك کتاب الاستئذان حدیث ۳۳، مشکل ۹۴/۴، ترغیب وترهیب ۶۲۵/۲، قرطبی ۳۱۲/۱، شرح السنة ۱۹۴/۱۲)

فائدہ :- حضور صلی الله علیه واله وسلم نه یو حدیث کښے دا سے الفاظ هم منقول دی :

اِنَّ لِهٰذِهِ الْبُيُوْتِ عَوَامِرَ، فَاِذَا رَأَيْتُمْ شَيْئًا مِنْهَا فَحَرِّجُوْا عَلَيْهَا ثَلَاثًا فَاِنْ ذَهَبَ وَ اِلَّا فَاقْتُلُوْهُ فَاِنَّهُ كَافِرٌ .

ترجمه :- د دے انسانانو کورونو کښے جنات هم اوسیږی - هرکله چه تاسو هغوئ کښے څوك او وینئ - نو هغه ته درے ځله او وائی : چه اوځه - که هغه لاړ شی نو ټیك ده - کنی هغه او وژنئ - ځکه چه دا سے جنی کافر وی . (مجمع الزوائد ۴۸/۴، ترغیب وترهیب ۶۲۶/۳، مشکوٰة ۴۱۱۸، کتاب العلل ابن ابی حاتم ۲۴۶۶)

د جناتو قتلول جائز دی ‌ه -

امام ابن تیمیه رحمة الله علیه فرمائی : جنات بلا وجه قتلول جائز نه دی - څنگه چه انسانان قتلول جائز نه دی - ظلم هر حال کښے حرام دے - ځکه چه دا هیڅ د پاره درست نه دی چه هغه په چا ظلم اوکړی - اگر که هغه کافر ولے نه وی - جنات مختلف شکلونه بدلولے شی - کله کله کورونو کښے ماران هم جنات وی - هغوئ ته درے ځله وئیل پکار دی چه اوځئ . که اوځی نو ټیك ده - کنی قتل ئے کړئ .

Maktaba Tul Ishaat.com

که اصل مار وی - نو قتل به شی - او که جن وی د مار شکل کښې انسانانو
خوف زده کولو د پاره نافرمان جوړېدو سره د ظاهرېدو و اصرار ئے
کړے د نے ځکه د قتل مستحق شو ۰

د جن فد یه کښې د دولس[۱۲] زره درهم صدقه :-

حضرت ابو ملیکه نه روایت دے - یو جن حضرت بی بی عائشې
رضی الله عنها له راتلو - بی بی عائشې رضه[۲] د هغې د قتل حکم او که - نو
هغه قتل کړے شو - بیا ورته هغه خوب کښې په نظر راغے - او عرض
ئے او که - چه تا د الله یو مسلمان بنده قتل کړے دے - نو هغې ورته
او فرمائیل : که ته مسلمان وے - نو د حضور صلی الله علیه واله وسلم
بیبیانو ته به نه راتلے - نو هغې ته او وئیلے شو - دے خو به هغه
وخت تاسو ته راته - چه ستاسو لباس به درست وو - او دے خو به
قرآن اوریدو د پاره راته - بی بی عائشه رضه چه بیداره شوه - نو دولس
زره ۱۲۰۰۰ درهم صدقه کولو حکم ئے او که - او هغه ئے په مساکینو تقسیم
کړل - (کتاب العظمة ابوالشیخ - منه -) -

د جن قتلولو بدله کښې څلویښت غلامان آزادول :-

حضرت بی بی عائشې رضی الله عنها خپلے کمره کښې یو مار اولیدلو
او د هغه د قتل حکم ئے ورکه - نو هغه قتل کړے شو - د شپے ئے
خوب اولیدلو - هغې ته اووئیلے شو - دا جن چه تاسو د جن شکل
کښې قتل کړے دے - د هغې جناتو نه وو - چه د حضور صلی الله علیه
واله وسلم نه ئے وحی (سورة جن) اوریدلے وو - نو هغې یمن ته څه خلق
اولیږل - چه هغې د پاره څلویښت غلامان خرید کړي - او هغه تول ئے

Maktaba Tul Ishaat.com

آزاد کړل .(ابن ابی الدنیا -منه -)

کوم کورنے مار لا قتل کړی :-

حضرت عبد الله بن عمر خپل مثلث عمارت سره وو - هلته هغهٔ د یو جن ځکځ اولیدلو- نو وے فرمائیل: دے جن پسے اوځغلئ او قتل ئے کړئ ، نو حضرت لبابه رضی الله تعالی عنه اوفرمائیل: ما د حضور صلی الله علیه واله وسلم نه اوریدلی دی چه د هغے ځناتو د قتلولو نه ئے منع کړے ده - کوم چه کورونو کښے اوسیږی - خو زهریلا مار او د خبیث قسم مار- ځکه چه د انظر کموی او د ښځو خیټه کښے بچی ضائع کوی .

(مسلم - منه - صحیح مسلم کتاب السلام حدیث ۱۳۵-۱۳۶ ، سنن ابن ماجه کتاب الطب ۴۵ ، صحیح بخاری فی بدء الخلق باب ۱۵ ، سنن ابوداؤد کتاب الادب باب ۱۶۳ ، سنن نسائی کتاب الحج باب ۸۴ ، مؤطا مالك فی کتاب استئذان حدیث ۳۲ ، مسند احمد ۲ / ۱۴۶)

د کور جنات کله قتل کړئ ؟

(حدیث شریف) حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

اِنَّ الْهَوَامَ مِنَ الْجِنِّ فَمَنْ رَأَى فِيْ بَيْتِهٖ شَيْئًا فَلْيُحَرِّجْ عَلَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَاِنْ عَادَ فَلْيَقْتُلْهُ فَاِنَّهٗ شَيْطَانٌ .

ترجمه:- کورونو کښے اوسیدونکی ماران او لړمان د جناتو نه دی څوك چه د وئ خپلو کورونو کښے اووینی - نو هغهٔ ته دے درے ځله اووائی : چه اوځه - که بیا هم واپس راشی - نو هغهٔ دے قتل کړی ځکه چه هغه شیطانان دی. (ابوداؤد - منه - سنن ابوداؤد ،

Maktaba Tul Ishaat.com

کتاب الادب باب ۱٦۲ حدیث نمبر ۵۲۵٦، جمع الجوامع ۵۹۹۹، کنز العمال ۳۹۹۹۰، الفتاوی الحدیثیه ابن حجر مکی ۲۱)

(حدیث شریف) ابن ابی لیلیٰ فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم نه دکورِ د مارانو متعلق تپوس اوشو نو ارشاد ئے اوفرمائیلو:

اِذَا رَاَیْتُمْ مِنْهُنَّ شَیْئًا فِیْ مَسَاکِنِکُمْ فَقُوْلُوْا اُنْشِدُکُنَّ الْعَهْدَ الَّذِیْ اَخَذَ عَلَیْکُمْ نُوْحٌ اُنْشِدُکُنَّ الْعَهْدَ الَّذِیْ عَلَیْکُمْ سُلَیْمَانُ اَلَّا تُؤْذُوْنَا فَاِنْ عُدْنَ فَاقْتُلُوْهُنَّ

ترجمه:- هرکله چه تاسو کښے څوک هغوی خپلو کورونو کښے اووینئ نو داورته اووایئ: چه مونږ تاسو ته هغه عهد یادوو- چه تاسو نه حضرت نوح علیه السلام اخستے وو: او هغه عهد دریاد وو- چه تاسو ته حضرت سلیمان علیه السلام اخستے وو- تاسو مونږ ته تکلیف مه رسوئ که داځنات هغے نه پس هم کور ته راشی- نو قتل ئے کړئ. (ابوداؤد- منه- سنن ابوداؤد کتاب الادب باب ۱٦۲ حدیث ۵۲٦۰، طبرانی کبیر ۷/۹۲)

کوم قسم مارجن وی؟:-

حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه ارشاد فرمائی: تاسو هر قسم ماران وژنئ سوا د (سپین) ځنات نه چه د چاندی لړئ په شان سپین وی- (ابوداؤد- منه- سنن ابوداؤد فی کتاب الادب باب ۱٦۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

د آسمان نه خبرے غلا کول

شیطان به خبرے څنګه غلا کولے ؟

(حدیث شریف) حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمائی: مانه د حضور صلی الله علیه وآله وسلم اصحابو رض کښې یو سړی ذکر اوکړو۔ چه هغه حضور صلی الله علیه واله وسلم سره یوه شپه ناست وو چه یو شهاب (د اور یوه شغله) پرېښودے شوه چه روښانه هم شوه۔ نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم صحابه کرامو ته اوفرمائیل: تاسو به دے ته د اسلام نه مخکښې څه وے؟ صحابه کرامو عرض اوکړ۔ موږ به وے نن شپه څوك انسان پیدا شوے دے۔ یا څوك عظیم الشان انسان زیات شوے دے حضور صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو: دا د چا د مرګ یا ژوند په وجه نشی پرېښودے۔ بلکه زموږ پروردګار تبارك وتعالیٰ چه د څه معاملے فیصله فرمائی نو عرش او چتونکی فرښتے تسبیح وائی۔ هغے نه پس دَ هغے متصل آسمان والا تسبیح وائی۔ حتیٰ چه دا خبر دد نیا دے اسمان ته را رسولے شی۔ چه هغے نه جنات غلا کوی۔ او خپلو متعلقینو ته ئے رسوی بیا د اخلق خپل طور باندے څنګه چه غواړی بیان کوی۔ دا خو حق دی۔ لیکن د بیان په وخت هغے سره ډیر څه د ځان نه یو ځائے کوی څکه دا خبره د زیات ملاوټ (ګډ ون) په وجه دروغ جوړ شی. (مسلم ـ مند۔ صحیح مسلم کتاب الاسلام باب ۳۵ حدیث ۱۲۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

په یوه خبره کښے سل دروغ :-

(حدیث شریف) حضرت بی بی عائشه رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: ما عرض اوکه یارسول الله! دا کاهن (تروتیان) چه کومه خبره کوی هغے کښے رښتیا هم مونږ بیا مومو۔ حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

تِلْكَ الْكَلِمَةُ الْحَقِّ يَخْطَفُهَا الْجِنِّيُّ فَيَقْذِفُهَا فِيْ اُذُنِ وَلِيِّهٖ وَيَزِيْدُ فِيْهَا مِائَةَ كَذِبَةٍ ۔

ترجمه:۔ هغه خبره حق وی خو جن ئے غلا کولو سره د خپل دوست غوږ کښے اچوی او هغه پکښے سل دروغ یوځائے کوی۔ (بخاری مسلم ۔منه۔ صحیح بخاری کتاب الطب باب ۴۶ وکتاب التوحید باب ۵۷، صحیح مسلم کتاب السلام حدیث ۱۲۲، ۱۲۴، مسند احمد ۱/ ۲۱۸، ۶/ ۸۷، سنن الکبریٰ البیهقی ۸/ ۱۳۸، دلائل النبوت بیهقی ۲/ ۲۳۵، د رمنثور ۵/ ۹۹، شرح السنة ۱۲/ ۱۸۰، فتح الباری ۱۰/ ۲۱۶، ۵۹۵، مشکوة ۴۵۹۳، تفسیر ابن کثیر ۶/ ۱۸۳، تفسیر قرطبی ۷/ ۳)

ابلیس د آسمانونو نه کله بند کړے شو؟

حضرت معاذ بن خرَّبُوذ فرمائی: ابلیس به اووه واړه اسمانونو ته تلو۔ کوم وخت چه حضرت عیسیٰ علیه السلام پیدا شو۔ نو هغه د دریے اسمانونو نه منع کړے شو۔ څلور و آسمانونو پورے تلے شو۔ هرکله چه حضور صلی الله علیه وسلم پیدا شو۔ نو هغه اووه واړه آسمانو نو ته تلو نه منع کړے شو۔ (زبیر بن بکار، تاریخ ابن عساکر۔ منه۔)۔

شهابے (داورلنبے) د حضور د راتګ دلیلونه دی :-

امام شعبی فرمائی: کله چه د حضور صلی الله علیه واله وسلم راتګ

Maktaba Tul Ishaat.com

مبارک اوشو۔ نو شیاطینو باندے د ستورو شهاب پریښودے شوے دے۔ مخکښې به نه شوے پریښودے۔ نو هغوے عبد یالیل نومے نجومی له راغلل۔ ورته ئے اووے۔ خلق خو فارغ شو خپل غلامان ئے آزاد کړل۔ او خپل څناور ئے تړلی دی۔ د کله چه هغوے ستورے دغسے را غورځیدل لیدلی دی۔ نو عبد یالیل اووے: تاسو تادی مه کوئ۔ که څه مشهور ستورے غورځیږی۔ نو څه نوے څیزه ظاهر شوے دے نو هغوے اولیدل چه غیر مشهور ستورے غورځیږی۔ نو هغه اووے: څه نوے خبره واقع شوے ده۔ نو څه وخت لا نه وو تیر۔ چه هغوے د حضور صلی اللّٰہ علیه واله وسلم د راتلو خبر واوریدو۔ (ابن عبد البر ۔منه۔ هٰذا الخبر المضطرب جدا و فی دلائل النبوت بیهقی ۲/۲۴۱ والبدایه والنهایه ۳/ ۱۹ بلفظ آخر۔

د اسلام نه مخکښې به هم شهابے غورځید لے:۔

حضرت معمر بن ابی شهاب د شهابو پریښودو باره کښې تپوس اوشو چه د ابه د اسلام نه مخکښې هم غورځید لے؟ نو حضرت اوفرمائیل: هاں! غورځید لے به۔ لیکن اسلام چه ظاهر شو نو زیاتے غورځیدل۔ شروع شو۔ (تفسیر عبد الرزاق ومنه۔)

د لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ شان ــ عجیبه حکایت:۔

حضرت جریر بن عبد الله بجلی رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی: ما د «تستر» په یوه لار د هغې د فتح کیدو نه پس سفر کولو۔ چه ما یو ځل « لَاحَوْلَ وَ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ » او وئے، د هغې ځائے بهادرانو کښې یو بهادر واوریدلو۔ نو هغه اووے: د کله نه چه ما دا کلام د اسمان

نه اوس پیدا دے- بیا م د چا نه نهٔ دے اوس پیدا ے- ما اووے: هغه
څنګه؟ هغهٔ اووے: زهٔ یو داسے سړے وُم- چه بادشاهانو به م وفد
بوتلو- کسریٰ ته به م هم وفد بوتلو- او قیصر ته هم۔

یو کال ما کسریٰ بادشاه ته وفد بوتلو- نو شیطان به زما شکل کښے
زما بنځے سره اوسیدو- هرکله چه زهٔ راغلم- نو هغے د څهٔ خوشحالئ اظهار
اونهٔ که- څنګه چه هغے به مخکښے کولو- نو ما ورته اووے: تا له څهٔ
شوی دی؟ هغے اووے: ته مونږ نه کله غائب شوے وے؟ بیا هغه
شیطان زما مخکښے حاضر شو- او هغهٔ اووے: ته دا تسلیم که- چه ستا
د بنځے یو ورځ ستا د پاره او یو ورځ به ما د پاره وی- بیا هغه یو ورځ
ما له راغے- نو هغهٔ اووے: زهٔ د هغے جناتو نه یم- کوم چه د آسمان نه
خبرے غلا کوی- او د هغوے د غلا وار مقرر شوے دے. نن شپه زما
وار دے- ایا ته هم ما سره ځے؟ ما اووے: هاں! ځم. کوم وخت چه
ماښام شو- هغه ما ته راغے او زهٔ ئے په خپله شاه کینولم- هغه وخت د
هغهٔ شکل د خنزیر په شان وو- هغهٔ ما ته اووے: قابو شه اوس
به ته عجیبه او خطرناکے خبرے اووینے- ته ما مهٔ پریږده ګنی هلاک
به شے- بیا هغه جنات پورته اوختل- حتیٰ چه اسمان سره جخت شو- او
ما د یو ویونکی نه واوریدل! چه دا ئے وے:

لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ مَا شَاءَ اللّٰهُ كَانَ وَمَا لَا يَشَاءُ لَا يَكُوْنُ

ترجمه:- نشته څه طاقت او نشته څه قدرت، خو د الله تعالیٰ د طرف نه- الله
چه څهٔ غواړی هغه کیږی- او څه چه نهٔ غواړی هغه نهٔ کیږی-
بیا هغے جناتو باندے اوس اوو شیټے شو- نو هغوے د اباد ئے شا ته

Maktaba Tul Ishaat.com

پاخانه او اوبه پاندې اوغورځیدل۔ او ما کلمات یاد کړل۔ چه سحر شو نو زه خپلې بنځې له راغلم۔ او کله چه به هغه راتله۔ نو ما به دا کلمات ویل چه هغې سره به هیڅ ویریدلو۔ حتیٰ چه د حجرې روشندان نه به او وتلو بیا به ما دا کلمات لوستل تر دې چه هغه زه پریښودم ۔ (ابن ابی الدنیا ،کتاب العجائب ابوعبدالرحمٰن هروی ؒ۔ منه۔ ابن ابی الدنیا کتاب الهواتف (۹۱) ص۴۲ ، اکام المرجان ص۵۷) ۔

حضرت ابن عباس رضؓ فرمائی : شیطانان به اسمان ته ختل۔ او د وحی کلمات به یې اوریدل۔ او هغه اخستو سره به زمکې ته راکوزیدل۔ او هغې کښې به یې نهه حصې اضافه کولې۔ نو مزکې والو به هغه اصل خبره خو رښتیا بیامونده۔ او نهه خبرې به یې دروغ بیامندې۔ د دې جناتو دا حالت وو۔ حتیٰ چه د حضور صلی الله علیه وآله وسلم راتګ مبارك اوشو۔ او د دې شرارتونو نه هغه منع کړې شو۔ هغوی ابلیس ته د دې ذکر اوکړ ۔نو هغه اووې: چه مزکه کښې څه نوې خبره واقع شوې ده۔ بیا هغه جنات خوارهٔ کړل۔ نو هغې جناتو حضور صلی الله علیه وآله وسلم د نخل د دوه غرونو مینځ کښې د قرآن پاك تلاوت کوونکې اوموندلو۔ نو هغوی اووې: قسم په خدا یې دا هغه نوې خبره ده او په دې وجه شهابې پریښودې شی۔ (د لائل النبوة بیهقی۔ منه ۔ مسند احمد، دلائل النبوة بیهقی ۲/۲۳۹، ۲۴۰ ، البدایه والنهایه ۳/ ۱۸، ۱۹، ۲۰) ۔

جنات د اسمان نه کله اوشړلې شول ؟ :۔

حضرت ابن عباس رضؓ فرمائی : د جناتو د هرې قبیلې به اسمان کښې یو نشست وو۔ هلته نه به هغوی وحی اوریده وسره کاهنانو ته بنودلې۔ کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

وخت چه د حضور صلی الله علیه وآله وسلم تشریف اوړی او شوه ـ نو هغوئ او شړلے شول ـ (ابونعیم، بیهقی ـ منه ـ دلائل النبوة بیهقی ۲/۲۴۰)

جنات اسمان کښے کومے پورے ناست وو ؟ :ـ

حضرت ابن عباس رض فرمائی : حضرت عیسیٰ علیه السلام او د حضور صلی الله علیه واله وسلم در میانه زمانه (فترت) کښے به جناتو نه د اسمان دنیا حفاظت نه کیدلو ـ د دے جناتو آسمان کښے اودریدیو و د پاره د ناستے ځایونه وو ـ کوم وخت چه الله تعالیٰ حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم پیغمبر راولیږلو ـ نو د آسمان ډیر زیات حفاظت اوکړے شو ـ او شیاطینو باندے شهابے پریښودے شوے ـ (بیهقی منه ـ ۲/۲۴۱ مع اضافه بلفظ والنظر النبویه لابن هشام ۲/ ۳۱) ـ

د فترت زمانه کښے به جنات په اسمان کیناستل :ـ

حضرت ابی بن کعب رح فرمائی : د کله نه چه حضرت عیسی علیه السلام اسمان ته اوچت کړے شو ـ شیاطینو باندے هیڅ شهابے پرے نه ښودے شوے ـ کوم وخت چه حضور صلی الله علیه واله وسلم نبی جوړ کړے شو هغه وخت نه په هغوئ شهابے او ویشتلے شوے ـ (ابونعیم ـ منه ـ دلائل النبوة ابونعیم) ـ

Maktaba Tul Ishaat.com

رمضان میاشت کښې

د

شیطان بندیز

(حدیث شریف) حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

إِذَا كَانَ أَوَّلَ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ صُفِّدَتِ الشَّيَاطِينُ وَمَرَدَةُ الْجِنِّ . ترجمه :- هر کله چه د رمضان رومبئ شپه شروع شی نو شیاطین او سرکش جنات تړلے شی - (ترمذی، ابن ماجه - منه - ترمذی حدیث نمبر ٦٨٢، مستدرک ١/٤٢١، شرح السنة ٦/ ٢١٥، معالم التنزيل ١/ ١٥٧، الشريعة آجري حديث ٣٩٣، در منثور ١/١٨٣، فتح الباری ٤/ ١١٤، كنز العمال حدیث نمبر ٢٣٦٦٤، بیهقی ٤/ ٣٠٣، امالی الشجری ١/ ٢٨٨، ٢/ ٣، ٤١، حلية الاولياء ٨/ ٣٠٦، كنز العمال ٣٠٠ ٢٣٧) .

د امام احمدؒ خوئے حضرت عبد الله رحمة الله علیه فرمائی - ما د دے حدیث متعلق د خپل پلار رنړه گوار نه تپوس اوکړ - او عرض مې اوکړ چه رمضان مبارک کښې هم انسانانو ته وسواس کیږی او د میرگی حمله کیږی ؟

نو حضرت جواب راکړو حدیث کښې د غسے وارد شوی دی .

فائده :- علامه عبد الرؤف مناوی د مذکوره سوال جواب کښې فرمائی چه شیاطین زنځیرونو کښې حُکه تړلے شی چه هغوئ روژه دار وسوسه کښې مبتلاء نه کړی - د دے علامت دا دے چه اکثر هغه خلق چه گناهونو کښې مبتلا کیږی - هغوئ رمضان مبارک کښې گناه پریښودو سره الله تعالی

Maktaba Tul Ishaat.com

طرف تہ متوجہ کیږی ۔

هغه حرکات چه بعضے افرادو کښے (د جناتو د طرف نه) کتلے اولیدلے شی ۔ دا د سرکش جناتو د تأثیراتو اوهام وی ۔ چه هغے شریر نفوس کښے پیوست شوی وی او د هغے خلقو په سرونو ئے تخم اچولے وی ۔

بعضے علماءؒ دا جواب ورکړے دے ۔ چه د شریر جناتو سردارانو ، او هغوئ کښے صاحب دعوة جنات او شیاطینو ته بیړئ واچولے شی ۔ نو واړهٔ جنات او شیاطین قیدولے شی ۔ (فیض القدیر شرح جامع صغیر علامه عبد الرؤف مناوی ۱/ ۳۴۰)

مزید فرمائی : کوم سړے چه روژه تمامو شرائطو سره ادا کوی ۔ هغهٔ نه شیاطین منع کولے شی ۔ یا دا چه تمامو روژه دارو نه هغه منع کولے شی ۔ لیکن سرکشی د بلے وجے نه کیږی ۔ مثلاً نفس خبیث وی یا سرکش جنات خو قید کښے وی او دا شرارت د سرکشی نهٔ کوونکی جن نه ظاهرېږی ۔ (فیض القدیر مناوی ۴/ ۳۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

دویمه حصّه:

د جنّاتو مجموعي حالات

مدینه کښې د بعثت نبوی ﷺ نه مخکښې خبر جناتو ورکړلو :-

حضرت جابر بن عبد الله رضی الله تعالی عنه فرمائی: د حضور صلی الله علیه واله وسلم متعلق مدینه منوره کښې د ټولو نه مخکښې چه کوم خبر اورسید هغه دا سې وو: چه مدینه کښې یوه ښځه اوسیدله- چه په هغې یو جن عاشق وو- هغه د یو مارغه شکل کښې راتلو- او د هغې د کور په دیوال کیناست- نو هغې ښځې هغه ته اووے: راکوز شه! چه مونږ تاته څه واورو او ته مونږ ته څه واوروے- هغه اووے اوس دا سې نه شی کیدے- ځکه چه مکه کښې یو نبی پیدا شوے دے- چه هغه په مونږ دوستی منع کړے ده- او په مونږ ے زنا هم حرام کړے ده-(معجم اوسط طبرانی، بیهقی دلائل النبوة، دلائل نبوت ابونعیم-منه- د لائل النبوة بیهقی سبب اسلام خفاف بن نعتله ۲/۲۶۱)

حضرت براءرض فرمائی: حضرت عمر بن خطاب رض حضرت سواد بن قارب رضی الله تعالی عنه ته اوفرمائیل: زما یو جن دوست وو- چه د هغه ټولے خبرے به ما منلے- زه یوه شپه اوده ووم- چه یو راتلونکی اووے: پاسه! که ستا عقل شته- نو غور او فکر اوکړه- د لوئ بن غالب د نسب نه یو رسول پیدا شوے دے. بیا هغه دا اشعار اووے:

عَجِبْتُ لِلْجِنِّ وَاَنْجَاسِهَا .:. وَشَدِّ هَا الْعِيْرَ بِاَحْلَاسِهَا

تَهْوِيْ اِلَى مَكَّةَ تَبْتَغِي الْهُدٰى .:. مَا مُؤْمِنُوْهَا مِثْلُ اَرْجَاسِهَا

Maktaba Tul Ishaat.com

فَانْهَضْ اِلَی الصَّفْوَةِ مِنْ هَاشِمٍ ۔:۔ وَاسْمُ بِعَیْنَیْكَ اِلٰی رَاْسِهَا

ترجمه: زهٔ جناتو اود هغوئ نجاستونو ته حیران یم او د خـر رنګ قیمتی اوښ بے قیمته تاته سره ترلو باندے هم ۞ تهٔ د هدا یت تلاس کښے مکے ته لاړ شه حضور صلی الله علیه واله وسلم باندے ایمان راوړ ونکی د هغے ځائے مؤمنان دین کمزوری دی . ۞ - د بنی هاشم سرمایه حضور صلی الله علیه واله وسلم ته حاضری وکړه - او د هغهٔ سر مبارك خپلو سترګو سره ښکل کړه - بیا هغه زهٔ بید ارولو سره پریشان کړم - او هغهٔ اووے : اے سواد بن قارب! الله تعالی یونبی رالیږلے دے - تهٔ هغهٔ له ورشه او رشد هدایت حاصل کړه .

بیاچه هغه دویمه شپه راغے - نو ماله راغے زهٔ ے راویښ کړم او دا اشعار ے اووے:

عَجِبْتُ للجن و تطلابها ۔:۔ وشدّ ها العیس باقتابها

تهوی الٰی مکة تبغی الهدیٰ ۔:۔ لیرقدا باها کاذنا بها

فانهض الی الصفوة من هاشم ۔:۔ واسمہ بعینیك الیٰ نابها

ترجمه:- زهٔ جناتو او د هغوئ سرګردانئ ته حیران یم - او د هغوئ دخر رنګ د اوښ کجاوے سره د ترلو نه هم

۞ - تهٔ د هدایت تلاش کښے مکے ته لاړ شه . . . . . .

۳- تهٔ د بنو هاشم سردار طرف ته لاړ شه - او خپلو سترګو سره د هغهٔ سر مبارك بوسه وکړه .

بیا هغه په دریمه شپه هم ماله راغے او زما بیدار ولو سره ے اووے :

Maktaba Tul Ishaat.com

عجبت للجن وتنفارها ∴ وشدّها العيس باكوارها

تهوی الی مکة تبغی الهدیٰ ∴ لیس ذو والشرّ کاخیارها

فانهض الی الصفوة من هاشم ∴ ما مومنوا الجنّ ککفّارها

ترجمه: زهٔ جنا تو او د هغوئ لرے تنښتېدو ته حیران یم - او څراوبنې د پټکی ولونو سره ترلو پاندے هم ۔

٢ - تهٔ مکے طرف ته هدایت د پاره لاړ شه - شرپین د نیکو کارو سره شان نهٔ وی

٣ - د بنو هاشم د عظیم الشان نبی په طرف پاڅه! ایمان راوړونکی خوشبخت جنات د حضور صلی اللّٰه علیه واله وسلم د کافرو په شان بدبخته نه وی.

نو حضرت عمررض تپوس اوکړ - ایا اوس هم ستا سرغنه جن تاله راځی؟ هغهٔ اووے: د کله نه چه ما قرآن پاك لوستل شروع کړی دی - هغه ما ته نهٔ راځی - او قرآن پاك د هغے جن بهترین عوض دے - (بیهقی - منه - بخاری شریف کتاب مناقب الانصار باب ۵۳ اسلام عمر بن خطاب، ابن الجوزی، ابویعلی، خرائطی، فی الهواتف، سیرت ابن اسحاق، دلائل النبوة بیهقی ٢/ ٢٤٨).

د صداقت نبوّت واقعات

د عباس بن مرداس رض د اسلام راوړلو واقعه :-

حضرت عباس بن مرداس رض د غرمے وخت کښے د نرقجور غنچے سره

Maktaba Tul Ishaat.com

وو۔ چہ د ھغہ مخے تہ یو سپین شترمرغ ظاھر شو۔ چہ پہ ھغہ
د یو سپین شکل سور سپینو کپڑو کښے وو۔ ھغہ ماتہ اووے اے
عباس بن مرداس! اتہ نہ وینے اسمان باندے پھرہ دار مقرر کڑے
شو اوجنات اوبریدل، او اسونو خپل سوارہ کوز کڑل۔ کوم ذات
یا برکات چہ نیکئ او تقوی سرہ د (کل، یا پیر پہ ورځ د نهے (منګل
پہ شپہ پیدا شوے دے۔ ھغہ قصواء نومے اوښے والا دے۔

نو زہ مرغوب کیدو سرہ اووتلم۔ څہ چہ ما واوریدل، او
اوم لیدل۔ ھغے زہ مرغوب کڑے ووم۔ ما خپل یو بُت سرہ چہ د
ھغے مونږ عبادت کولو ذی ضمار مقام تہ راغلم۔ مونږ بہ د ھغے دننہ
نہ آواز اوریدلو۔ زہ ھغے تہ راغلم۔ د ھغے کیر چاپیرہ م اوښکلو۔ بیا
م ھغہ مس کڑ۔ ښکل م کڑو۔ نو د ھغے دننہ نہ زور سرہ د یو وینکی
اواز راغے۔ ھغہ ویل:

قُلْ لِلْقَبَائِلِ مِنْ سُلَيْمٍ كُلِّهَا ۔۔ هَلَكَ الضِّمَارُ وَفَازَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ
هَلَكَ الضِّمَارُ وَكَانَ يُعْبَدُ مَرَّةً ۔۔ قَبْلَ الْكِتَابِ إِلَى النَّبِيِّ مُحَمَّدِ
إِنَّ الَّذِي وَرِثَ النُّبُوَّةَ وَالْهُدَى ۔۔ بَعْدَ ابْنِ مَرْيَمَ مِنْ قُرَيْشٍ مُهْتَدِي

ترجمہ:۔ د بنو سلیم قبیلے ټولو قبائلو تہ اووایہ: چہ ضمار بُت ھلاک
شو۔ او جمات (مسجد والا) مسلمانان کامیاب شول۔

② حضرت محمد نبی کریم صلی اللہ علیہ والہ وسلم باندے قرآن نازلیدو نہ مخکښے
چہ د چا عبادت کیدلو ھغہ ضمار ھلاک شو۔

۳۔ ھغہ ذات چہ د حضرت عیسیٰ علیہ السلام نہ پس د نبوت او ھدایت وارث
شوے دے۔ ھغہ ھدایت یافتہ د قریشو نہ تشریف راوړے دے۔ (امین ابی

Maktaba Tul Ishaat.com

الدنیا، طبرانی، ابونعیم، هواتف الخرائطی ـ منہ ـ هواتف ابن ابی الدنیا ص۸۲، هواتف خرائطی ص۸، مجمع الزوائد ۸/۲۴۷، هدایه والنهایه ۲/۳۴۱، دلائل النبوة ابونعیم ۲/۳۴)

فائده :ـ اکام المرجان اومکائد الشیطان کښې دے حکایت کښې مزید اضافه هم دہ ـ چه دا حضرت عباس رض فرمائی : زهٔ خوف زده کید و سره اووتم ـ اوخپل قوم ته راتلو سره م هغوئ ته واقعه واوروله ـ بیا زهٔ د خپل قوم بنی حارث د ۳۰۰ سوه افراد و اخستو سره د حضور صلی الله علیه وآله وسلم خدمت بابرکت کښې د مدینې طیبې مسجد نبوی کښې حاضر شوم ـ رسول الله صلی الله علیه واله وسلم چه زهٔ اولیدم ـ نو مسکی کیدو سره ئے اوفرمائیل : اے عباس ! ته څنګه مسلمان شوے؟ ما د حضور صلی الله علیه واله وسلم مخکښې ټوله واقعه واوروله ـ نو حضور صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل : تا رښتیا اووے. دغسے زهٔ او زما قوم ټول مسلمانان شو. (هواتف ابن ابی الدنیا ص۸۲، اکام المرجان ص۱۳۰ طبع مکتبه خیرکثیر کراچی) ـ

د نبی علیه السلام پیدائش باندے په جبل ابوقیس د جناتو آواز :

حضرت عبدالرحمن بن عوف رض فرمائی : کوم وخت چه د حضور ص پیدائش مبارك اوشو ـ نو جبل ابوقیس اوحجوئ غر باندے ختلو سره جن آواز اوکه،

فاقسم لاانثی من الناس انجبت .:. ولاولدت انثی من الناس واحدة

کما ولدة زهریة ذات مفخر .:. مجنبة لؤم القبائل ماجدة

فقد ولدت خیرالقبائل احمد .:. فاکرم بمولود و اکرم بوالدة

ترجمه :ـ (۱) زهٔ قسم خورم انسانانو کښې هیڅ ښځه مرتبے والا نه شوه

Maktaba Tul Ishaat.com

او نه انسانانو کښې يوې ښځې داسې بچې راوړې دے.

۲- څنګه چې ذات فخر بچې آمنة الزهراء راوړې دے. دا د قبائلو د ملا متنه لرے دے، شان والا دے.

۳- دے د تمام قبائلو نه بهترين ځوئے احمد راوړے دے. څه شان والا ځوئے دے. او څه شان والا مور ده.

او کوم جن چه جبل ابوقبيس باندے وو. هغه دا اشعار او وئيل:

يا ساكنى البطحاء لاتغلطوا ⁂ وميزوا الامر بعقل مضىء

ان بنى زهرة من سركم ⁂ فى غابر الدهر وعند البدى

واحدة منكم فهاتوا لنا ⁂ فيمن مضى فى الناس اومن بقى

واحدة من غيركم مثلها ⁂ جنينها مثل النبى التقى

ترجمه:- (۱) اے د بطحاء اوسيدونکو! غلطۍ کښې مه پريوځئ- معامله روښانه عقل سره واضحه کړئ.

(۲) بنو زهره ستاسو نسل نه دی- قديم زمانه کښې هم او موجوده زمانه کښې هم. (۳) کوم خلق چه تير شو يا موجود دی- هغوئ کښې يوه خاتون داسے وه هغه زموږ مخے ته راولئ.

۴- داسے چا غير نه راولئ چه هغې د حضور صلى الله عليه والهٖ وسلم په شان پاکباز نبی راوړے وی- (ابن ابی الدنيا منه- فی الهواتف ص۶۵ ۲۷-)

د مازن طائی د مسلمانيدو سبب :-

هشام کلبیؒ وائی: ماته د قبيلهٔ طی د شيوخو نه ډيرو شيخانو ذکر اوکه- چه حضرت مازن طائیؓ عمان علاقه کښې بت پرستو د پاره د بتانو خدمت کولو- د هغوئ خيل يو بت وو- چه د هغه نوم ناجر وو- حضرت مازنؒ

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمائی: ما یوه ورځ یو ځناور ذبحه کړو - نو هغې بُت بندِم اواز واوید
چه داسې وئیل :

يَا مَازِنُ أَقْبِلْ إِلَيَّ أَقْبِلُ ⁂ تَسْمَعُ مَا لَا يُجْهَلُ
هٰذَا نَبِيٌّ مُرْسَلٌ ⁂ جَاءَ بِحَقٍّ مُنْزَلٍ
فَآمِنْ بِهِ كَيْ تُعْدَلُ ⁂ عَنْ حَرِّ نَارٍ تُشْعَلُ
وَقُوْدُهَا بِالْجُنْدَلِ

ترجمه: - اے مازنه! ما له راشه ما له راشه - داسے خبره واوره چه هغے
نه ناوا قفیت نشي کیدے .

٢- دا محمد رالیږلے شوے نبی دے چه نازل شوے حق ئے راوړے دے.
٣- زما په ځائے ته په هغوے ایمان راوړه - نو ته به شعلے زن اور نه
بچ کړے شے - چه د هغے خشاك به لوئے لوئے تیږی او چټانئین وی.

حضرت مازن رحمة الله علیه فرمائی : ما اووے : قسم په الله داخو
عجیبه خبره ده (نن بُت هم خبرے کوی) ما څو ورځے پس یو بل ځناور
قربانی کړو - نو د مخکښې نه زیات واضحه اواز کښې مِ واوریدل - چه هغه دا
وائی :

يَا مَازِنُ اِسْمَعْ تُسَرُّ ⁂ ظَهَرَ خَيْرٌ وَبَطَنَ شَرٌّ
بُعِثَ نَبِيٌّ مِنْ مُضَرَ ⁂ بِدِيْنِ اللّٰهِ الْكُبَرِ
فَدَعْ نَحِيْتًا مِنْ حَجَرٍ ⁂ تَسْلَمْ مِنْ حَرِّ سَقَرَ

ترجمه :[1] اے مازنه! ته به خوشحاله شے - خیر ظاهر شو او شر پټ شو.
٢- یو نبي (مراد حضور صلی الله علیه واله وسلم) قبیله مضر نه پیدا شوے دے
د الله د یرلوئے د ین راوړلو سره .

Maktaba Tul Ishaat.com

۳- د کانړی نه جوړ شوے بُت پریږده نو د دوزخ داور نه به محفوظ شے. (بیهقی. منه- دلائل النبوة بیهقی ۲/ ۲۵۵، ۲۵٦، ۲۵۷، ۲۵۸، ۲۵۹ مطولاً)-

د حضرت ذباب بن الحارث رضؓ د مسلما نیدو سبب :-

حضرت ذیاب بن الحارث رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: د ابن وقشه یوجن وو- چه هغهٔ ته به ئے پیښیدونکے (راتلونکے) خوخبرے ښودلے یو ورځ هغه راغے- او هغهٔ ته ئے یوه خبره اوښودله- نو هغهٔ ما طرف ته اوکتل او وئے وئیل:

يَا ذُبَابُ يَا ذُبَابُ .:. اِسْمَعِ الْعَجَبَ الْعُجَابَ
بُعِثَ مُحَمَّدٌ بِالْكِتٰبِ .:. يَدْعُوْا بِمَكَّةَ فَلَا يُجَابُ

ترجمه: اے ذیاب اے ذیاب! یوه عجیبه غریبه خبره واوره! محمد صلی الله علیه واله وسلم مکه کښے راالیږلے شوے دے- لیکن هغه منلے نه شی. ما هغهٔ ته اووے: دا څه خبره ده؟ هغهٔ اووے زهٔ نهٔ پوهیږم! (دجن د طرف نه) وئیلے شوی دی. (ابن شاهین فی الصحابه، المعارفی، فی الجلیس، منه- دلائل النبوة بیهقی ۲/ ۲۵۹ اشارةً)

اُمّ معبدؓ ته د بعثت خبر :-

حضرت ابن اسحٰقؒ وائی: ما ته بی بی اسماء بنت ابی بکرؓ نه حدیث بیان شوے دے- چه کوم وخت حضور صلی الله علیه واله وسلم او حضرت ابوبکر رضی الله تعالیٰ عنه په هجرت تشریف یوړلو- نو درے شپو پورے مونږ خبر نهٔ شو چه هغوئ کوم طرف ته تلی دی حتیٰ چه د مکے د لاندے جانب نه یو جن ظاهر شو- چه د عربو کانے والا اشعار ئے وئے- خلق هغهٔ پسے

Maktaba Tul Ishaat.com

پسے روان وو۔ او د هغهٔ آواز ئے اوریدلو۔ هغه ئے لیدلو نه۔ حتیٰ
چه هغه د مکے د لاندے جانب نه را اووتلو۔ هغهٔ داوے ؎

جزى الله رب الناس خير جزائه ﴿﴾ رفيقين قالا خيمتى أم معبد
هما نزلا بالبر ثم ترحلا ﴿﴾ فأفلح من أمسى رفيق محمد
لهن بنى كعب مقام فتاتهم ﴿﴾ ومقعدها للمؤمنين بمرصد

ترجمه :- (۱) د انسانانو پرورد‌گار الله تعالیٰ دے بهترینه جزاء عطاء کړی هغه دوو ملګرو ته۔ چه هغوئے د اُم معبد خیمو کښے قیلوله اوکړه
(۲) دا دواړه میدان کښے کوز شو۔ بیائے کوچ اوکړو۔ نو هغه کامیاب شو چاچه د محمد صلی الله علیه واله وسلم د رفیق جوړیدو سره ماښام کړ۔
(۳) . . . .
. . . .

بی بی اسماء فرمائی: هرکله چه موږ د هغهٔ خبره واوریده نو معلومه شوه چه حضور صلی الله علیه واله وسلم کوم طرف ته تشریف اوړے دے۔ حضور صلی الله علیه واله وسلم هغه وخت مدینے منورے طرف ته رُخ فرمائیلے وو۔ (ابن اسحاق ـ منه ـ دلائل النبوت بیهقی ۲/۴۹۱، ۴۹۲، ۴۹۳، ۴۹۴ مطولاً، البدایه والنهایه ۳/۱۹۱، ۱۹۲، سیرت شامیه للصالحی ۳/۳۵۰، سیرت ابن هشام ۱/۱۰۰، ۱۰۱، روض الانف ۲/۸، اکام المرجان ص۱۳۴)

د سعد بن معاذ رضؓ او سعد بن عبادهؓ د اسلام خبر:-

حضرت محمد بن حبیس بن جبیرؒ فرمائی: قریشو جبل ابوقبیس باندے یو لوړ آواز واوریدلو۔ چه دائے وے:

Maktaba Tul Ishaat.com

فَإِنْ يُسْلِمُ السَّعْدَانِ يُصْبِحُ مُحَمَّدٌ
بِمَكَّةَ لَا يَخْشَىٰ خِلَافُ مُخَالِفِ

ترجمه:۔ که د واړه سعدانؓ مسلمانان شي۔ نو حضور صلی الله علیه واله وسلم به مکه کښې د چا مخالف د مخالفت نه فکرمند کیږی نه۔

نو ابوسفیان او د قریشو اشرافو اووے: دا سعدان څوك دی؟ ایا دا سعد بن ابي بكر او سعد بن زید او سعد بن قضاعه دی؟

هرکله چه دویمه شپه شوه۔ نو هغوے جبل ابوقیس باندے دوباره دا اواز وا وریدلو

أَيَا سَعْدُ سَعْدَ الْأَوْسِ كُنْ أَنْتَ نَاصِرًا ۔:۔ وَيَا سَعْدُ سَعْدَ الْخَزْرَجِيْنَ الْغَطَارِفِ
أَجِيْبَا إِلَىٰ دَاعِي الْهُدَىٰ وَ تَمَنَّيَا ۔:۔ عَلَى اللهِ فِي الْفِرْدَوْسِ زُلْفَةَ عَارِفِ
فَإِنَّ ثَوَابَ اللهِ لِطَالِبِ الْهُدَىٰ ۔:۔ جِنَانٌ فِي الْفِرْدَوْسِ ذَاتَ رَفَارِفِ

ترجمه:۔ (۱) اے د قبیلے اوس سعده! ته مدد ګار شه او د سخاوت صاحب د قبیله خزرج سعد ته هم۔

(۲) تاسو دواړه د هدایت داعی (محمد صلی الله علیه واله وسلم ته لبیك اووایئ او د الله تعالی نه مخکښې جنت الفردوس کښې د عارفِ (خداوندی) د قرب اواز اوکړئ۔

(۳) ځکه چه د هدایت د طالب نوم د الله تعالی د طرف نه جنات الفردوس وی۔ چه فرش بچھونړه، تکیئے ریشمی باریك کپړو والا دی۔

نو قریشو اووے: دلته خو سعدانؓ نه حضرت سعد بن عبادهؓ او حضرت سعد بن معاذؓ مراد دی۔ (ابن ابی الدنیا، خرائطی، بیهقی۔ منه۔

الهواتف ابن ابی الدنیا (۵۷) ص۶۴، دلائل النبوة بیهقی ۳۲۸، ۳۲۹، البدايہ

والنهایہ ۳/۱۶۵ ، روض الالف ۱/۲۷۲)

فائدہ :- عبد المجید بن ابی عبس فرمائی : د شپې څه حصو کښې مدینه شریفه کښې واوریدے شو چه هاتف داویل :

خَیْرُ کَهْلَیْنِ فِیْ بنی الْخَزْرَجِ الْغُرِّ .:. یَسِیْرُوْ اَسْعَدَ بْنُ عُبَادَۃَ

اَلْمُجِیْبَانِ اِذَا دَعَا اَحْمَدُ الْخَیْرَ .:. فَنَالَتْهُمَا هُنَاكَ السَّعَادَۃُ

ثُمَّ عَاشَا مُهَذَّبَیْنِ جَمِیْعًا .:. ثُمَّ لَقَّاهُمَا الْمَلِیْكُ شَهَادَۃُ

ترجمه :- (۱) اے شان والا د بنوخزرج د قبیلے بوډا کانو بهترین خلقوا سعد بن عبادہؓ طرف ته ځئ۔

(۲) هر کله چه حضور صلی الله علیه واله وسلم هغوئ ته د اسلام دعوت اوکړه۔ نو هغوئ لبیك اووے۔ او هغے دواړو ته هغه وخت سعادت حاصل شو۔

(۳)۔ بیا دواړه و مهذب ژوند تیر کړلو۔ او الله تعالیٰ ورته شهادت حاصل کړو ۔ (ابن عبد البر۔ منه۔ لعله فی الاستیعاب ، الهواتف ابن ابی الدنیا (۷۶) ص۱۲۴) ۔

جنګ بدر کښے د کفارو د شکست اطلاع :-

حضرت قاسم بن ثابتؓ روایت کوی۔ کوم وخت چه د مکے قریش جنګ بدر د پاره وتلی وو۔ په کومه ورځ چه مسلمانانو په هغوئ فتحه بیا مندے وه۔ په هغه ورځ مکه کښے یو جن د ترنم آواز سره دا اشعار وئیلی وو۔ هرکله چه خپله هغه په نظر نه راتلو

اذا را الحنیفیون بدرا وقیعة .:. سینقض فیها رکن کسری وقیصر

ابادت رجالا من لوی وابرزت .:. حرائر یضربن الترائب حسرا

Maktaba Tul Ishaat.com

فیاویح من امسٰی عدو محمد ۔:۔ لقد حاد عن قصد الهدیٰ وتحیرا

ترجمہ :۔ ا حنیفیون جنګ بدر کښے سبنه کلک ولاړ وو ۔ د دے کښے د قیصر او کسریٰ بنیادونه اوجړ قیدل ۔

۲۔ د قبیلهٔ لوے ځوانان ئے ضائع کړل ۔ دَ هغوی سنجے پهر راوتلو افسوس سره ئے سینے وهلے ۔

۳۔ ډیر افسوس په هغه چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره ئے دشمنی اوکړه ۔ هغه دَ هدایت داراده نه لرے شو او حیران او پریشان شو ۔

(نو چا هغوی نه تپوس اوکړو چه دا حنیفیون څوک دی؟ نو هغه اووے دا محمد صلی الله علیه وسلم او د هغهٔ اصحاب دی ۔ دَ هغوی دا دعویٰ ده چه هغوی دَ حضرت ابراهیم علیه السلام په دین حنیف دی)

دے نه پس څه وخت نهٔ وُتیر ۔ چه هغوی ته دَ مسلمانانو د فتح خبر هم راورسیدلو ۔ (الدلائل علی معانی الحدیث بالشاهد والمثل (مخطوط بخزانه الرباط) (للمحدث اللغوی) قاسم ابن ثابت (سرقسطی ؒ) منه اکام المرجان ص۱۲۷ ط خیر کثیر کراچی) ۔

دَ ښځو مخکښے دَ جنات ظاهریدل :۔

حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی : زهٔ دَ خپل کور په صحن کښے ناست وم ۔ چه زما د ښځے قاصد راغے ۔ چه ته ما طرف ته راشه ۔ ما سره فکر شو ۔ نو زهٔ ورغلم ۔ هغے اووے ایسار شه ! بیا هغے اشارے سره اووے : دا مار دے ۔ زهٔ چه دَ کور نه بادیه کښے قضا حاجت د پاره تللے وم ۔ نو دے ما لیدلے وو ۔ بیا ما ته په تغل راغے ۔ اوس زهٔ دے وینم ۔ چه دا هغه مار دے ۔ زهٔ ئے پیژنم ۔ نو حضرت سعد رضی الله عنه

Maktaba Tul Ishaat.com

خطبه اولوستله - او دَ الله تعالیٰ حمد و ثنا ئے اوکړه - بیائے اوفرمائیل:
اما بعد! تا ماته تکلیف رسولے دے - زهٔ مستا دَ پاره د الله قسم خورم
که دے نه پس تهٔ ما اولیدے - نو قتل به دے کړم - نو هغه مار د حجرے
د روازے نه بیا دَ کور دروازے نه اووتلو.
بیا حضرت سعد رضی الله عنه هغه مار سره یو انسان اولیدلو - او ورته
ئے اوفرمائیل: ته دهٔ ته کوره! چه دے چرته ځی - نو هغه هغه پسے شو
حتی چه هغه مار مسجد نبوی ته راغے - بیا دَ رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم
منبر له راغے - او په هغه ختلو سره آسمان طرف ته لاړو او غائب شو -
(ابن ابی الدنیا - منہ - فی الهواتف ۱۳۲ ص ۱۰۵)

په ښځو د جناتو د حملے نه د الله تعالیٰ حفاظت :-

حضرت حسن بن حسین رح فرمائی زهٔ دَ بی بی ربیع بنت معوذ بن
عفراء رضی الله تعالیٰ عنها خدمت کښے دے د پاره حاضر شوم - چه تا سو
فرمائی چه زهٔ په خپل ځائے ناست ووم - چه زما د کور چت سورے شو - او
داوښ یا خر په شان یو څناور زما خوا کښے راوغورځید لو - ما دا سے تور والے
د پیدائش یا د خوف د اعتبار نه دَ هیڅ څناور نهٔ دے لیدلے - فرمائی هغه
ماته قریب شو - هغهٔ زما نیول غوښتل - لیکن هغهٔ پسے د کاغذ یو ټکړه
راغله - هغے جن څناور چه هغه کاغذ پرانستلو - او وے لوستو - نو
هغے کښے لیکلی وو - (مِنْ رَّبِّ عَکْبٍ اَمَّا بَعْدُ : فَلَا سَبِيْلَ لَكَ عَلَى الْمَرْأَةِ
الصَّالِحَةِ بِنْتِ الصَّالِحِيْنَ .
ترجمه :- دا رقعه د عکب د رب د طرف عکب طرف ته ده - د دے نه پس
تا ته حکم دے - چه تا ته د نیکو والدینو نیکے لور باندے دَ شرارت هیڅ اجازت

Maktaba Tul Ishaat.com

نشته. بي بي ربيع فرمائي: هغه چه کوم ځائے نه راغلے وو- هلته نه اووتلو اوماڼه هغه وټل کتل. حسن بن حسين رح فرمائي: بيا هغے ماته هغه رقعه اوښودله - چه هغے سره اوس پورے موجود وه - (ابن ابي الدنيا -منه- مکائد الشيطان ص۲۷ (۶٦)، مصائب الانسان ص۱۳۳، دلائل النبوت بيهقي ۱۱۶/۷، ۱۱۷).

يوه بله واقعه :-

يحيى بن سعيد رح فرمائي: کوم وخت چه د بي بي عمره بنت عبد الرحمن رض د وفات وخت راغے - نو د هغے خدمت کښے ډير تابعين جمع شول - هغوئ کښے عروه بن زبير رض، قاسم بن محمد رض، ابوسلمه بن عبد الرحمن رض هم وو- دا حضرات هغے سره وو- چه حضرت عروه بے هوشه شو- او هغه حضراتو د چت نه شليدلو اواز واوريدلو- بيا يو تور مار راوغورځيدلو- چه د لوئے کجورے په شان غټ او اوږد وو- او هغه هغے خاتون طرف ته حمله اوکړه- ناڅاپه يو سپين کاغذ راوغورځيدلو- چه هغے کښے دا ليکلي وو-

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ مِن رب عَکبٍ اِلٰی عَکبٍ لَيْسَ لَکَ عَلٰى بَنَاتِ الصَّالِحِيْنَ سَبِيْلٌ ؕ

ترجمه : بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ : د عکب د رب د طرف نه عکب طرف ته تاته د نيکو خلقو په لوڼړو د لاس اوچتولو اجازت نشته.

هغه چه هغه رقعه اوليدله - نو پورته اوختلو- چرته نه چه راکوز شوے وو- او هلته نه اووتلو. (ابن ابي الدنيا، دلائل النبوت بيهقي، منه- دلائل النبوة ۱۱۶/۷ - ۱۱۷، مکائد الشيطان ۷- ص۲۷، مصائب الانسان ص۱۵)

يوه دويمه واقعه :- حضرت انس بن مالک رض فرمائي : د حضرت

عوف بن عفراءؓ لور په خپله بستره ملاسته وه هغې ته معلومه هم
نه شوه - چه یو تور سړے د هغې په سینه را اوختلو - او خپل لاس ئے
د هغې حلق کښې واچولو - نو ناځاپی د زیړ رنګ کاغذ یوه ټکړه د آسمان
نه ځمکے طرف ته راغله - حتی چه د هغې په سینه راغله - نو هغې جن هغه ټکړه
اوچته کړه او وے لوستله ، په هغې کښې لیکلی وو :

مِنْ رَبِّ لُكَيْنٍ اِلٰى لُكَيْنٍ اِجْتَنِبِ ابْنَةَ الْعَبْدِ الصَّالِحِ فَاِنَّهُ لَا سَبِيْلَ لَكَ عَلَيْهَا ط

ترجمه : د لکین د رب د طرف نه لکین طرف ته - دا حکمنامه ده - چه
د نیک انسان د لور نه لرے اوسه - ستا په دے هیڅ وس نشی رسیدلے -
(هغه فرمائی) نو هغه پاسید - خپل لاس ئے زما د حلق نه لرے کړ - او
خپل لاس ئے زما په کونډے اووهلو - چه په هغې پړسوب راغلے وو - حتی
چه د چیلئ د سر په شان اوپړسیدلو - هغه فرمائی : بیا زه د بی بی عائشہؓ
په خدمت کښې حاضره شوم - او دا واقعه مے ورته ذکر کړه - نو هغې اوفرمائیل
اے د تره لورے ! هرکله چه ته حیض کښې شے نو خپلے کپړے راغونډه وه - نو
دے به تا ته هیڅکله تکلیف نشی رسولے انشاءالله .

حضرت انس بن مالکؓ فرمائی : الله تعالی د هغې - د هغې د پلار
په وجه حفاظت کړے وو - ځکه چه هغه جنګ بدر کښې شهید شوے وو .
(ابن ابی الدنیا ، بیهقی - منه - مکائد الشیطن - ۸ - ص۳۸ ، دلائل النبوة بیهقی
بیهقی ۷ / ۱۱۶) .

جن خلقو ته فتوی ورکوی :-

حضرت یحیی بن ثابت رح فرمائی : - زه حضرت حفص طائفی سره

Maktaba Tul Ishaat.com

منیٰ کښې وو م - مونږ اولیدل چه یو سپین سر والا سپین ږیرے خلقو ته فتوی ورکوی - نو حضرت حفصؒ ماته اوفرمائیل د اے ابو ایوب! دا پوهیږې چه خلقو ته فتوی ورکوی - دا عفریت (جن) دے بیا حفص رحمه الله هغهٔ قریب راغے - زهٔ ورسره وو م - هغهٔ چه حضرت حفص اولیدلو - نو پنړے ئے اوچتې کړے او او تښتیدلو - خلق هم هغهٔ پسے اوځغلیدل - نو حفصؒ ورته وے : اے خلقو دا عفریت (جن) دے -

(ابن عبد الرحمٰن هروی - منهٔ -)

انسان ته د جنّ وعظ :-

ابو خلیفه عبدیؒ فرمائی : چه زما وړوکے شان بچے وفات شو چه د هغهٔ ماته ډیره صدمه اوشوه - نو د سورهٔ آل عمران آخری آیت تلاوت کړل - هرکله چه هغه « وَمَا عِنۡدَ اللّٰهِ خَيۡرٌ لِّلۡاَبۡرَارِ » ته اورسيد نو هغهٔ اووے : اے ابو خلیفه! ما اووے : لبیّک - هغهٔ اووے : ته څهٔ غواړے - چه د دے دنیا د پاره ژوند مخصوص کید وسره یا ته شي ؟ ته زیات شان والا ئے - یا حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم د هغوی صاحبزاده حضرت ابراهیمؓ هم وفات شو - نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم اوفرمائیل - سترګے اوښکے بهوی - زړهٔ غمجن دے - لیکن مونږ له څه داسے خبره کول نهٔ دی پکار چه الله تعالیٰ ناراضه کړی - ایا ته دا غواړے چه خپل څوئے د مرګ نه لرے کړے - چه تمام مخلوق د پاره لیکلے شوے دے ؟ یا ته غواړے چه الله تعالیٰ ناراضه شی - او د هغهٔ د مخلوق متعلق ته بیر رد کړے - په الله قسم که مرګ نه وے نو زمکه به د دوموه وسیعه نهٔ وه - که دا تکلیف نه وے - نو مخلوق به هیڅ شی نه فائده نشوه اوچتولے . بیا هغهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

اووے: تا ته څه ضرورت شته ـ ما تپوس اوکه ـ الله تعالیٰ دے په تا رحم اوکړی ـ ته څوک یے؟ هغهٔ اووے: زهٔ ستا د کاونډی جناتو نه یو جن یم ۔ (ابن ابی الدنیا ـ منه ـ الهواتف ـ ۴۰ ـ ص۴۲)

د پوهه (هوښیار) جناتو حکایت:-

حضرت اسحٰق بن عبدالله بن ابی فروه رح فرمائی: د جناتو څه افراد د انسان شکل اختیار و لو سره یو سړی له راغلل او ورته وے ویل: ته څل ځان د پاره کوم څیز خوښوے؟ هغهٔ اووے اوښ خوښوم ـ هغوی ورته اووے: تا ځان د پاره سختی، محنت او طویله مصیبت خوښ کړے دے تا ته به مسافری لاحق کیږی ـ چه ستاد دوستانو نه به تا لرے کړی (حکه چه اوښانو والاؤ ته دا پیښیږی) بیا هغهٔ نه وتلو سره بل سړی ته ورغلل او هغهٔ نه ئے تپوس اوکړو ـ ته ځان دپاره کوم څیز خوښوے؟ هغهٔ ورته اووے: غلامان خوښوم: هغوی ورته اووے: بیا خو به ستا د یر عزت وی، سخت غضب به بیاموے اومال او لرے لرے سفر به حاصل کړے، بیا هغهٔ نه وتلو سره یو دریم سړی له ورغلل، تپوس ئے ترے اوکړو ته څهٔ خوښوے؟ هغهٔ اووے: چیلۍ مِ خوښے دی ـ نو هغے جناتو ورته اووے: طعام به دے حلال وی ـ د سائل ضرورت پوره کول به هم درته حاصل وی ـ چنګک کښے به شرکت نشے کولے ـ آرام به هم نهٔ بیاموے او د تکلیف نه به راحت هم نهٔ بیاموے، بیا هغهٔ نه روان شول ـ یو څلورم سړی له ورغلل ـ تپوس ئے ترے اوکړو ـ ته ځان سره ساتلو د پاره کوم څیز خوښوے؟ هغهٔ اووے اوږے خوښوم ـ جناتو اووے: درے سوه شپیته (۳۶۰) قحوے ترل کالا د پاره کافی دی ـ هدا د یختی اوکړی دواړه مال دے ـ بیا د هغهٔ نه روان

Maktaba Tul Ishaat.com

شو یو پنځم سړی له ورغلل - ورته یې اووې: ته ځان د پاره څه خوښوې؟
هغه اووې: زمینداری (کرکیله) خوښوم - ورته یې اووې ستا ضرورت
دا سې مقرر شوې دې - که کاشتکاری کوې نو بیا به مومې - او که نه کوې
نو بیا به نه مومې - بیا هغه نه هم رواق شول یو شپږم سړی له ورغلل -
تپوس یې ترې اوکه - ته ځان د پاره څه خوښوې؟ هغه ورته اوفرمائیل:
مخکښې تاسو د خپل ځان متعلق اوښائې: چه تاسو څوک یئ؟ چه زه
تاسو ته څه واورم - بیا هغوې ته یې روټئ راوړله: نو جنا تو اووې
په کار را ملو نکې غنم دې - بیا یې هغوې ته غوښه راوړله - نو جنا تو اووې
روح دې - چه روح به او خوري - دا چه څومره کم دې، هومره بهتر دې
د کثرت نه - بیا هغه ټیوړې او پیې راوړل - نو جنا تو اووې: د ټیوړو ټیوړې
دی، د چیلو پیې دی - د الله نوم اخستو سره یې خوري - چه وې خوړل
نو هغې سړی ته یې اووې: کوم څیز زیات تیز دې؟ او کوم څیز زیات
حسین دې؟ او کوم څیز د خوشبو د اعتبار نه زیات ښه دې؟ هغې سړی
ورته اوفرمائیل: د ټولو نه زیات تیز هغه اوبه دی، چه وینځی غامینونو
کښې خوراک وغیره اچوي - او د ټولو نه زیات حسین هغه باران دې چه
په اوچته مزکه د ورېځې ظاهرېدو سره ورېږي - او زیاته ښه خوشبو
د هغې غوټۍ (کلی) هوا ده چه باران نه پس پرانستې شي - هغې جنا تو ترې
تپوس اوکه - اوس تاسو دا اوښائې چه تاسو ځان د پاره کوم څیز خوښوئ؟
هغه سړی ورته اوفرمائیل: زه مرګ خوښوم - هغوې ورته اووې: تاسو
داسې آرزو کړې ده - چه تاسو نه مخکښې هیچا نه ده کړې - اوس تاسو
مونږ ته څه نصیحت هم اوفرمائیې او د سفر توښه هم را کړئ! نو هغوې

Maktaba Tul Ishaat.com

قریبے د پیو یوہ مشکیزہ ورکړلہ - او ورته یې اوفرمائیل : د استاسو د مرض تومبنہ دہ - هغوی ورته اووے : وصیت هم اوفرمائیے ! وے فرمائیل لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ لولئے - دا د مخکښے روستو ټولو ضرور یاتو د پارہ کافی دے دے نہ پس تریے هغہ جنات روان شول - او هغوئ تہ یې جناتو او انسانانو پانډے ترجیح ورکړلہ -

ابو نصر هاشم بن قاسم فرمائی - دا سړے چہ جنات ورتہ د ټولو نہ آخر کښے ورغلی وو حضرت هو یمس ابو الدرداء نومید ہ.

(ابن ابی الدنیا - منہ - ولم اجدہ فی الهواتف ومکائد الشیطان کلاهما لابن ابی الدنیا والحکایة موجودة فی اکام المرجان للشبلی ص۸۵ ط خیر کثیر کراچی ج امداد اللہ نور)

عجیب ترین علاج :-

حضرت زید بن وهب رح فرمائی : مونږ یو جنګ کښے شرکت اوکړہ بیا یوہ جزیرہ کښے کوز شولو - هلتہ یوہ ډیرہ لویہ حجرہ موجود وہ. زمونږ د جماعت یو سړی اووے : ما یوہ ډیرہ لویہ حجرہ لیدلے دہ - شائد تاسو تہ دَ هغے د اوسیدونکی (رهائش) نہ تکلیف وی . تاسو خپل اوړ دے ځائے نہ اوچت کړئ (یعنی د پړاؤ د ځائے بدل کړئ) کوم وخت چہ هغہ رهائشی د شپے واپس راتلے - نو هغہ تہ یې اووے : تا زمونږ د کورونو نہ خپل ملګری لیرے کړل - ځکہ زہ تا تہ د طب علم ښایم - چہ هغے سرہ تندرستی حاصلیږی - هغہ دا چہ کلہ څوک مریض تا سرہ د درد شکایت اوکړی - نو څہ چہ ستا زړہ کښے راشی هغہ د هغہ علاج دے

(فائدہ) دے نہ وړاندے کتاب الهواتف لابن ابی الدنیا کښے دا اضافہ

هم ده - چه هغهٔ ته به مسجد کوفه کښې خلق علاج د پاره راتلل - نو یو لویشے خیټې والا سړے راغے - هغهٔ اووے ماته څه دوائی اومنیایه ! تاسو زما حالت وینئ - چه زهٔ خوړم نو هم اوکر نهٔ خوړم نو هم داحالت مِ دے (یعنے خیټهٔ مِ پړسیدلے ده) نو هغه علاج کوونکی خلقو اووے : اے خلقو! تاسو تعجب نهٔ کوئ ؟ دے چه ماند علاج تپوس کوی - نن به دے غرمه وخت مړی - نو هغه سړے واپس لاړ - بیا تندرست کیدو نه واپس راغے - هرکله چه هغه حکیم سره نور خلق هم ناست وو - د هغهٔ راتلو سره وئیلے شروع کړل - چه دا حکیم دروغجن دے - زهٔ خو ژوندے یم - حالانکه دهٔ وئیلی وو چه تهٔ به غرمے پورے مړ شے - نو حکیم اووے : دے نه داتپوس اوکړئ چه د دهٔ د درد څهٔ اوشو؟ (ارام راغے که نه؟) هغهٔ اووے : درد خوختم شو - نو حکیم اووے : دے علاج د پاره خو ما د غسے وئیلی وو - (ابن ابی الدنیا - منه - فی الهواتف صـ۱۰۶ (۱۳۳))

جنات به کوهی نه اُوبو څکلو پاندے کانړی ویشتل :-

حضرت ابو میسره حرانیؒ فرمائی : چه جنات او انسان قاضی محمد بن علاثه ته د مدینے منورے د یو کوهی جګړه راوړله - ابو میسره نه تپوس اوشو - ایا جنات د هغوی مخے ته هم راغلی وو؟ وے فرمائیل : مخے ته خونهٔ وو راغلی - صرف هغهٔ د هغوی خبرے اوریدلے وے - او انسانانو د پاره ئے دا فیصله اوکړه چه هغوی نمر ختو نه نمر پریوتو پورے دے کوهی نه اوبه اخلی - او جناتو د پاره ئے دا فیصله اوکړه چه هغوی نمر پریوتلو نه تر نمر ختلو پورے دے کوهی نه اوبه اخلی -

دده حکایت نقل کوونکے وائی: انسانانو کښے چه یه چا هغے کومے نه نمر پریوتو نه پس اوبه اخستے نو هغوئے به په کانړو ویشتلے شو۔ (کتاب العجائب ابوسلیمان محمد بن عبدالله بن زبر الربعی الحافظ۔ منه۔ اکام المرجان ص۸۸ خیر کثیر کراچی)

لوئے عالم جناتو کښے دے یا انسانانو کښے؟:۔

علی بن سرح وائی: د جناتو څه خلق جمع شول۔ او هغوئے اووئے زمونږ عالم د انسانانو د عالم نه زیات عالم دے۔ نو د انسانانو او جناتو دے کښے اختلاف شو او دا فیصله اوشوه چه قائف بن خثعم له ورځو هغوئے هغهٔ له ورغلل۔ او د هغهٔ خیمه کښے داخل شول۔ هلته یو بوډا ناست وۀ۔ هغهٔ اووے څهٔ عرض له راغلی یئے؟ هغوئے اووے: زمونږ اوښ ورک شوے دے۔ مونږ تاله ځکه راغلی یو۔ چه تاسو دلته چرته اوښ تلاش کړئ۔ نو بوډا اووے: زهٔ خو ډیر کمزورے یم۔ زما نظر هم زما د جسم حصه ده۔ هغه هم کمزورے شوے دے۔ ځکه چه زما جسم کمزورے شوے دے۔ هغوئے ورته اووے: ته دے حالت کښے مونږ سره لاړ شه! او اوګوره! بوډا ورته اووے: ما تاسو ته خپل حالت ښودلے دے لیکن تاسو زما غلام له ورشئ۔ هغه به تاسو سره مدد اوکړی۔ هغوئ ورته اووے: مونږ تاله ځکه راغلی یو۔ چه ته مونږ سره څوکۍ ورو کے هلک اولیږے۔ بوډا دے نه هم انکار اوکړلو۔ بیا هغوئے بچی سره او ورتل هر کله چه د خیمو نه لرے شول۔ نو د هغوئے د مخے نه یو مارغهٔ تیر شو۔ هغهٔ یو وزر ښکته او دویم ے اوچت که۔ نو هغه بچے اودریدلو۔ هغه اووے اے خلقو! الله نه اویریږئ۔ ما نه علاوه دے هیچا نه یاد وی۔ زهٔ خو

Maktaba Tul Ishaat.com

وړ وکے بچے یم ۔ تاسو اللہ نہ اوغیریږئ او ما پریږدئ ۔ هغوئ اووے ۔ څنګه ؟ موږ نه او شایه خو سهی ۔ بیا ورته اووے ۔ تاسو مارغۀ طرف ته اونۀ کتل ؟ هغه ستاسو مخے ته تیر شوے دے هغۀ یو وزر سنګته کړے دے او یو وزر یے پورته کړے دے ۔ هغۀ ماته د اسمان او مزکے د رب قسم راکړے دے ۔ چه د دوئ اوسیږنه د بے ورک شوے ۔ ځکه یقیناً تاسو خلق جنّ یئے ، انسان نۀ یئے ۔ نو جناتو ورته اووے : اللہ دے تا رسوا کړی ۔ خپل پلار له لاړ شه (واقعه د جناتو په ځائے انسانانو کښے لوئے عالمان دی) (کتاب العجائب ابو عبد الرحمٰن هروی حافظ شکر ۔ منه ۔) ۔

جنات د انسانانو نه ویریږی ؛ ـ

حضرت مجاهد رح فرمائی : ما یوه شپه مونځ اداء کولو ۔ ناڅاپی رمخے ته یو هلک راغے او ودریدلو ۔ ما د هغۀ د قابو کولو تیاری اوکړه ۔ نو هغۀ ټوپ اووهلو ۔ او د دیوال شاته اوغورځیدلو ۔ ما د هغۀ د غورځیدو اوازهم اوریدلے وو ۔ دے نه پس هغه هیڅکله ماته رانغے ۔ مجاهد رح وائی : دا جنات تاسو نه داسے ویریږی ـ څنګه چه تاسو د هغوے نه ویریږئ ۔ (ابن ابی الدنیا ۔ منه ۔)

مجاهد رح فرمائی : څومره چه تاسو د شیطان نه ویریږئ شیطان د هغے نه زیات تاسو نه ویریږی ۔ هرکله چه هغه ستاسو مخے ته راشی نو تاسو د هغۀ نه مه ویریږئ ۔ کنی هغه به په تاسو سور شی تاسو د هغۀ د مقابلے د پاره تیار اوسئ نو هغه به بخپله تښتی ۔ (ابن ابی الدنیا ۔ منه)

۱ ابو شراعه رح فرمائی : زۀ جزار رح او لیدم چه زۀ د شپے وخت کو ځو تللو

نه ویریږم - نو ما ته یې اوفرمائیل: چا ته چه مونږ ویریږو - هغوی
خو زیات مونږ نه ویریږی. (ابن ابی الدنیا - منه -)

د انسانانو تسخیر جنات (پیریان مسخر کول)

منګو (ګهړو) کښې بند جنات :-

حضرت عمر بن عبد العزیزؒ د موسیٰ بن نصیرؒ د مغرب د ګورنر نه تپوس اوکړو - ځکه چه د موسیٰ بن نصیرؒ د لښکر اسلام په سالار چورلو سره ځنګلونو طرف ته لیږلے شوے وو - او هغهٔ مغرب پورې علاقې او ممالک فتح کړی وو - چه د سمندر څه عجیبه خبره تا لیدلے یا اوریدلے وی بیان کړه - نو هغهٔ اووے : مونږ د سمندر جزیرو کښې یوے جزیرے ته ورغلو - هلته مونږ یو تعمیر شوے کور اولیدلو - او هغې کښې اوویا شنه منګی (ګهړې) مو اولیدل - چه په هغې د حضرت سلیمان علیه السلام مهر لګیدلے وو - نو ما دَ درمیان والا ، د منځ قریب والا او د پاسه منګی د پیش کولو حکم اوکړو - نو د هغوی د کور چمن ته راوړلے شول - ما د یو د پرانستلو حکم اوکړو - هغې کښې سورے اوکړے شو - نو هغې کښې یو شیطان وو - چه د هغهٔ لاس د هغهٔ د غاړے سره تړلے شوے وو - هغهٔ اووے په هغه ذات مې دے قسم وی - چه هغهٔ تا سو ته د نبوت شرف درکړے دے زهٔ به مزکه کښې بیا هیڅکله د فساد کولو دپاره رانشم ، بیا هغې شیطان اخوا دیخوا اوکتل - هغهٔ اووے : قسم په الله ! نه ځو ما ته سلیمان علیه السلام

Maktaba Tul Ishaat.com

په نظر راځي - نو د هغه ملك، بيا هغه مزكه كښې غوټه اوو هله - او مزكه كښې غائب شو- د باقي منكو متعلق ما حكم اوكه - نو هغه په خپل ځائے كښېنودل شو، (كتاب العجائب المحافظ شكر- منه-)

د مڼ كوږه واقعے يو بل روايت:-

موسیٰ بن نصیرؒ د جهاد د پاره د سمندر په لار روان شو حتیٰ چه هغه تياره سمندر ته اورسيدلو- او كشتۍ ئے د هغے په رُخ تلو كښې پريښودے - بيا هغوئے كشتيو سره ځه آواز واوريدلو- او وئے ليدل چه د شين رنګ منګي دي- هغه نه ئے يو منګے اوچت كړ- چه د هغے د مهر ماتولو نه ويريدل - او حكم ئے اوكه - چه د لاندے نه ئے سورے كړئي هر كله چه د منګي خُله د پيالے برابر شوه- نو د يو چغے وهونكي آواز ئے واوريدلو- هغه ووے: په الله م دِ قسم وی- اے د الله نبي! زه به هيڅكله اينده د اسے شرارت نه كوم- نو موسیٰ بن نصير اووے: دے خو د هغه شياطينو نه دے - چه حضرت سليمان بن داؤد عليه السلام قيد كړے وو- نو د منګي هغه سورے بند كړے شو- بيا هغوئے په كشتۍ يو سړے اوليدلو- چه هغوئے ته ئے تيغ تيغ كتل- او وئيل ئے: په الله م دِ قسم وی- ته هغه ئے. كه ستا په ما احسان نه وے، نو ما به تاسو ټول غرق كړے وے. (العجائب لشكر- منه-)

فائده:- دا موسیٰ بن نصير د حضرت امير معاويهؓ زمانه كښې سمندر په لار جهاد باندے مامور شوے وو- دوئے اندلس فتح كړے وو- وئيلے شي- خو مره كافر چه دوئ قيد كړل بل هيڅ جرنيل نه وو قيد كړي.

والله اعلم. (اكام المرجان ص۹۰ ط خير كثير)

Maktaba Tul Ishaat.com

جناتو سره د نیکئ بدله :-

ولید بن هشام وائی: چه عبید بن ابرص او د هغهٔ د ملګری سفر کښې وو - دوئ په یو مار تیر شول - چه د ګرمئ د شدت نه تاوید لو هغوئ کښې یو سړی ېٔ د قتل اراده اوکړه - نو عُبید اووے: په دهٔ چه کوم مصیبت دے - د هغې په وجه د یو قطرے اوبو زیات محتاج دے - نو هغه کوز شو او په هغهٔ ېٔ اوبهٔ واچولے - بیا دوئ ټول روان شول، حتیٰ چه لار ېٔ خطاء کړله - او لار ترے ورکه شوه - دے پریشانئ کښې وو چه یو هاتف آواز ورکولو سره ورته اووئے: ع

یا ایها الرکب المضل مذهب ∴ دونك هذا البکر منا فارکبه

حتی اذا اللیل تولی مغربه ∴ وسطع الفجر ولاح کوکبه

فخل عنه رحله و سببه

ترجمه: (۱) اے لار خطا کړے جماعته! د اخُوان اوبښ واخلئ - او سواره شئ

(۲) هر کله چه شپه ختمه شی - سحر رڼړا شی او نمر وا وخیژی -

(۳) نو د هغه منزل او هوار میدان نه لرے شئ -.

نو هغوئ په هغه شپه هلته نه روان شول - پوره لس ورځے او شپے برابر تلل - بیا تلو سره چه نمر را وختلو - نو عبید اووے :

یا ایها المرء قد انجیت من غمٍ ∴ ومن فیاف یضل الراکب الهادی

هلا تخبرنا بالحق نعرفه ∴ من الذی جاد بالنعماء فی الوادی

ترجمه :- اے ځلمیه! تا مونږ له د غم نه نجات را کړو - او د بیابان ځنګل نه هم - چه دے کښے سپه فنکار سوار هم ورکیږی -

تهٔ به مونږ ته رښتیا رښتیا اونهٔ وائے - چه مونږ ته معلومه شی چه

Maktaba Tul Ishaat.com

ځوک ئې چه دے پرخاں وادئ کښے دے د نعمتونو سخاوت کړے دے؛ نو هغې جناب جواب ورکړو:

اناالشجاع الذی ابصرته رمضاً ∴ فی ضحضح نازح یسری بہ صادی

نجدت بالماء لماض شاربه ∴ رویت منه ولم تبخل بانجاد

الخیر یبقی وان طال الزمان به ∴ والشر اخبث ما اوعیت من زاد

ترجمه :- زۀ هغه بهادر یم چه تا کرمه شړه کښے لرے بیابان کښے په تکلیف کښے لیدلے وُم - چه د هغې په وجه زما ښکار کول اسان شوے وو.

(۲) تا د اوبو هغه وخت سخاوت اوکه - هر کله چه د هغې څکونکی بُخل کوی تا هغې سره سیراب کړم او د کمیدو د وجې نه دے بُخل اونۀ که -

(۳) نیکی باقی پاتے کیږی اګر که زمانه اوږده شی او شر بد ترین دے - چه تا د سفر توښه نچوړه نۀ کړله - (ابن ابی الدنیا ھ منه - الهواتف ۹۲، (۵۷) اکام المرجان ص۱۰۵ طبع خیر کثیر کراچی) -

د جن او انسان کشتی :-

حضرت هشیمؒ فرمائی ؛ زۀ او زما یو ملګرے دواړه چرته په یوسف اووتلو- هونږ یوه ښځه د لارے په سر ولاړه ولیده - هغې مونږ نه د سورلۍ سوال اوکه - ملخپل ملګری ته اووے - تۀ د اسوره که - نو هغۀ خپل روستو کینوله - هغې ښځې زما ملګری طرف ته اوکتل - نو د هغې د خُلے نه د حمام د اننغري په شان سرو تکے (سکروټے) وتلے - نو ما په هغې ښځه حمله اوکړله - نو هغه په زړه شوه - هغې اووے : ماستا څۀ قصور کړے دے ؟ او په چپو شوه - نو زما ملګری اووے ؛ تۀ دے نه څۀ غواړے ؟ بیا هغه څۀ ساعت روان وو- زۀ بیا هغې ته متوجه شوم - نو هغې خُله

پراشتے وه۔ او د هغې د ځلې نه د حمام د انغرې په شان خړو مټکے وتلے نو بيا ما په هغې حمله اوکړله۔ هغې د رے ځله د اسې اوکړل۔ هر کله چه ما دا تماشه اوليده نو بيا مې اراده کوله سرې هغه م د باوږ کړه۔ نو هغه په مزکه را وغورځيدله۔ او هغې اووے: خدا ئے دے تا قتل کړي۔ خومره سخت زړه ئے۔ زما دا حالت چه چا هم ليدلے دے۔ د هغۀ زړه تکه تکه شوے دے۔ ليکن يو ته ئے چه ما نه د ويريدو په ځائے زما مقابلے ته راغلے ئے: (ابن ابي الدنيا۔ منه۔)

د جن متيازو سره د سړو ويښته اودو ريدل:۔

امام اصمعيؒ فرمائي: يو سړے د حضر موت علاقے ته اوتښتيدلو۔ هغۀ پسے پسے يو جادوګر جن هم اوتښتيد لو۔ هر کله چه هغۀ اوليدل۔ چه جن په هغه اوښيي۔ نو هغۀ کوهي ته ټوپ اووهلو۔ نو هغه جن په هغې د پاسه نه متيازے اوکړے۔ هغه سړے د کوهي نه بهر راووتلو۔ نو د هغۀ وليښته غورځيدلي وو۔ او هيڅ وليښته ئے پاتې نۀ وو پاتې شوي (الاصمعي۔ منه۔ اکام المرجان ص۱۱۵)۔

د جناتو ښاروي:۔

د حميد بن هلال يا کوم بل چانه روايت دے؛ موږ ته به وے: چه موسیٰ (ع) د جناتو ښاروي دی۔ يو ځل يو هلاك را غے۔ هغۀ سره تير ليندہ وو۔ د دارطات (يو اونه ده چه په ځنګو کښې پيدا کيږي) د دے پاڼړے نغښتے وے، چه ئے سرے وے، او ميوه ئے د عناب په شان وي) او نے ښاتہ پټ کيناستلو۔ د هغۀ اراده داوه۔ چه هغې هوسو (هرڼو) کښې د يو ے هوسیٰ ښکار اوکړي، نو يو هاتف آواز اوکه چه په نظر نۀ راتلو:

Maktaba Tul Ishaat.com

ان غلاما ثقف السيد ين .:. يسعی بکید اویلهذ مین
متخذ الارطاة جنتین .:. لیقتل التیس مع العنزین

ترجمه :- (۱) لا سو یو سړی د تیر اندازی ماهر هلك د لیندے د دوارو غاړو د ښ میانی حصے یا تیز پرے کوښکودوه توری (مراد تیر، لینده دی) سره کوشش کوی
(۲) د ارطاة اونه ئے ډال جوړه کړے ده - چه ځنګلی چیلئ، مویشئ او نور نیزو سره اوولی - هرکله چه هوسو (هرنون) دا شعر واوریدلو نو تس نس شوے۔

یوه بله واقعه:-

حضرت عمر رض یو سړے یو کلی ته اولیږلو - هغهٔ پیښو والا سیو. هوسئ اولیدله - په هغے حمله کولو سره وے نیوله - نو یو ځین هغه ته آواز ورکولو سره اووے: (ابن ابی الدنیا - منه - الهواتف ص٦٦ (۷۹)۔

یاصاحب الکنانة المکسورة .:. خل سبیل الظبیة المصروع
فانها لصبیة مضرورة .:. غاب ابوهم غیبة مذکورة
فی کورة لا یورکت من کورة

ترجمه :- (۱) اے مات تیروان والا پیښو والا هوسئ پریږده !
(۲) دا دیو محتاج بچی ملکیت دے - چه د هغهٔ د پلار غائب کیدل مشهور شوی دی
(۳) دا سے ضلع کښے غائب شوے دے چرته نه چه د هغهٔ هیڅ خبر نه دی چه واپس به راشی - (ابن ابی الدنیا - منه - الهواتف ص٦٥ ، ۷۸)

— — — — — —

Maktaba Tul Ishaat.com

جن سره د نیکئ بهترینه بدله :-

د اسلام نه مخکښے د جاهلیت زمانه کښے مالك بن خزیم قبیله عکاظ طرفته تلو۔ هر کله چه هغوئ ښکار اوکړ نو هغه سخت تږے شو۔ اوبو دا سے ځائے ته اورسیدلو۔ چه د هغے نوم اُجیره وو۔ هغوئ یوه هوسئ اوبنیوله۔ او د تندے نه ئے د هغے وینه څکله هر کله چه د هغے وینه ختم شوه۔ نو هغه ئے ذبح کړله۔ او لرګو جمع کولو د پاره اووتلو۔ او مالك خپلے خیمے کښے بیټھ ناست وو۔ یو د هغوئ نه یو مار پسے اوزغلیده۔ او مار په مخکښے اوتښتیده۔۔ حتیٰ چه د مالك پالان (کتی) کښے ننوت۔ او هغے کښے ئے پناه واخسته هغه سړے هم د هغوئ په ښه هلته اورسید۔ او هغوئ اووے: اے مالك دا مار قتل که! نو مالك راپاسید او مار طرف ته ئے اوکتل۔ او هغوئ ته ئے پناه ورکړه۔ او ځلمی ته ئے اووے: زه ئے تا منع کوم۔ دے پریږده۔ نو هغه منع شو۔ او مار خپل محفوظ ځائے ته لاړو۔ او د هغوئ قافله هم روانه شوه۔ او هر کله چه هغوئ سخت تږی شول۔ نو چا هاتف هغوئ ته اواز ورکړو:

یا ایها القوم لا ماء اما مکم :- حتی تسوموا المطایا یومها التعبا
ثم اعدلوا اسامة فالماء عن :- عین رواء وماء یذهب الغیاء
حتیٰ اذا ما اصبتم منه ربکم :- فاسقوا المطایا ومنه رقا ملؤا والقربا

ترجمه :- (۱) اے خلقو! ستاسو مخکښے اوبه نشته۔ ترد ے چه تاسو خپلے سورلئ ستړے کولو کښے بند کړئ۔ (یعنی د لرے پورے سفر اوکړئ۔

(۲) بیا تندہ ختم کړے تاسو ته ډیرے زیاتے او یه یوے ډیپی سره حاصلے شی - چه کمزوری به ختم کړی .

(۳) هرکله چه تاسو ماړه شئ - نو په سورلو هم او یه وڅکوئ - او هغه نه مشکیزے هم ډکی کړئ ۔

نو دا خلق شام کښے کوز شول - هلته د غر جړ کښے یوه چینه ملیده هغوئ خپله هم اوڅکلے - او خپل اوښان ئے هم لو یه کړل - او هغه نه ئے ځان سره هم واخستے او عکاظ ته اورسیدل - بیا چه واپس کښے هغه مقام ته راورسیدل - نو هیڅ هم هنڅ وو - یو هاتف اواز اوکړ:

يا مال عنى جزاك الله صالحة ... هذا الوداع لكم منى والسلام

لا تزهدن فى اصطناع العرف مع احد ... ان الذى يحرم المعروف محروم

ومن يفعل الخير لا يعدم مغبته ... ما عاش والكفر بعد الغدر مذموم

انا الشجاع الذى انجيت من زهق ... شكرت ذلك ان الشكر مقسوم

ترجمه (۱) اے مالک الله تعالی دے تا ته زما له طرفه جزاء د خیر درکړی دا زما د طرف نه الوداع دے او سلام دے .

(۲) چا سره نیکی کولو نه کناره کشی مه کوه - څوک چه خیر خواهی نه محروم کوی هغه هم محرومیږی .

(۳) څوک چه خیر خواهی کوی - هغه قابل رشک (د پسخید وقابل) وی څو پورے چه ژوندے وی - فائده بیامند و نه پس ناشکری مذموم حرکت دے .

(۴) زه هغه ماریم - چه تا د مرګ نه بچ کړے ووم - ما د هغے شکر اداء کړه ځکه چه شکر لازم دے بیا هغے خلقو چینه تلاش کړه خو بیا ئے نه موندله

(ابن ابی الدنیا منه - الهواتف (۹۷) ص۸۲)

ورک شوي اوښ تلاش کوونکي جنّ:-

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه د اولاد د نه یو سړی حضرت ابوبکر تیمی تیر شوے دے۔ هغه فرمائي: ما د بنوعقیل د یو سړی نه واوریدل۔ هغهٔ وئیل ما یو اوښ اونیولو۔ او کور ته د راوستو سره مِ اونړلو۔ کوم وخت چه سپینه شوه۔ نو یو هاتف نه مِ واوریدل: اے فلانیه! تا د یتیمانو اوښ لیدلے دے۔ هغهٔ اووے: هاں! ما ته یو هلاک شود لے دے۔ چه یو انسان هغه نیولے دے۔ قسم په خدائے که هغے کښې هغهٔ څه نقصان اوکه۔ نو زهٔ به هم هغهٔ سره نقصان ورکړم۔ ما چه دا خبره واوریده۔ نو هغے اوښ له ورغلم۔ هغه مِ پریښودلو۔ بیا مِ چانه واوریدل۔ چه هغه بلی. زهٔ هغے آواز طرف ته ورغلم۔ نو هغهٔ دا سے آواز کولو۔ څنګه چه اوښ آواز کوی۔ (ابن ابی الدنیا۔ منه۔ الهواتف ابن ابی الدنیا ط۱۰۳ (۱۲۷)

انسان به د جنانو عبادت کولو:-

حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمائی: د انسانانو یوے حلقے به د جنانو د یوے حلقے عبادت کولو۔ د جنانو دا ډله خو مسلمانه شوه۔ لیکن انسان بیا د هغوے عبادت کولو۔ نو الله تعالی دا ایت نازل کړو:

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ

(بخاری، نسائی، منه۔ بخاری کتاب التفسیر سورة الاسراء جلد ۲/ ۶۸۵ طبع کراچی، مسلم کتاب التفسیر اخری صفحه (مترجم)۔

ترجمه: دا خلق چه مشرکین ئے خپلے حاجت روائی یا مشکل کشائی د پاره

Maktaba Tul Ishaat.com

بلی۔ هغوئ خپله خپل رب طرف ته د رسیدلو ذریعه لټوی۔

د حجاج بن علاط د اسلام راوړلو سبب :-

حضرت واثله بن اسقع رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی : د حضرت حجاج بن علاط البهزاری سلمی رض د اسلام راوړلو سبب دا شو چه هغه د خپل قوم څو افراد و سره مکے ته روان شو۔ کوم وخت چه خطرناکه وادئ کښے نشپه راغله۔ نو هغه ته ملګرو اووے : اے ابو کلاب! پاڅه خپل ځان او ملګرو دپاره آمان اوغیښه۔ نو حجاج رضی الله عنه راپاڅید او د هغوے ګیرچاپیره ئے چکر او لږولو۔ او حد بندی ئے اوکړه او دا شعرے ئ اووے :

اعیذ نفسی و اعیذ صحبی

من کل جن بهذا النقبی

حتی اذوب سالما و رکبی

زه د خپل ځان او خپل جماعت دپاره پناه طلب کوم د دے وادی د هر جن نه۔ حتیٰ چه زه او زما جماعت صحیح او سالم واپس لاړ شی۔

حضرت حجاج بن علاط فرمائی: ما دے اشعار وئیلو نه پس چا نه دا ایت واوریدلو:

يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ تَنْفُذُوا مِنْ أَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ فَانْفُذُوا لَا تَنْفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَانٍ (سوره رحمٰن ایت ۳۳)

ترجمه :- اے د جن او انس ډلے ! که تاسو ته دا قدرت شته چه د آسمان او مزکے د حدودو نه چرته بهر اوځئ (او موښ هم اووینو) او ځئ نو

Maktaba Tul Ishaat.com

طاقت نہ بغیر نشئ وتلے (او طاقت نشتہ نو د وتلو واقع کیدل هم ممکن نہ دی)۔

هرکلہ چہ دوئ مکے تہ اورسیدل۔ د قریشو مجلس تہ ئے اوبنودل نو هغوئ اووے: اے ابو کلاب! قسم پہ خدائے تہ بے دینہ شوے یئے د محمد صلی اللہ علیہ والہ وسلم دعویٰ دہ چہ دا ایت هغہ تہ نازل شوے دے۔ هغہ اوفرمائیل: قسم پہ خدائے دا ما هم اوریدلے دے۔ او زما ملگرو هم۔ دوئ د غسے ناست وو۔ چہ عاص بن وائیل راغے۔ نو قریش کفارو هغوئ تہ اووے: اے ابو هشام! ابو کلاب چہ څہ وائی تا هم اوریدلی دی؟ هغہ اووے: دے څہ وائی؟ نو هغہ ورتہ خپلہ واقعہ اوبنودلہ۔ عاص بن وائیل اووے: تاسو دے سرہ ولے حیرانیږئ دا ایت چہ دہ هلتہ اوریدلے دے۔ دا د حضرت محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ژبے مبارکے باندے القاء شوے دے۔ بیا هغہ کفار قوم زہ د محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم نہ منع کړم۔ لیکن دے معاملہ کښے زما بصیرت نور هم زیات شو۔ نو د حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم د تږہ خوږے او بنودل۔ چہ هغوئ د مکے معظمے نہ مدینے منورے تہ تلے دی۔ نو زہ پہ خپلہ سورلئ سوریدو سرہ روان شوم۔ حتی چہ د حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم خدمت شریف کښے حاضر شوم۔ او څہ چہ ما اوریدلی وو۔ حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم تہ مے عرض کړل۔ نو حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

سَمِعْتَ وَاللّٰہِ الْحَقَّ هُوَ وَاللّٰہِ مِنْ كَلَامِ رَبِّيَ الَّذِيْ اَنْزَلَ عَلَيَّ وَلَقَدْ سَمِعْتَ حَقًّا يَا اَبَا كَلَابٍ ط

ترجمہ: اے ابو کلاب! قسم پہ اللہ تا چہ څہ واوریدل۔ حق دے واوریدل

Maktaba Tul Ishaat.com

قسم په الله! دا زما د رب کلام دے۔ چه هغهٔ په ما نازل کړے دے.

نو ما عرض اوکړه - یا رسول الله صلی الله علیه واله وسلم! تاسو ما ته د اسلام تعلیم را کړئ. نو حضور صلی الله علیه واله وسلم ما ته د کلمهٔ اسلام کوامی راکړله: او وے فرمائیل:

سِرْ اِلٰی قَوْمِكَ فَادْعُهُمْ اِلٰی مِثْلِ مَا اَدْعُوْكَ اِلَيْهِ فَاِنَّهُ الْحَقُّ.

ترجمه:- خپل قوم طرف ته روان شه - هغوئ ته د دے دعوت ورکړه! څنګه چه ما تا ته د دے دعوت درکړے دے. دا دین حق دے. (ابن ابی الدنیا هواتف الجان - منه - الهواتف (۴۱) ص۴۳، کنز العمال حدیث نمبر ۳۶۹۷۹ بحوالۀ هواتف ابن ابی الدنیا وتاریخ د مشق ابن عساکر) د دے روایت کښے سوید او محمد بن عبد الله لیثی ضعیف دی. (کنز العمال ۱۳/ ۳۴۹)۔

د هاتف جنات په ذریعه هدایت:-

حضرت عمر رضی الله تعالی عنه یوه ورځ د خپلو همنشینو حضراتو کښے موجود افرادو ته اوفرمائیل: د جناتو متعلق څه ذکر اوکړئ. نو یو سړی اووے: اے امیر المؤمنین! زهٔ خپل ملګرو ته ملك شام د پاره اوو تلم - مونږ یوه ښکر ما ته هوسئ اوښیوله - هغه وخت مونږ ځلور سړی وو - زمونږ د روستو نه یو سړے راغے - هغهٔ اووے: دا پریږده ما ورته اووے: زما دے په خپل ژوند قسم وی - زهٔ دا بالکل نهٔ پریږدم هغهٔ اووے: تاسو مونږ د دے لار کښے لیدلی یو - قسم په الله مونږ د لس افرادو نه هم زیات یو - او مونږ جنات انسانان هم تښتوو - یا امیر المؤمنین! هغهٔ د دے وئیلو سره زهٔ پاګل کړم - حتی چه مونږ د سیر عنین ته اورسیدلو - او بیا هلته نه هم روان شو - هغه هم مونږ سره وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

چه ناڅاپي يو هاتف آواز اوکه

يَا اَيُّهَا الرَّكْبُ السراع الاربعة ۔۔ خلوا سبيل النافر المروعة

مهلا عن العضباء فى الارض سعة ۔۔ ولا اقول ما قال كذوب اِمَّعَة

ترجمه : اے د ځلوب افرادو تيز جماعته ! دا تښتيدونکے خوفزده هوسئ پريږدئ - دا سنکرماته هوسئ پريږدئ - ځنګل کښے نورے هوسئ هم بيامندے شئ - زه د دروغجن فسادى په شان دروغ نه وايم -

نو اے اميرالمؤمنين ! ما د هغه هوسئ رسئ د خپلے سورلۍ نه پرانسته - نو مونږ ته يوه ډيره لويه قبيله راغله - او زمونږ مخکښے يے خوراک څکاک پيش کړ - بيا مونږ ملک شام ته لاړو - او د خپل کار نه فارغيدو سره واپس شولو - کوم وخت چه مونږ هغه مقام ته اورسيدو چرته چه هغه قبيلے زمونږ استقبال کړے وو - نو هلته هيڅ هم نه وو - اے اميرالمؤمنين ! ما ته يقين اوشو - چه داجنات وو - بيا زه يو کرجاکر ته ورغلم - نو يو هاتف آواز راکړو :

ايّاك لا تعجل وخذ عن ثقة ۔۔ اسير سير الجد يوم الحقحقة

قد لاح نجم واستوى بمشرقه ۔۔ ذو ذنب كالشعلة المحرقة

يخرج من ظلماء عسر موبقة ۔۔ انى امرؤ انباؤه مصدقة

ترجمه : (۱) تاسو تادى مه کوئ - زما نصيحت مضبوطے سره ټينګ اونيسئ - د تيز ترين تلوتکے ورځ په شان ډيرے تادۍ سره روان شئ

(۲) يو ستورے ځليدلے دے - او مقام طلوع يے راګير کړے دے -

Maktaba Tul Ishaat.com

سوزونکے شعلے پہ شان دُم دارد ے ،

(۳) دے هلاکوونکے تنکے او تیاری وادی نہ اطلاع شوے دہ ۔ زۂ هغہ سرے یم ۔ چہ د هغۂ اطلاع درست وی ۔

نو اے امیرالمؤمنین! کوم وخت چہ زۂ واپس راغلم ۔ نو حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم دخپل نبوت اعلان کولو ۔ هغوئ ماتہ د اسلام دعوت راکړو ۔ نو زۂ مسلمان شوم ۔

یو بل سری بیان اوکړو ۔ اے امیر المؤمنین! زۂ او زما یو ملګرے څہ کار لہ لاړو ۔ نو مونږ یو سوار سرے اولیدلو ۔ کوم وخت چہ هغہ مقام ،، مزجرالکلب ،، تہ نزدے اورسیدلو ۔ نو یو اوچت آواز ئے اواز اوکړو ۔

احمد یا احمد اللہ اعلی وامجد ، محمد اتانا بالہ یوحد ، ید عوا الی الخیر فالیہ فاعمد ۔

ترجمہ :۔ اے احمد اے احمد! اللہ ډیر بلند او بزرګی والا دے ۔ حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم مونږ تہ صرف د یو خدائے د دعوت راکولو د پارہ تشریف راوړے دے ۔ هغوئے مونږ تہ د ښیګړیا دعوت راکوی تاسو هغوئے تہ حاضری ورکړئ ۔

د هغۂ دے خبرے مونږ اوډیرولو ۔ بیا هغۂ خپل کس طرفتہ آواز کولو سرہ اووے ،

انجز ماوعد من شق القمر :۔ اللہ اکبر النبی ظہر

ترجمہ : هغۂ چہ د سپوږمئ د دوہ ټکړے کولو کومہ وعدہ کړے وہ هغہ ئے پورہ کړلہ ۔ اللہ اکبر (د ټولو نہ لوئے شان والا) نبی ظاهر شو ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

کله چه زهٔ واپس راغلم - نو حضور صلی الله علیه واله وسلم راليږلے شوے وو- هغوئ د اسلام دعوت راکړو - نو زهٔ مسلمان شوم۔

بیا حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه بیان اوفرمائیلو: زهٔ د جنات نو یو ذبح شوی خاروی سره وم - چه د هغے د ننه نه یو هاتف آواز اوکړو اے ذریح، اے ذریح! چغه وهونکے چغه وهی- کامیابے معاملے د پاره نجات ورکوونکے هدایت د پاره وائی: لَآ اِلٰـهَ اِلَّآ اللّٰهُ: الله نه سوا بل معبود نشته- نو ما واپس راتللو سره اولیدل چه حضور صلی الله علیه واله وسلم تشریف راوړے وو- هغوئ د اسلام دعوت راکړو نو زهٔ هم مسلمان شوم۔ (ابن ابی الدنیا-منه- هواتف الجان ابن ابی الدنیا (۹۴) صلـــ) .

فائده :- د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه چه د اسلام راوړلو کومه واقعه مشهوره ده - کیدے شی چه دا واقعه هم د هغهٔ د اسلام راوړلو سبب وی- (مترجم) -

دَ خریم بن فاتك بدری صحابی رضؓ د اسلام راوړلو سبب :-

حضرت خریم بن فاتك رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: زما یو اوښ ورك شو- زهٔ د هغے تلاش کښے اووتم - کوم وخت چه زهٔ (بارق الغراف) مقام ته اورسیدم - خپله اوښه مِ کینوله- او پښے مِ ورله اوتړلے- بیا ما دا وئیل شروع کړل،

اعوذ بسید هٰذاالوادی .:. اعوذ بعظیم هٰذا الوادی

ترجمه: زهٔ د دے وادی د سردار پناه غواړم - زهٔ د دے وادی د عظیم شخصیت پناه غواړم۔

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا ما خپل سر (خوب دپاره) په اوبنه کینبودلو- نو د شپې وخت یو هاتف آواز راکړو- هغهٔ اووے:

لا نعذ باللّٰہ ذی الجلال :. ثم اقراء ایات من الانفال
ووحد اللّٰہ و لا تبال :. ما هول الجن من الا هوال

ترجمه:-(۱) اے واوره! جلال والا اللّٰه نه غواړه- بیا د سورهٔ انفال نه اٰیات تلاوت کړه.

(۲) اللّٰه یو اوګنړه- او د هغهٔ خوف مهٔ کوه، د خنو نه چه جنات ویروی- نو زهٔ ویرے سره را پاڅیدم- او دا مِ اووے:

یا ایها الهاتف ما تقول
ارشد عندکم تضلیل

ترجمه: اے هاتفه! ته څهٔ وائے؟ ایا تا سره د هدایت خبره ده یا د ګمراهئ؟

هغهٔ جواب ورکه:-

هٰذا رسول اللّٰہ ذوالخیرات :. بیثرب یدعوا الی النجات
وینزع الناس عن الهنات :. یا مر بالصوم والصلوٰة

ترجمه:-(۱) دے د اللّٰه رسول دے- د خیر مالک دے د مدینه منوره کښے د نجات دعوت ورکوی.

(۲) خلقو نه غم او رنځ لرے کوی، د مونځ او روژے حکم ورکوی د هغهٔ د اخیره زمانه ته پریوتله- زهٔ د خپل اوبښ طرف ته ورغلم د هغه پښے مِ پرانستے او په هغه کیناستم! او ما اووے:

ارشدنا رشدًا هدیتا :. لا جعت ما عشت ولا عریتا

Maktaba Tul Ishaat.com

بیِّن لی الرشد الذی اوشیتاءُ

ترجمہ:- مونږ ته د هغهٔ پته راکړه - چه د هغهٔ نه تا هدایت بیا موندهٔ هرکله چه ته سیراب شوے - نو تږے نهٔ شوے، او نهٔ بے ستړه شوے ما ته د هغې هدایت لار اوښایه! کوم چه تا ته عطاء شوے دے -

نو هغهٔ جواب راکړو :

صاحبک اللّٰہ وسلم نفسکا ۔۔ وعظّم الاجر وادی رحلکا

امن بہ افلح ربی کعبکا ۔۔ وابدل لہ حتی المماتَ نصرکا

ترجمه:- الله تا طرف ته متوجه شوه - او ته دې (د دوزخ نه) محفوظ کړلے - ستا ثواب دې زیات کړي - او ستا سورلی دې واپس کړله -

(۲) په هغهٔ ایمان راوړه! پروردګار دے ستا شان بلند کړی آخری دَم پورے د حضور صلی اللّٰہ علیه واله وسلم مدد کښے مشغول اوسه! ما تپوس اوکړه - ته څوک یې؟ هغهٔ اوویل : زهٔ د اهل نجد سردار مالک بن مالک یم - د حضور صلی اللّٰه علیه واله وسلم خدمت کښې حاضر شوے یم - او ایمان مې راوړے دے - او د هغوے په لاس مې اسلام قبول کړے دے - حضور صلی اللّٰه علیه وآله وسلم زهٔ نجد کښې اوسیدونکو جنګیانو طرف ته رالیږلے یم - چه زهٔ هغوئ د الله عبادت او اطاعت طرف ته اوبلم - اے خُریم! ته هم مؤمنانو کښې شامل شه! هرکله چه ته کور ته اورسے - نو ستا اوښ به هم رسیدلے وی - زهٔ به هغه تلاش کړم حضرت خریم رضی اللّٰہ تعالی عنه فرمائی: (دویم اوښ باندے سوریدو سره) مدینه کښې حاضر شو - دا د جُمعے ورځ وه - د حضور صلی اللّٰه علیه وآله وسلم خدمت کښې تلل مې غوښتل - حضور صلی اللّٰه علیه واله وسلم هغه وخت

Maktaba Tul Ishaat.com

په ممبر خطبه ارشاد فرمائیله۔ ما اووے : اوښ د جومات (مسجد) دروازے سره ترم۔ کوم وخت چه حضور صلی الله علیه وآله وسلم د مونځ نه فارغ شي۔ نوخپله واقعه به ورته عرض کړم۔ ما چه اوښ کینولو۔ نو حضرت ابوذر ماته تشریف راوړلو۔ او هغهٔ اووے : اے خریم په خیره راغلے۔ حضور صلی الله علیه واله وسلم زهٔ تاته رالیږلے یم۔ حضور فرمائی په خیره راغلے! ستا د مسلمانیدو خبر ماته رارسیدلے دے۔ راشه اخلقو سره مونځ اداء کړه۔ نو زهٔ داخل شوم۔ او صحابه کرامو رضی الله عنهم سره م مونځ اداء کړ۔ بیا د حضور صلی الله علیه واله وسلم خدمت کښے حاضر شوم۔ دا واقعه م ورته واوروله۔ نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم اوفرمائیل :

قَدْ وَفٰى لَكَ صَاحِبُكَ، وَقَدْ بَلَغَ لَكَ الْدِ بِلَ، وَهِيَ بِمَنْزِلِكَ.

ترجمه :۔ ستا ملګرے (مالك بن مالك) تا سره کړے وعده پوره کړے ده۔ او ستا اوښ ستا کور ته رسیدلے دے۔ (تاریخ محمد بن عثمان بن ابي شيبه، طبرانی، ابن عساکر منه۔ طبرانی کبیر (۳۱۶۵، ۳۱۶۶) الهواتف(۹۴) ص۹۷، مجمع الزوائد ۸/ ۲۵، مستدرک حاکم ۳/ ۶۲۱، وتعقبه الذهبي بقوله لم يصح، اسد الغابه ابن اثیر ۵/ ۴۷، ۴۸، الاصابه ۶/ ۳۳، کلاهما عن الطبرانی)۔

د سعد بن عباده رض قاتل جن وو :۔

حضرت محمد بن سیرین رح فرمائی : چه حضرت سعد بن عباده رض د قیام حالت کښے په ولاړه ولاړه وفات شوے وو۔ جنانو قتل کړے وو۔ حاضرینو کښے چا دیو ویونکی دا شعر هم اوریدلے وو :

Maktaba Tul Ishaat.com

قتلنا سید الخزرج سعد بن عبادة ۞ رمیناه بسہم فلم یخط فواده

ترجمه:۔ موبنږ د قبیله خزرج سردار سعد بن عباده قتل کړلو۔ موبنږ په هغهٔ داسے تیرا وچلولو۔ چه د هغهٔ زړهٔ ئے نښیر کړلو۔ (مسند الحارث ۔منه۔)

د ښځے شیطان:۔

حضرت سالم بن عبد الله (بن عمر رض) فرمائی: حضرت ابو موسیٰ اشعری رضی الله تعالیٰ عنه ته خبر راوړو نکے د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه جن راتلو کښے تأخیر اوکه۔ نو ابو موسیٰ یوے ښځے له ورغے۔ چه د هغے دننه نه شیطان خبرے کولے۔ حضرت دَ هغے نه تپوس اوکړو نو هغے اووے۔ ما هغوئے په څادر ترلی لیدلی دی۔ حضرت د صدقے اوښان جمع کول۔ د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه دا شان وو۔ چه کله به یو شیطان اولیدلو۔ نو پرمخے به راپریوتلو۔ فرشته به د حضرت مخے ته وه او روح القدس به د حضرت په ژبه خبرے کولے۔

(ابن ابی الدنیا، ابن عساکر۔ منه۔ الهواتف ابن ابی الدنیا (۱۶۵)

د مذکوره واقعے تفصیل:۔

حضرت سالم بن عبد الله (بن عمر رضی الله تعالیٰ عنه) فرمائی: د بصرے کورنر حضرت ابو موسیٰ اشعری رض ته د حضرت عمر رض خبر رسیدو کښے تأخیر اوشو۔ هلته یوه ښځه وه۔ چه د هغے اړخ کښے به شیطان خبرے کولے۔ ابو موسیٰ اشعری رض هغے ښځے ته قاصد اولیږلو۔ نو هغهٔ هغے ښځے ته اووے: خپل شیطان ته اووایه۔ چه هغه لاړ شی۔ د امیر المؤمنین حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه خبر راوړی۔ نو هغے جواب ورکړو۔ چه حضرت دا وخت یمن کښے دے۔ عنقریب رابه شی۔ نو دوے انتظار کښے وو۔ بیا

هغه حاضر شو۔ نو هغوئ ورته اوفرمائیل۔ ته د دویاره لاړ شه! او دامیرالمؤمنین خبر راوړه۔ ځکه چه د هغوئ تاخیر مونږ ډیر پریشانه کړی یو۔ نو شیطان اووې: حضرت عمر رضی الله عنه یو داسې سړے دے۔ چه د هغه مخے ته د راتلو زمونږ طاقت نشته۔ د هغه د دواړو سترګو مینځ کښې روح القدس جلوه ګر دے۔ الله تعالی هیڅ داسې شیطان نشته دے پیدا کړے۔ چه کله هغه د حضرت آواز واوری نو په مخے راغورځیږی۔ (فضائل الصحابه عبدالله بن امام احمد بن حنبل رح۔ منه۔)۔

د جناتو ډاکی (ډاک اوړونکے):۔

روایت دے چه حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه یو لښکر د دشمنانِ اسلام سره جهاد د پاره) اولیږلو۔ بیا یو سړے راغے۔ او مدینے والاؤ ته ئے اطلاع ورکړه۔ چه مسلمانانو په دشمنانو فتحه بیاموندے ده دے خبر مدینه منوره کښې ګردش کولو۔ حضرت عمر رضی الله عنه د دے متعلق تپوس اوکړ۔ د حضرت نه ذکر اوشو۔ نو وې فرمائیل: د ابوالهیثم د مسلمان جناتو خبر رسان دے۔ عنقریب انسانانو ته هم خبر رسان رارسید ونکے دے۔ نو څو ورځو کښې هغه هم راورسید لو۔ (بلا حواله از مصنف علامه سیوطی رح)۔

تنبیه:۔ عنوان فی "نعی الجن عبدالله بن جدعان ص۱۹۳ نه واخله فی بیان نوح الجن علیٰ آمنة ام رسول صلی الله علیه واله وسلم ص۲۰۷ پورے د حصه نوحۀ قصائد پورے دے، چه هغه د بعض مصلحت په وجه د ترجمے نه حذف کړے شوے دی:

Maktaba Tul Ishaat.com

اوړهٔ کوونکے جنّ :-

نوف البکالی وائی : د حضرت سلیمان علیہ السلام یوے وینزے یہ هره شپه د رے قفیز (یوه پیمانه ده) اوړهٔ کول۔ هغے له شیطان راغے۔ او هغه سمندر طرف ته یوتلو سره یے دوه تهکړے کړو ۔ او میچن (چکّی) یے تړے واخسته۔ بیا هغه به خپله هغے هره شپه غنم اوړهل ۔ اولږ ساعت کښے اوړولو سره حضرت ته یه یے را وړهل ۔ حضرت سلیمان علیه السلام د هغهٔ دے کار سره ډیر حیران شو نو د یوے وینزے نه یئے د دے سبب اوتپوسلو۔ نو هغے ورته هغے شیطان طرف ته اشاره اوکړه ۔ نو حضرت د سمندر نه چاپیره د بنږے د چیچے کار اوکړلو۔ حضرت سلیمان علیه السلام ړومبنے سړے دے چه دا کار یے کړے دے. (اعتلال القلوب خرائطی -منه-)

د ابلیس خواهش :-

حضرت مجاهد مشهور تابعی مفسر) وائی : ابلیس الله تعالی ته دا خواهش کړے وو- چه هغه خپله خو وی- لیکن بل انسان هغه نه وینی او دا چه هغه د مزکے نه لاندے هم ظاهر شی ۔ او دا چه هغه بوډا شی نو بیا ځوان شی۔ د هغهٔ دا دریواړه خواهشات پوره کړے شول (تفسیر ابو الشیخ -منه-)

جنّات شیاطین نشی لیدے :-

نعیم بن عمر وائی : څنګه چه انسان جنات نشی لیدلے. د غسے جنات هم شیاطین نشی لیدلے ۰ (کتاب العظمة ابوالشیخ-منه-)

Maktaba Tul Ishaat.com

دشیطان د مقابلې طریقه :-

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمائی : د چا مخکښې چه شیطان ظاهر شي۔ نو هغهٔ نه دے مخ نهٔ اړوی۔ بلکه په هغهٔ دے نظر ښخ کړی۔ ځکه چه ستاسو د ویریدو نه هغوے ستاسو نه زیات وریږی۔ که ځولهٔ هغهٔ ته متوجه نهٔ شي۔ نو هغه پرے سوریږی۔ او که سترګے سره سترګے یو ځائے شي۔ او ځهٔ اهمیت ورنهٔ کړی۔ نو هغه به تښتی۔ مجاهد رح فرمائی : دا واقعه ما سره هم پیښه شوه۔ ما چه شیطان اولیدهٔ۔ نو د حضرت ابن عباس رض فرمان راته یاد شو۔ ما هغهٔ ته څهٔ اهمیت ور نه کړو۔ او روان وومـ۔ نو هغه ما نه ویرید و سره اوتښتیدلو۔ (کتاب الغطمة ابوالشیخ منه۔)

شیطان د کلام حقیقت اوښودلو :-

یو روایت کښې راځی : چه حضرت سلیمان بن داؤد علیه السلام یو قیدی شیطان نه تپوس اوکړو۔ د خبرے حقیقت څهٔ دے ؟ هغهٔ اووے : دا هوا ده۔ حضرت سلیمان علیه السلام پوښتنه اوکړه۔ د دے د پابندکولو څهٔ طریقه ده ؟۔ هغهٔ اووے : لیکل۔ (طیوریات۔ منه۔)

د جنّ د دعوت اسلام عجیبه واقعه :-

حضرت کلبی رحمة الله تعالی علیه فرمائی : خنافرین توأم یو کاهن (تروین) وو۔ هغه یو سرسبزه وادئ ته لاړ۔ د هغهٔ د کفر زمانه کښې یو رهنما جنّ وو۔ هر کله چه اسلام ظاهر شو۔ نو هغه ورک شو دا کاهن وائی : زهٔ د عسے هغے وادئ کښې وومـ۔ چه د عقاب د رفتار په شان هغه ما له راغے۔ خنافر وائی : ما ترے تپوس اوکړو۔ شصار (د

هغه جن نوم وو) نُه؟ هغهٔ اووے: هاں! زهٔ خهٔ وئیل غواړم.
ماورتهٔ اووے اورم به. هغهٔ اووے. واپس راشه! غنیمت به بیاموهے
د هرامُت انتهاوی. او د هر ابتداء اختتام. ما اووے: درست دهٔ.
هغهٔ اووے: د هر حکومت یو عمر وی. بیا سرگردانی. تمام مذهبونه
منسوخ شو. او حقائق اصل دین طرف تر راغلل. ما ملک شام کښے د
آل العدام څهٔ خلق د حاکمانو حکام لیدلی دی. چه د بارونق کلام طلب
ګار دی. هغه چوړ شوے شعر هم نهٔ دے. او هغه تکلف سجعه
بندی هم نه ده. ما ورتهٔ توجه اوکړه. ورتهٔ مِ اووے: تاسو کوم
څیز سره خوشحالیږئ؟ او د څهٔ څیز نه پناه غواړئ؟ هغوئ
اووے: دیر لوئے خطاب دے چه د بادشاه جبّار د طرف نه راغلے دے.
اے شصار! ترهٔ هم داسے کلام واوره! او واضح ترینه لاره پاندے روان!
شه! چه سخت ترین اور نه نجات بیاموهے.

ما اووے: دا څهٔ کلام دے؟

هغوئ اووے: دا کلام کفر او ایمان جدا جدا کوی. دا د
قبیله مضر رسول (حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم) راوړے دے.
چه انسانانو کښے ظاهر شوے دے. او دا سے فرمان ئے راوړے دے
چه تهولو نه ئے سبقت اوړے دے. واضحه لار والا دے. چه باقی
تولے نښے ئے ورانے کړی دی. دے کښے عبرت حاصلونکی د پاره عبرتونه
دی. ما تپوس اوکړو دے لوئے ایت سره څوک راالیږلے شوے دے؟
هغوئ اووے: (حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم) تمام انسانانو کښے افضل
دے. که ته ایمان راوړے. نو لوئے دولت به بیاموهے. او که نافرمانی اوکړے

Maktaba Tul Ishaat.com

نو دوزخ ته به ځې .

اے خنافر ! ما خو ایمان راوړلو - او ستا طرف ته تیزئ سره راغلے یم - ته ئې هم کفر نه لرے شه ! او د هر مؤمن همقدم جوړه شه ! کنے ستا او زما لار جدا ده -

هغه کاهن وائی : زه سوریدو سره صنعاء (یمن) کښې حضرت معاذ بن جبل رضی الله تعالی عنه ته حاضر شوم - او د اسلام بیعت م حاصل کړو - او د دے متعلق ما اووے :

الم تر ان الله عاد بفضله ﴿ وانقذ من لفح الرحیم خنافرا

دعانی شصار للتی لو رفضتها ﴿ لأصليت جمرا من لظی الهوب جائرا

ترجمه :- (۱) تاسو نه وینئ الله تعالی خپل فضل اوکړو او خنافر ئې د دوزخ د لمبو نه لرے کړ -

(۲) ما ته شصار د دین دعوت راکړو - که ما هغه پریښے وے نو ظالم جوړیدو سره د ذلت شعلو سره به د دوزخ اور کښې غورځولے شوے وے . (الاخبار المنثوره ابن درید - منه -)

د حضرت عثمان رض قتل کښې د جنات طرف نه مذمت :-

حضرت بی بی نائله بنت فرافصه رح فرمائی :- کوم وخت چه د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه د شهید کولو د پاره خړ خلق کور ته ننوتل زه هغه وخت حجره (کوټکۍ کښې ووم - هغوئ ته یو هاتف د وکټ نه په زوره اووے :

فان تکن الدنیا تزول عن الفتی ﴿ ویورث دار الخلد فالخلد افضل

وان یکن الاحکام ینزل بها القضا ﴿ فما حیلة الانسان والحکم ینزل

Maktaba Tul Ishaat.com

فلا تقتلوا عثمان بظلم جهلة ؛ فانكم عن قتل عثمان تسالوا

ترجمه: (۱) که د نیا دے ځلمی نه لرے کیدل غواړی - او د جنت وارث کیدل غواړی - نوجنت افضل دے -

(۲) که د شهادت احکامو سره قضاء راکوزه شوے ده - نو انسان څه حیله کولے شی - حکم خو نازل شوے دے -

(۳) حضرت عثمانؓ جهالت او ظلم سره مه قتلوئ - تاسو نه به د قیامت په ورځ د حضرت عثمان رضی الله عنه د خون باره کښے حساب اخستلے شی -

لیکن هغے ظالمانو حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه شهید کړلو - او د هاتف د آواز ے هیڅ پرواه او نه کړله - (تاریخ ابن نجار - منه -)

فائدہ :- د ابی بی نائله رضی الله تعالی عنها د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه ښځه وه - د حضرت د شهادت په وخت په ډیرے بهادرئ سره د هغهٔ نه د قاتلانو د لرے کولو کوشش اوکړو - هر کله چه هغوئ په حضرت عثمان رضی الله عنه توره چلوله نو هغے خپل لاس سره توره منعه کړه - چه هغے سره ئے ګوتے پرے کړے شوے - او حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه شهید کړے شو بیا هغه بهرته راوتلو سره فریاد ئے اوکړو - او قاتلان او تنبیدل -

انسانانو باندے د شیاطینو د غصے شدّت :-

(حدیث شریف) حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه فرمائی : جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د شب معراج باره کښے ارشاد او فرمائیلو :

Maktaba Tul Ishaat.com

لَمَّا نَزَلْتُ اِلَى السَّمَآءِ الدُّنْيَا نَظَرْتُ اَسْفَلَ مِنِّيْ فَاِذَا اَنَا بِرَهْجٍ وَ دُخَانٍ وَاَصْوَاتٍ فَقُلْتُ مَا هٰذَا يَا جِبْرَائِيْلُ؟ قَالَ هٰذِهِ الشَّيٰطِيْنُ يَحُوْمُوْنَ عَلٰى اَعْيُنِ بَنِيْ اٰدَمَ وَلَا يَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ مَلَكُوْتِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَوْ لَا ذٰلِكَ لَرَاَءَوْا الْعَجَائِبَ ط

ترجمه:- هرکله چه زهٔ رومبنی آسمان باندے کوز شوم - نوما ته د اور لوګی او آوازونه په نظر راغلل - ما تپوس اوکه اے جبرائیل علیه السلام! دا څهٔ دی؟ هغهٔ اوویے دا شیاطین دی - چه انسانانو له چاپیره تاویږی - او د آسمانونو او مزکے طرف ته نهٔ ګوری - که دوی دے طرف ته اوګوری - نو ډیر لوئے لوئے عجائبات به ورته په نظر راشی - (مسند احمد وابن ابی شیبه - منه - مسند احمد ۲/۳۵۳، ۳۶۳، الدر المنثور ۴/۱۵۲، ۱۵۳، بحواله ابن ابی شیبه وابن ماجه وابن ابی حاتم وابن مردویه) -

فائده:- یعنی شیاطین د ابلیس د مردود کید وبه وجبه د انسانانو دشمن دی - او د حسد اوبه دوئ دالله د یاد نه راګرځوی دی - دوئ صرف د انسانانو ګمراه کولو پسے لګیدلی دی - که دا تکبر پرے پریږدی - د الله عظمت طرفته اوګوری، نو د مسلمانانو په شان به د دنیا او آخرت کښے د وے ته لوئے لوئے عجائبات په نظر راشی -

د بیت المقدس د تعمیر عجیبه واقعه -

حضرت وهب بن منبه رح فرمائی: کوم وخت چه حضرت سلیمان علیه السلام د بیت المقدس د تعمیر اراده اوکره - نو شیاطینو ته ئے اوفرمائیل: ماته الله تعالیٰ د یو کور جوړولو حکم کړے دے - چه

Maktaba Tul Ishaat.com

د هغې کانړے او سپینے سره نه وې پریکړے شوے۔ نو شیاطینو اووے: د دے هیڅوك طاقت نهٔ لري۔ خو یو شیطان چه د هغهٔ د ځنګلو سمندر کښے یو ځائے دے۔ د دے هلته راځئ۔ حضرت اوفرمائیل: تاسو د هغه د هغې ځنګلو ځائے ته لاړ شئ۔ د هغې اوبه اوکاږئ۔ د هغې په ځائے شراب ډك کړئ۔ هر کله چه هغه ځنګلو د پاره راغے۔ نو هغهٔ ته یوے محسوس شو۔ نو څه ئے اووے:

لیکن اوبه ئے او نهٔ څکلے۔ چه ډیر تږے شو۔ نو راتلو سره هغه شراب ئے اوڅکل۔ د غسے هغه ګرفتار کړے شو۔ هر کله چه شیاطینو هغه شیطان قیدولو سره راوستو۔ نو لار کښے یو سړی هغه اولیدلو چه اوګه (لهسن) ئے د پیازو بدل کښے خرڅوله۔ نو هغهٔ اوخندل۔ بیا په یوه بنځه خبره شو۔ چه د خلقو مخکښے ئے د غیب خبرے بنودلے د هغې لیدو سره هم په خندا شو۔ کوم وخت چه دے د حضرت سلیمان علیه السلام خدمت کښے پیش کړے شو۔ نو د هغهٔ د خندا خبر هم ورکړے شو۔ نو حضرت د هغهٔ نه تپوس اوکړو۔ هغهٔ اووئ: زهٔ چه په کوم سړی تیریدم هغه دوا (لهسن) د پیازی (پیاز) په بدله کښے خرڅوله (په دے وجه ما اوخندل) او د ښځے خوا کښے چه تیر شوم چه د غیب خبرے ئے خلقو ته کولے۔ حالانکه د هغې لاندے خزانه وه۔ خو هغې ته د هغې علم نهٔ وو۔ نو حضرت سلیمان علیه السلام هغهٔ ته د نعمیر نوعیت اوښودلو۔ نو هغې شیطان اووے: چه هغهٔ ته د دے د او سپینے دومره لوے دیګ راوړلے شي۔ چه یو ډیر لوے جماعت ئے هم نهٔ شي اوچتولے۔ بیا تاسو هغه د ګنجی په بڅو کیږدئ۔ نو هغوئ د غسے

بیا دے هغې د یکۍ له ورځې - لیکن هغې بیا هم ته او نهٔ رسیدلے شو - او هغه بچے فضائے آسمان ته والوتلو - بیا واپس راغے - نو د هغهٔ په منبوکه کښے یو لړګے وو - چه هغهٔ په هغې د یکۍ کیښودلو - او هغه د یکے دوه ټکړے شو - نو دے هغه لړګی ته ورغلو او څغلیدلو - لیکن هغهٔ ورته مخکښے نه او چت کړلو - هغې سره به معمارانو بیت المقدس دیاں اوسپینے سره پریکولو بغیر به کانړي جوړول - (فضائل بیت المقدس ابوبکر واسطی - منه -) -

د بسم الله د طاقت عجیبه واقعه :-

حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنه فرمائی : حضرت عمر رضی الله تعالی عنه اصحاب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره مجلس کښے جومات (مسجد) کښے تشریف فرما وو - او خپلو کښے ئے فضائل قرآن باندے مذاکره کوله - هغوئے کښے یو اووئے ، د سورة برأت اختتام افضل دے - یو اووے : د سورهٔ بنی اسرائیل اختتام افضل دے - یو اووے : کهیعص او طه افضل دے - د غسے هر یو د خپل خپل علم مطابق مختلف اقوال ذکر کړل - د دے حضراتو کښے عمرو بن معد یکرب الزبیدی رضی الله تعالی عنه هم موجود وو - هغهٔ اووئے : اے أمیر المؤمنین ! تاسو خلقو د بسم الله الرحمن الرحیم عجوبه ولے هیره کړله - قسم په خدائے بسم الله الرحمن الرحیم کښے د عجائباتو نه یو ډیر عجوبه خیز دے - نو حضرت عمر رضی الله تعالی عنه نیغ کیدو سره کیناستو او وے فرمائیل ، اے ابو ماثور ! موږ ته د بسم الله الرحمن الرحیم عجوبه بیان کړه !

Maktaba Tul Ishaat.com

نو عمرو بن معدی کرب رضی الله تعالیٰ عنه بیان اوکړ ، اے امیرالمؤمنین! د جاهلیت زمانه کښې (د اسلام نه مخکښې) په مونږ سخته قحط سالی راغله۔ نو ما ځنګل کښې رزق تلاش کولو د پاره آس واچولو۔ زهٔ د دے حالت کښې ووم چه زما مخکښې یو آس۔ څه ښاروی او خیمه په نظر راغله۔ زهٔ چه خیمے ته اورسیدم۔ نو هلته یوه خوبصورت ترینه جینۍ په نظر راغله۔ او صحن کښې یو بوډا د ده وهلے ناست دے۔ ما ورته اووے ؛ څهٔ چه تاسره دی ماته یے راکړه۔ ستا لور دے تا برباد کړی۔ هغهٔ اووے : که میلمستیا غواړے راکوز شه! که مدد غواړے مونږ ستا مدد کوو۔ ما ورته اووے : ستا لور دے تا برباد کړی دا ټول ماته راکړه۔ نو هغه د دا سے بوډا په شان راپاسید۔ چه اوده ریدے نه شو۔ بیا بسم الله الرحمٰن الرحیم لوستلو سره ما طرف ته را مخکښے شو او زهٔ یے ځان طرف ته راکښلم۔ چه زهٔ لاندے شوم۔ او هغه زما د پاسه هغهٔ اووے : زهٔ تا قتل کړم ، یا تا پریږدم۔ ما ورته اووے : ما پریږده نو هغه زما د پاسه نه پاسیدلو۔ ما زړهٔ کښے اووے : اے عمرو ته یو عرب شهسوار یے : د دے بوډا نه تښتیدلو نه مرګ زیات آسان دے نو زما زړهٔ بیا مقابلے د پاره ورته راوپارولم۔ ما ورته اووے : دا ټول مال ماته راکړه۔ ستا لور دے تا برباد کړی۔ نو هغه بِسم الله الرَّحمٰن الرَّحیم ویلو سره دا سے رامخکښے شو او یو دم دا سے یے راښکلم۔ چه زهٔ د هغهٔ د لاندے شوم۔ او هغه زما د سینے د پاسه کینا ستلو۔ هغهٔ راته اووے: قتل د دے کړم ؟ که معاف د دے کړم ؟ ما ورته اووے : ملګه معاف مِ کړه ! نو هغهٔ زهٔ پریښودم ۔ ما بیا اووے: خپل ټول مال ماته

Maktaba Tul Ishaat.com

راکړه ! ستا لوړ دے تا هلاک کړی - هغه بِسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم ط
وئیلو سره بیا ماته قریب راغے - نو ما باندے رُعب خوړ شولو - او
هغۀ زۀ دا سے راکښلم - چه زۀ د هغۀ نه لاندے شوم - نو ما ورته
اووے : ما پریږده ! هغۀ اووے : اوس په دریم ځل زۀ تا نۀ پریږدم!
بیا هغۀ اووے : اے ویرېږے ! هغه تیره توره راوړه ! هغے راوړله -
نو هغۀ زما بوتکه (چوټی) پرېکړه - او پاسید لو - اے امیرالمؤمنین
زمونږ رسم دا وو - چه هر کله زمونږ څوکړه (چوټکه ، ځوَلے)
به پرے کړے شو - نو د هغے د راتوکید و نه مخکښے به مونږ ته خپل
کور ته واپس تلو کښے حیا راتله - نو زۀ یو کال د هغۀ خدمت کولو
باندے راضی شوم - هر کله چه پوره یو کال تیر شو - نو هغۀ ما ته
اووے : اے عمرو ! زما اراده ده - چه ته ئے ما سره ځنګل طرف ته ځے!
نو زۀ هغۀ سره لاړم - هغه وادی ته رسید و سره ځنګل والو ته د
بسم اللّٰه الرّحمٰن الرّحیم آواز اوکړ - نو ټول مارغان خپلے خپلے جالے پریښودو
سره راووتل - بیا په دویم ځل ئے آواز اوکړ - نو ټول د رنده ګان
د خپلو احاطو نه بهر راووتل - بیا په دریم ځل ئے آواز اولیږلو - نو
د مجورے په شان یو اوږد سړے د ویښتو لباس اغوستے په نظر راغے
چه هغے سره په ما رُعب خوړ شولو - نو هغے یو څو ما ته اووے : اے عمرو!
مه ویرېږه ! که مونږ بائیله نو بسم اللّٰه الرّحمٰن الرّحیم ط سره به ئے اوګټو
لیکن مقابله کښے مونږ بائیله -
نو ما اووے : زما مالک د لات و عُزا په وجه مغلوب شو - نو
هغۀ داسے په څپیړه اووهلم - چه په ما سر اوګرځید لو - ما اووے :

Maktaba Tul Ishaat.com

زهٔ به دوباره داسې حرکت نهٔ کوم۔ بیا چه مومنین اوکتل۔ نو ما اووې: زما مالک د بسم الله الرحمٰن الرحیم په برکت اوکتله۔ نو هغې یوځا هغه هغه اوچتولو سره په منکه داسې راوتومبلو۔ څنګه چه بوټی مزکه کښې سنخولې شي۔ بیا د هغهٔ خیمه شلولو سره د هغې نه یې د تورو لالټینې په شان یو ځیز را وښکلو۔ او هغهٔ اووې: اے عمرو! داده ددې دشمن د هوکه او کفر۔ ما ورته اووې: ستا او دده پلیت څهٔ قصه وه۔ هغهٔ اووې: هغه خوبصورته جینۍ چه تا خیمه کښې لیدلې ده۔ هغه نارعه بنت مستوره ده۔ جینا کښې زما یو خوږه بېله وو۔ هغه د حضرت مسیح علیه السلام د دین پابند وو۔ دا د هغهٔ قوم وو۔ هر کال به یو جن دوی نه ما سره جنګ کولو او الله تعالی به د بسم الله الرحمٰن الرحیم د برکته په هغوئ ما ته فتح را کوله۔

مومنین میدان کښې روان وو۔ بیا هغه زما د یو لاس تکیه اخستو سره لوده شو۔ او ما د هغهٔ د لاندې نه د هغهٔ توره رانښکلو سره په هغهٔ یو ګذار په کولی م دواړه پنډۍ ورله غوڅې کړې۔ هغهٔ ما ته اووې: اے غداره! تا خو مره خطرناکه دهوکه راکړې۔ لیکن ما د هغه تکړه تکړه کولې۔ نو هغه وینزه زما مخې ته راغله۔ هغې اووې: اے عمرو! بوډا شیخ څه اوکړل؟ ما ورته اووې۔ جن هغه قتل کړې دے۔ هغې اووې: ته دروغ وائې: بلکه اے غداره! هغه تا قتل کړې دے۔ بیا هغه خیمې ته لاړه په ژړا شوه۔ او څهٔ اشعار ئې اووې:۔

بیا زهٔ خیمې ته د هغې قتلولو له ورغلم۔ نو ما ته هیڅ په نظر رانغلل

Maktaba Tul Ishaat.com

گویا هغه مړ کړې تېره کړې وه (المجالسة للدینوري- منه-)

بچه غل (بچه چور) جنات :-

سعد بن نصر رح وائي: د جناتو یوې ډلې د عیافه بني اسد ذکر اوکړو- او هغوی ته راتلو سره ئې اووې: زمونږ یوه اوښه ورکه شوې ده- ته مونږ سره د قبیله ثقیف نه څوک ملګرې کړه- نو هغوی خپل یو کم عمر هلک ورسره کړلو- نو یو جن هغه ځان پسې سور کړلو او روان بشو- هغوی ته یو وزر مات عقاب په نظر راغې- نو هغه هلک چوکس کیده و سره په ژړا شو- جناتو هغوی ته اووې: تا له څه اوشو؟ هغوی اووې: هاپ وزر مات کړلو- دویم ئې دفعه کړلو- زه په اوچت آواز د الله قسم خورم چه تاسو انسانان نه یئې او نه د اوښې تلاش د پاره راوتلي یئې- نو هغوی هغه هلته اوغورځولو- او هغه هلک کور ته واپس راغې- (المجالسة للدینوري- منه-)

فائده:- هغه جناتو به د هغه هلک د علم او مهارت د خوف نه هغه غورځولې وو- چه داسې نه چه دې مونږ پاره هم یو مصیبت جوړ نه کړي-

جناتو باندې د اوبو څکلو ثواب :-

(حدیث شریف) حضرت جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه فرمائي: جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمایلو:

مَنْ حَفَرَ مَاءً لَمْ يَشْرَبْ مِنْهُ كَبِدٌ حَرِيٌّ مِنْ اِنْسٍ وَجِنٍّ وَلَا سَبُعٍ وَلَا طَائِرٍ اِلَّا اَجَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ -

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: چاچه کوم اونشکلو۔ او هغې سره دیو انسان یا جن یا درنده یاپرنده تنده سړه شي۔ نو د قیامت په ورځ به ورته د هغې اجراو ثواب عطاء کیږي۔ (فوائد سمویه، مختاره لضیاء۔ مقدسی۔ منه۔ الجامع الکبیر للسیوطی ۱/۷۷۲، کنزالعمال ۱۵/۴۳۱۸۹ بحواله ابن خزیمه والشاشی وسمویه، ترغیب وترهیب ۱/۱۹۴، ۲۰/۴۳)

شیطان طرفته د نسبت کولو ممانعت :۔

امام ابن اثیر نقل کوی۔ چه د حضور صلی الله علیه واله وسلم په خدمت مبارک کښې د عربو یو وفد حاضر شو۔ نو حضور صلی الله علیه واله وسلم تپوس اوکړو تاسو د کوم قبیلے خلق یئ؟ هغوئ عرض اوکړو! «بنونهم» د قبیلے نه یو۔ حضور صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل نهم خو شیطان دے، نهم خو شیطان دے. تاسو د شیطان بنده نه یئ بلکه تاسو د الله د بنده اولاد یئ. (نهایه ابن اثیر۔ منه۔)

او دا حدیث د حضرت ابوسلمه رضی الله تعالی عنه په روایت دے چه دا «الهول» شیطان دے۔ کوم چه د نفسونو سره مؤکل دے۔ (نهایه ابن اثیر۔ منه۔ بیهقی ۳/۷۳، مسند احمد ۴/۶۳، مجمع الزوائد ۳/۱۲۳، ۸/۵۰، ۱۴۸)۔

حضور صلی الله علیه وسلم شیطان والا نومونه بدل کړل :۔

(حدیث شریف) حضرت عمرو بن زبیر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے۔ حضور صلی الله علیه وآله وسلم د حضرت عبدالله بن عبدالله بن سلول نوم بدلولو سره اوفرمائیل. ستا نوم عبدالله دے۔ ځکه چه حباب د شیطان نوم دے (پاده دے وی چه د دے عبدالله

Maktaba Tul Ishaat.com

سابقه نوم حباب وو۔ (ابن سعد۔منه۔)

حضرت خیثمه بن عبد الرحمٰن رضی الله تعالیٰ عنه خپل پلار نه نه روایت کوی۔ هغه وائی: زه خپل پلار سره د حضور صلی الله علیه وآله وسلم په خدمت کښے حاضر شوم۔ نو حضور صلی الله علیه وآله وسلم زما د پلار نه تپوس اوکړو۔ دا ستا څوئے دے؟ عرض ئے اوکړو جی هاں! حضور صلی الله علیه وآله وسلم اوفرمائیل د ده څه نوم دے؟ عرض ئے اوکړه حباب۔ حضور صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل د ده نوم حباب مه ږده! ځکه چه حباب د شیطان نوم دے۔

(طبرانی کبیر۔منه۔)

اجدع د شیطان نوم دے:۔

حضرت مسروق (مشهور تابعی) وائی: ما د حضرت عمر بن خطاب رضی الله تعالیٰ عنه سره ملاقات اوکړو۔ حضرت تپوس اوکړه۔ ته څوک یے؟ ما عرض اوکړو۔ مسروق بن الاجدع یم (و ئے فرمائیل ما د حضور صلی الله علیه واله وسلم نه اوریدلی دی: فرمائیلی ئے دی: «الاجدع الشیطان» اجدع د شیطان نوم دی۔ (ابن ابی شیبه۔منه۔ ابوداؤد حدیث ۴۹۵۷، ابن ماجه ۳۷۳۱، احمد ۳۱/۱، حاکم ۲۷۹/۴، الدولابی فی الکنیٰ ۴۹/۲، تاریخ بغداد ۲۳۲/۱۳، ابن ابی شیبه ۶۷۷/۸، کنزالعمال ۴۵۲۳۷)

شهاب د شیطان نوم دے:۔

حضرت بی بی عائشه رضی الله تعالیٰ عنها فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د یو سړی شهاب نوم واوریدلو۔ نو وئے فرمائیل:

Maktaba Tul Ishaat.com

ته شهاب یئ؟ شهاب د شیطان نوم دے۔ (شعب الایمان امام بیهقی۔منه۔مجمع الزوائد ۵۱/۸، الادب المفرد ۸۲۵، طبقات ابن سعد ۱۷/۷، حاکم ۲۷۷/۴).

اشهب هم د شیطان نوم دے:۔

حضرت مجاهد رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی: یو سړی د حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه مخکښې انښوشے (پرنجے) اوکړو۔ او هغهٔ اووے: اشهب: نو ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه ورته اوفرمائیل: اشهب د شیطان نوم دے۔ ابلیس دا د انښوشی (پرنجی) او الحمد لله مینځ کښې مقرر کړے دے۔ چه دے یاد کړے شی۔ (ابن ابی شیبة منه)

شعر منود ونکے شیطان:۔

اعشٰی وائی: زهٔ د حضرموت، قیس بن معدی کرب ته ورتلو د پاره روان شوم۔ لیکن د یمن علاقه کښې م لار خطاء کړه۔ او باران هم شروع شو۔ ما اخوا دیخوا نظر اوزغلولو۔ نو زما نظر ویښتو نه جوړه شوے یوه خیمه باندے پریوتلو۔ او زهٔ هغے طرف ته روان شوم۔ هلته د خیمے په دروازه کښې یو بوډا سړی سره ملاقات اوشو۔ ما هغهٔ ته سلام اوکړ۔ هغهٔ زما د سلام جواب راکړو۔ بیا هغهٔ زما اوښه د کمرے کښته بوتله۔ چرته چه هغه خپله ناست وو۔ هغهٔ ماته اووے: خپله کجاوه پرانزه۔ او لږ آرام اوکړه۔ نو ما کجاوه پرانسته۔ او هغهٔ ما د پاره څه څیز راوړلو۔ زهٔ په هغے کیناستم۔ هغهٔ ماته اووے، ته څوک یے؟ او چرته ځے؟ ما ورته اووے: زهٔ اعشی یم، هغهٔ اووے: الله دے عمر زیات کړه

Maktaba Tul Ishaat.com

ما ورته اووے: زهٔ قیس بن معدی کرب ته تلل غواړم۔ هغهٔ اووے: زما خیال دے۔ چه تا به اشعارو کښے د هغهٔ تعریف کړے وی۔ ما اووے: هان! نو هغهٔ اووے: هغه ماته هم واوروه! نو ما شعر وئیل شروع کړل:

رحلت سمیة غدوة احمالها
غضبی علیك نما تقو بدالها

هغهٔ اووے بس بس: ایا دا قصیده تا وئیلے ده؟ ما اووے جی هان! ما د هغے صرف داپو بیت آورولے وو۔ هغهٔ تپوس اوکه۔ دا سمیه څوك دے؟ چه هغے طرف تا د شعر نسبت کړے دے۔ ما اووے: زهٔ نهٔ پوهیږم۔ لیکن د هغے نوم زما زړهٔ کښے راغلے وو۔ او ما دا بنهٔ گنړلے وه۔ او هغے طرف ته مِ د شعر نسبت اوکړ۔ نو هغهٔ آواز اوکه۔ اے سمیه! با هر راوځه! نو یوه ښځه کلیسزے جینئ بهر راوتلو سره اودریده۔ او تپوس یئ اوکه اے بابا څهٔ کار دے؟ هغهٔ اووے د خپل ترهٔ مخکښے زما هغه قصیده واوروه! چه هغے کښے ما د قیس بن معدی کرب تعریف کړے دے۔ او د هغے رومبئ بیت بِ ستا نوم سره منسوب کړے دے۔ نو هغے سمدستی تیاریدو سره د شروع نه آخره پورے دا قصیده واوروله - او یو حرف هم ترے پاتے نهٔ شو۔ هر کله چه هغے ټوله قصیده واوروله۔ نو هغهٔ ورته اووے اوس واپس لاړه شه! نو هغه واپس لاړه - بیائے اووے: ایا تا دے نه اضافه هم څه وئیلی دی؟

ما اووے هو! زما او زما د ترهٔ د خوړے مینځ کښے عداوت وو۔ چه د هغهٔ نوم یزید بن مسهر دے۔ او کنیت ئے ابو ثابت، ما د هغهٔ بدی بیان کړے ده۔ او هغه م لاجواب کړے دے۔ هغهٔ اووے: تا د هغهٔ باره کښے څه ویلی دی؟

ما اووے: یوه پوره قصیده م ویلی ده۔ د هغے ابتداء داده:

ودعْ هريرة وداعا ان الركب مرتحل

وهل تطيق وداعا ايها الرّجل

دے کښے یو بیت م لا ویلے وو۔ چه هغهٔ اووے بس که. بیا هغهٔ تپوس اوکه۔ دا هریره څوک دے؟ چه هغے طرف ته تا دا بیت منسوب کړے دے؟ ما اووے: زهٔ نهٔ پوهیږم۔ دا م هداسے ذکر کړے دے۔ څنګه چه سمیه م ذکر کړے وه۔ نو هغهٔ آواز اوکه۔ اے هریره! نو یوه جینئ ظاهره شوه۔ چه د پرومبئ جینئ هم عمره وه۔ هغهٔ ورته اووے خپل ترهٔ ته زما هغه قصیده واورے وه۔ چه په هغے کښے ما د ابو ثابت یزید بن مسهر مذمت بیان کړے دے:

نو هغے هغه قصیده اول نه آخره پورے بغیر څه حرف پریښو دلو تولو وا و ورلو۔ نو زما لاس او غړچیدهٔ او حیران لړزه بر اندام شوم۔ نو هر کله چه هغهٔ زما حالت اولیدهٔ۔ نو هغهٔ اووے: اے ابو بصیر! مهٔ ویریږه! زهٔ حسیکه، مسحک بن اثاثه جن یم۔ ما ستا په ژبه دا شعرونه ویلی وو۔ بیا زما هوش په ځائے شو۔ او سکون راته اوشو۔ باران هم اودریدلے وو۔ ما هغهٔ ته اووے: ما ته لار اوښایه! نو هغهٔ ما ته لار اوښودله۔ او زما د روانیدو طرف ئے راته اوښودلو۔ او هغهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

اووے: اخوا دیخوا مہ اوړه۔ د قیس علاقے ته به اوړسے۔ (شرح دیوان الاعشیٰ للاحدی۔ منه۔)

بعضے سپی جنّات وی:۔

حضرت سعید بن المُسیّبؒ فرمائی: موږ به ووے بعضے سپی جنّات وی۔ نو د بنی فیروز یو سپے زموږ سپی له راوستے شو۔ یا زموږ سپے د بنی فیروز سپی له وروستے شو۔ هغهٔ اووے: په ما چرګی داره غوښه اوخوړوه۔ نو زهٔ به درته یو خبر واوروم۔ د ویم اووے ماسره هیڅ نشته۔ هاں! زموږ کوړ والاؤ۔ غوښه ورته کړے ده۔ د هغے سیخ به راوړم۔ ته هغه اوخوره۔ نو هغهٔ ته ئے راوړلو هرکله چه هغه د خوړلو نه فارغ شو۔ نو وئے ښودل چه حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم وفات شوے دے۔ د حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم د وفات متعلق د ټولو نه ړومبئ اطلاع هم فارس والاؤ ته معلومه شوه۔ (کتاب الاصمعیات للاصمعی۔ منه)

فائده:۔ دا د واړه سپی اصل کښے جنات وو۔ او جنات د یو بل خبر ډیرے تیزئ سره معلوموی۔ هغوئ هم د غسے اوکړل د هرے علاقے جنات د هغے علاقے ژبه وائ۔ کیدے شی هغوئ دا سے موقع یاندے د انسانانو ژبه کښے خبره کړے وی۔ او بیا انسانانو هغه اوریدلی وی۔ یا خو شکل کښے ظاهر شوی وی۔

(مترجم واللّٰه اعلم)

مونځ کښے شیطان ګردن ګرځوی:۔

حضرت حسن بصری رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی: هرکله چه یو سړے

Maktaba Tul Ishaat.com

یو طرف تہ توجه کوی - نو شیطان د هغهٔ گردن گرځوی. (مصنف عبدالرزاق - منه -)

خیتعور د شیطان نوم دے :-

امام ابن اثیر جزری رحمة الله تعالی علیه ذکر کوی - چه خیتعور د شیطان نوم دے . (نهایه ابن اثیر - منه -)

فائده :- دے نه پس علامه سیوطی رحمة الله تعالی علیه د خیتعور یوه ډیره اوږده عربي قصیده ذکر کړے ده - مونږ هغه زیات نهٔ مفید کیدو په وجه ترک کړے ده .

ابو هدرش وائی : دا خیتعور د هغې جنانو نه وو - چه د حضرت ادم علیه السلام نه مخکښې په مزکه اوسید لو - او دهٔ د حضرت محمد صلی الله علیه واله وسلم زمانه کښې هم په حضور صلی الله علیه واله وسلم ایمان راوړے دے . (المختار - منه -)

د خوب شیطان :-

(حدیث شریف) حضرت ابوسلمه بن عبدالرحمٰن رضی الله تعالی عنه ذکر کوی : جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائلو :

وُكِّلَ بِالنُّفُوسِ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ : اَللَّهُوُ فَهُوَ يُخَيِّلُ اِلَيْهَا وَيَتَرَاٰى اَنْ يَنْتَهِيَ اِذَا عَرَجَ بِهَا فَاِذَا انْتَهٰى اِلَى السَّمَاءِ فَمَا رَاَتْ فَهُوَ الرُّءْيَا الَّتِي تُصَدَّقُ .

ترجمه :- یو شیطان د نفوس متعلق دے . د هغهٔ نوم لهوٌ دے چه د خوب په وخت نفوسو کښې خیال غورځوی - او هغوئے پسے لزید لے وی - که هغه نفس خوب کښې پورته بلند شی - نو دے هم ورسره ځی .

Maktaba Tul Ishaat.com

هر کله چه هغه آسمان ته رسی - نو بیا انسان چه څه خوب وینی هغه رښتیاوی (ځکه چه آسمان ته د شیطان رسائی نه کیږی. هغه مرف زمینی خوبونو سره خپل شرارت یو ځائے کولے شی -

فائده :- دَ مسلمان خوب ښه وی یا خراب د الله جل جلاله له طرفه دَ مسلمان د تأکید د پاره وی - که خوب ښه وی نو دَ مسلمان حوصله افزائی او نیکئ تأکید کیږی - او که هغه خراب وی نو دَ گناهونو متعلق تنبیه ورته کیږی - د دے تفصیل د مولانا امداد الله انوری کتاب « جہنم کے خوفناک مناظر » آخری مضمون کښے ملاحظه کړئ .

دَ شیاطینو هم وزر وی :-

د حضرت ضحاک رحمة الله علیه نه سوال اوشو - ایا د شیاطینو هم وزر وی ؟ نو حضرت اوفرمائیل : هاں ! وزر خوے وی چه دَ هغے په ذریعه هغوے فضاء کښے الوځی - (ابن جریر - منه -)

Maktaba Tul Ishaat.com

د اولیأ جناتو واقعات

د رافضی شعیه ګانو دشمن جنّات :-

حضرت سلمه بن شبیب رحمة الله تعالی علیه فرمائی : ما مکے شریفے ته دَ منتقل کید و پروګرام جوړ کړلو - او خپل کوړ مِ خرڅ کړلو - هر کله چه هغه مِ خالی کولو سره حواله کړو - او دَ هغے په دروازے د اودریدو سره مِ جناتو ته اووے : اے کوړ والاؤ! موږ ستاسو ګاونډیان وو - او تاسو موږ سره ګاونډ تیر کړو (یعنی د جن کیدو باوجود مو موږ ته څه تکلیف را نه کړو) الله تعالی دے تاسو ته نیک اجر عطاء کړی - موږ تاسو ته خیر غوښتونکی یو او س موږ خپل کوړ خرڅ کړے دے - او مکے مکرمے ته منتقل کیږو السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! - نو دَ کوړ نه چا جواب را کړو : الله دے تاسو ته خیر عطاء کړی - موږ هم دے ځائے نه ځو. ځکه چه چا داسے اخستے دے - هغه رافضی شیعه دے - هغه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه او حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه ته کنځل کړی دی - (صفة الصفوه ابن جوزی - هنه -)

د قرآن آیت اوریدو سره ځلو جنات وفات شو :-

حضرت خلید رحمة الله علیه فرمائی : زه اودریدم - مونځ مِ شروع کړ - او آیت : كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ مِ بار بار لوستلو نو چا د کوړ د کونج نه اووے : دا ایت بار بار مه لوله - تا زموږ څلور جن قتل

Maktaba Tul Ishaat.com

کړل۔ چه ستاد دے ایت بار بار وئیلو په وجه آسمان طرف ته ئې هم سر نۀ شو اوچتولے حتی چه وفات شول۔ د حضرت خلیدؒ سنجه وائی: دے نه پس حضرت خلید داسے بے خوده شو۔ چه مونږ ئے د پیرېدلو نه انکار اوکړ۔ ګویا چه دا هغه نۀ وو۔ (صفة الصوة ابن جوزی۔ منه۔)

سری سقطیؒ ته تعلیم ورکوونکے جن:۔

حضرت جنید بغدادی رحمة الله علیه فرمائی: ما د حضرت سری سقطی رحمة الله علیه نه واوریدل: هغۀ فرمائیل: زۀ یوه ورځ په سفر اووتم او د یو غر صحن کښے توره شپه کېر کړم۔ هلته زما هیڅوک ملګرے نۀ وو۔ ناڅاپی ما ته نیمه شپه کښے چا آواز اوکړ۔ چه تیرو کښے زړۀ ویلے کول نۀ دی پکار۔ بلکه د محبوب (الله تعالی) نۀ حاصلیدو خوف ته نفوس ویلے کول پکار دی۔ حضرت سری رحمة الله علیه فرمائی: زۀ حیران پاتے شوم۔ او تپوس مے اوکړ۔ ما ته جن آواز کړے دے؟ یا انسان؟ هغۀ اووے: بلکه الله جل جلاله باندے ایمان لرونکی مؤمن جن او ما سره زما نور ورونړه (مؤمن جنات) هم شته۔ ما تپوس اوکړو ایا هغوئ سره هم هغه ایمان شته؟ کوم چه تا سره دے۔ هغۀ اووے: جی هان! بلکه هغوئ سره زمانه زیات ایمان دے۔ نو هغوئ کښے دویم ما ته آواز اوکړ۔ بدن نه د الله غیر هغه وخته پورے نۀ اوځی۔ څو پورے چه دائمی طور سره پے کوره پاتے نۀ شی۔ ما زړۀ کښے اووے: دا ده خبره څومره داوچتے درجے ده۔ نو دریم ما ته آواز اوکړ۔ څوک چه تیرو کښے الله ج سره مانوس شی هغۀ ته هیڅ قسم فکر نۀ پاتے کیږی۔ ما نه چغه اوختله

Maktaba Tul Ishaat.com

او زهٔ بے هوشه شوم۔ ما ته خوشبو بویولو بغیر افاقه اونهٔ شوه نو یو کل زما په سینه ایښے شوے ووُ۔ ما هغه بوے کړو۔ نو هوش کښے راغلم۔ ما اووے: الله دے په تاسو رحم اوکړي۔ خه وصیت هم اوکړئ۔ نو هغوئ ټولو اووے: الله تعالی د تقوی اختیارونکو نه حُلا بخښیل غواړی۔ خو څوک چه دَ غیرالله طمع کوی۔ هغهٔ دا سے ځائے طمع اوکړه چه د طمعے قابل نهٔ وو۔ اوکوم مریض چه همیشه د ډاکټر چکر لګوی۔ هغه بیمار اوسی۔ دے نه پس هغوئ ماته الوداع په مخه سِنه) اووے۔ او لاړل۔ زهٔ د هغے ساعت کلام برکت همیشه ل زړهٔ کښے محسوسوم۔ (صفة الصفوة ابن جوزی۔ منه۔)

وعظ اوریدونکی جنات:۔

حضرت ابوعلی وقاق رحمة الله علیه بیان کوی۔زهٔ نیشاپور کښے وعظ او تبلیغ د پاره ایسار شوے ووم۔ ماته دسترګو خوږ مرض شوے وو۔ ماته د خپل اولاد د ملاقات شوق راپیدا شو۔ نو ما هغے شپو کښے یوه شپه خوب اولیدلو۔ ګویا یو سړے راغے ماته وائی: اے شیخ! تاسو دومره زر واپس نشئ تلے۔ ځکه چه دَ جناتو د ځلمو یو جماعت ستاسو مجلس کښے حاضریدو سره ستاسو وعظ اوری۔ او هغوئ وعظ ته بلے موقع باندے اوریدو ته تیار نهٔ دی۔ څو پورے چه هغوئ خپل ضرورت پوره نهٔ کړی۔ تاسو هغوئ پریښودو سره نهٔ شئ تلے۔ شاید الله تعالی هغوئ ته د راحت دائمی ژوند نصیب کړی۔ بیا چه سحر شو۔ نو زما د سترګو خوږ لوم نښان پورے هم نهٔ ووُ۔

(صفة الصفوة ابن جوزی۔ منه۔)

Maktaba Tul Ishaat.com

د جن سنځے نصیحت :-

حضرت صالح بن عبدالکریم رحمة الله علیه فرمائی: ما ته د دے شوق وو- چه جن سره ملاقات وی - او هغه سره خبرے اترے اوکړم. نو یوه جن سنځه مِ اولیده - هغه سره شوم - ورته مِ اووے، ما ته څه نصیحت اوکړه! نو هغے اووے : لیکه! غزاله وائی : د ټولو کارونو نه بهتر کار دا دے : چه الله تعالیٰ سره مشغول شه! او یوه لحظه هم غفلت مه کوه - که هغه لمحه فوت شوه - نو هیڅ کار لاس ته نهٔ شی راتلے (صفة الصفوة ابن جوزی -منه-) -

کورونو کښے اوسیدونکی مسلمان یا کافر جنّات :-

(حدیث شریف) حضرت علی کرم الله وجهه فرمائی : جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

اِتَّخِذُوا لِبُيُوْتِكُمْ نَصِيْبًا مِّنَ الْقُرْاٰنِ۔ فَاِنَّ الْبَيْتَ اِذَا قُرِئَ فِيْهِ اٰنِسَ عَلٰى اَهْلِهٖ وَكَثُرَ خَيْرُهٗ وَكَانَ سُكَّانُهٗ مُؤْمِنِ الْجِنِّ وَاِذَا لَمْ يُقْرَاْ فِيْهِ اَوْحَشَ عَلٰى اَهْلِهٖ وَقَلَّ خَيْرُهٗ وَكَانَ سُكَّانُهٗ كَفَرَةُ الْجِنِّ ط

ترجمه :- خپلو کورونو د پاره قرآن پاك د خیره کوئ - ځکه چه کوم کور کښے د قرآن تلاوت کیږی هغه ورولاؤ د پاره مأنوس جوړیږی۔ د هغے خیر زیاتیږی او هغے کښے مؤمن جنات اوسیږی - او هر کله چه هغے کښے تلاوت نهٔ کیږی۔ نو کورولاؤ باندے وحشت جوړیږی۔ خیر کم پاتے کیږی - او هغه کور کښے کافر جنات اوسیږی۔ تاریخ ابن نجار-منه- کنزالعمال حدیث ۴۱۵۲۵ -)

Maktaba Tul Ishaat.com

تنبیه :- دَ مذکورہ حدیث نہ پس علامہ سیوطی دجناتو دلہ سے اشعار ذکر کړی دی- چہ چاویونکی ویلی وو- لیکن هغوئے پہ نظر نہ راتلل- هغی کښے څہ زیاتہ فائدہ نہ ښکاریدلہ- ځکہ هغہ مونږ ترک کړی دی۔

دحضرت پیرانوپیر شیخ عبدالقادر جیلانیؒ صحبت کښے جن صحابی

سیدنا ومرشدنا حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی چہ حج اوکہ- نو ورسرہ مریدان هم تلی وو- کلہ چہ بہ دوئ پہ یو منزل کوز یدل- نو دوئ بہ سپینے کپړے اغوستے یو ځلمی موجود لیدلو- خو نہ بہ ئے دوئ سرہ خوړل ، نہ څکل- او شیخ عبدالقادر جیلانیؒ خپلو مریدانو تہ تأکید کړے وو- چہ هغہ سرہ خبرے اترے نہ کوی- کوم وخت چہ دوئ مکہ مکرمہ کښے داخل شول- نو یو کور کښے ئے قیام اوکړ- لیکن کلہ چہ بہ داخلق د کورہ نہ اووتل- نو هغہ ځلمی بہ داخلیدلو- اوچہ دوی بہ داخلیدل- نو هغہ بہ ووتلو- یو ځل ټول خلق اووتل- خو بیت الخلاء (تشناب) کښے یو سړے باقی پاتے شوے وو- دے دوران کښے هغہ جن داخل شو- هر کلہ چہ هیچا هغہ نہ وُ لیدلے- هغہ تهیلئ پرانستہ او یوہ پچہ «مینګنی» خوړل ئے شروع کړل- نو هغہ ځوان دَ بیت الخلاء نہ اووتلو- او دَ هغہ نظر پہ هغہ پریوتلو- نو هغہ جن دَ هغے ځائے نہ لاړہ- بیا هیڅکلہ هغوئے تہ رانغے- نو هغہ سړی حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی تہ دهغہ اطلاع ورکړہ- نو حضرت ورتہ اوفرمائیل : داسړے د هغے جناتو نہ وو- چہ هغوئے د حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم نہ قرآن پاک اوریدلے وو-

Maktaba Tul Ishaat.com

اوحیناتو کښې ئے شرف صحابیت حاصل کړے وو ۔ (ارجوزۃ الجان لابن عمادؒ۔منہ۔)۔

جناتو د ایت قرآنی اسرار او پوښتلو:۔

حضرت ابراهیم خواص رحمۃ اللہ تعالی علیہ فرمائی: یو کال زه حج د پاره لاړم۔ لار کښې ناڅاپې زما زړهٔ کښې خیال تیر شو۔ چه ته تهولو نه جدا کیدو سره د عامے لارے پریښودلو سره لاړ شه! نو په دومه لار روان شوم۔ زهٔ درے ورځې شپے برابر روان ووم ما ته نهٔ د خوراك خیال راغے۔ نهٔ د څکالو۔ نهٔ څه بل حاجت پیښ شو۔ آخر یوشین ځنګل باندے تیر یدم۔ هلته میوه دارے اونے او خوشبو دار ګلونه وو۔ هلته یو وړوکے تالاب وو۔ ما خپل زړهٔ کښې اووے: دا خو جنت دے۔ هغے سره زهٔ حیران ووم۔ او فکر کښې ووم چه د خلقو نه یو جماعت را تلونکے په نظر راغلو۔ چه دَ هغوئ د سړو په شان وو۔ نفیس پوشاك خوبصورته پټکو سره آراسته هغه خلق ما نه چاپیره شول۔ او ټولو را ته سلام اوکړ۔ ما جواب کښې وعلیکم السلام ورحمۃ اللہ وبرکاته اووے۔ بیا زما زړهٔ خیال تیر شو۔ چه شاید دا خلق جن دی۔ او دا عجیب او غریب قوم دے۔ دے کښې یو سړي د هغوئ نه اووے، مونږ خلقو ته یوه مسئله پیښه ده۔ او خپلو کښې اختلاف دے۔ او مونږ خلق جن قوم یو۔ مونږ د اللہ جل بزرګ کلام د جناب رسالت پناه پیغمبر صلی اللہ علیه واله وسلم د ژبے مبارکے نه اوریدو سره لیلۃ العقبہ کښې مونږ شرف حضوری حاصل کړے دے۔ د حضرت محمد صلی اللہ علیه واله وسلم کلام مبارك زمونږ د تمامے دنیا کار مونږ نه واخستل۔ او

—

الله تعالیٰ دا مقام دے چُنکل کښے موږ د پاره مقرر کړے دے۔ ما ترے تپوس اوکه۔ چه کوم مقام باندے زما ملګری دی؟ دلته نه څومره فاصله باندے دی؟ دے اوریدو سره هغوے کښے یو مسکے شو۔ هغهٔ اووے: اے ابو اسحٰق! د خداوند عالم اسرار او عجائبو کښے دا مقام چرته چه دا وخت ته یُے۔ د یو انسان نه سِوا نشه پورے هیڅوک دلته نهٔ دے راغلے۔ او هغه انسان ستا د ملګرو نه وو هغه دلته وفات شو۔ او کوره! دغه د هغهٔ قبر دے۔ او د هغهٔ د قبر جانب ته ئے اشاره اوکړه۔ هغه قبر د تالاب په غاړه وو۔ د هغے نه چاپیره باغچه وه۔ چه هغے کښے ګلونه سپرېدی وو۔ د اسے ګلونه او خوشنما باغ ما هیڅکله نهٔ وُو لیدلے۔ بیا هغے جن اووے۔ ستا د ملګرو او ستا مینځ کښے د دومره میاشتو یا کلونو فاصله ده۔ الله ته معلومه ده چه ابراهیم[رح] میاشتے اووے: یا کلونه۔ ابراهیم رحمة الله علیه وائی: ما هغے جناتو ته اووے: د دے ځلمی څه حال بیان کړئ! هغوے کښے یو اووے: موږ دلته د تالاب په غاړه ناست وو۔ د محبت ذکر مو کولو۔ چه ناڅاپی یو سړے راورسید لو او هغوږ ته ئے سلام اوکه۔ موږ جواب ورکه۔ او تپوس مو اوکړو۔ د کوم ځائے نه راغلے ئے؟ هغهٔ اووے د نیشاپور نه۔ موږ ترے تپوس اوکړو۔ کله راروان شوے یُے؟ هغهٔ اووے: اووه ورځے اوشوے۔ بیا ترے موږ تپوس اوکه۔ د کور نه د راوتلو وجه څهٔ ده؟ هغهٔ اووے: ما د الله دا کلام: انیبوا الیٰ ربکم الایه یعنے الله طرف ته رجوع اوکړئ۔ او د هغهٔ فرمانبردار شئ۔ مخکښے له دے نه چه تاسو باندے عذاب راشی۔ بیا به ستاسو مدد نهٔ کیږی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

موږ اووے : اِنابت ، تسليم او د عذاب څه معنیٰ ؟ هغهٔ جواب
راکړو۔ انابت دا دے: چه خپل رب ته د رجوع کولو سره تسليم شے۔ او د
هغهٔ شے۔ د راوی بيان دے : چه اصل قصه کښے د تسليم ذکر نشته
شايد د تسليم دا معنیٰ وی۔ چه خپل ځان هغهٔ ته اوسپارے۔ او دا
اوګنړے چه الله زما په نسبت د هغهٔ زيات مالک او مستحق دے۔ بيا ئے
اووے : او عذاب او يوه چيغه ئے اووهله۔ او مونږ شولو۔ مونږ خلقو هغه
دلته دفن کړ۔ او دا د هغهٔ قبر دے۔ الله دے د هغهٔ نه راضی شی
ابراهيم رحمة الله عليه وائی : ما ته د هغوے د بيان اوصاف نه تعجب اوشو
بيا زهٔ قبر له راغلم۔ د هغهٔ سر ته د نرګس د ګلونو يوه غنچه ګل د سته
ايښے شوے وه۔ او دا عبارت پرے ليکلے او لمبد لو۔ چه دا د الله د دوست
قبر دے۔ دے غيرت وژلے دے۔ او يو ورق باندے د انابت معنیٰ
ليکلے ده۔ وائی څه چه ليکلی وو۔ ما اولوستل۔ جن قوم د هغے د معلومولو
خواست اوکړ۔ ما چه بيان اوکړو۔ نو ډير خوشحاله شو۔ او هغوئ اووے
زمونږ د مسئلے جواب مونږ ته حاصل شو۔ ابراهيم وائی : بيا زهٔ اوده
شوم۔ او ما ته هوش راغے۔ چه خوب نه بيدار شوم۔ نو مکه مکرّمه کښے
د بی بی عائشے رضہ جومات (مسجد) سره مِ خپل ځان اوليدلو۔ ما سره د
ګلونو پاڼړے وے۔ چه د هغے خوشبو کال وسره پورے وه۔ بيا هغه پخپله
ورکه شوه۔ (روض الرياحين من حکايات الصالحين امام يافعی يمنی رح منه۔
دا د کتاب د کرامات اولياء د نوم نه اختصار شوے او احقر مترجم
شائع کړے۔ کوم چه چاپ شوے دے۔

-- — — --

هلك جن سنځه لاجواب كړله :-

(د مقامات حريري مصنف) علامه حريري رحمة الله عليه فرمائي: د عربو قصو كښې يوه داده: چه يوې جن ښځې د عربو د مقابلې اراده اوكړله - دا به هر دليل سره غالب را تلونكى سړى مخې ته راتله - او مقابله به ئې كوله - خو هيڅ سړى به د هغې مقابله كښې قائم نه شو پاتې كيدے - تر دے چه د عربو د هلكانو نه يو د هغې مخې ته راغے - هغه ورته اووے: زه ئې تا سره مقابله كووم -

جن ښځې ورته اووے: ته ئې مقابله شروع كړه !

هلك اووے: (قريب وو)

ښځې اووے: (چه د وادهٔ ځلے بادشاه جوړ شوے وے -)

هلك بيا اووے: (قريب وو)

ښځې اووے: (د پياده تلونكے سوره (سور جوړ شوے وے)

هلك بيا اووے: (قريب وو)

ښځې اووے: (چه شتر مرغ مار نغړه وے)

اوس هلك خاموش شو - نو ښځې اووے: اوس به زهٔ تا راغوړ خوم

هلك اووے تپوس اوكه !

ښځې اووے: (زهٔ حيرانه يم)

هلك اووے: (تهٔ حيرانه ئې د مزكے نه چه د هغې تهمه هيڅ نشان سيكيږي نه او چراګاه يا (ورشو) ظاهريږي نه)

ښځې اووے: (زهٔ حيرانه يم)

هلك اووے: (تهٔ كنكرو نه حيرانه ئې - چه وړوكے لوئے

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږي ی وې نه او لوئ بوډا کیږي ی وې نه)

ښځې اووې: (زه حیرانه یم)

هلک اووې: (نه ځیلې مخې ته کینستلې شوې کنده نه حیرانه یې - چه د دې تهه نه وې نښې رسیدې - او دا کنده ډکوله وې نه شي)

وائي چه هغه جن ښځه د هغه پوره پوره جواب اوریدو سره په شرمنده ګۍ لاړه - بیا واپس رانغله - (درة الخواص للقاسم حریری - منه -)

فائده - د دې حکایت کښې د جن ښځې او هلک د زړه خبرې د اندازې نه معلوملو سره د صحیح صحیح جواب ورکولو مقابله اوشوه نو هلک د دویم ذهن کښې د موجود خبرې د خدا داد فطرت په وجه معلوملو سره صحیح صحیح جواب ورکولو باندې جن ښځه لاجوابه کړله - دا د غیب علم نه دې - دې ته شاید علم قیافه او وائي نو څه لرې نه ده -

د جن نصیحت - اصمعی رحمة الله تعالی علیه وائي: د ابو عمرو بن العلاء په ګوټۍ (انګوټۍ) دا عبارت نقش وو - هغه سړې چه د هغه ټک و دَوْ دنیاوي - نو هغه د غرور رسۍ ټینګه نیولې ده - ما د هغه نه د دې نقش کولو وجه او پوښتله - نو هغه اوښودل - چه ما غرمې وخت خپل مال او اسباب کښې چکر لګولو - نو یو ویونکی نه م واوریدل چه دا ئې وې: دا کور دې، (یعنې دا مال او اسباب فقط دلته په کار رائي -) ما چه اولیدل نو هیڅ په نظر رانغلل - ما بیتوس اوکه! انسان

Maktaba Tul Ishaat.com

یې یا جن ؟ هغهٔ اووے جن یم ـ نو هغې وخت نه ما په خپله څوته داعبارت نقش کړے دے ـ (تاریخ ابن عساکر)

د غلوړسوه کاله جن شاعر:ـ د قبیلهٔ ثقیف یو سړے بیان کوی ـ چه زهٔ د عبدالملك بن مروان په دروازه ولاړ ووم ـ چه هغهٔ ته د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه اولاد نه یو سړے راغے ـ هغهٔ اووے اے امیرالمؤمنین ! ما نن یوه ډیره عجیبه واقعه لیدلے ده ـ هغهٔ ورته اووے : تا څهٔ لیدلی دی ؟ هغهٔ اووے : ما ښکار کولو ـ هر کله چه یو بے آب وګیاه ځنګل ته اورسیدم ـ نو هلته مې یو بوډا اولیدلو، چه د هغهٔ ورو ځې په سترګو راپریوتے وے ، او په همساوے د ده ، وهلے وه ـ ما ترے تپوس اوکه : اے بوډا ! ته څوك یې ؟ هغهٔ اووے : خپل کار کوه ! د کومے خبرے نه چه څه فائده نهٔ وی هغهٔ پسے مه لزه ـ ما ورته اووے : ایا ته د عرب والا اشعار هم نقل کوے ؟ هغهٔ اووے هان ! زهٔ هم د هغوے په شان شعر وایم ـ څنګه چه هغوے وائی ما ورته اووے : ته څهٔ وایې ؟ نو هغهٔ دا شعرونه اووے :

اقول والنجم قد مالت اواخره ⁂ الی المغیب تبین حار
المسحة من ثنا برق رای مصیر ⁂ ام وجهه نعم بدالی ام سنانار
بل وجه نعم بدا واللیل معتکر ⁂ ولاح بین اثواب واستار

ما اووے : دا اشعار خو د نابغه بن ذبیان دی اے شیخ ! هغهٔ وے چه شعرونو کښې تا نه مخکښې شوی دے ـ نو هغهٔ اوخندل ـ او زما لفظونو کښې ئې اووے : قسم په الله ! ابوهادر (د نابغه کنیت) به د هاهر (یعنی زما) د طرف نه شعر ویلو ، بیا هغهٔ زما د اس په ګردن تکیه اووهله ـ او هغهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

اووے چہ تا را تہ زما ھلکانہ رایادہ کڑلہ۔ قسم پہ اللّٰہ - ما د اشعرو نہ خلور رسوہ کالہ مخکښے ویلی وو۔

بیا چہ ما مڑکے تہ اوکتل۔ نو د ھغۂ نوم نښان ھم نۂ وو۔ (فوائد الجینی۔ منہ۔)

د امام سیبویہؒ شاگرد نحوی جنؒ :-

حضرت ابوالحسن بن کیسان فرمائی: زۂ یوہ شپہ سبق یادولو د پارہ ویښ ووم بیا اودۂ شوم خوب کښے د جناتو یو جماعت مِ اولیدلو۔ چہ د فقھے، حدیث، حساب نحوے او شعر مذاکرہ یے کولہ۔ ما اووئے تاسو کښے ھم علماء شتہ؟ ھغوے اووے۔ جی ھاں! ضرور۔ اما نو ترے تپوس اوکڑو۔ بیا تاسو د نحوے مسائلو کښے کوم عالم نحوی لہ ځئی؟ ھغوے اووے: امام سیبویہؒ تہ۔ (تاریخ خطیب بغدادی۔ منہ۔)

د موصل شیطان شاعر سرہ:-

(مشہور نجومی عالم) علامہ ابن درید فرمائی: زۂ فارس علاقے کښے د خپل خرښہ او غوځیدم او تہول شپہ د دردہ نہ تنگ ووم۔ نو ما ڈیر سرے خوب کښے راغے۔ او ھغۂ اووے د شراب بارہ کښے څۂ اشعار اووایہ! ماورتہ اووے: ابونواس د شراب بارہ کښے څۂ ویلو کښے څۂ پریښے دی (چہ زۂ اووایم) ھغۂ اووے: تۂ د ھغۂ نہ لوئے شاعر یئے۔ دا شعرونہ تانۂ دی ویلی؟

وخمرا قبل المزج صفرا بعدہ ∴ اتت بین ثوبی نرجس وشقائق

حکتہ وجنتہ المعشوق حروا فسلطوا ∴ علیھا مزاجا فاکتست ثوب عاشق

Maktaba Tul Ishaat.com

ماترے تپوس اوکړو - ته څوک یې؟ هغهٔ اووے زهٔ ستا شیطان ابوزاجیر یم - ماترے تپوس اوکړو - ته کوم ځائے اوسیږے؟ هغهٔ جواب راکړو موصل کښے - (تاریخ ابن نجار - منه -)

دوه شیطانان جنت کښے :-

ابوعلی اشعث رحمة الله تعالیٰ علیه یو متروك اومتهم محدث دے د هغهٔ کتاب السنن کښے د یو صحابی جن ذکر راغلے دے - د هغه جن نوم ابیض وو - د هغهٔ په حواله سره حافظ ابن حجر عسقلانی رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی: چه حضور صلی الله علیه وآله وسلم بی بی عائشے رضی الله تعالیٰ عنها ته اوفرمائیل: الله تعالیٰ دے ستا شیطان رسوا کړی (الحدیث) . دے حدیث کښے حضور صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمایل: (ماسره هم یو شیطان دے) لیکن الله تعالیٰ د هغهٔ خلاف زما مدد اوکړو - او هغه مسلمان شوے دے . د دے شیطان نوم ابیض دے داشیطان او هامه (د ابلیس کړوسے) دواړه به جنت له ځی . (الاصابه فی معرفة الصحابه ابن حجر عسقلانی - منه - جلد ۱ ص ۱۸)

د اسود عنسی دوه شیطانان :-

د حضرت نعمان بن برزخ رحمة الله تعالیٰ عنه فرمائی: اسود عنسی کذاب چه د نبوت دروغ دعوه یے کړے وه - هغهٔ سره دوه شیطانان وو - د یو نوم سحیق او د دویم نوم شقیق وو - دے دواړو شیطانانو به د خلقو مینځ کښے د واقعاتو هغهٔ ته خبر ورکولو - د جن په ذریعه به هغهٔ خلق ګمراه کول - او د دروغ نبوت دعوه یے کوله . (سنن الکبریٰ بیهقی - منه -)

Maktaba Tul Ishaat.com

اذان د شیطان علاج دے:۔

امام مالکؒ بن انس رحمة اللّٰہ علیہ بیان کوی چہ حضرت زید بن اسلمؒ رحمة اللّٰہ علیہ د بنی سلیم د کان ذمہ وار جوړ کړے شو۔ دا کان داسے وو۔ چہ هغے کښے بہ جناتو د انسانانو ښکار کولو۔ کوم وخت چہ حضرت زید د هغے والی شو۔ نو خلقو ورته د دے تکالیف اوکړو۔ نو حضرت هغوئ ته د اذان کولو حکم اوکړو۔ چہ اوچتو اوازونو سره اذانونه اوکړی۔ هغوئ د غسے اوکړل۔ نو هغه مصیبت ختم شو۔ (طبقات ابن سعد۔ منہ۔)

د شیطان د نسل رومی بادشاه:۔

حضرت عبداللّٰہ بن عمروؓ رضی اللّٰہ تعالیٰ عنہ فرمائی: هغه زمانه قریب راغلے ده۔ هر کله چہ حمل الضان ظاهر شی۔ چا تپوس اوکړو حمل الضان څه څیز دے؟ وے فرمائیل: یو سړے دے۔ د هغه د والدینو نه به یو شیطان وی۔ چہ د ملک روم بادشاه به جوړیږی او میدان ته به پنځوس کروړه فوځونه راولی۔ د هغے مزکے نوم به عمق وی۔ (سنن نعیم بن حماد۔ منہ۔)

فائده:۔ کہ دا روایت صحیح وی۔ نو اوسه پورے د دے ظهور نۂ دے شوے۔ کیدے شی چہ قیامت ته قریب د دجال سره د هغۂ ظاهرید و سره د خدائی دعوی به کوی او د پنځوس کروړه تعداد به د هغۂ منونکی وی او د مسلمانانو مقابلے ته به راځی۔ ځکہ چہ دجال به هم د شیاطینونه وی۔ ځنګه چہ د آئنده روایت نه معلومیږی۔ یا دا چہ هغۂ سره به دا پنځوس کروړه تعداد د شیاطینو وی۔ ځکہ چہ د هغے

Maktaba Tul Ishaat.com

باد شاه والدین کښې یو به شیطان وی - نو د هغهٔ د نصرت د پاره او اسلام برباد ولو د پاره به د اهل اسلام مخې ته راشی - والله اعلم بالصواب ، مترجم -

دجال به د شیطانانو نه وی :-

کثیر بن مره رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی : دجال به انسان نه وی بلکه شیطان به وی - (سنن نعیم بن حماد - منه -)

تنبیه :- دلته د حضرت جریر بن عبد الله بجلی رحمة الله تعالی علیه نه یو رومی سپه سالار هغه واقعه څه تفصیل سره بیان کړے ده ، (معرفة الصحابه ابونعیم اصبهانی - منه -) چه هغه علامه سیوطی رح د اسمانو نو نه د خبرو غلا کولو باب کښې څه مختصر طور سره بیان کړے ده - مونږ د تکرار په وجه هغه دلته نه حذف کړے ده -

د جناتو کثرت :-

حضرت ابوالا عیس خولانی تابعی رحمة الله علیه فرمائی : جن او انسان چه لس حصے کړے - نو انسان یوه حصه دے او جنات نهه حصے دی - (تاریخ ابن عساکر - منه -)

د بیت الله شریف طواف کوونکے جن ښځے :-

د حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله تعالی عنه فرمائی : زهٔ یوه شپه حرم شریف کښې داخل شوم - نو څو ښځے طواف کوونکے لیدلو سو حیران شوم - هرکله چه هغوئ طواف اوکړ - نو باب الحذابین نه اووتلے - ما اووے : هغوئ پسے ورځم - او د هغوئ کوړنه کورم نو هغوئ روانے وے - حتی چه یوے وادئ ته اورسیدے - بیا چه

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه وادۍ ته اوختلے۔ زۀ هم ورپسے په هغه اوختلم۔ بیا د هغه نه کوزے شوے۔ زۀ هم ورپسے کوز شوم۔ بیا هغوئ یوے ویرانے ته اورسیدے۔ زۀ هم هغوئ پسے داخل شوم۔ څۀ گورم چه هلته ځنی مشائخ ناست دی۔ هغوئ ماته اووے: اے ابن زبیر! ته دلته څنګه راغلے؟ ما اووے: او تاسو کوم خلق یئ؟ هغوئ اووے: مونږ جنات یو۔ ما اووے: ما څو سنجے د بیت الله شریف طواف کولو باندے لیدلے وے۔ هغوئ ماته څۀ دومره مخلوق معلوم شوے نو زۀ هغوئ پسے راروان شوم۔ تر دے چه دلته راورسیدم۔ هغوئ اووے: دا زمونږ ښځے وے۔ اے ابن زبیر! ته څۀ خوښوے؟ ما اووے: تازه قجورے خوړل مې زړۀ غواړي۔ حالانکه هغه وخت کښے مکه معظمه کښے د تازه قجورو نوم نښان هم چرته نۀ وو۔ لیکن هغوئ ماته تازه قجورے راوړلے۔ چه ما اوخوړلے۔ نو هغوئ اووے: کوم چه باقی پاتے شوی دی۔ هغه خپل ځان سره یوسه! ۔

حضرت ابن زبیر رضی الله تعالی عنه فرمائی: ما هغه اوچتے کړے۔ او کورته واپس راغلم۔ زما اراده داوه۔ چه دا قجورے مکے والاؤ ته اوښایم زۀ چه کور کښے داخل شوم۔ نو هغه مې ټوکرۍ کښے کیښودلے۔ بیا ټوکرۍ مې صندوق کښے کیښودله۔ اوده شوم۔ قسم په خدائے د خوب او بیدارۍ مینځ کښے ووم۔ چه کور کښے د ټوپونو اوازونه مې واوریدل هغوئ کښے یو اووے: هان ایښی دی۔ دویم اووے: صندوق کښے دی یو اووے: صندوق پرانیزئ۔ بیا هغوئ صندوق پرانستلو۔ بیا یو اووے: قجورے کوم ځائے دی؟ دویم ورته اووے ټوکرۍ کښے د

هغهٔ اووے: ښوکرئ پرانیزئ۔ هغوی اووے: موږ د ا نهٔ شو پرانستے۔ حکه چه ابن زبیر رضی الله تعالی عنه بسم الله وئیلو سره ایښی دی۔ نو یو جن اووے: دا څنګه چه دی دغسے سالمے اوچتے کړئ۔ نو هغوی هغه اوچتولو سره روان شول۔

حضرت زبیر رضی الله تعالی عنه فرمائی: ما دومره هیڅ څیز باندے افسوس او نهٔ کړ۔ څومره چه په هغے مِ افسوس اوکړ۔ چه په هغوئ ټوپ وهلو سره هغوئ څنګه د باؤکړم هرکله چه هغوی زما کور کښے وو۔ (تاریخ ابن عساکر)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د ریمه حصه :-

د شیاطینو مجموعی حالات

ایا الله ابلیس سره بلا واسطه کلام کړے وو ؟

حضرت علامه ابن عقیل رحمة الله تعالی علیه فرمائی : که څوک دا سوال اوکړی چه آیا الله تعالی ابلیس هرڅ ود سره بلا واسطه خبرے کړے وے ؟.

(جواب) دے باره کښے علماءُ اختلاف کړے دے - درست مذهب دادے چه په هغے محققین دی - چه الله تعالی ابلیس سره براه راست خبرے نهٔ وے کړے - بلکه دیوے فرښتے په ذریعے هغهٔ سره خبرے کړے وے - ځکه چه الله تعالیٰ چا سره کلام کول - په هغهٔ د رحمت کولو هغهٔ نه د راضی کیدو او د هغهٔ د عزت افزائی او د هغهٔ د شان د زیاتولو د پاره وی - ایا تاسو اونهٔ لیدل - چه حضرت موسی علیه السلام ته د حضرت محمد صلی الله علیه واله وسلم او حضرت ابراهیم علیهما السلام نه علاوه په ټولو انبیاؤ د دے کلام کولو په وجه فضیلت عطاء کړے دے - (ابن عقیل - منه - لعله فی کتاب الفنون)

ایا ابلیس د فرښتو نه وو ؟

دے کښے علماءُ اختلاف کړے دے - اکثر علماء دا فرمائی - چه ابلیس د فرښتو نه وو - ځکه چه د الله تعالی ارشاد دے : فَسَجَدُوٓا اِلَّآ اِبۡلِيۡسَ (سورۃ بقره ایه ۳۴) ټولو فرښتو سجده اوکړه - خو ابلیس اونه کړه - په

Maktaba Tul Ishaat.com

په دے مقام استثنأ منقطع سړو دلے شی - چه ابلیس د فرښتو د جنس نه وو ارشاد باری تعالیٰ دے : اِلَّا اِبْلِیْسَ كَانَ مِنَ الْجِنِّ نه چه دا معلومیږی چه ابلیس د جناتو نه وو- د هغے دا حضرات جواب ورکوی - چه جنات هم د فرښتو یو قسم دے - هرکله چه د فرښتو دیو قسم ته کروبیون او دویم قسم ته روحانیون ویلے شی.

د شیطان د مردود کیدو واقعه:-

حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی : ابلیس د فرښتو د قبائیلو نه یوے قبیلے سره تعلق درلود - چه هغوے ته ئے جن وئے هغوے ئے د ملائکو مینځ کښے د شغلے (لمبے) د اور نه پیدا کړل د ابلیس نوم حارث وو- او دے د جنت د دربانانو نه یو دربان وو- د دے قبیلے نه علاوه د فرښتو ټول قبائیل د نور نه پیدا کړے شو- او جنات اور د شغلے نه پیدا کړے شو. په مزکه د ټولو نه مخکښے د وی اوسیدل وے په مزکه فساد شروع کړو - وینے ئے اوبهولے او یو بل ئے قتل کړل نو الله تعالیٰ د دوی د سرکوبئ د پاره د فرښتو لښکر ورکولو سره ابلیس راولیږلو - هغه هغوے سره جنګ اوکړو - او هغوے ئے د سمندرونو جزیرو او غرونو طرف ته اوتښتول - هرکله چه ابلیس دا اوکړل - نو د هغه نفس کښے غرور راغے - هغه اووے : ما داسے کار کړے دے - چه بل چا اونه کړے شو- الله تعالیٰ د هغه د زړه خبره معلومه کړله - لیکن فرښتو ته د دے علم اونه شو- څوکله چه الله تعالیٰ فرښتو ته اوفرمائیل : چه زه مزکه کښے خپل خلیفه جوړول غواړم - نو فرښتو عرض اوکړو - ایا تاسو مزکه کښے هغه څوک پیدا کوئ - چه هغے کښے به فساد کوی او وینے به

Maktaba Tul Ishaat.com

بھوی۔ څنګه چه خناتو کړی وو۔ الله تعالی او فرمائیل: زهٔ داسے خبره پیژنم چه تاسو ئے نهٔ پیژنئ۔ مادا ابلیس زړهٔ کښے د تکبر او غرور خبره لیدلے ده چه تاسو فرښتو نهٔ ده لیدلے

بیا الله تعالی حضرت ادم علیه السلام ته ګنګیدونکے خاوره نه پیدا کړو۔ او د هغهٔ خاکی جسم څلویښت شپو پورے د ابلیس مخکښے پروت وو۔ ابلیس به هغهٔ ته راتهٔ۔ د هغهٔ پښے له به ئے لته ورکوله۔ او د خلے نه ننوتلو سره د روستو نه به ترے وتلو۔ او د روستو نه به داخلیدو سره د خُلے نه به ترے وتلو۔ بیا به ئے وئیل: ته هیڅ نهٔ ئے که ته پیدا شوے نهٔ وے۔ نو څه حرج وو۔ که زهٔ تا باندے مسلط کړے شوم۔ نو تا به تباه کړم۔ که زهٔ په تا مسلط کړے شوم۔ نو تا به ګناهونو کښے ملوث (ککړ) کړم۔

کوم وخت چه الله تعالی حضرت ادم علیه السلام کښے روح او پوکلو نو فرښتو ته ئے حکم اوکړ۔ چه آدم علیه السلام ته سجده اوکړئ۔ نو ټولو ورته سجده اوکړه۔ خو ابلیس انکار اوکړ۔ او د هغهٔ زړهٔ کښے چه تکبر پیدا شوے وو۔ د هغے په وجه ئے غرور اوکړو۔ او هغهٔ اووے: زهٔ ورته سجده نهٔ کوم۔ زهٔ د دے نه بهتریم۔ عمر کښے لوئے یم اود طاقتور جسم مالک یم هغه وخت نه الله تعالی د هغهٔ نه خیر واخستلو۔ او د تمامی نیکئ نه ئے محروم کړو۔ د دے ئے شیطان مردود اوګرځولو۔ (ابن جریر طبری۔ ص۔)

د ابلیس خومره عظمت وو:۔

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمائی: ابلیس فرښتو کښے لوئے درجه لرله۔ د هغهٔ قبیله هم د فرښتو د قبیلو نه افضله وه۔ دے د جناتو داروغه

Maktaba Tul Ishaat.com

او ذمہ وار وو۔ د دنیا آسمان باندے ئے حکم چلیدلو۔ مجمع البحرین (بحیرہ روم او فارس) هم د دهٔ تصرف کښے وو۔ د دے د مزکے حکمرات هم وو۔ ځکه د دهٔ نفس د دے گمراه کړلو۔ او په دے وجه آسمان والاؤ کښے عظیم او بلند مرتبه وو۔ دے خبرے د هغهٔ زړهٔ د تکبر نه ډک کړے وو۔ چه د الله تعالیٰ نه پس په دے یل هیڅوک نهٔ پوهیدل هر کله چه د دهٔ د سجدے وخت راغے۔ نو هغه وخت الله تعالیٰ د هغهٔ تکبر ظاهر کړو۔ او قیامته پورے ئے ملعون (لعنتی) کړلو۔

(ابن جریر طبری، ابن المنذر۔ منه۔)

ابلیس د آسمان او مزکے حکمران وو:۔

حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: د فرښتو یو قبیله وه۔ چه د هغے نوم جن وو۔ د ابلیس د هغوے نه وو۔ دے د آسمان او مزکے حکمران وو۔ هر کله چه دهٔ نافرمانی اوکړه۔ نو الله تعالیٰ ترے ناراضه شو۔ شیطان مردود ئے اوگرځولو۔

جن ته جن ولے وائی:۔

حضرت ابن عباس، حضرت ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنهما او څو نور صحابه کرام فرمائی۔ ابلیس مخکښے د آسمان ذمه دار گرځولے شوے وو۔ دهٔ د فرښتو هغه قبیلے سره تعلق لرلو۔ چه هغے ته ئے جن وے۔ د ابلیس د دغے جنا تو نه وو۔ د وئ ته جن ځکه ویلے شی۔ چه د وئ د جنت نگران او ذمه دار وو۔ ابلیس خپل حکومت سره د جنت هم نگران وو۔ ځکه د هغهٔ زړهٔ کښے تکبر راغے۔ او هغهٔ اووے: الله تعالیٰ دا مرتبه ما ته ځکه راکړی دی۔ چه تمامو فرښتو

Maktaba Tul Ishaat.com

باندے زمابرتری ظاهره کړی۔ (ابن جریر طبری۔منه۔)

ابلیس د هوا نظام هم سنبالولو:-

حضرت قتاده رحمة الله علیه فرمائی: کوم لش فرښتو چه د هوا نظام سنبالولو هغې کښې یو ابلیس هم وو۔ (ابن ابی الدنیا۔منه۔)

د ابلیس اصل نوم:-

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمائی: چه د ابلیس اصل نوم عزازیل وو۔ د ے څلورو وزرو والا فرښتو کښې لویه مرتبه لرله۔ روستو د الله تعالی د رحمت نه مردود کړے شو۔ (ابن ابی الدنیا فی مکائد الشیطان۔منه۔ ۲۷۔صلـ۹ ، الدر المنثور ۱/۵۵)

حضرت ابو المثنیٰ رحمة الله تعالی علیه فرمائی: چه د ابلیس اصل نوم نائل وو۔ کوم وخت چه الله تعالی ترے ناراضه شو۔ نو دده نوم شیطان کیښودے شو۔ (ابن ابی الدنیا۔منه۔ مکائد الشیطان ۔۱۷۔ صلـ۹ ، ابن ابی حاتم، ابن الانباری فی الاضداد ، شعب الایمان، بیهقی ، در منثور ۱/۵۵)۔

فائده:- دا چه د ابلیس څو نومونه ذکر شوی دی د ټول دده نومونه کیدے شی۔ څنګه چه هره علاقه کښې د څیزونو نومونه جدا جدا وی۔ (مترجم)

د شیطان نوم ابلیس ولے کیښودے شو؟

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمائی: چه د شیطان نوم ابلیس ځکه کیښودل شو۔ ځکه چه الله تعالی دے د هرقسم خیر نه محروم کړے وو۔ (ابن جریر۔منه۔)

Maktaba Tul Ishaat.com

ابلیس د فرښتو د یوے قبیلے پورے تعلق لرلو:-

حضرت ضحاک رضی اللہ تعالیٰ عنہ نقل کوی - چہ حضرت ابن عباس رضی اللہ تعالیٰ عنہ او حضرت ابن مسعود رضی اللہ تعالیٰ عنہ ترمینځ اختلاف شو - نو دوے کښے یو او فرمائیل: چہ ابلیس د ملائیکو د هغہ قبیلے نہ وو - چہ هغوے ته جن وے - (ابن المنذر، کتاب العظمة ابو الشیخ - منہ -)

فرمان خداوندی: إِلَّا إِبْلِيسَ كَانَ مِنَ الْجِنِّ. (سورۂ کهف ایت ۵۰) په تفسیر کښے حضرت قتاده رح فرمائی: فرښتو کښے یوه قبیله وه - هغے ته ئے جن وے - (دا ابلیس د هغوے نه وو) حضرت ابن عباس رضی اللہ تعالیٰ عنہ فرمائی: که ابلیس د فرښتو نه نۀ وے - نو هغۀ ته به د سجدے حکم نۀ ورکیدۀ - د دے نه مخکښے د اسمان نګران وو - (عبد الرزاق، ابن جریر - منہ -) -

جنات به جنتیانو د پاره زیور (کالی) جوړول:-

ارشاد خداوندے: إِلَّا إِبْلِيسَ كَانَ مِنَ الْجِنِّ (سورۂ کهف آیت ۵۰) تفسیر کښے حضرت سعید بن جبیر رح فرمائی: د دے جناتو د فرښتو یوے قبیلے سره تعلق لرلو - چه همیشه به قیامته پورے جنت والو د پاره زیور جوړول. (ابن ابی حاتم، ابو الشیخ - منہ -)

د ابلیس اصل صورت بدل کړے شو:-

حضرت سعید بن جبیر رح فرمائی: کوم وخت چه الله تعالیٰ ابلیس ملعون او کرځولو - نو د هغه فرښتو والا صورت ئے هم ورله بدل کړلو هغه وخت هغۀ آه و فریاد او کړ - او دا سے ئے او ژړل - چه دُنیا کښے د

قیامت ژړا د ے کښې مشهیر کیدے شی (یعنی ډیرے موډ ے پورے ے ژړیږی) دویم هغه وخت چه شیطان حضور صلی الله علیه واله وسلم مکه مکرمه کښې په مونځ کولو اولیدلو- نو بیا ئے هم ډیر اوژړل - دویم کوم وخت چه حضور صلی الله علیه واله وسلم ئے په فتح کښې اولیدلو هغه وخت ئے هم ډیر ژړلی وو-- د هغې په وجه ورته د هغې اولاد راجمع شو- نو ابلیس اووے: تاسو د محمد صلی الله علیه واله وسلم امت شرک کښې مبتلا کولو نه ناامیده شئ- لیکن هغوئے سره د دین معامله کښې فتنه بازی کولے شئ۔ هغوئے کښې نوحه، ماتم او شعر داخل کړئ- (ابن ابی الدنیا فی مکائد الشیطن، ابن ابی حاتم، ابوالشیخ منه- مکائد الشیطان ۳۳، صفحه ۵۴، حلیه ابونعیم ۹/ ۶۳، الدرالمنثور ۴/ ۲۲۷).

فائده ٤- پورته تمام مضامین دد ے وضاحت کوی- چه ابلیس د فرشتو نه وو- دلته د هغه فریق دلائل ختم شو- چه ابلیس ئے د فرشتو یو فریق منلو- وړاندے د هغه حضراتو دلائل دی- چه ابلیس د فرښتو له ډلے نه نهٔ منی۔

د شیطان د نهٔ فرشته کیدو دلائل:-

حضرت حسن بصری رحمة الله علیه فرمائی: ابلیس یو لمحه ئے دپاره هم د فرشتو نه نهٔ وو- د دهٔ اصل جن وو- څنګه چه د انسان اصل حضرت ادم علیه السلام دے. (ابن جریر، ابوالشیخ- منه-)

امام ابن الشهاب زهری رح فرمائی: چه ابلیس د تمام خناق پلار دے لکه څنګه چه حضرت ادم علیه السلام د تمو انسانانو پلار دے. آدم علیه السلام د انسانانو نه دے او د هغوئے پلار دے- او ابلیس د جناتو

نہ دے ۔ او د هغوئ پلار دے ۔ (ابن ابی الدنیا، ابن ابی حاتمؒ، ابو الشیخ ۔منہ ۔ مکائد الشیطٰن (۳۲)، ص۵۲، مصائب الانسان ابن مفلح مقدسی ص۸۳) ۔

د فرشتو جناتو سره جنګ :-

حضرت شهر بن حوشب رحمۃ اللّٰہ تعالی علیہ فرمائی : ابلیس د هغې جناتو نه دے چه فرشتو شکست ورکړے وو ۔ یوے فرشتے ابلیس ګرفتار کړے وو ۔ او اسمان ته ئے اوړلے وو ۔ (ابی جریر، ابن ابی حاتمؒ ۔منہ ۔)

د شیطان ګرفتاری :-

سعد بن مسعود رحمۃ اللّٰہ تعالی علیہ فرمائی : فرښتو به شیطان سره جنګ کولو نو جنګ کښې شیطان ګرفتار کړے شو ۔ نو هغه وخت دے بچ ؤ ۔ بیا به ئے فرښتو سره عبادت کولو ۔ (ابن جریر، منہ ۔) ۔

ابلیس فرښته نه ؤ :-

حسن بصری رحمۃ اللّٰہ تعالی علیہ فرمائی : اللّٰہ تعالی د نے هغه خلق قتل کړی چه د هغوئ داګمان دے ۔ چه ابلیس د فرښتو نه وو ۔ اللّٰہ تعالی فرمائی (مِنَ الْجِنِّ ۔ هغه د جناتو نه وو ، (ابن منذر ، ابن ابی حاتمؒ ۔منہ ۔)

د شیطان د تکبر یوه بله وجه :-

حضرت ابن عباس رضی اللّٰہ تعالی عنہ فرمائی : اللّٰہ تعالی ابلیس اولیږلو ۔ چه د مزکے د سطحے نه درست او ښوئ خمیر راوړی ۔ د هغے نه اللّٰہ تعالی حضرت آدم علیہ السلام پیدا کړے وو ۔ او دا دے وجه ابلیس ویلی وو ءَاَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِيْنًا (سورۃ اسراء ایت ۶۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

ایا زهٔ دهٔ ته سجده اوکړم چه تا د خاورے نه پیدا کړے دے؟ او د خاورے ما خپله را وړے وه ـ (طبقات ابن سعد، ابن جریر، ابن ابي حاتم ، منثور ـ)

وسواس اچولو د پاره شیطان جنت ته څنګه داخل شو؟

حضرت ابن مسعود او څو نور صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم اجمعین فرمائي: هرکله چه الله تعالی حضرت ادم علیه السلام ته فرمائیلي وو: اُسْكُنْ اَنْتَ وَ زَوْجُكَ الْجَنَّةَ ۔ (سورة بقره ایت ۲۵) ته او ستا ښځه جنت کښې اوسئ ـ نو ابلیس هغوي ته جنت ته د ورتلو اراده اوکړه ـ نو د جنت داروغه ګانو منع کړلو ـ نو دے مار ته راغے ـ هغه وخت د اوښ په شان د مار څلور پښے وے ـ او دے د ټولو څناورو نه زیات ښائسته وو ـ دے سره شیطان خبره اوکړه ـ چه هغه خپله خُلهٔ کښې کینوی ـ چه هغه ادم علیه السلام ته اورسي ـ نو مار خپله خُلهٔ کښې داخل کړو ـ او داروغه ګانو نه تیریدو سره جنت کښې داخل شو ـ داروغه ګانو ته پته اونهٔ لګیدله ـ حُکم چه د کوم کار الله تعالی اراده کړے وه ـ هغه به کیدل وو ـ نو شیطان د مار د خُلے نه کلام اوکړو ـ او د هغه خبرے نه ئے څه فتنه محسوس نهٔ کړه ـ بیا شیطان حضرت ادم علیه السلام له راغے ورته ئے اووے: اے ادم علیه السلام! ایا زهٔ تا ته د همیشه اوسیدو داونے او هیڅکله د نهٔ ختمیدونکی ملک پته درنهٔ کړم؟ (ابن جریر ، ابن ابي حاتم ، منثور ـ)

د شیطان ملګرتیا کولو سره د مار بدبختي :ـ

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمائي: د الله دښمن ابلیس

Maktaba Tul Ishaat.com

خپل ځان د مزکې د تولو ځناورو مخکښې پیش کړلو۔ چه څوک به هغه اوچت کړی۔ چه هغه سره جنت کښې داخل شی۔ او ادم علیه السلام سره خبرې اوکړې شی۔ نو هر ځناور دے نه انکار اوکړ۔ هر کله چه ابلیس مار سره خبره اوکړه۔ چه زه به تا د انسان د ایزاء نه بچ کړم که ما جنت کښې داخل کړے۔ نو زما په ذمه یې۔ نو مار ابلیس خپلو غاښونو کښې اوچت کړ۔ حتیٰ چه شیطان د هغه خُلۀ کښې داخل شو۔ بیا شیطان د مار د خُلے نه خبرې اوکړې۔

د مار به په څلورو پښو تللو۔ او کپړې به یې اغوستے د شیطان مکر تیا سره الله تعالیٰ ترے کپړے هم اوښکلے۔ او پښے یې هم ترے واخستے۔ او د خیټے په زور یې تلونکے کړو۔

حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه وائی: مار چه تا سو کوم ځائے بیا موئ۔ نو وژنئ یې۔ او د الله د دشمن بدله ترے واخلئ (تفسیر عبدالرزاق، (تفسیر) ابن جریر طبری۔ منه۔)۔

د مار پښے او جنات د اوښ تشکل کښې:۔

یو محدث بیان کوی۔ شیطان جنت کښې د څلورو پښو والا ځناور په شکل کښې داخل شو۔ گویا دے اوښ معلومیده۔ الله پرے لعنت اوکړو۔ د هغے پښے او غړځیدے۔ او مار جوړ شو۔ ابوالعالیه رحمة الله علیه فرمائی: چه څه اوښان د پیدا ښت شروع کښې جنات وو۔ (تفسیر۔ ابن جریر۔ منه۔)

ابلیس بی بی حوا څنګه وسوسه کښې واچوله؟

حضرت سعید بن احمد بن حضرمی رحمة الله علیه وائی: کوم

وخت چه الله تعالیٰ حضرت ادم علیه السلام او بی بی حوّا جنت کښې داخل کړل - نو حضرت ادم علیه السلام جنت کښې سیل د پاره وګرځیدلو ابلیس د حضرت غیر موجودګی غنیمت اوګڼړله - او هلته اورسیدلو چرته چه بی بی حوا موجود وه - او دا سے بنسری ئې اوغږوله - چه اوریدونکو دا سے خوند ناک آواز چرته نه ؤو اوریدلے - حتی چه د بی بی حوا جوړه ، جوړه ناقلاره شو - بیا شیطان بنسری اخوا کوله سره دوئم طرف ته ئې دا سے اوغږوله - چه ژړا انګولا دا سے محشر ئې راپورته کړو - چه اوریدونکو دا سے هیڅکله نه ؤو اوریدلے حضرت بی بی حوا هغه ته اووے : - دا تا څه خیز راوړے دے - شیطان اووے : جنت کښې ستاسو مقام او د الله جل جلاله په نزد ستاسو د شان په لیدو سره زه خوشحاله شوم - خو دا خبره یاد ولو سره چه تاسو به د دے ځائے نه اوبنکلے شئ - ستاسو حق کښې م اوژړل - او غمجن شوم - ایا ستاسو پروردګار تاسو ته دا نه ؤو وئیلی - چه کله تاسو د دے اونے نه اوخوړئ - نو مړه به شئ ؟ او د دے جنت نه به اوبنکلے شئ - اے حضرت حوا ! ماته اوګوره ! چه زه د دے اونے نه اوخوړم او مړ شم او یا زما شکل او صورت وران شی - نو تاسو د دے نه مه خوړئ - زه تاسو ته د الله قسم خورم چه ستاسو رب تاسو د دے اونے نه ځکه منع کړئ - چه په دے وجه چه تاسو جنت کښې همیشه پاتے نه شئ - زه ستاسو د پاره قسم خورم چه زه ستاسو خیر خواه یم - (ابن منذر - منه -)

په تشي لاس اېښودل د شيطان طريقه ده :-

حضرت حميد بن بلال رحمة الله تعالیٰ عليه فرمائي : مونږ کښې په تشي لاس اېښودل حُکم منع کړے شوی دی۔ چه کوم وخت شيطان مزکے ته راکوز کړے شوے وو۔ نو هغهٔ په تشي لاس اېښے وو۔ (ابن ابي شيبه ـ منه ـ) او هم دا زنګه چه شيطان ګرځي نو په تشي لاس اېښودلو سره ګرځي ـ (ترمذی شريف ۲/۲۲۳)

شيطان په مزکه کښې کوم ځائے کوز کړے شو؟

حضرت حسن بصری رحمة الله تعالیٰ عليه فرمائي : ابليس د بصرے نه په څو ميله فاصله دشت ميسان کښې کوز کړے شوے وو ـ (ابن ابي حاتم ـ منه ـ)

د ابليس د لاس سپيره والے :-

حضرت سرى بن يحيى رحمة الله عليه فرمائي : کوم وخت چه حضرت ادم عليه السلام مزکے ته راکوز کړے شوے وو۔ نو د هغهٔ لاس کښے غنم وو۔ او .... باندے ابليس خپل سپيرهٔ لاس اېښے وو۔ نو د هغهٔ لاس چه په کوم خيز پريوته ـ د هغے نفع ختمه شوه ۔ (ابن ابي حاتم، ابوالشيخ (کتاب العظمة)، ـ منه ـ)

شيطان د حضرت بي بي حواءٴ مخکښے :-

(حديث شريف) حضرت سمره رضی الله تعالیٰ عنه فرمائي : جناب رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم ارشاد او فرمائيلو :

لَمَّا وَلَدَتْ حَوَّاءُ طَافَ بِهَا إِبْلِيسُ وَكَانَ لَا يَعِيشُ لَهَا وَلَدٌ : فَقَالَ سَمِّيهِ عَبْدُ الْحَارِثِ فَإِنَّهُ يَعِيشُ فَسَمَّتْهُ

Maktaba Tul Ishaat.com

عَبْدَ الْحَارِثِ فَعَاشَ - وَكَانَ ذٰلِكَ مِنْ وَحْيِ الشَّيْطَانِ وَاَمْرِهٖ

ترجمه :- حضرت بی بی حوا چه بچے راوړلو- نو ابلیس ترے چاپیره تاؤ شو- د هغے بچی نۀ پاسیدۀ- شیطان ورته اووے: د دۀ نوم عبدالحارث کیږده- نو دے به نۀ وفات کیږی- نو هغے دے نوم عبدالحارث کیښودلو- او هغه ژوندے پاتے شو- هغے داکار د شیطان په القاء او د هغۀ په ویینا کړے وو- (مسنداحمد، ترمذی و حسنه، ابن جریر، ابن ابی حاتم، ابن مردویه، حاکم و صححه- منه- بدایه والنهایه ۱/۶۹، در منثور ۳/۱۵۱، تفسیر ابن کثیر ۵/۵۲۹)

(فائده) روستو چه حضرت آدم علیه السلام ته معلومه شوه نو هغوی ورته اوښودل- چه هغه خو زمونږ دشمن شیطان وو- چه هغۀ دا حرکت کړے وو- نو د هغۀ نوم ئے بدل کړلو-

شیطان د حضرت نوحؑ مخکښے :-

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: کوم وخت چه حضرت نوح علیه السلام بیړۍ کښے سور شو- نو یو بوډا ئے اولیده چه وے نۀ پیژندلو- تپوس ئے ترے اوکړو- ته څوک ئے؟ هغے اووے: شیطان یم- وے ته دلته ولے راغلے یے؟ هغۀ ورته اووے چه ستا د پیروکارو زړه نه خراب کړم- د هغوے زړۀ نه ما سره وی- او بدن تاسره- نوح علیه السلام ورته اوفرمائیل: اے د الله د شمنه! دلته نه اوځه- شیطان ورته اووے: پنځه کارونه دی- چه هغے سره زۀ خلق ګمراه کوم- زۀ د هغے نه درے خو تاته بنایم او دوه درته نه بنایم (ما د کشتۍ نه هـ ه اوکاږه) حضرت نوح علیه السلام ته وحی اوشوه

Maktaba Tul Ishaat.com

چه تاته دَ هغې د ريږو ضرورت نشته ـ هغهٔ ته اووايه! چه هغه دوه څيزونه درته اوښائي، د هغې په وجه دے خلق گمراه کوی . نوشيطان اووے: هغه دوه دادی : (۱) حَسَد: چه د دے په وجه زهٔ ملعُون اوشيطان مردود شوم ـ (۲) حرص : الله تعالیٰ حضرت ادم عليه السلام جنت حلال کړو ـ (ليکن حضرت ادم عليه السلام ته جنت کښے د هميشه اوسيد لوحرص وو) په دے وجه زهٔ دے مقصد کښے کامياب شوے ووم ـ

حضرت موسیٰ سره د شيطان د ملاقات واقعه:

حضرت ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی : د غښے شيطان حضرت موسیٰ عليه السلام سره هم يوځائے وو ـ هغهٔ وئيلی وو اے موسیٰ ع الله تعالیٰ تاستو خپل رسالت سره منتخب کړی يے اوتاسو سره يے کلام فرمائيلے دے ـ زهٔ هم د الله تعالیٰ مخلوق يم ـ ماگناه کړے ده ـ اوس توبه کول غواړم ـ د خپل پروردگار مخکښے ما د پاره سفارش اوکړه ـ چه هغه زما توبه قبوله کړی ـ

نو موسیٰ عَلَيه السلام الله تعالیٰ ته دُعا اوغوښتله ـ الله تعالیٰ ورته اوفرمائيل : اے موسیٰ! ماستا حاجت پوره کړو ـ نو موسیٰ عليه السلام ابليس سره يوځائے شو ـ ورته يے اوفرمائيل : هاته د احکم راکړے شوے دے ـ چه ته د حضرت ادم عليه السلام قبرته سجده اوکړه ـ نو ستا توبه به قبوله شی ـ خو هغهٔ تکبر اوکه ـ او غصه کښے يے اووے: ما هغهٔ ته ژوند کښے سجده نهٔ ده کړے ـ نو د مرګ نه پس ورته څنګه سجده اوکړم ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

ابلیس اووے: اے موسیٰ علیہ السلام! تا زما حق کښے سفارش کولو سره حق جوړ شوے دے۔ ته په درے مقامو ما یادوه! (یعنی مانه ویریږه) د هلاکت دا درے ځایونه دی.

(۱) هرکله چه غصه درشی۔ نو پوهه شه چه دا زما اثر دے. چه ستا په زړهٔ پروت دے. زما سترګے دا وخت ستا سترګو کښے لګیدلے دی۔ او زه دا وخت ستاو ینه کښے ځغلم؛

(۲)۔ هرکله چه دوه لښکرو کښے جنګ کیږی۔ نو هغه وخت زهٔ هم انسان له راځم۔ او هغهٔ ته د هغهٔ ښځه اولاد او بچی یاد وم۔ ترهغے چه هغه شاه کولو سره او تښتی.

(۳) د نامحرمے ښځے مجلس کښے نا سته نه هم بچ اوسه۔ کله چه زهٔ د هغهٔ تا سره او ستا د هغهٔ سره قاصد جوړیږم۔ (ابن ابی الدنیا، مکائد الشیطن۔ منه۔ (۳۴) ص۶۵، تلبیس ابلیس ص۳۰، احیاء العلوم ۳/۳۱، در منثور ۱/۵۱، مصائب الانسان ص۱۲۸) .

د ابلیس د توبے خواهش :-

حضرت ابوالعالیہ رحمة الله علیہ فرمائی: کوم وخت چه د حضرت نوح علیہ السلام کشتئ لنګرانداز شوه۔ نو ابلیس ئے د کشتئ وروستنئ حصه کښے موجود اولید لو۔ ورته ئے او فرمائیل: تباه شے ستا په وجه خو د مزکے والا غرق شول۔ تا هغوئ تباه کړل۔ ابلیس اووے: نو زهٔ څه اوکړم؟ حضرت ورته او فرمائیل: ته توبه اوباسه! هغهٔ اووے: بیا تاسو د الله عزّ وجل جلاله نه تپوس اوکړئ۔ چه زما د توبے د قبلیدو ګنجائش شته۔ نو حضرت نوح علیہ السلام الله تعالیٰ نه دُعا اوغوښتله۔ الله تعالیٰ ورته

Maktaba Tul Ishaat.com

وحی را اولیږلے۔ د دهٔ د توبې صورت دادے۔ چه د آدم علیه السلام قبر ته سجده اوکړی۔ نو حضرت نوح علیه السلام شیطان ته اوفرمائیل: ستا توبه مقرر شوے ده۔ هغهٔ تپوس اوکړو څنګه؟ وے فرمائیل: ته د آدم علیه السلام قبر ته سجده اوکړه۔ هغهٔ اووے: ما ژوند کښې هغهٔ ته سجده نهٔ ده کړے۔ اوس د هغهٔ د مرګ نه پس ورته څنګه سجده اوکړم؟ (مکائد الشیطان ابن ابی الدنیا۔ منه۔ در منثور ۳/۳۳، مصائب الانسان ص۱۲۸)

ابلیس د نوح کشتۍ کښې څنګه داخل شو؟

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمائی: د نوح علیه السلام کشتۍ کښې د ټولو نه مخکښې میږے داخل شو۔ او د ټولو نه اخر کښې خر او۔ ابلیس د خر لکۍ سره اوبیزاند داخل شوے وو۔ (بلا حواله از علامه سیوطی رحمة الله تعالی علیه)۔

کشتۍ کښې د داخلیدو په وخت د ابلیس شرارت او حیله:-

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمائی: حضرت نوح علیه السلام کشتۍ کښې څناور کښې د ټولو نه مخکښې میږے سور کړلو۔ او آخر کښې خر۔ کوم وخت چه خر خپله مخکښې حصه کشتۍ کښې داخله کړه نو ابلیس د هغهٔ لکۍ سره اونښتلو چه د هغهٔ په وجه خر خپله پښه د ننه نهٔ کړے شوه۔ حضرت نوح علیه السلام داوئیل شروع کړل۔ ته تباه شے را د ننه شه! هغهٔ پښه اوچت کړه خو همت ئے اونهٔ شو۔ حتی چه حضرت نوح علیه السلام اوفرمائیل: پوره داخل شه! اګر څه تا سره شیطان وے نهٔ وی د حضرت د ژبے نه دا الفاظ جاری شو۔ کوم وخت چه حضرت نوح علیه

Maktaba Tul Ishaat.com

السلام دا اوفرمائیل ۔ نو شیطان د خر لا ر صفا پریښودله ۔ او خر دننه راغے ۔ او شیطان هم هغهٔ سره راغے ۔ نو هغهٔ نه نوح علیه السلام تپوس اوکړو ۔ اے د الله د شمنه! ته چا داخل کړے؟ هغهٔ اووے تا خو ته نهٔ وو وئیلی؟ چه داخل شه! خواه تا سره شیطان هم وی حضرت ورته اوفرمائیل : دلته نه اوځه! هغهٔ ورته اووے : زما سو ول په تا لازمی دی ۔ ځکه چه قیامته پورے ما ته مهلت راکړے شوے دے ۔ او الله ج د دے طوفان د عذاب نه د دے کشتئ په ذریعه ما بچ کوی ۔ نو هغه د کشتئ په چت سور شو ۔ (ابن جریر، ابن ابی حاتم ۔ منه ۔) ۔

ابلیس د خر لکئ کښے ۔

حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی : کوم وخت چه الله تعالیٰ د خر کشتئ کښے د سورولو اراده اوکړله ۔ نو حضرت نوح علیه السلام خر د غوږونو نه راښکلو ۔ او ابلیس هغه د لکئ نه ۔ نوح علیه السلام هغه ځان طرف ته راښکلو ۔ او ابلیس ملعون ځان طرف ته ۔ نو حضرت نوح علیه السلام اوفرمائیل : اے شیطانه! داخل شه! نو خر هم داخل شو ۔ او ابلیس هم هغهٔ سره داخل شو ۔ کوم وخت چه کشتئ روانه شوه ۔ نو ابلیس د خر لکئ کښے گانا (سندره) شروع کړه ۔ نوح علیه السلام ترے تپوس اوکړو ۔ ته تباه شے تا ته چا کشتئ کښے د راختلو اجازت اوکړو؟ هغهٔ ورته اووے تا سو ۔ نو حضرت اوفرمائیل : کله؟ هغهٔ اووے : کوم وخت چه تا سو خر ته وئیلی وو ۔ اے شیطانه داخل شه! نو زهٔ ستا سو اجازت سره داخل شوے ووم ۔ (تفسیر ابو الشیخ ۔ منه ۔)

Maktaba Tul Ishaat.com

شیطان د نوح د کشتئ پانړس پاندے :-

حضرت عطاء او حضرت ضحاک رحمة الله تعالیٰ علیهم فرمائی: کوم وخت چه ابلیس د نوح علیه السلام کشتئ کښے د ناستے د پاره راغے۔ نو نوح علیه السلام هغه لوے کړلو۔ شیطان اووے: اے نوح علیه السلام! ماته خو مهلت راکړے شوے دے۔ ستاما پاندے هیڅ وس نه شی رسید لے۔ (یعنے تاسو ما هیڅ نه شئ منع کولے) نو حضرت نوح علیه السلام پوهه شو۔ چه رښتیا وائی۔ نو هغه ته ئے اجازت ورکړو۔ چه د کشتئ په پانړس کینی۔ (تاریخ ابن عساکر-منه-)

شیطان انګور کښے حِکره :-

حضرت مسلم بن یسار رح فرمائیلی دی۔ حضرت نوح علیه السلام ته حکم ورکړے شوے وو۔ چه هغه ځان سره کشتئ کښے د هر مخلوق جوړه واخلی۔ یوه فرښته به هم ورسره وی۔ نو یوه یوه جوړه ئے کینولو۔ انګور پاتی پاتے شو۔ ابلیس راغے۔ هغه اووے۔ دا خو ټول زما دی نو حضرت نوح علیه السلام فرښتے طرف ته اوکتل (چه ستا څه مشوره ده؟) هغه اووے: دے ستاسو شریک دے۔ تاسو ده سره د بهتر شرکت معامله اوکړئ۔ نو حضرت نوح علیه السلام اوفرمائیل: دریمه برخه ده او وئے فرمائیل: دوه تهایانے زما، او یوه تهائی د ده۔ فرښتے بیا اووے تاسو ده سره هم د ښه شرکت معامله اوکړئ۔ نو حضرت نوح علیه السلام اوفرمائیل: نیم زما او نیم د ده۔ ابلیس اووے: نه۔ دا خو ټول زما دی۔ حضرت نوح فرښتے طرف ته اوکتل۔ نو هغے اووے۔ دے ستاسو شریک دے۔ نو حضرت اوفرمائیل: دریمه برخه ده۔ زما یو تهائی

Maktaba Tul Ishaat.com

ددغۀ دوه تهائی - فرښتے اووے تاسو دیرښهٔ اوکړل - تاسو محسن یئے - تاسو به دا د انګورو شکل کښے خوریٔ - او دے کشمش (اوُسکے) جوړولو سره اوجوس جوړولو سره درے وڅو پورے به یے څکی - (ابن ابی حاتم - منه -)

حضرت محمد بن سیرین نه هم دا سے منقول دی - لیکن آخر کښے دا سے دی: چه تاسو به دا پخویٔ - چه هغے نه به دوه ثلثه خباثت وادځی دا به د شیطان حصه وی - او باقی یو ثلث ستاسو (یعنی د انسانانو) د څکلو د پاره دے - (تفسیر ابن منذر - منه -)

شیطان د ابراهیم علیه السلام مقابله کښے :-

حضرت کعب رضی الله تعالی عنه فرمائی: کوم وخت چه حضرت ابراهیم علیه السلام - حضرت اسحٰق علیه السلام خوب کښے ذبح کول اولیدل (د انبیاء خوب وحی وی) څکه ابراهیم علیه السلام ته دخپل ځوئے د ذبح کولو خوب کښے وحی اوشوه) څکه شیطان اووے: که دوئ په دے موقع ما فتنه کښے وانه چول - نو بیا به ئے هیڅکله وانه چولے شم - نو ابراهیم علیه السلام خپل ځوئے ذبح کولو د پاره اوبتکلو - نو شیطان بی بی سارا رضی الله تعالی عنه له واغے - ورته ئے اووے: ابراهیم ستا ځوئے چرته یوځی؟ وئے فرمائیل خپل څهٔ کار له - شیطان اووے: خپل څه کار له ئے نهٔ یوځی بلکه ذبح کولو د پاره ئے یوځی - هغے تپوس اوکړو - ولے ئے ذبح کوی؟ هغهٔ اووے: د هغهٔ خیال دے - چه هغهٔ ته الله حکم ورکړے دے نو هغے اووے: که حضرت ابراهیم علیه السلام د الله حکم اومنی - نو ډیر ښهٔ به اوکړی - نو شیطان هلته نه نامراده کیدو سره حضرت اسحٰق علیه السلام

Maktaba Tul Ishaat.com

له ورغے۔ ورته ئے اووے: ستا پلار تا چرته بوځي؟ ورته ئے اوفرمائیل: ځنے کار د پاره۔ نو هغهٔ اووے: هغه تا خپل کار له نهٔ بوځي۔ بلکه ذبح کولو د پاره دے بوځي۔ هغهٔ ورته اووے: د هغهٔ خیال دے۔ چه الله هغهٔ ته د دے حکم ورکړے دے: حضرت اوفرمائیل: که الله تعالیٰ هغهٔ ته حکم ورکړے دے: نو قسم په خدائے: نو هغه دے ضرور اوکړي۔

نو شیطان هغه پریښودلو سره حضرت ابراهیم علیه السلام له ورغے۔ ورته ئے اووے: خپل ځوئے چرته بوځے؟ وے ئے فرمائیل: ځنه کار له۔ ورته ئے اووے: ځنهٔ کار له نهٔ بلکه ذبح کولو د پاره ئے بوځے۔ وے ئے فرمائیل زهٔ به دے ولے ذبح کوم۔ هغهٔ اووے: ستا ګمان دے چه الله تعالیٰ د دے حکم فرمائیلے دے۔ وے ئے فرمائیل: په الله قسم! که الله ما ته د دے حکم فرمائیلے دے۔ نو زهٔ به ئے ضرور کوم۔ نو شیطان حضرت پریښودلو د خپل پیروئ کولو نه ئے نا امیده شو۔ (عبد الرزاق ابن جریر حاکم، شعب الایمان بیهقي۔ منه۔)

حضرت ابراهیم ؑ قربانی کولو کښے د شیطان د خنډ اچولو کوشش کول

حضرت قتاده رحمة الله علیه بیان کوی: حضرت ابراهیم علیه السلام ته چه د خپل ځوئے د ذبح کولو حکم اوشو۔ نو حضرت اوفرمائیل: اے ځویه! چاړهٔ را اوړه!

شیطان اووے: دا وخت دے۔ زهٔ د دے وخت کښے آل ابراهیم کښے د الله نافرمانی پیدا کولے شم۔ نو حضرت ابراهیم علیه السلام ته د دوست شکل کښے راغے۔ ورته ئے اووے: اے ابراهیم! د چرته اراده دے ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com

ورته ئې فرمائيل: څهٔ کار له ځم - ورته ئې اووے: تاچه کوم خوب ليدلے دے - د هغې په وجه قسم په الله ته خپل ځوئې ذبح کولو له ځې، خوب کله درست وی - کله غلط - د اسحٰق ذبح کولو نه سوا ته خوب کښې نور څهٔ نهٔ وینے؟

هر کله چه شيطان مردود اوليدل - چه ابراهيم عليه السلام ئې تيرنهٔ ويستلے شو - نو اسحٰق عليه السلام سره يوځائے شو - او هغهٔ ته ئې اووے: اے اسحٰق عليه السلام ته چرته ځې؟ ورته ئې فرمائيل د ابراهيم عليه السلام کاله - ورته ابراهيم عليه السلام خو تا ذبح کولو د پاره بوځي - اسحٰق عليه السلام اوفرمائيل: هغهٔ به زما ذبح کولو نه څهٔ فائده وي؟ بيائې اوفرمائيل: تا چرته څوک پلار ليدلے دے چه هغهٔ خپل ځوئې ذبح کړے وی؟ ورته ئې اووے: هغه تا الله تعالىٰ د پاره ذبح کوی - ورته ئې فرمائيل: که هغه ما الله تعالىٰ د پاره ذبح کوی - نو زهٔ به صبر کوم - الله تعالىٰ د دے اهل دے (چه زهٔ هغهٔ د پاره قربانی شم -) .

هر کله چه شيطان اوليدل - هغهٔ اسحٰق عليه السلام هم تيرنهٔ ويستلے شو - نو بی بی سارا رضی الله عنها له ورغے - تپوس ئې ترے اوکړو - اسحٰق عليه السلام چرته ځی؟ ورته ئې فرمائيل: ابراهيم عليه السلام سره څهٔ کار لپاره - ورته: هغه خو ئې ذبح کولو د پاره بوځي - هغې اوفرمائيل: ايا تا چرته ليدلی دی چه څوک خپل ځوئې ذبح کوی - ورته - هغه الله تعالىٰ د پاره ذبح کوی - ورته ئې فرمائيل: که الله تعالىٰ د پاره ئې ذبح کوی نو ابراهيم عليه السلام او اسحٰق عليه السلام دواړه د الله بنديان دی

Maktaba Tul Ishaat.com

او د الله ذات د دے لائق دے (چہ هغۀ دپارہ دے ذبح کړے شی)

هرکله چه شیطان اولیدل - چه بی بی سارہ رضی الله تعالیٰ عنها باندے هم د هغۀ وس او نۀ رسیدہ (نومقام منیٰ کښے) جمرۂ عقبیٰ له راغے - او غصے نه دومرہ پړسیدلے وو - چه پورہ وادی کښے ئے خپل جسم خور کړلو - هغه وخت حضرت ابراهیم علیه السلام سره یوه فرشته (حضرت جبرائیلؑ) هم وو - فرښتے اووے، اے ابراهیم ! اووه کنکر باندے اوولہ - او هر کنکر ویشتلو نه پس الله اکبر اووایه ! نو دے طریقے سره شیطات د لارے نه لرے شو - بیا ابراهیم علیہ السلام تلو سره جمرۂ ثانیه ته اورسیدلو - شیطان بیا هم د غصے نه پړسیدلے تولہ وادیٔ کښے خورشولو - فرشتے اووے : اے ابراهیم علیہ السلامؑ! بیا ئے په اووه کنکر اوولہ ! نو حضرت بیا اووه کنکر اوویشتل - او هر کنکر ویشتلو وخت کښے ئے تکبیر اووے : چه هغے سره شیطان لارې پرا نستله بیا چه ابراهیم علیه السلام جمرۂ ثالثه ته اورسیدلو - نو شیطان بیا اوپړسیدلو - او د وادیٔ تولے لارے ئے بندے کړلے - فرښتے بیا اووے : دے په کنکر اوله - نو حضرت ابراهیم علیه السلام په اووه کنکر اوویشتلو او هر کنکر نه پس ئے الله اکبر اووے : د غبے ملعون د لارے نه لرے شو - او حضرت ابراهیم علیه السلام قربانی ګاه ته اورسیدلو - (ابن ابی حاتم - منه -) .

حضرت ابراهیمؑ شیطان په کنکر اوویشتلو :-

حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی : کوم وخت چه حضرت ابراهیم علیہ السلام ته د قربانۍ حکم اوشو - نو منیٰ کښے شیطان د حضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

مقابله اوکړه - لیکن حضرت اوکتله - بیا جبرائیل علیه السلام حضرت حمزهؓ

عقبه ته یوتلو- شیطان هلته هم خنډ اچول غوښتل - نو حضرت په

اووه کنکرو اوویشتلو - او روان شو - بیا شیطان جمرهٔ وسطی کښے

راملو سره خنډ اچول اوغوښتل - نو بیا حضرت په اووه کنکرو

اوویشتلو - حتی چه هغه اوتښتیدلو - (ابن ابی حاتم، ابن مردویه،

شعب الایمان بیهقی - منه -)

قربانی اسماعیلؑ شو یا اسحقؑ؟ :-

(فائده) مذکوره روایت نه دا ثابتیږی چه حضرت ابراهیم

علیه السلام حضرت اسحاق علیه السلام قربانی کولو د پاره بیولے وو:

حضرت عمر بن خطابؓ، حضرت عباسؓ، ابن مسعودؓ، حضرت انس

بن مالک رضی الله تعالیٰ عنه او حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه

نه هم دغسے منقول دی - حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه نه د دے

متعلق د روایاتو اختلاف دے : بعض حضرت اسحاق او بعضو

حضرت اسماعیل علیه السلام ذبیح بیان کړے دے - تابعینو کښے حضرت

کعبؒ، سعید بن جبیرؒ، مجاهدؒ، قاسم بن بره، مسروقؒ، قتادهؒ

عکرمهؒ، وهب بن منبهؒ، عبید بن عمیرؒ، عبد الرحمٰن بن یزیدؒ، ابوالهذیلؒ

ابن شهاب زهریؒ - سدیؒ هم حضرت اسحاق علیه السلام ذبیح

منی - امام احمد بن حنبلؒ هم دا اختیار کړے دے - علامه سهیلیؒ

فرمائی : د حضرت اسحاق ذبیح کیدو کښے شک نشی کیدے -

د علماءُ یوه بله ډله دا وائی : چه ابراهیم علیه السلام حضرت اسماعیلؑ

قربانی کولو د پاره بوتلے وو- د دے قائل حضرت عبد الله بن عمرؓ

Maktaba Tul Ishaat.com

، عبد اللہ بن عباس رض، امام حسن رح او حضرت امام سعید بن المسیب رح، حضرت امام شعبی رح، محمد بن کعب قرظی رح دی۔ حضرت عمر بن عبد العزیز رح او عمرو بن العلاء رح نه هم دا روایت شوے دے۔ (آکام المرجان فی احکام الجان علامه محمد بن عبد اللہ شبلی حنفی ۷۶۹ھ ص ۲۰۹ طبع خیر کثیر کراچی)

شیطان مزکه کښے غرق شو:۔

(حدیث شریف) حضرت ابن عباس رضی اللہ تعالی عنه فرمائی: جناب رسول اکرم صلی اللہ علیه وآله وسلم ارشاد او فرمائیلو:

اِنَّ جِبْرِیْلَ ذَهَبَ بِاِبْرَاهِیْمَ اِلٰی جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ۔ فَعَرَضَ لَهُ الشَّیْطٰنُ فَرَمَاهُ بِسَبْعِ حَصَیَاتٍ فَسَاخَ۔ ثُمَّ اَتٰی بِهِ الْجَمْرَةَ الْوُسْطٰی فَعَرَضَ لَهُ الشَّیْطٰنُ فَرَمَاهُ بِسَبْعِ حَصَیَاتٍ فَسَاخَ ثُمَّ اَتٰی بِهِ الْجَمْرَةَ الْوُسْطٰی فَعَرَضَ لَهُ الشَّیْطٰنُ فَرَمَاهُ بِسَبْعِ حَصَیَاتٍ فَسَاخَ۔

ترجمه:۔ هر کله چه حضرت جبرائیل علیه السلام، حضرت ابراهیم ع جمرهٔ عقبه طرف ته بوتلو۔ شیطان به ورته مخکښے خنډ واچولو۔ نو حضرت ابراهیم علیه السلام هغه په اووه کنکرو او ویشتلو۔ چه هغے سره هغه په مزکه کښے غرق شو۔ بیا حضرت جبرائیل علیه السلام جمرهٔ وسطی ته راوستل۔ بیا هم شیطان ورته خنډ واچولو۔ بیا حضرت ابراهیم علیه السلام هغه په اووه کنکرو او ویشتلو۔ او بیا هغه مزکه کښے ډوب شو۔ بیا جبرائیل علیه السلام هغه یو بل جمرے ته راوستلو۔ بیا شیطان مقابله اوکړله۔ بیا حضرت ابراهیم علیه السلام

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه په اووه کنکرو اوويشتلو- نو هغه بيا مزکه کښې غرق شو-

(مسند احمد - مته - مسند احمد ۱/۳۰۶، مجمع الزوائد ۳/۲۵۹، كنز العمال حديث ۱۳۱۴۵) .

موسیٰ علیه السلام سره د شيطان مقابله :-

حضرت موسى عليه السلام چرته تشريف فرما وو- ابليس ملعون ورته حاضر شو- هغهٔ رنګ داره ټوپۍ اچولے وه- کوم وخت چه ورته قريب شو- نو ټوپۍ ئے کوزه کړه- او حضرت موسى عليه السلام ته راغلو سره ئے سلام واچولو- موسیٰ عليه السلام تپوس اوکړو ته څوک ئے؟ هغهٔ اووے: ابليس - ورته ئے اوفرمائيل: الله دے تا ژوندے پرے نږدی- ولے راغلے ئے؟ هغهٔ اووے: ځکه چه زهٔ ستاسو محکښے مسلمان شم - ځکه چه د الله په نزد ستاسو لوے شان او قدر دے . حضرت موسىٰ عليه السلام پوښتنه ترے اوکړه: دا څهٔ څيز وو- چه تا ستا په سر ايښے وو؟ هغهٔ اووے: د دے په وجه زهٔ د انسانانو زړهٔ اخلم - حضور ورته اوفرمائيل: د انسان کوم کارکولو سره ته په هغهٔ غالب کيږې؟ وے: هرکله چه هغه خود پسندئ کښے مبتلا شی - او خپل عمل ډير ګڼړل شروع کړی. زهٔ تاسو د درے څيزونو نه ويروم - (۱) هغه شخص چه ستا د پاره حلاله نهٔ وی- هغې سره خلوت مهٔ کوه- ځکه چه يو سړے نامحرمے ښځے سره خلوت کوی- نو زهٔ هغه وخت موجود يم - او هغه ګناه کښے مبتلاء کوم - (۲) - هرکله چه تهٔ الله سره څهٔ قسم معاهده اوکړے - نو هغه پوره کوه- ځکه چه کوم سړے الله سره معاهده

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکړی۔ زهٔ هغهٔ پسې کیږم۔ حتیٰ چه هغه دَ وعدې پورې کولو ته اوګرځوم۔ (۳) هرکله چه تهٔ څهٔ خیرات یا صدقه اوکاږې۔ نو هغه خرچ کړه۔ ځکه چه کوم سړې صدقه خیرات اوکاږی او هغه خرچ نهٔ کړی۔ نو زهٔ هغهٔ پسې هم اولږم۔ تر دې چه هغه اوښکلې صدقه مستحقینو ته ورنهٔ کړی۔ دې نه پس شیطان درې ځله هلاکت هلاکت، هلاکت وئیلو سره واپس لاړ۔ او حضرت موسیٰ علیه السلام پوهه شو چه انسانانو له کوم کوم کار کولو نه بچ کیدل بکار دی۔ چه هغې سره شیطان ته دَ هغوئ ګمراه کولو کښې زیاته موقع حاصلیږی۔

(ابن ابی الدنیا۔ منه۔ مکائد الشیطان (۴۷) ص۲۷، تلبیس ابلیس ص۳۰، ۳۱)

حضرت موسیٰ ؑ نه دَ شیطان دَ ګناه امید ؛۔

حضرت فضیل بن عیاض رحمه الله فرمائی: زمونږ یو شیخ بیان اوکړو چه حضرت موسیٰ علیه السلام ته ابلیس هغه وخت راغے۔ هرکله چه الله تعالیٰ سره ئے مناجات کولو۔ فرښتې هغهٔ ته اووې: تهٔ تباه شې۔ دَ حضرت موسیٰ علیه السلام نه تهٔ څهٔ غواړې؟ هغه هم داسې حالت کښې چه هغه الله تعالیٰ سره مناجات (راز ونیاز) کوی۔ شیطان اووې: زهٔ دَ دې نه هغه امید ترلو سره راغلے یم۔ چه دَ هغې مِ دَ آدم علیه السلام نه امید کړې وو۔ کوم وخت چه هغه جنت کښې وو۔

(ابن ابی الدنیا۔ منه۔ مکائد الشیطان (۴۸) ص۲۷، تلبیس ابلیس ص۳۱)

دحضرت ذوالکفل ؑ مقابله کښې ؛۔

حضرت عبد الله بن حارث رحمة الله علیه فرمائی: یو نبی خپلو اصحابو ته اوفرمائیل: تاسو کښې کوم سړې داسې دې۔ چه د نه

Maktaba Tul Ishaat.com

غصه کیدلو ذمه داری اوکړه۔ او هغه زما درجے ته اورسے۔
او زما قوم کښے زما جانشین جوړ شی۔ هغے جماعت نه یو ځلمی اووے:
زهٔ ضمانت درکوم۔ هغے نبی بیا تپوس اوکړو۔ نو بیا هم هغے ځلمی
جواب ورکړو۔ زهٔ ضمانت درکوم۔ کوم وخت چه هغه نبی وفات
شو۔ نو هغه ځلے دَ هغوئ په درجه فائز شو۔ او ابلیس هم د
هغهٔ دَ غصه کولو دَ پاره راغے۔ نو حضرت یوسړی ته اووے: ته
شیطان سره لاړ شه! هغه چه واپس راغے او اطلاع ئے اوکړه
چه ما ته خو هیڅ په نظر رانغلل۔ شیطان بیا راغے۔ حضرت هغهٔ
سره یو بل سړے کړو۔ هغه چه هم راغے۔ وئے بنودل چه هغهٔ ته
خو هیڅ په نظر رانغلل۔ بیا چه شیطان تنګولو دَ پاره راغے۔ نو حضرت
دَ هغهٔ لاس اونیولو۔ (او غصه ئے اونهٔ کړه) نو شیطان اوتښتیدلو۔
د دے واقعے په بنیاد د حضرت نوم ذوالکفل شو۔ ځکه چه حضرت
غصه نهٔ وه ظاهره کړے۔ (ابن ابی الدنیا کتاب ذم الغضب، ابن جریر،
ابن منذر، ابن ابی حاتم (فی تفاسیرهم)۔ منه۔)

د شیطان ایذاء او حضرت ایوب ؑ صبر:۔

د حضرت ابن عباس رض نه روایت دے۔ شیطان آرزو اوکړه
اے پروردګاره! ما په حضرت ایوب علیه السلام مسلط کړے۔ الله
تعالیٰ اوفرمائیل: ما ته دَ هغهٔ په مال او اولاد مسلط کړلے۔ لیکن
دَ هغهٔ په بدن د مسلط کیدو تا ته اجازت نشته۔ شیطان خپل لښکر
جمع کړو۔ او هغهٔ اووے: زهٔ په حضرت ایوب علیه السلام مسلط کړے
شوے یم۔ تاسو ما ته خپل تسلط اوښایئے۔ نو شیاطین مخکښے خو

Maktaba Tul Ishaat.com

اور جوړیدو سره مخې ته راغلل ـ بیا شرق نه مغرب او مغرب نه مشرق پورې اوبه جوړ شول ـ

شیاطین دَ هغوئ نه یوه ډله د حضرت ایوب علیه السلام پټی (کروندې) طرف ته اولیږل ـ یوې د هغوئ اوښانو طرف ته، یوې د هغوئ د غواګانو طرف ته، یوې د هغوئ د چیلو طرف ته اولیږل او ورته یې اووې : حضرت ایوب علیه السلام تاسو نه محفوظ کیدے نۀ شي ـ خو صبر سره ـ نو هغوئ حضرت ایوب علیه السلام باندې د مصیبت د پاسه مصیبت راوستلو ـ او پټی والا حضرت ته راغے ـ ورته یې اووې : نۀ وینې چه الله تعالی ستاسو په زراعت اور راکوز کړلو چه هغه یې ایرې کړو ـ بیا حضرت ته د اوښانو والا راغے ـ ورته یې اووې : اے ایوب علیه السلام ! تاسو او نۀ لیدل چه الله تعالی ستاسو په اوښانو مصیبت راوستے دے ـ او هغه مړه شول ـ بیا چیلو والا راغے ـ هغۀ اووې : اے ایوب علیه السلام ! تاسو او نۀ لیدل چه الله تعالیٰ ستاسو په چیلو د شمن راولیږلو ـ چه هغه یې تباه کړلې ـ

او اوس تاسو او ستاسو اولاد د یواځې پاتې شوئ ـ

بیا شیطان د حضرت ؑ اولاد د ټولو نه لوئ مکان کښې را جمع کړل ـ څه وخت چه هغوئ خوراک څکاک کښې مشغول وو ـ نو د اسې هوا یې اوچلوله ـ چه د کور ستنې او غورځیدلے او مکان یې د هغوئ د پاسه را اوغورځولو ـ

بیا شیطان حضرت ایوب علیه السلام ته د هلک شکل کښې راغے

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه غونډ کښې والئ اچولې وې؛ هغۀ اووې: اے ایوب علیه السلام! تاخپل پروردګار لیدلے دے؟ هغۀ ستا ځامن مکان کښې جمع کړل او کوم وخت چه هغوئ خوراک څکاک کښې مشغول شول - نو دا سے هوائے اوچلوله - چه هغې د مکان ستنو پورے راوغورځولے - او هغه مکان ئے په هغوئ را اوغورځولو - که تاسو هغوئ خوراک څکاک او وینو کښې حنبط لیدلے وے - نو څۀ حالت به وو؟ حضرت ایوب علیه السلام بیرے تپوس اوکړو - ته هغه وخت کوم ځائے وے؟ هغۀ اووے: زۀ هغه وخت هغوئ سره ووم - تپوس ئے اوکړو - بیا ته څنګه بچ شوے؟ هغۀ اووے بس بچ شوم - حضرت ایوب علیه السلام اوفرمائیل: بیا ته شیطان ئے - بیائې اوفرمائیل: اوس زۀ هغې حالت کښې یم - هر کله چه زهٔ مور زهٔ راوړے ووم - بیا حضرت او درتیدلو - سرئے اوخریٔلو او اودریدو سره مونځ ئے شروع کړو - نو شیطان خپلې ناکامۍ او د حضرت ایوب علیه السلام په صبرئے دومره اوژړل - چه آسمان او مزکے والاؤ اولیدل -

بیا شیطان اسمان طرف ته اوختلو (ځکه هغه وخت کښې شیطان ته آسمان ته د تلو اجازت وو) او هغۀ اووے: اے رَبّه! هغه خوزما نه بچ شو - ما ته خپله د هغه په بدن د مسلط کیدو اجازت راکړے ځکه چه زۀ په هغۀ ستا د اجازت نه بغیر غالب کیدے نۀ شم الله تعالیٰ اوفرمائیل: ما د هغۀ په جسم هم د حملے اجازت درکړلو. نو شیطان بیا راکوز شولو - او د هغۀ د قدمونو لاندے ئے پوکے او وهلو - نو حضرت د پښو نه سر پورے اوربیدلو - او ټول بدن ئے

Maktaba Tul Ishaat.com

ننګئ جوړ شولو- او په ایرو را پریوتـلو- حتی چه د هغهٔ خیـته ظاهره شوه- د حضرت ښځې به د هغهٔ خدمت کولو- یو ځـل هغې عرض اوکړو- اے ایوب علیه السلام! په الله قسم! اماته خدمت او فاقے نه سخت د قت کیږی- ما خپل ټول قیمتی سامان د روټۍ بدله کښے خرڅ کړلو سره په تا خوړلے دے- دُعا اوکړه- چه الله تعالیٰ تا سوته شفاء عطاء کړی- حضرت ورته اوفرمائیل: ته تباه شے- مونږ اویا کاله نعمتونو کښے وو- اوس صبر کوه! چه مونږ تکلیف کښے هم اویا کاله تیر کړو- نو حضرت د درد او تکلیف آسمان کښے هم اویا کاله تیر کړل۔ (کتاب الزهد امام احمد، ابن ابی حاتم (فی تفسیره) منه- اکام المرجان ص۲۱۲ والترجمة له)

د حضرت ایوبؑ د تکلیف نه به شیطان لذت اخستهٔ:-

حضرت طلحه بن مصرفؒ وائی: ابلیس ملعون اووے: ماته د حضرت ایوبؑ نه هیڅ خوشحالی نهٔ حاصلیدله- سیوا د دے نه چه ما به د هغهٔ د درد آه اوریدلو- نو معلومیدله چه ما هغهٔ ته لوے تکلیف رسولے دے (عبد الله بن احمد زوائد، ابن ابی الدنیا- منه- مکائد الشیطان ۴۹- ص۷ ، درمنثور ۴/۳۳۰ زوائد زهد ص۱۱۳)

د حضرت ایوبؑ ښځې سره د دهوکے کوشش:-

حضرت وهب بن منبهؒ فرمائی: ابلیس د حضرت ایوب علیه السلام ښځې نه تپوس اوکړو- دا مصیبت تاته څنګه او رسید لو؟ وے فرمائیل: د الله په قدرت سره- شیطان ورته اووے: ته ما پسے راځه! هغه ورپسے لاړله- نو شیطان ورته هغه ټول خیزونه یو پے واد یٔ کښے

Maktaba Tul Ishaat.com

جمع او ښودل - او ورته ئې اووے: ته ما ته صرف سجده اوکړه
نو دا ټول به درته واپس کړم - ورته ئې او فرمائيل: زما خاوند هم
شته - زهٔ به د هغهٔ نه اجازت واخلم - بيا به سجده اوکړم
هغه حضرت ايوب عليه السلام ته اوښودل - نو حضرت ورته اوفرمائيل؛
اوسه پورې هغه ساعت لا نهٔ دے راغلے - چه ته پوهه شے چه هغه
شيطان وو - که زهٔ شفاياب شوم - نو تا به د دے بدله کښې سل دُرے
اووهم ۔ (ابن ابی الدنيا - منه - مکائد الشيطان (۵۰) ص۳۷)

دويمه واقعه ۲

حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: ابليس ملعون
لار کښې کيناست - او صندوق ئې پرانستلو سره ئې د خلقو علاج کول،
شروع کړل - د حضرت ايوب ښځې اووے: اے د الله بنده! د لته
يو سړے دا سے بيمارئ کښې مبتلاء دے - ايا ته به د هغه علاج
اوکړے؟ هغهٔ اووے ضرور به ئې اوکړم. ليکن شرط دا دے. که ما
هغه درست کړ - نو ته صرف دومره اووايه! چه تا شفاء ورکړې دے
نه علاوه زهٔ تا نه هيڅ فيس نهٔ اخلم ۔

هغه حضرت ايوب عليه السلام له راغله او هغهٔ ته ئې د هغهٔ ذکر
اوکړو - نو حضرت ورته اوفرمائيل: چه تا هم افسوس دے - دا خو
شيطان وو - قسم په الله که الله تعالیٰ ما ته شفاء راکړه - نو زهٔ
به تا ته سل دُرے اووهم - چه د شيطان فريب کښې ولے راغلے؟
(کتاب الزهد امام احمد، عبد ابن حميد، ابن ابی حاتم - منه ۔)

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت ایوبؑ مصیبت کښې د مبتلاء کوونکې شیطان نوم:-

نوف بکالیؒ فرمائی چې کوم شیطان چې حضرت ایوب علیه السلامؑ ته ضرر رسولې وو- د هغه نوم مسیوط وو- (ابن ابي حاتم ج منه)

شیطان د حضرت یحییٰؑ مخکښې:-

حضرت وهیب بن الوردؒ فرمائی چې مونږ ته داخبره رارسیدلې ده چې ابلیس ملعون به حضرت یحییٰؑ بن ذکریاؑ مخکښې ظاهر شو. او هغه ته به ورته اووې چې زه تاته یو نصیحت کول غواړم. حضرت ورته اوفرمایل: ته دروغ وائې: ته ما ته نصیحت نشې کولې - بلکه ته ما ته د انسانانو متعلق څه اوښایه! هغه اووې چې د هغوې زمونږ مخکښې درې قیسمونه دی - یو مبنې قسم خو په مونږ د ټولو نه زیات بوج دې - مونږ هغوې ګناه کښې مبتلاء کوو- او خوشحالیږو بیا هغه وخت اونځکلو سره استغفار او توبه کوی - د غسې هغه زمونږ په محنت او به تبوئ کړی- بیا مونږ هغه مبتلاء کوو- نو بیا هغه مبتلاء شی- مونږ د هغه نه هیڅکله نا امیده کیږو او خپل مطلب نشو حاصلولې - مونږ ته د هغه د ګمراه کولو لوی فکر وی-

(۲): دا قسم خلق زمونږ لاس کښې د هغې ګنبدو سکې (ګنبد) په شان وی- کوم چې ستاسو د بچو لاس کښې وی- مونږ چې څنګه غواړو- هغوې ښکاره کوو - مونږ هغوې له کافی یو-

(۳) دا قسم خلق د ګناهونو نه معصوم حضرات دی- مونږ په هغوې زره برابر هم قابو نشو بیامندې- د ې او بیدو سره حضرت یحییٰ

Maktaba Tul Ishaat.com

علیه السلام اوفرمائیل: آیا تا چرته ما باندے قدرت بیا منده دے۔ هغهٔ اووے نه۔ صرف یوځل۔ او هغه دا سے چه تاسو طعام خوړلو، تاسو لوږه تیروله۔ اوتاسو دومره اوخوړله۔ چه په هغه شپه اوده شوے۔ اوځنګه چه به مانځهٔ دَ پاره د شپے پاسید لے۔ هغسے پاتۓ سید لے شوے۔ حضرت یحیٰی اوفرمائیل: اوس خو په ما لازم شوی دی۔ چه اوس زهٔ هیڅکله په مړه خیټه طعام نهٔ خورم. شیطان اووے: ستا نه پس به زهٔ هیڅکله هیڅ سړی ته نصیحت اونهٔ کړم۔ (ابن ابی الدنیا۔ منه۔ مکائد الشیطان (۵۲، ص۷۵)

انسانی خواهشات د شیطان جالونه دی:-

حضرت ثابت بنانی رحمة الله تعالیٰ علیه فرمائی: مونږ ته دا خبره رسید لے ده چه ابلیس د حضرت یحیٰی علیه السلام مخکښے ظاهر شو۔ نو حضرت په هغهٔ دَ هر څیز بوج لید لو سره ئے ترے تپوس اوکړو۔ اے ابلیس! دا بوجونه د څهٔ دی؟ چه زهٔ ئے په تا وینم هغهٔ اووے: دا خواهشات دی د دے په ذریعه زهٔ انسانا ښکار کوم۔ حضرت یحیٰی علیه السلام تپوس اوکړو۔ ایا زهٔ دے کښے د څهٔ څیز خواهش کولے شم؟ هغهٔ اووے: ولے نه! بیائے اووے: کله تهٔ په ما کامیاب شوے هم ئے؟ هغهٔ اووے، هرکله چه تاسو په مړه خیټه طعام اوخورئ۔ نو مونږ تاسو مونځ او ذکره پاتے کړو۔ حضرت ترے تپوس اوکړو۔ دے نه علاوه؟ هغهٔ اووے: نور هیڅ نشته. وئے فرمائیل: قسم په الله! اوس به

هیڅکله په مړه خیټه طعام نهٔ خورم - نو ابلیس هم اووے:
نو ابلیس اووے: قسم په الله! زهٔ به هم یو مسلمان ته نصیحت اونهٔ کړم - (کتاب الزهد امام احمد، شعب الایمان بیهقی - منه -)

د شیطان خوښ او ناخوښ خلق:-

حضرت عبدالله بن خبیق رح فرمائی: د حضرت یحیی علیه السلام شیطان سره د هغهٔ اصل صورت کښے ملاقات اوشو- نو حضرت ورته اوفرمائیل:- اے ابلیسه! خلقو کښے د ټولو نه زیات ستا څوک خوښ او څوک ناخوښ دی؟ هغهٔ اووے: ماته د ټولو نه زیات خوښ هغه مؤمن دے - چه بخیل هم وی - او د ټولو نه زیات ناخوښه هغه فاسق گنهګار دے - چه سخاوت کوی - حضرت یحیی علیه السلام ترے تپوس اوکړو - دا ولے؟ هغهٔ اووے: ځکه چه د بخیل خو ما د پاره بخل کافی دے - او د فاسق سخی باره کښے زهٔ خوفزده یم چه الله تعالی د هغهٔ سخاوت لیدو سره هغه قبول نهٔ کړی - دے نه پس شیطان دے ویلو سره واپس لاړ - که تاسو یحیی علیه السلام نهٔ وے - نو دا راز به مِ هیڅکله د رته نهٔ وو ښودلے - (ابن ابی الدنیا - منه - مکائد الشیطان (۵۳) صـ۵۲، احیاء العلوم ۳/۳۸)

شیطان د حضرت جبرائیل ع څپیړه اوخوړله:-

حضرت سفیان بن عُیینه رح فرمائی: د حضرت عیسی علیه السلام ابلیس سره ملاقات اوشو- نو ابلیس ورته اووے: ستاسو ذات خو دومره اوچت دے - چه د خدائی په لویه مرتبه فائز دے - تاسو غیر کښے ماشوم تروب کښے خبرے اوکړے هر کله چه ستاسو نه مخکښے هیچا هم

Maktaba Tul Ishaat.com

غیر کښے خبرے نۀ دی کړی۔

حضرت اوفرمائیل: خدائی او عظمت خو اللہ تعالیٰ لره دے۔ چه

هغۀ زۀ پیدا کړم۔ بیا به مړګ راکوی۔ بیا به مِ ژوندے کوی۔

شیطان اووے: (نۀ انه!) تاسو خو یئے چه د خپلے خدائیے او چتے

درجے ته رسید لے یئے؟ تردے چه مړی ژوندی کولے هم کوئے

حضرت ورته اوفرمائیل: بلکه خدائی او عظمت اللہ تعالیٰ لره دے

چه ماله هم مړګ راکوی۔ او هغۀ له هم، چه ما د اللہ تعالیٰ حکم

سره ژوندی کړي دی۔ بیا به هغه مارا ژوندے هم کړي۔

شیطان اووے: په اللہ قسم! د آسمان هم تاسو خدائے یئے

او د مزکے هم تاسو خدائے یئے۔

نو جبرائیل علیه السلام هغۀ له په خپل وزر داسے څپیړه

ورکړه۔ چه هغه د نمر قریب او غورځیدلو۔ بیا یوه بله څپیړه ئے

ورکړله۔ نو عین هامیه ته اوغورځیدلو۔ بیا یوه بله څپیړه ئے ورکړله

چه هغه ئے داووه سمندرونو تل کښے اوغورځولو۔ او داسے ئے غرق

کړو۔ چه د هغے د خولے مزه ئے پرے اوڅکوله۔

هر کله نه چه شیطان هلته نه را اووتلو۔ نو دائے ویل: داسے

ذلت به چا د چا نه وی بیا موندے۔ څنګه چه ما د حضرت عیسیٰ

علیه السلام نه بیا موند لو۔ (ابن ابی الدنیاء منه۔ مکائد الشیطان(۵۴)
صـ۷ـ)

د حضرت عیسیٰ ؑ د هلاکولو کوشش:۔

حضرت طاؤس رضی اللہ تعالیٰ عنه فرمائی: شیطان حضرت عیسیٰ

علیه السلام سره ملاقات اوکړو: او هغۀ اووے: اے د مریم ؑ خوئیه!

Maktaba Tul Ishaat.com

کہ تۀ خپل نبوت کښې رېښتينې يې - نو خپل ځان د دے اوچت غر نه لاندے را او غورځوله سره ژندے بچ او بنايه ! حضرت ورته او فرمائيل : تۀ تباه شے ايا الله تعالیٰ انسان ته نۀ دی فرمائيلی چه تۀ ځان هلاکت کښې اچولو سره زما امتحان مۀ کوه - ځکه چه زۀ څۀ غواړم هغه کوم - (ابن ابی الدنيا منه - مکائد الشيطان (۵۵) ص۷۷ ، مصائب الانسان ص۱۳۱)

بنديان د الله امتحان نشی کولے :-

حضرت ابو عثمان رحمة الله تعالیٰ عليه فرمائی : حضرت عيسیٰ عليه السلام د غر په څوکه مونځ کولو- ابليس راغے - ورته ئے اوويل : تاسو وائی چه هر څيز قضاء او قدرت سره ظاهرېږی - وې فرمائيل : هان ! ورته ئے اوويے : نو بيا ما سو خپل ځان د غر نه لاندے او غورځوئی او دا اووايئے چه اے الله ! د خپل قدرت نمونه او ښايئے ! نو حضرت عيسیٰ عليه السلام ورته او فرمائيل : اے ملعونه ! الله تعالیٰ خود بنديانو امتحان کولے شی - ليکن بنديانو ته دا حق نشته چه هغوی د الله تعالیٰ عزّ و جلّ نه امتحان واخلی - (ابن ابی الدنيا منه - مکائد الشيطان (۵۲) ص۷۷ ، حليه ابو نعيم ۴/۱۲ ، مصائب الانسان ص۱۳۱)

د حضرت عيسیٰ ؑ د دنيا نه بے رغبتی

حضرت سعيد بن عبد العزيز رح فرمائی : حضرت عيسیٰ عليه السلام شيطان ليدلو سره او فرمائيل : د دنيا رياست دے طرفته انسان د جنت نه اوويستلو - او د دے متعلق به جواب ده وی - زۀ به د دے هيڅ څيز کښې ذمه دار نۀ يم - او هيڅ کاڼړے به د خپل سر لاندے (د تکيه

Maktaba Tul Ishaat.com

په ډول) استعمال نهٔ کړم۔ او د ے کښې اوسیدو سره به هیڅکله اونهٔ خاندم ۔ حتی چه دلته نه واپس اوبللے شم۔ (ابن ابی الدنیا ـ منثر مکائد الشیطان (۵۷) صـ۴۸ـ، ذم الدنیا ابن ابی الدنیا صـ۴۰۹ تحقیق مجدی فتحی ابراهیم)

د شیطان جال :-

(اضافه د مترجم) حضرت ابن حلبس (یونس بن میسره رح) فرمائی: حضرت عیسٰی علیه السلام ارشاد اوفرمائیلو:

إِنَّ الشَّيْطٰنَ مَعَ الدُّنْيَا، وَمَكْرُهٗ مَعَ الْمَالِ، وَتَزْيِيْنُهٗ عِنْدَ الْهَوٰى وَاِسْتِمْكَانُهٗ عِنْدَ الشَّهَوٰتِ۔

ترجمه: شیطان دنیا سره سره دے۔ مال سره فریب ورکوی، عشق او محبت کښې خوبي ښائی او د نفس د خواهشاتو په وخت غلبه حاصلوی.

(ابن ابی الدنیا مکائد الشیطان (۵۸) صـ۴۸ـ، حلیه ابونعیم ۲۵۲/۵ ـ مترجم)

د شیطان د حضرت عیسٰی ع د کانړي په تکیه وهلو اعتراض :-

ابلیس یوه ورځ په حضرت عیسٰی علیه السلام باندے تیر شو۔ چه کانړے ئے تکیه جوړ کړے وو۔ او د خوب نه بیدار شوے وو۔ شیطان حضرت ته اووے: ستاخو دا دعوی وه ۔ چه دُنیا نهٔ هیڅ نهٔ دی پکار بیا دا کانړے چه د دنیا سره تعلق لری۔ ولے د ے تکیه جوړ کړے دے؟ نو حضرت عیسٰی علیه السلام راپاسیدلو ۔ او هغه کانړے ئے اوچتولو سره اوغورځولو۔ او وے فرمائیل: دنیا سره دا هم ستا دے. اے شیطانه!

(ابن عساکر منه۔ تاریخ د مشق)۔

حضرت عیسٰی ع نه د غرنه د روټئ جوړولو خواهش :-

حضرت وهب رحمة الله تعالی علیه فرمائی: ابلیس حضرت عیسٰی ع

Maktaba Tul Ishaat.com

مته اووے: مستا دعویٰ ده چه ته سرې ژوندی کوے - که دا سے وی نو الله نه دُعا اوغواړه - چه دا غر روټۍ جوړه کړی

حضرت موسی علیه السلام ورته اوفرمائیل: آیا تمام جاندار د روټۍ په سهارا ژوندی اوسی؟

شیطان ورته اووے: څه! که دا سے وی - څنګه چه ته وائے نو دے مقام نه نوبت اورسه! فرښتے به تا سنبال کړی (په مزکه به دے غورځیدلو ته نه پرېږدی)

حضرت ورته اوفرمائیل: الله تعالیٰ ماته حکم فرمائیلے دے چه زه د خپل نفس تجربه نه کوم - ځکه چه ماته څه معلومه ده؟ چه زه سلامت پاتے کیږم یا نه! (کتاب الزهد امام احمد بن حنبل ـمنهم

شیطان د آنحضرت ﷺ په مقابله کښے :-

(په مینے حدیث) حضرت ابودرداء رضی الله تعالی عنه روایت دے: جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم موفخ د پاره اودریدلو نو موږ ترے دا واوریدل: أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْكَ ۔ زه له تا نه د الله پناه غواړم - بیا حضور صلی الله علیه وآله وسلم درے ځله اوفرمایل: أَلْعَنُكَ بِلَعْنَةِ اللّٰهِ ۔ زه په تا د الله لعنت لیږم - بیا حضور صلی الله علیه وآله وسلم د غیبے لاس وړاندے کړلو - ګویا چه څه څیز نیول غواړی - کوم وخت چه حضور صلی الله علیه وآله وسلم د موفخ نه فارغ شو - نو موږ عرض اوکړو - یا رسول الله! موږ تا سو نه دا سے خبرے واوریدلے - چه تاسو مخکښے هیڅکله دا سے نه وو فرمائیلی - او تا سو خپل لاس مبارک هم غزولی وو - ویے فرمائیل:

Maktaba Tul Ishaat.com

د الله د دشمن ابلیس د اور شغلے سره راغے ۔ او هغه ئے زما مخکښے
اچول غوښتل. نو ما اووے: اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْكَ ۰ نو هغه په روستو
نهٔ شو ۔ ما بیا دا درے ځله لعنت اولیږه ۔ بیا هم هغه لرے نهٔ
شو ۔ نو ما د هغهٔ د گرفتارولو اراده اوکړله ۔ که زمونږ د ورور
حضرت سلیمان علیه السلام دُعا نهٔ وے ۔ نو دے به ما سحره پورے
تړلے وو ۔ او د مدینے بچو به ورسره لوبے کولے ۔ (مسلم، نسائی عنه ۔
مسلم کتاب المساجد حدیث ۴۰، نسائی کتاب السهو باب ۱۹، د لائل
النبوة ۔ بیهقی ۷/ ۹۸)

فائده :- د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه حدیث
کښے دا سے دی: حضور صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:
شیطان زما مخے ته راغے ۔ او زما مخکښے ئے خنډ کیدل غوښتل ۔ چه
زما مونځ خراب کړی ۔ نو الله تعالی ما ته په هغهٔ تسلط عطاء کړو ۔ او
ما هغه راو غورځولو ۔ زما اراده دا شوه ۔ چه زهٔ هغه یو ستنے
سره اوتړم ۔ چه سبا ته ئے تاسو اووینئ ۔ بیا ما ته د حضرت سلیمان
علیه السلام دا دُعا رایاد شوه: رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَهَبْ لِيْ مُلْكًا
وَلَا يَنْبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْ بَعْدِيْ ۔ (سورة ص ایت ۳۵) نو الله تعالی
هغه نامراده واپس کړو ۔ (بخاری، مسلم ـ عنه ـ بخاری کتاب الصلوٰة،
باب ۷۵، کتاب العمل فی صلوٰة باب ۱۰، کتاب التفسیر سورة ۳۸، مسلم
کتاب المساجد حدیث ۳۹، مسند احمد ۲/ ۲۹۸، دلائل النبوة
بیهقی ۷/ ۹۷، باب ماجآء فی الجنی والشیطانة.....)

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

وآلہ وسلم مکہ معظمہ کنبے پہ سجدہ پروت وو۔ د دے حالت کنبے ابلیس راورسیدلو۔ نو ھغۂ دا ارادہ کړے وہ۔ چہ د حضور صلی اللہ علیہ آلہٖ وسلم څردن دباؤ کړی۔ نو حضرت جبرائیل علیہ السلام پہ ھغۂ دا سے پوک اوکړلو۔ چہ د ھغۂ قدم تهینکے نۂ شولو۔ او ھغہ اُردن کنبے اوغرځیدلو:

(ابن ابی الدنیا، معجم اوسط طبرانی، ابوالشیخ، دلائل نبوت ابونعیم ۔منہ ۔ مکائد الشیطان (۲۲) ص۸۵، دلائل ابونعیم ۱/۶۰)

جبرئیلؑ شیطان د ملا پہ تیں اووھلو:۔

حضرت ابن عباس رضی اللہ تعالیٰ عنہ فرمائی: شیطان بہ د وحی نازلیدلو پہ وخت ھغہ اوریدلے۔ کوم وخت چہ اللہ تعالیٰ حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم پیغمبر کړلو۔ نو دے نہ ھغوے منع کړے شول شیاطینو دد ے ابلیس تہ شکایت اوکړلو۔ نو ھغۂ اووے: څہ لوئے امر ظاھر شوے دے۔ نو ھغہ د مکے مکرمے پہ غر (جبل ابوقبیس) تہ اوختلو۔ او حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم ئے د مقام ابراھیم شاہ تہ اولیدلو۔ نو ھغۂ اووے: زۂ اوس ځم او د حضور صلی اللہ علیہ آلہٖ وسلم څردن ماتوم۔ نو حضرت جبرائیل علیہ السلام نازل شو۔ او ھغۂ لہ ئے یو داسے ګزار ورکړو۔ چہ ډیر لرے ئے اوغورځولو۔ (ابونعیم (فی دلائل النبوت) منہ)۔

اُور او چتولو سرہ حضورؐ پسے لړ یدلے شیطان

شیاطینو نہ د بچ کیدو د جبرائیلؑ دُعا:۔

(حدیث شریف) حضرت یحیٰی بن سعید رحؒ فرمائی: کوم وخت چہ حضور صلی اللہ علیہ وآلہٖ وسلم ...یا ندے معراج اوکړے شو۔ نو یو غټ شیطان ئے

Maktaba Tul Ishaat.com

اولیدلو ـ چه د اور شعله ئے اوچته کړے حضور صلی الله علیه وآله وسلم پسے روان دے ـ حضور علیه السلام چه هغه اولیدلو ـ چه ورپسے را روان دے ـ نو حضرت جبرائیل علیه السلام عرض اوکړو ـ آیا زهٔ تاسو ته هغه کلمات اونهٔ ښایم ـ چه کله تاسو هغه اولولئ ـ نو د هغهٔ شعله به مړه شی ـ او هغه به عاجز پاتے شی؟

حضور صلی الله علیه وآله وسلم اوفرمائیل ، ولے نه ضرور اوښایئے :

نو حضرت جبرائیل ؑ عرض اوکړ ـ تاسو دا کلمات لولئ :

اَعُوذُ بِوَجْهِ اللّٰهِ الْكَرِيْمِ وَبِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ الَّتِیْ لَا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلَا فَاجِرٌ مِنْ شَرِّ مَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمِنْ شَرِّ مَا يَعْرُجُ فِيْهَا وَمِنْ شَرِّ مَا ذَرَأَ فِي الْاَرْضِ وَمِنْ شَرِّ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمِنْ فِتَنِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمِنْ طَوَارِقِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ اِلَّا طَارِقًا يَطْرُقُ بِخَيْرٍ يَا رَحْمٰنُ .

ترجمه :ـ زهٔ د الله کریم عزت او مرتبے او د الله کلمات تامه سره پناه غواړم ـ چه کوم ش د آسمان نه راکوزیږی یا خیژی ـ هغے سره هیڅ نیک او بد دے کلماتو نه سبقت نشی کولے ـ او مزکه کښے د هر داخلیدونکی او وتونکی د شر نه ـ او د شپے او ورځے د فتنو د شر نه او د شپے او ورځے د غلو د شر نه ـ د خیر راوړونکی نه سوا اے مهربانه ! (مؤطاء مالك ـ منه ـ مؤطاء کتاب الجامع ۲/ ۲۳۳ ، دلائل النبوة بیهقی ۷/ ۹۵ ، کتاب الاسماء والصفات بیهقی ، سنن نسائی مسند احمد ۳/ ۴۱۹)

. . . . .

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضورؐ خلاف د شیطان د مکے کفار را پارول :-

یو صحابی رضی اللہ تعالی عنہ فرمائی: هر کله چه مونږ لیلة العقبه کښے د حضور صلی اللہ علیه وآله وسلم نه بیعت اوکه - هغه وخت شیطان د عقبه په څوکه داسے چغه اووهله - چه دومره اوچت آواز ما چرته نه وو اوریدلے- هغه اووے : اے منا ریبانو! تاسو مذقم (د محمد صلی اللہ علیه وآله وسلم د کافرو د ورانی نوم) او د هغه بے دینه ملګری قابو کولے نه شئ- هغوی تاسو سره جنګ کولو د پاره متحد کیږی .

نو حضور صلی اللہ علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو: دا د آذَبُّ العقبه (د شیطان نوم) آواز دے- بیا شیطان طرف ته مخاطب کیدو سره یے اوفرمائیل : اے اُذیبُ العقبه ! اے د اللہ د ښمنه ! زما خبره غوږ سره واوره ! زه به هم تاسره ضرور مقابله کوم. (ابن اسحاق -منه- د لائل النبوت بیهقی ۲/ ۳۴۸ ، سیرت ابن هشام ۲/ ۵۷)

د حضورؐ د قتل سازش کښے شرکت :-

د حضرت ابن عباس رضی اللہ تعالی عنه نه روایت دے - د قریشو د ټولو قبائلو سره اړان « دار الندوه » کښے راجمع شول-او ابلیس لعین هم د یو بوډا بزرګ شکل کښے هغوئے ته را اورسیدلو- د قریشو سردارانو چه هغه اولیدلو- نو تپوس ئے اوکړو- چه ته څوک یے ؟

هغه اووے: زه د نجد د علاقے بزرګ یم-کوم مقصد د پاره چه تاسو راجمع شوی یئ-په دے خقله ما هم اوریدلی دی - ځکه تاسو ته حاضر شوے یم- تاسو به ماته ډیره اهمه رائے او نصیحت حاصل کړئ.

کفارو اووئے: ښه ده - ته هم دے مجلس کښے شریك شه!

Maktaba Tul Ishaat.com

نو شیطان داخل شو ۔ او هغهٔ اووے : تاسو د دے سړی (یعنې حضرت محمدؐ) متعلق سنهٔ غور اوکړئ ۔ په الله قسم هغه وخت قریب راغلے دے ۔ چه دے به په تاسو غالب شی ۔

نوبل سردار اووے : دے (حضرت محمدؐ) مضبوط اوتړئ ۔ بیا تکلیف ورکولو ورکولو سره ئے انتظار کوئ ۔ حتیٰ چه دے مړ شی ۔ څنګه چه دهٔ نه مخکښے شاعران مړهٔ شوی دی ۔ څنګه چه نابغه زهیر دے (حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم) هم دغوئ په شان یو شاعر دے ۔ (نعوذ بالله) ۔

د الله دښمن نجدی شیخ شیطان اووے : په الله قسم دا هیڅ رائیه نهٔ ده ۔ په الله قسم که د قید ولو چقله رائے صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم ته اورسی ۔ نو هغوئ به سمدستی په تاسو حمله اوکړی هغه به ستاسو د لاسونو نه خلاص کړی ۔ او ستاسو مخکښے به د دے مقصد کښے خنډ جوړشی ۔ بیا زهٔ د دے ذمه داری نهٔ د رکوم ۔ چه هغوئ تاسو ، ستاسو د علاقو نه اوکاږی ۔ نو څهٔ بله رائیه سوچ کړئ ۔

یوبل سردار اووے : که دے (حضرت محمد صلی الله علیه واله وسلم) د خپلے علاقے نه اوکاږئ ۔ نو د آرام ساه به واخلئ ۔ ځکه که دے د لته نه لاړ شی ۔ نو بیا هرڅه چه کوی تاسو ته به هیڅ نقصان نهٔ رسی ۔ او تاسو ته به دا تکلیف لرے ستی ۔ او تاسو به آرام سره اوسئ ۔ او د هغهٔ شرارت به د نورو مخکښے وی ۔

شیطان بیا اووے : په الله قسم ! ستاسو دا رائے هم څه وقعت نهٔ لری ۔ تاسو د دهٔ (محمدؐ) د کلام خوږ والے او د ژبے

Maktaba Tul Ishaat.com

فصاحت نړۍ دے لیدلے۔ او تاسو دانۍ دی لیدلی۔ چه د دهٔ خبرې د لوګو په زړونو څومره اثر کوی۔ په الله قسم که تاسو داسے اوکړل نو دے به د نورو علاقو خلقو ته د عوت شروع کړی۔ او هغه عرب به د دهٔ په دعوت اسلام لبیک اووائی۔ او د غسے هغوئ اخستو سره به په تاسو حمله اوکړی۔ او ستاسو ښهرونو نه به تاسو اوکاږی او ستاسو سرداران سرداران به قتل کړی۔

ټولو اووے: داشیخ شیطان درست وائی۔ تاسو څه بله طریقه باندے سوچ اوکړئ۔

ابوجهل ملعون اووے: قسم په الله یوه مشوره زهٔ هم د کوم په زما پوهه کښے راځی۔ تاسو په دے هم غور اوکړئ۔ دے نه بهتره څه مشوره نشته۔

د کفارو سردارانو اووے: هغه څه ده؟

ابوجهل اووے: مونږ د هر یو قبیلے څویو جنګجو درمیانه قسم ځلمی اخلو۔ چه تیز تریښه تورے استعمالوی۔ دا ټول به د دے (محمد ﷺ) په یو وار په تورو ډیرے کړی۔ د غسے چه تاسو د دے قتل کړئ۔ نو د دهٔ خون به په تمامو قبائلو کښے خور شی۔ زما یقین دے دغسے د حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم قبیله بنی هاشم به د تمام قریش مقابله کښے بدله اخستو ته تیننګ نۀ شی۔ که هغوئ مونږ سره جنګ اوکړی۔ نو مونږ به هغوئ ټول قتل کړو۔ او د هغوئ د ضرر نه به محفوظ شو۔

شیطان اووے: په الله قسم دا رائے ده۔ دا خبره ده۔ کومه

Maktaba Tul Ishaat.com

چه دے ځوان ورکړو - زما هم دے نه علاوه بله رائے نشته -

هرکله چه دا کفار دِے مجلس نه پاسیدل - نو په دے رائے اتفاق شوے وو-

نو هغه وخت د حضور صلی الله علیه وآله وسلم خدمت بابرکت کښے حضرت جبرئیل علیه السلام حاضر شو- او عرض ئے اوکړه - چه تاسو کوم ځائے آرام کوی - نن خپله بستره پریږدہ ! بیا ئے حضور صلی الله علیه وآله وسلم ته د هغے د کفارو اطلاع ورکړه - او الله تعالی حضور صلی الله علیه وآله وسلم ته د هجرت کولو حکم ورکړلو- (ابن اسحاق ،ابن جریر، ابن منذر، ابن ابی حاتم ، ابونعیم، دلائل النبوۃ بیهقی منه ۳/۳٦٦-۳٦٧، ۳٦٨) .

جنګ بدر کښے د شیطان شرکت او فرار :-

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمائی : چه ابلیس جنګ بدر کښے خپل فوج اخستو سره جنډه او چته کړے د مدلج قبیلے د سړی شکل راغے - شیطان په هغه وخت د سراقه بن جعشم شکل کښے وو ، شیطان اووے : نن دے مسلمانو کښے هیڅوک په تاسو فتح کوو نکے نشته - زهٔ ستاسو مددګار یم -

نو حضرت جبرائیل علیه السلام شیطان طرف ته متوجه شو- شیطان چه حضرت جبرائیل علیه السلام اولیدلو- نو هغه وخت د هغهٔ لاس د یو مشرک لاس کښے وو- شیطان تر ے خپل لاس را ښکلو او په شا او تښتیدلو او د هغے شیطانی لښکر هم اوتښتیدلو-

نو هغے سړی ورته آواز اوکړه - اے سراقه ! ته خو زمونږ مددګار وے

اوس چرته تښتې؟ شیطان اووې: زه هغه څه وینم - چه تاسو یې نه وینئ - (هغه هغه وخت فرښتې لید لے) بیشکه زه د الله نه ویریږم - الله د سخت عذاب خاوند دے . (تفسیر ابن جریر (سورة انفال) ، ابن منذر ، ابن ابي حاتم ، ابن مردویه ، بیهقي - منه - در منثور ۳/۱۶۹ ، دلائل النبوت بیهقي ۳/۷۸ ، ۷۹) .

جنګ بدر کښې د ابلیس بد حواسي :-

حضرت رفاعه بن رافع انصاری رضی الله تعالی عنه فرمائي : هر کله چه ابلیس جنګ بدر کښې فرښتې د مشرکینو په قتلولو اولیدے - نو د خوف نه اوتښتید لو - حارث بن هشام (ابوجهل) هغه سراقه بن مالک ګنړلو سوره قابو کښې راوستل او غوښتل - لیکن ابلیس ابوجهل له سینه کښې داسې موکه ورکړه - چه هغه یې لاندې راوغورځولو - او هلته نه یې تښتیدو سره ځان سمندر کښې اوغورځولو - او لاس اوچتولو سره دا دعا یې اوکړه : اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ نَظِرَتَكَ اِیَّایَ . اے الله ! زه تا نه ماته د راکړے شوې مهلت سوال کوم . (طبراني ابونعیم - منه -) .

فائده :- حضرت معمر رحمة الله علیه فرمائي : ذکر شوې دي چه د جنګ د فراغت نه پس قریش سراقه بن مالک له ورغلل - او په هغه یې لاس پریښودلو سره د تیښتې الزام اولږولو - نو هغه دے نه انکار اوکړه - چه ما داسې هیڅ خبره نه ده کړې - منه - (عبدالرزاق - منه -)

جنګ حنین کښې شیطان د حضور ﷺ د قتل دروغ اعلان اوکړو :-

حضرت ضحاك رحمة الله علیه فرمائي : چه یو اعلان جنګ حنین

دا اعلان اوکہ ـ چہ د حضرت محمد صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم ملگرو شکست اوخوړلو ـ او حضرت محمد صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم قتل کړے شو.
(نعوذ باللہ) (ابن جریر طبری ـ منہ ـ)

فائدہ :ـ دا اعلان ابلیس کړے وو ـ منہ ـ (طبقات ابن سعد ـ منہ ـ)

تِلْكَ الْغَرَانِيقُ الْعُلٰى والا د روایت تحقیق :ـ

(فائدہ) د دلتہ علامہ سیوطی رحمۃ اللہ علیہ د تلك الغرانیق العلی د روایت ذکر کړے دے ـ مونږ د څہ مصلحت پہ وجہ ھغہ دلتہ پریښے دے ـ کوم حضرات چہ د دے تحقیق او تفصیل غوښتونکی دی ـ ھغوئ دے احکام القرآن للطھانوی منزل چھارم سورۂ حج ایت ۵۲، تحت ملاحظہ کړی ـ ھلتہ پورے بنہ تفصیل سرہ مکمل بحث پرے شوے دے.

شیطان نہ د وحی د حفاظت د پارہ د فرښتو نزول:ـ

فرمان خداوندی دے :

اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ يَسْلُكُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا ۔ (پارہ ۲۹ / سورۃ الجن ، ایت ۲۷)

ترجمہ :ـ ھو! ـ خوخپل یو برگزیدہ پیغمبر کہ څہ دا سے علم باندے خبرید ل غواړی ـ چہ علم نبوت نہ وی ـ خواہ مثبت نبوت وی لکہ پیشنگوئی ـ خواہ فروع نبوت نہ وی ـ لکہ علم احکام ـ نو دا سے اطلاع ورکوی ـ چہ د ھغہ پیغمبر مخکښے او روستو یعنے جمیع جھا تو کښے د وحی پہ وخت محافظ فرښتے لیږی ـ چہ ھلتہ د شیاطینو تیریدل نہ وی چہ وحی د فرښتے نہ اوریدے وسرہ بل چا تہ ئے اوروائی: یا څہ وسوسہ

Maktaba Tul Ishaat.com

وغیره القاء کړے شی - نو حضور صلی اللہ علیہ والہ وسلم د یا ره
داسے پھرہ دار شلول مقرر وو : کذا فی روح المعانی بروایة
ابن المنذر عن ابن جبیر و بروایت ابن مردویہ عن ابن عباس رض
(تفسیر بیان القرآن سورة جن آیت)

د دے تفسیر کښے حضرت ضحاک رحمۃ اللہ علیہ فرمائی : چه
حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ته به یوه فرښته د وحی سره رالیږلے شوه
نو هغے سره به د حفاظت د پاره د فرښتو یو جماعت هم لیږلے شو- چه د
شیطان څه فتنه لار کښے خنډ نه شی -

هر کله چه د انسان ذهن کښے د شیطان څه وسوسه راشی- نو لَاحَوْلَ
وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ او اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ داو
سُبْحَانَ اللّٰهِ دے اووائی، او هغه وسوسه دے د زړه نه اوکاږی
او داسے دے پوهه شی چه شیطان زما د گمراه کولو شرارت کړے دے-

شیطان د حضرت عمر رض نه ویریدلو :-

(حدیث شریف) د حضرت سعد بن ابی وقاص رضی اللہ عنہ نه
روایت دے- چه جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم حضرت
عمر رضی اللہ تعالیٰ عنہ ته اوفرمائیل :

اِيْهٍ يَا بْنَ الْخَطَّابِ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِيَدِهٖ مَا لَقِيَكَ الشَّيْطَانُ سَالِكًا فَجًّا اِلَّا سَلَكَ فَجًّا غَيْرَ فَجِّكَ ؕ

ترجمه :- اے ابن خطاب ! زما دے په هغه خدائے قسم وی
چه د هغه قبضه کښے زما ساه ده - ته چه په کومه لار ځے نو شیطان
هغه لار پریښودلو سره دویمه لار اختیاروی - (بخاری ومسلم

- منه - بخاری، فضائل اصحاب النبی[۳] باب[۶]، کتاب الاب باب[۲۸]، بدء الخلق باب ۱۱، مسلم فضائل صحابه حدیث ۲۲، مسند احمد ۱/۱۷۱، ۱۸۲، ۱۸۷ ۔

(حدیث شریف) حضرت بریده رضی الله تعالی عنه فرمائی جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

إِنَّ الشَّيْطَانَ لَيَخَافُ مِنْكَ يَا عُمَرُ ۔

ترجمه: اے عمر! شیطان تا نه خوف کوی - (ترمذی، نسائی وغیره - ترمذی کتاب المناقب باب ۱۷، مسند احمد ۵/۳۵۲، بیهقی ۱/۷۷، کنزالعمال ۳۵۸۳۹، فتح الباری ۱۱/۵۸۸)

او د روستونه به حفاظت کولو ترخوچه شیطان د کومے فرشتے په صورت او یا کوم بل شکل کښے د شرارت کوشش او نه کړی.

دین کښے د شك پیدا کولو کوشش :-

(حدیث شریف) حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنه فرمائی چه مونږ د جناب رسول اکرم صلی الله علیه وآله وسلم خدمت کښے ناست وو چه د یو خلقو نه یو بد صورت سړے رانغے - کپړے ئے هم انتهائی گنده اغوستے وے - او د هغه د رجه بد بوئی ترے تلله - هغه په خلقو توپ وهلو وهلو سره راغے - حضور صلی الله علیه واله وسلم سره کیناست او تپوس ئے اوکړو - تا سوچا پیدا کړی یئے ؟

حضور ورته اوفرمائیل : الله ج

هغه اووے : آسمان چا پیدا کړ ؟

وئے فرمائیل : الله ج

Maktaba Tul Ishaat.com

هغهٔ اووے: مونږ چا پیدا کړو؟

وے وفرمائیل: اللہ۔

هغهٔ اووے: اللہ چا پیدا کړو؟

حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ورته ارشاد اوفرمائیلو:

دالله تعالی ذات دے نه پاک دے۔ (اللہ هیچا نهٔ دے پیدا کړے)

بیا حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم خپل تندے مبارک اونیولو او خپل سر مبارک ئے ښکته کړو۔

او هغه سړے پاسید لاړو۔

حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم سر مبارک اوچت کړ، او وے فرمائیل دا سړے راولئ۔ مونږ تلاش کړ۔ لیکن هغه هوا شوے وو۔ نو حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم اوفرمائیل: دا ابلیس وو۔ تاسو ته ئے حکم واخلے وو۔ چه تاسو د دین پاره کښے شک کښے مبتلا کړی۔ (د لائل النبوة بیهقی منه ۷/۱۲۵، واسناد صحیح)

(حدیث شریف) حضرت عائشه رضی اللہ تعالی عنها فرمائی: حضور علیه السلام اوفرمائیل:

اِنِّيْ لَاَنْظُرُ اِلٰى شَيَاطِيْنِ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ قَدْ فَرُّوْا مِنْ عُمَرَ.

ترجمه:- زهٔ دَ جناتو او انسانانو شیاطین وینم۔ چه هغوئے دَ عمر نه ئے تښتی۔ (ترمذی) نسائی (منه) ترمذی کتاب المناقب باب ۱۸ حدیث ع ۲۶۶۱ وقال حدیث حسن صحیح غریب مِنْ هذا الوجه، کنزالعمال ۲۱، ۳۲)

(حدیث شریف): بی بی حفصه رضی اللہ تعالی عنها فرمائی: جناب

Maktaba Tul Ishaat.com

رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد او فرمائیلو:

مَا لَقِيَ الشَّيْطَانُ عُمَرَ مُنْذُ أَسْلَمَ إِلَّا خَرَّ لِوَجْهِهٖ

ترجمه:- د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه د مسلمانید و نه پس کله چه شیطان د هغه مخے ته راغلے دے۔ نو پړمخے راغورځیدلے دے۔

(ابن عساکر-منه- اتحاف السادة ۷/۲۸۶، کنز العمال ۳۲۷۲۴)

د حضرت عمار رض د شیطان سره جنګ:-

(حدیث شریف) حضرت عمار بن یاسر رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره یوځائے ما جن او انسانانو سره جنګ کړے دے۔ تپوس ترے اوشو۔ جناتو سره دے څنګه جنګ کړے دے؟

وے فرمائیل: یو سفر کښے زهٔ رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سره یوځائے ووم۔ موږ په یو منزل کوز شو۔ ما خپله مشکیزه او ډول اوڅو د پاره اوچت کړل۔ نو رسول الله صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل: ستا مخے ته به یو سړے راشی۔ هغه به تا د اوبو اخستو نه منع کوی۔ تهٔ د هغهٔ نه خبردار اوسه!

زهٔ چه د کوهی بنړے ته اورسیدم۔ نو یو تور سړے په تطر راغے ګویا چه هغه آس وو۔ هغهٔ اوویے په الله قسم تهٔ نن د دے کوهی نه یو کوټ اوبهٔ هم نشے اخستلے۔ د غسے زموږ خپلو کښے جنګ شو۔ ما هغه راوغورځولو۔ بیا مے یو کاڼړے اوچت کړ۔ او په هغهٔ مے د هغهٔ پوزه او مخ مات کړل۔ بیا خپله مشکیزه مے ډکه کړه۔ او حضور صلی الله علیه وآله وسلم له راغلم۔ حضور صلی الله علیه وآله وسلم تپوس اوکړو۔ آیا اوبو ته تا سره

خوګ د را غلے وو۔ ما عرض اوکړو۔ جی هاں! بیا ما حضور صلی الله علیه واله وسلم ته ټول واقعه واوروله۔ حضور صلی الله علیه وآله وسلم تپوس اوکړو۔ ته پوهیږے چه هغه څوک وو؟ ما عرض اوکړو، نه جی! وې فرمائیل: هغه شیطان وو۔ (ابن سعد، مسند اسحاق بن راهویه، ابن ابی الدنیا۔ منه۔ مکائد الشیطان (٦٤) ص۸۶، مصائب الانسان ص۱۳۶، طبقات ابن سعد. ۱۷۹/۳)

یو روایت کښے مذکوره واقعه داسے منقول ده۔ حضرت علی رض فرمائی: عمار بن یاسر رضی الله تعالی عنه د حضور صلی الله علیه واله وسلم زمانه کښے جن او انسانانو سره جنګ کړے وو۔ چا تپوس اوکړو هغه جن سره څنګه جنګ کړے وو؟

وې فرمائیل: مونږ حضور صلی الله علیه وآله وسلم سره په یو سفر کښے ملګری وو۔ حضور صلی الله علیه واله وسلم حضرت عمار رضی الله عنه ته اوفرمائیل: ته لاړ شه! زمونږ څکلو د پاره اوبه راوړه! نو هغه لاړو۔ او شیطان دیو تور سړی صورت کښے ورته مخے ته راغے او د هغه او اوبو مینځ کښے خنډ شو۔ د هغوی مقابله اوشوه۔ نو حضرت عمار رضی الله تعالی عنه هغه را وغورځولو۔ شیطان ورته اووے ما پریږده۔ زه به د اوبو نه نه منع کوم۔ نو هغه ې پریښودلو۔ لیکن شیطان بیا ورته نیغ شو۔ نو حضرت عمار رض بیا را وغورځولو۔ شیطان بیا منت اوکړو نو هغه ې پرے ښودلو۔ او شیطان ته بیا د مقابلے همت اونه شو۔

دیځوا حضور صلی الله علیه وآله وسلم اوفرمائیل: شیطان د عمار رض او اوبو مینځ د یو تور حبشی شکل کښے خنډ کیږی. او الله تعالی عمار رض غالب کړه

دے۔

حضرت علی کرم اللہ وجهه فرمائی: بیا مونږ حضرت عمار سره یو ځائے شو۔ او هغهٔ ته مو اووے: اے ابوالیقظان! ته خو شیطان باندے غالب راغلے۔ حضور صلی اللہ علیه وآلہ وسلم په دے حقله داسے داسے ارشاد فرمائلے دے۔

حضرت عمار رضی اللہ تعالی عنه او فرمائیل: که ما ته معلومه شوے وے چه هغه شیطان دے۔ نو ما به قتل کړے وو۔ او که د هغهٔ نه سخته بد بوئی نهٔ راتلے۔ نو ما به د هغهٔ پوزه ضرور پرے کړے وے۔ (کتاب العظمة ابوالشیخ، د لائل النبوة، ابونعیم ومنه)

صحابه کرامو رضؓ باندے د شیطان وس نهٔ چلید لو:۔

حضرت ثابت بنانی رحمة اللہ علیه فرمائی: حضور صلی اللہ علیه وآلہ وسلم چه په نبوت مبعوث شو۔ نو ابلیس خپل شیاطین د حضور صلی اللہ علیه وآلہ وسلم صحابه کرامو ته اولیږل۔ لیکن کله چه هغوئے خالی لاس واپس راغلل۔ نو شیطان ترے تپوس اوکړو۔ تاسو ولے هغوئے ګمراه نهٔ کړل؟ هغوئے اووے: داسے قوم سره مونږ هیچرے جوړ نهٔ دے راغلے۔ نو شیطان اووے: څهٔ موده انتظار اوکړئ۔ هغه وخت قریب دے۔ چه د هغوئے مخکښے به د دنیا فتحه شی۔ هغه وخت به تاسو خپل شر کښے کامیاب شئ۔ (ابن ابی الدنیا۔ منه۔ مکائد الشیطان (۳۹) ص۵۱، تلبیس ابلیس ص۳۲، احیاء العلوم ۳/۳۳۳، ذم الدنیا لابن ابی الدنیا (۱۷۰) بتحقیق مجدی سید ابراهیم)۔

٭٭٭٭٭

Maktaba Tul Ishaat.com

د ابلیس تخت :-

(حدیث شریف) حضرت جابر رضی اللہ تعالی عنہ نہ روایت دے: ما د حضور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم نہ واوریدل:

اِنَّ عَرْشَ اِبْلِيْسَ عَلَى الْبَحْرِ فَيَبْعَثُ سَرَايَاهُ فَيَفْتِنُوْنَ النَّاسَ فَاَعْظَمُهُمْ عِنْدَهٗ مَنْزِلَةً اَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً يَجِيْئُ اَحَدُهُمْ يَقُوْلُ: مَا تَرَكْتُهٗ حَتّٰى فَرَّقْتُ بَيْنَهٗ وَبَيْنَ امْرَأَتِهٖ فَيُدْنِيْهِ مِنْهُ وَيَقُوْلُ نِعْمَ اَنْتَ.

ترجمه: د ابلیس تخت په سمندر دے۔ دے هلته نه د خلقو د دوکه کولو لپاره د شیاطینو ډلے لیږی۔ دے شیاطینو نه د ابلیس په نزد د ټولو نه لویه مرتبه د هغه شیطان ده۔ چه هغه د ټولو نه لویه فتنه رابرسیره کړے شی۔ هغه کښے یو شیطان راشی۔ او وائی: زه هغو پسے ووم۔ تر دے چه د هغه او د هغه د ښځے مینځ کښے م جدائی راوستله۔ نو ابلیس هغه شیطان ځانته قریب کولو سره وائی: چه ته ډیر لوے شیطان یے۔ (مسند احمد، مسلم-منه- مسلم کتاب المنافقین حدیث ۶۶، ۶۷، مسند احمد ۳/۳۱۴، ۳۳۲، ۳۵۴، ۳۶۶، ۳۸۴، حلیة الاولیاء ۷/ ۹۲).

د ابلیس د تخت نه چاپیره ماران دی :-

حضرت ابو سعید رضی اللہ تعالی عنه نه روایت دے: جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د ابن صیاد (چه د هغه باره کښے صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجمعین خپله زمانه کښے د دجال کید وګمان کولو) نه تپوس اوکړو۔ ته څه وینے؟ هغه اووے: زه یو تخت په اوبو وینم:

Maktaba Tul Ishaat.com

یا هغهٔ دا اووے: چه یو تخت په سمندر ویستم - چه د هغی نه چاپیره ماران دی - حضور صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل: ذَالِكَ عَرْشُ اِبْلِیْسَ. دا د ابلیس تخت دے چه تهٔ ے ووینے. (مسند احمد - منه - مسند احمد ۳/ ۶۶، ۹۷، ۳۸۸، مسلم کتاب الفتن ۸۸ وقال حدیث حسن صحیح.)

ابلیس د نلکامو شیاطینو لاس پښے پرے کوی:-

(حدیث شریف) حضرت ابو ریحانه رضی الله تعالی عنه فرمائی: حضور صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اِنَّ اِبْلِیْسَ اِتَّخَذَ عَرْشًا عَلَى الْمَآءِ وَ وَكَّلَ بِكُلِّ رَجُلٍ شَيْطَانَيْنِ وَاَجَلُهُمَا سَنَةً فَاِنْ فَتَنَاهُ وَاِلَّا قَطَعَ اَيْدِيَهُمَا وَ اَرْجُلَهُمَا ثُمَّ بَعَثَ لَهُ شَيْطَانَيْنِ آخَرَيْنِ ۔

ترجمه:- ابلیس اوبو باندے خپل تخت خور کړے دے - او هر سړی باندے دیو کال موده ورکولو، ورکولو سره دوه شیطانان مقرر کړی - که هغوی هغه فتنه کښے کګړ کړی - نو ټیک ده - کنے د هغوی لاس پښے پرے کوی - بیا هغه سړی ته دوه نور شیاطین لیږی -

(تفسیر سنید - منه -) - .

علامه ذهبیؒ دے روایت ته غریب او منکر ولیکلی دے - منه - -

د حضرت سلیمان ؑ شیطان سره ملاقات:-

حضرت شجاع بن نصر رحمة الله تعالی علیه د شامیانو د یو سړی نه روایت کړے دے - چه حضرت سلیمان علیه السلام یو عفریت جن ته اوفرمائیل: ته تباه شے - ابلیس کوم ځائے اوسیږی؟ هغهٔ عرض اوکړو

Maktaba Tul Ishaat.com

اے د اللہ نبی ! تاسو تہ د ھغۂ متعلق څۂ حکم راغلے دے؟ وئے فرمائیل: حکم خو نۂ دے راغلے۔ لیکن ھغہ اوسیږی کوم ځائے کښې؟ ھغۂ عرض اوکړو: اے د اللہ نبی! تاسو تشریف راوړئ (زۂ تاسو ھغۂ تہ بوځم) نو عفریت د حضرت علیہ السلام مخکښې مخکښې روان شو او حضرت سلیمان علیہ السلام ھغۂ سرہ وو۔ تر دے چہ حضرت ناڅاپی سمندر تہ اورسیدلو۔ او ابلیس ئے د سمندر رپہ سطح ناست اولیدلو۔ ھغۂ چہ سلیمان علیہ السلام اولیدلو۔ نو د ویرے نہ یہ رپیدلو شو۔ بیا اودریدلو۔ حضرت سرہ ئے ملاقات اوکړو۔ او ورتہ ئے اووے: اے د اللہ نبی! تاسو تہ زما متعلق څۂ حکم درکړے شوے دے۔

وئے فرمائیل: نہ۔ زۂ تا تہ صرف دے د پارہ راغلے یم۔ چہ تا نہ داپوښتنہ اوکړم۔ چہ ستا د ټولو نہ پسندیدہ (خوښ) کار څۂ دے؟ چہ د اللہ پہ نزد ھم د ټولو نہ زیات خراب وی؟

ابلیس اووے: قسم پہ خدائے کہ تاسو ما تہ نۂ وے راغلے۔ نو ما بہ ھیڅکلہ تا تہ نۂ وے ښودلے۔ د اللہ پہ نزد د ټولو نہ خراب کار دا دے چہ سړے سړی سرہ مخ تورکړی۔ او ښځہ ښځے سرہ۔ (طرطوسی کتاب تحریم الفواحش صفحہ ۴)

د شیطانانو کارګذاری:۔

حضرت ابوموسی اشعری رضی اللہ تعالی عنہ فرمائی: ھرکلہ چہ سحر شی۔ نو ابلیس خپل شیطانی لښکر مزکہ کښې خورکړی۔ او وائی: څوک چہ یو مسلمان ګمراہ کولو سرہ راشی۔ زۂ بہ د ھغۂ پہ سر تاج کیږدم۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دا شیاطین چہ خپلے خپلے فتنے خورولو سرہ ماښام تہ واپس راشی۔ نو هغوئ کښے یو شیطان خپلہ کارگذاری اوروولو سرہ وائی: زۀ فلانی سړی پسے شوم۔ حتیٰ چہ هغهٔ خپلے ښځے لہ طلاق ورکړو۔ شیطان وائی: هغہ بہ دوبارہ وادهٔ اوکړی (تاخہ لوئے کار اونۂ کړو) یو بل شیطان وائی: زۀ فلانی سړی پسے شوم۔ حتیٰ چہ هغهٔ دخپل مور پلار نافرمانی اوکړله۔ شیطان وائی، کیدے شی۔ هغہ هغوئ سرہ ښۀ سلوک هم اوکړی۔ یو بل شیطان وائی: زۀ فلانی سړی پسے شوم، حتیٰ چہ هغهٔ زنا اوکړه۔ شیطان وائی: تا ښۀ اوکړل۔ یو بل شیطان وائی زۀ فلانی سړی پسے ووم۔ حتیٰ چہ هغهٔ شراب اوڅکل۔ شیطان وائی۔ تا هم ښۀ اوکړل۔ یو بل شیطان وائی: زۀ مسلمان سړی پسے ووم۔ حتیٰ چہ هغهٔ قتل اوکړو۔ نو شیطان وائی: هاں! تۀ لوئے شیطان یئے: (تا د نورو شیطانانو نہ نمبر ویوړلو)۔ (ابن ابی الدنیا۔ منہ۔ مکائد الشیطان (۳٦) ص۵۵، تلبیس ابلیس ص۳۲، ۳۳، بسندہ عن ابن ابی الدنیا وابن حبان ۸/۲۳، بسندہ مرفوعاً، مستدرک حاکم ۴/۳۵۰، بسندہ وقال صحیح الاسناد ولم یخرجاہ واقرہ الذهبی، مجمع الزوائد ۱/۱۱۴ وقال رواہ الطبرانی وفیہ عطاء بن السائب اختلط آھ۔ و لہ شاهد من حدیث حضرت جابرؓ واخرجہ مسلم (۲۸۱۳) واحمد ۳/۳۶۶ وابونعیم ۷/۹۲ فی الحلیہ ولہ شاهد آخر فی مجمع الزوائد ۱/۱۱۴، وقال رواہ الطبرانی فی الکبیر وفیہ یحیی بن طلحۃ ضعفہ النسائی و ذکرہ ابن حبان فی الثقات)۔

۔۔۔۔۔۔۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ښځه د شیطانی فتنې مد د کاره ده:-

(حدیث شریف) حضرت ابن مسعود رضی اللّٰہ تعالی عنہ فرمائی:
جناب رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وآلہ وسلم ارشاد او فرمائیلو:
اَلْمَرْءَةُ عَوْرَةٌ فَاِذَا خَرَجَتْ اِسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطٰنُ۔
ترجمه:- ښځه ننګ دے - هرکله چه دا اوځی - نو شیطان د هغې په
سو (تاک) کښې وی - (ترمذی - منه - ترمذی، کتاب الرضاع باب ۱۸
وقال حدیث حسن غریب حدیث ۱۱۷۳، صحیح ابن خزیمه حدیث
۱۶۸۶، کنز العمال حدیث نمبر ۴۵، ۴۵، نصب الرایه ۱/۲۹۸، درمنثور
۵/۱۹۶، صحیح ابن حبان ۳۳۹).

ښځه د شیطان نیم لښکر دے:-

حضرت حسن بن صالح رحمة اللّٰه تعالی علیه فرمائی: ما اوریدلی
دی۔ شیطان ښځې مخاطب کولو سره ورته وئیلی وو۔ ته زما هغه
تیر ئے۔ چه په نښه لګے خطا کیږی نه - ته زما د راز مقام ئے - اوزما
مشکل کښې ته زما قاصد یئے - (ابن ابي الدنیا۔ منه - تلبیس ابلیس ص۳۲
، احیاء العلوم ۳/۹۷).

د شیطان جال دے:-

حضرت مالک بن دینار رحمة اللّٰه تعالی علیه فرمائی: د دنیا محبت
د هرې خرابئ جرړ دے - او ښځې د شیطان جالونه دی - د شیطان د
طرف نه د ښځو نه زیات بل هیڅ جال نشته - (ابن ابي الدنیا - منه -
شعب الایمان بیهقی من کلام ابن مریم، تاریخ مصر لابن یونس من کلام
سعد بن ابي وقاص، قال الدارقطنی فیه ضعف، مسند الفردوس مبلا

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکر سند، تاریخ ابن عساکر عن سعد بن مسعود الصدق التابعی ابن ابی الدنیا فی ذم الدنیا، حلیة الاولیاء ۶/۳۸۸، جامع صغیر حدیث ۳۶۶۲، احیاء العلوم ۳/۱۹۷، ۲۰۱، التذکرة للزرکشی باب الزهد حدیث (۱)، الدرر المنتشرہ حدیث ۱۸۵، فیض القدیر مناوی ۳/۳۶۸ الاسرار المرفوعه ۱۶۳، الغماز علی اللماز للسمهودی ۸۲، کشف الخفاء للعجلونی ۱۰۹۹.)

حضرت سعید بن المسیب رح فرمائی: الله تعالی چه کوم نبی رالیږلے دے۔ شیطان د ښځو په ذریعه د هغوے د معامله کولو نه نا امیده شوے دے، لیکن د الله جل جلاله په فضل اوکرم سره انبیاء الله د ښځو په ذریعه د شیطان د فتنو نه محفوظ شو۔ (حاشیه لفظ المرجان) (ابن ابی الدنیا (منه) مکائد الشیطن (۴۲) ص۱۱، تلبیس ابلیس ابن جوزی - ص۳۱، احیاء العلوم ۳/۹۷)

شیطان د انسان په کوم کوم ځائے کینی وی :-

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے : شیطان د سړی درے ځایونو باندے اوسی : (۱) سترګو کښے. (۲) زړه کښے، (۳) آله تناسل کښے۔ او د ښځے هم درے ځایونو باندے وی : سترګو کښے، زړه کښے او کونا کښے.

د شیطان د ګمراهئ سامان ؟ -

حضرت قتاده رحمة الله تعالی علیه فرمائی : کوم وخت چه ابلیس د آسمان نه او شړلے شو۔ نو هغه اووے : اے ربه! زه خو تا ملعون کړم - زما علم به څه وی۔ وئے فرمائیل : جادو۔ هغه اووے زما قرآن به

کوم یو وی؟ ویې فرمائیل شعر- هغهٔ اووے زما کتاب به کوم یو وی؟ ویې فرمائیل: د خلقو جسمونو باندے د خالونو وهلو نیښے- هغهٔ اووے: زما خوراک به څه وی؟ ویې فرمائیل: هر مردار او په کوم څنا ورچه د حلالولو په وخت پرے زما نوم نهٔ وی اخستے شوے هغهٔ اووے: څکاک به مې څهٔ وی؟ ویې فرمائیل: شراب- هغهٔ اووے: او سیدل به مې کوم ځائے وی- ویې فرمائیل غسل خانو کښے- هغهٔ اووے د ناستے پاسته ځایونه به مې کوم وی؟ ویې فرمائیل: بازارونه، هغهٔ اووے: مؤذن به مې څوک وی؟ ویې فرمائیل: موسیقی- هغهٔ اووے زما جال به څه وی؟ ویې فرمائیل ښځے: (ابن ابی الدنیا - منه - لم أجده فی مکائد الشیطان له)

د شیطان سرمه او چټنی:-

(حدیث شریف) حضرت سمره رضی الله تعالی عنه فرمائی: چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

إِنَّ لِلشَّيْطَانِ كُحْلًا وَ لَعُوقًا فَإِذَا كَحَلَ الْإِنْسَانُ مِنْ كُحْلِهِ نَامَتْ عَيْنَاهُ عَنِ الذِّكْرِ وَ إِذَا لَعِقَهُ مِنْ لَعُوقِهٖ ذَرِبَ لِسَانُهُ بِالشَّرِّ ط

ترجمه:- د شیطان سرمه (رانجه) هم شته- او چټنی هم هر کله چه انسان د هغهٔ سرمه اولګوی- او د الله د ذکر کولو نه د هغهٔ سترګے اودے شی- او هر کله چه د هغهٔ چټنی اوڅټی- نو د هغهٔ ژبه شر راپیدا کوی- (ابن ابی الدنیا، ابن عدی، الطبرانی، شعب الایمان بیهقی- منه- مکائد الشیطان (۷۷) ص۹۷، جامع صغیر (۲۲۸۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

فیض القدیر ۲ / ۴۹۸ ، مساوی الاخلاق خرائطی (۴۵) (۳۴۹)
مجمع الزوائد ۵ / ۹۹ بحوالہ بزار، حلیہ ابونعیم ۶ / ۳۰۹)

د شیطان سرمه، چټنی او نسوار څه دی ؟ :-

(حدیث شریف) حضرت انس رضی الله تعالی عنه فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اِنَّ لِلشَّيْطَانِ كُحْلاً وَ لَعُوقاً وَنَشُوقاً: اَمَّا لَعُوقُهُ فَالْكِذْبُ وَاَمَّا نَشُوقُهُ فَالْغَضَبُ وَ اَمَّا كُحْلُهُ فَالنَّوْمُ

ترجمه: دَ شیطان سرمه هم شته، چټنی هم او نسوار هم، چټنی خوئے دروغ وئیل دی، او نسوار غصّه کول دی. او سرمه (رانجه) ئے خوب کول دی. (ابن عدی، بیهقی-منه- مجمع الزوائد ۲/ ۶۲ ، ۲ ، ۵/ ۹۶، اتحاف الساده ۵/۱۸۵، ۷ / ۵۱۶ تخریج عراقی لاحیاء العلوم ۱/۳۵۹ ، ۳/ ۱۳۳، تاریخ اصفهان ابونعیم ۲ /۲۰۴ ، کنز العمال ۱۳۳۳، ۱۳۳۴ ، میزان الاعتدال ۲۷۴۱)

فائده:- وړاندے دَ شیطان هغه مطالبات مرفوع روایت په حواله د ابن ابی الدنیا، طبرانی او ابن مردویه نه ذکر کړی دی. چه دَ هغے مونږ پوره دوه عنوانونه دَ شیطان د ګمراهئ سامانات په ترجمه کښے اولوستل - لیکن دے روایت کښے دومره اضافه داده چه شیطان مطالبه اوکړله چه زما حدیث به څه وی؟ نو الله تعالی دروغ د هغه حدیث اوګرځول - او هغه چه مطالبه اوکړه- چه زما رسول به څوک وی؟ نو الله تعالی اوفرمائیل: کهانت (د غیب خبرے دروغ رښتیا یوځائے کول لوسره بیانول) اهـ.

Maktaba Tul Ishaat.com

انسان د شیطان قابو کښې کله راځي؟

حضرت وهب بن منبه رح فرمائي: دَ سیاحینو یو عبادت کونکے سړے وو۔ شیطان د هغهٔ د ګمراه کولو ډیر تجویزونه اوکړل لیکن وس ئې اونه چلیدلو۔ آخر شیطان هغهٔ ته اووے: آیا ته مانه د هغې کارونو تپوس نهٔ کوے۔ چه هغې سره زهٔ انسان ګمراه کوم؟ هغهٔ ورته اووے ولے نه؟ ضرور اوښایه! چه زهٔ هم د هغې کارونو نه بچ اوسم۔ چه هغې سره تهٔ خلق ګمراه کوے شیطان ورته اووے: حرص، غصه اوبخل۔ ځکه چه سړے کله حریص شي نو موښ دَ هغهٔ نظر کښې مال کمیدلو سره ښایو۔ او هغهٔ ته د خلقو مالونو کښې رغبت ورکوو۔ او هرکله چه انسان غصه شي نو موږ هغه خپل مینځ کښې داسې چورلوو۔ لکه بچي چه غنډوسکے (ګنبد) چورلوی۔ بیا که هغه خپلې دعا سره مړي هم ژوندی کوي موږ د هغې هم پرواه نهٔ کوو۔ او هرکله چه هغه نشه کښې وي موږ هغه هر قسم شهوت طرف ته ګرځوو۔ څنګه چه د چیلۍ غوږونه نیولو سره تاووی۔ (ابن ابی الدنیا۔ منه۔ ولکن یا ختیار جزء واحد فی مکائد الشیطان ص۵۹ (۳۸)۔)

حضرت عبید الله بن موهب رح وائي: شیطان د یونبي مخکښې ظاهر شو۔ نوهغوي ترے تپوس اوکړو۔ تهٔ په کومه طریقه په انسانانو قابو بیا مومې؟ هغهٔ اووے: زهٔ هغه د غصې او شهوت په وخت کښې قابو کوم۔ (ابن ابی الدنیا۔ منه۔ لم اجده فی مکائد الشیطان لهٔ مترجم

۔۔۔۔۔۔

Maktaba Tul Ishaat.com

شیطان څومره انسان پسې لړ یدلے وی؟:۔

بعض خلقو به وئیل: چه شیطان دا وائی: انسان په ما څنګه غالب کیدے شی؟ هر کله چه هغه خوشحال وی نو زهٔ د هغهٔ په زړهٔ مسلط کیږم۔ او هر کله چه هغه په غصه کښې وی نو زهٔ الوتو سره دَ هغهٔ په د ماغ سور شم. (ابن ابی الدنیا۔ منه۔ لم اجد ه فی مکائد الشیطان له (مترجم))۔

فـائـده:۔ ځکه ضروری دی چه انسان هیڅکله غصه نهٔ کوی اونهٔ د شیطان په مرضی ځی۔ بلکه هروخت دالله مرضی پسے ځی۔ چه داسے کوی نو شیطان په هغهٔ غالب نشی راتلے۔

اولیاء باندے اخری حربہ:۔

حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمائی: شیطان د ذکر مجالسو کښې د هغوئ فتنه کښې دَ مبتلاء کولو د پاره کرځی۔ چه هغه کښې د دنیا ذکر کوی۔ او هغوئ دیو خلاف راپاروی۔ حتیٰ چه هغوئ خپلو کښې جنګ شروع کړی۔ خو د الله ذکر کوونکی د هغوئ مینځ ته راتلو سره د جنګ نه ئے منع کوی۔ د غسے شیطان د الله ذاکرین منتشر کوی چه هغوئ د جنګ کوونکو ځلا صولو کښې مصروف شی. (کتاب الزهد امام احمد۔ منه۔)۔

د ماهواری زیاتے د شیطان حرکت سره دے:۔

حدیث شریف:۔ حضرت بی بی حمنه بنت جحش رضی الله تعالی عنها فرمائی: ماته به استحاضه ماهواری ډیره زیاته کیدله۔ حضور صلی الله علیه واله وسلم ته مِ د دے ذکر اوکړو۔ نو وے فرمائیل:

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّمَا هِيَ رَكْضَةٌ مِنْ رَكَضَاتِ الشَّيْطَانِ .

ترجمه: دا د شیطان د حرکاتو نه یو حرکت دے (د هغې یو مخصوص رګ له حرکت ورکولو سره دا مرض لاحق کیږی) (احمد، ابوداؤد، ترمذی - منه - ابوداؤد کتاب الطهارت باب ۱۰۹ حدیث ۱۲۸، سنن دارمی کتاب الوضوء باب ۹۴، مؤطا مالک کتاب الحج حدیث ۱۲۴، مسند احمد ۴۳۹/۶، ۴۶۴، ترمذی کتاب الطهارت باب ۹۵ وقال هذا حدیث حسن صحیح).

فائده :- کوم حدیث کښې چه استحاضه ته دم عرق ویلے شوی دی دا حدیث د هغې منافی (خلاف) نه دے - ځکه چه شیطان انسان کښې د وینې په شان ګردش کوی - هر کله چه دے عرق (رګ) ته حرکت ورکوی، نو وینه جاری کیږی د شیطان دے عرق سره یو خاص قسم تصرف وی د وره د بدن نورو رګونو سره نه وی - دا وجه ده - چه جادوګر خلق د ښځې د دے رګ د وینې اختلاف سره څو بیماریو د پاره نے استعمالوی - د غسے هغوی د شیطان دے حرکت نه فائده اوچتوی.

د مسلمانانو د جماعت نه لرے کیدونکے دپاره د شیطان چال کښې وی

۱. (حدیث شریف) حضرت عمر رضی الله تعالی عنه فرمائی: رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم مونږ کښې او دریدو سره او فرمائیل:

مَنْ أَرَادَ مِنْكُمْ بُحْبُوحَةَ الْجَنَّةِ فَلْيَلْزَمِ الْجَمَاعَةَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ مَعَ الْوَاحِدِ وَهُوَ مَعَ الِاثْنَيْنِ أَبْعَدُ .

ترجمه: تاسو کښې چه کوم سړے د جنت عیش غواړی - هغه دے د

Maktaba Tul Ishaat.com

مسلمانانو د جماعت سره جُخت اوسی - ځکه چه هغه سړی سره شیطان وی چه د دوو سره ډیرکم وی - (احمد، ترمذی - منه - مسند احمد ۱/ ۲۶، ترمذی کتاب الفتن باب وقال حسن صحیح، مستدرک حاکم ۱/۱۱۴، ترمذی ۲۱۶۵، نصب الرایه ۴/۲۵۰، کنزالعمال ۳۲۴۸۸، الشریعة امام آجُری حدیث ۷، تلبیس ابلیس ۵) .

(حدیث شریف) حضرت عروه رضی الله تعالی عنه فرمائی: ما د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم نه واوریدل: ارشاد ئے اوفرمائیل:

يَدُ اللّٰهِ مَعَ الْجَمَاعَةِ وَالشَّيْطَانُ مَعَ مَنْ يُّخَالِفُ الْجَمَاعَةَ

ترجمه: - د الله تعالی تائید او نصرت جماعت سره وی - او څوک چه د جماعت مخالفت کوی هغه سره شیطان وی. (ابن صائد - منه - تلبیس ابلیس ۶، طبرانی کبیر ۱۷/۱۴۴ بلفظه) .

(حدیث شریف) اسامه بن شریک رضی الله تعالی عنه فرمائی: ما د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم دا ارشاد واوریدلو:

يَدُ اللّٰهِ مَعَ الْجَمَاعَةِ فَإِذَا اشَذَّ الشَّاذُّ مِنْهُمْ اِخْتَطَفَتْهُ الشَّيَاطِيْنُ كَمَا يَخْطَفُ الذِّئْبُ الشَّاةَ مِنَ الْغَنَمِ ه

ترجمه: د الله تائید جماعت سره وی - هرکله چه د جماعت نه یو سړے جدا شی - نو شیاطین ئے داسے اوتښتوی څنګه چه ګیدړ یا چیلئ د رمے نه تښتولے شی. (دارقطنی - منه - ترمذی بلفظه و حسنه والطبرانی بلفظ انظر کشف الخفاء ۲/۵۴۷، حدیث ۳۲۲۳ طبرانی کبیر ۱/۱۵۳)

(حدیث شریف) حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمائی:

Maktaba Tul Ishaat.com

جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم خپل لاس مبارک سره کرښه راښکله بیا یې اوفرمائیل:

هٰذَا سَبِيْلُ اللّٰهِ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ ط

ترجمه:- دا نیغه د اللہ لار ده د دے پیروی کوئ - په نورو لارو مه ځئ - کنے لارے نه به تیروځئ. (مسند احمد - منه ۱/۴۶۵ الشریعة للآجری ۱۰، ۱۲، در منثور ۳/۵۶) -

(حدیث شریف) حضرت معاذ بن جبل رضی اللہ تعالی عنہ نه روایت دے - جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم اوفرمائیل:

اِنَّ الشَّيْطَانَ ذِئْبُ الْاِنْسَانِ كَذِئْبِ الْغَنَمِ يَاْخُذُ الشَّاةَ الْقَاصِيَةَ وَالنَّاحِيَةَ فَاِيَّاكُمْ وَالشِّعَابَ وَعَلَيْكُمْ بِالْجَمَاعَةِ وَالْعَامَّةِ وَالْمَسْجِدِ ط

ترجمه:- د چیلو د شرمخانو په شان شیطان د انسان شرمخ دے - چه د لرے او نزدے چیلو ښکار کوی - نو تاسو خپلو ځانونو د تقسیمیدو نه ځان بچ کړئ - او ځان د پاره جماعت، سواد اعظم او عمومات (مسجد) لازم اونیسی . (مسند احمد - منه ۵/۲۳۳، ۲۴۳، مجمع الزوائد ۲/۲۳، ۵/۲۱۹، جمع الجوامع ۲۴۳۸، کنز العمال ۱۰۳۶، ۲۰۳۵۵، مشکوٰة ۱۸۴، تفسیر ابن کثیر ۴/۶۲، تلبیس ابلیس حلیة الاولیاء ۲/۲۴۷، اتحاف السادة المتقین ۶/۳۳۷، ترغیب وترهیب ۱/۲۱۹ ابن ماجه فی مقدمه) -

. . . . .

Maktaba Tul Ishaat.com

د شیطان مقابله کښې فقیه او عابد :-

(حدیث شریف) حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے. جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

لَفَقِيْهٌ وَاحِدٌ اَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ ط

ترجمه :- د دین صحیح پوهه او صحیح علم لرونکے د شیطان مخکښې د زر عابدانو مقابله کښې دروند دے » د دے حدیث وضاحت د لاندے واقعه نه پوهه کښې راتلے شی ،، (ترمذ ترمذی کتاب العلم باب ۱۹ ، ابن ماجه مقدمه باب ۱۷ وقال الترمد هذا حدیث غریب ۱۰۰۰ ه ، جامع البیان العلم وفضله ۱/ ۱۶ در منثور ۱/ ۳۵۰ ، مجمع الزوائد ۱/ ۱۲۱ ، تاریخ بغداد ۲/ ۲۰۲، الاسرار المرفوعه ۳۵۱ ، تذکرة الموضوعات پتهنویؒ ۲۰ ، کشف الخفاء ۲/ ۲۰۶) .

د عالم او عابد د شیطان سره عبرتناک قصه :-

علی بن عاصمؒ یو بصری قصه کوی - چه یو عالم او یو عابد په خپلو کښې الله دپاره محبت کولو - شیاطینو ابلیس ته اووے ! موږ ډیر کوشش کړے دے - خو دوی کښه مو چلاک را نه وستلو ابلیس ملعون اووے ، زهٔ دوی له کافی یم - بیا هغه د عابد (عبادت گذار چه عالم دین نهٔ وو) کلا رکښه کېناستلو - عابد چه شیطان ته قریب او رسیدلو - نو ابلیس د هغهٔ مخکښې د یو بوډا سالی رسیده صورت کښې بوډا شو - او په خپل تندی ئې د سجد

Maktaba Tul Ishaat.com

نسبة هم ظاهره کړے وه. ابلیس د عابد نه تپوس اوکړو. زما زړۀ کښے یو سوال راپورته کیږی. ما اوغوښتل چه د هغے مسئلے تاسو نه تپوس اوکړم. عابد ورته اووے: او وایه! که ما ته علم وی نو جواب به درکړم.

شیطان ورته اووے: الله تعالی د دے طاقت لری چه آسمانونه مزکه، غرونه، اوښه او اوبه یو اګئ کښے ځاے کړی. بغیر د دے نه چه اګئ هم غټه نۀ کړی. او دا مخلوقات هم واړۀ نۀ کړی؟

عابد حیرانیدو سره تپوس اوکړو بغیر د دوئ د کمولو او بغیر د دوئ د زیاتولو؟ د اسے عابد سوچ کښے پریوتلو نو ابلیس عابد ته اووے: اوس تاسو لاړ شئ. بیا شیطان خپلو ملګرو طرف ته متوجه شو. ورته ئے اووے، ما هغه د الله تعالی متعلق شک کښے اچولو سره هلاک کړے دے.

بیا هغه د عالم لار کښے کیناست. هرکله چه هغه شیطان ته قریب اورسیدلو. نو شیطان ورته په احترام کښے پاسیدلو، او تپوس ئے اوکړو. اے حضرت! زما زړۀ کښے سوال ګرځی ما اوغوښتل چه هغه تاسو نه حل کړم.

عالم ورته او فرمایئل: تپوس اوکړه! که ما ته علم وی نو درته به اوښایئم.

شیطان ورته اووے: ایا الله تعالی د دے طاقت لری چه ټول آسمانونه، مزکه، غرونه، اوښه، اوبه په یو اګئ کښے ځاے کړی، هغه اګئ د زیاتولو بغیر او د دا مخلوق د کمولو بغیر؟

Maktaba Tul Ishaat.com

نو عالم جواب ورکړلو۔ بالکل ځان ئې کوڅې نے شي ۔

نو شیطان د انکار لهجه کښې اووے : آیا د لوئیولو بغیر او د مخلوق د ورو کي کولو بغیر ؟ نو عالم ورته رټلو سره اووے : هاں ! هاں ! بیا ئې دا ایت اولوستلو : اِنَّمَآ اَمۡرُهٗۤ اِذَآ اَرَادَ شَیۡـًٔا اَنۡ یَّقُوۡلَ لَهٗ کُنۡ فَیَکُوۡنُ ط (سوره یٰسین ایت ۸۲)

د الله تعالیٰ معامله خو دا ده چه هرکله هغه د څه څیز اراده اوکړي ۔ نو ورته فرمائي : «کُنۡ» نو هغه شے «موجود» شي ۔

نو ابلیس خپلو شیطانانو ته اووے : د دے جواب اوریده د پاره ما تاسو دلته راوستی وئ ۔ دا دے د عالم او عابد مینځ کښې فرق ۔ چه عابد خو د شیطان جال کښې انښتے شي او عالم نه انښتے الله تعالیٰ دے مونږ د شیطان د جال نه محفوظ کړي ۔ امین ؛

(ابن ابی الدنیا ۔ منه ۔ مکائد الشیطان (۳۰) صفه ۔

مصائب الانسان ص۵۲ لابن مفلح المقدسی ۔

شیطان د ټولو نه زیات کله ژاړي ؟ :-

حضرت صفوان رضی الله تعالیٰ عنه د یو شیخ نه نقل کوي شیطان مؤمن باندے هغه وخت د ټولو نه زیات ژاړي ۔ هرکله چه یو مؤمن وفات شي ۔ او شیطان په دنیا کښې د هغه په ګمراه کولو کښې کامیاب شوے نه وي ۔ (ابن ابی الدنیا ۔ منه ۔ مکائد الشیطان (۳۱) ص۵۲)

شیطان د امام احمدؒ د خاتمے خرابولو کوشش کښې :-

حضرت صالحؒ بن امام احمد بن حنبلؒ فرمائي : ما د خپل پلار

Maktaba Tul Ishaat.com

امام احمد بن حنبلؒ نه د مرګ په وخت بار بار دا واورېدل: اوس نه، روستو۔ ما عرض اوکه! اے باباجانه! تاسو دا څهٔ وائيئ؟ وئے فرمائيل: شيطان زما سرته ولاړ دے. او وائي: اے احمد! ماته د فلانی سوال جواب راکړه، فلانئ مسئله راته اوښايه! او زهٔ ورته وايم: اوس نه۔ روستو، اوس نه۔ روستو. (بلاحواله)۔

شيطان نه نجات بيامندلو باندے د فرښتو شاباسے:۔

حضرت عبدالعزيز بن رفيعؒ فرمائي: هر کله چه د مؤمن روح آسمان ته وړے شي۔ نو فرښتے وائي: سُبْحَانَ اللّٰه! دا بنده د شيطان نه بچ شولو۔ واه څه ښهٔ کامياب شو۔ (زوائد زهد امام عبدالله بن احمد۔ منه۔)۔

د وفات په وخت د مسلمان شيطان نه د بچ کولو طريقه:۔

(حديث شريف) حضرت واثله بن رفيع رضی الله تعالیٰ عنه فرمائي جناب رسول الله صلی الله عليه وآله وسلم ارشاد اوفرمائيلو:

اُحْضُرُوْا اَمْوَاتَكُمْ وَلَقِّنُوْهُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَبَشِّرُوْهُمْ بِالْجَنَّةِ فَاِنَّ الْحَكِيْمَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ يَتَحَيَّرُ عِنْدَ ذٰلِكَ الْمَصْرَعِ وَاِنَّ الشَّيْطَانَ اَقْرَبُ مَايَكُوْنُ مِنِ ابْنِ اٰدَمَ عِنْدَ ذٰلِكَ الْمَصْرَعِ

ترجمه:۔ خپلو مړکيدونکو سره دَ هغوئ د مرګ په وخت (جمع کيږئ)۔ او هغوئ ته د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ تلقين کوئ۔ او د جنت بشارت ورته اوروئ۔ ځکه چه د مرګ د دے ميدان کښے لوئے لوئے دانشمند سړي او ښځے حيرانے پاتے کيږي او دا وخت د مرګ اکاړه کښے شيطان

Maktaba Tul Ishaat.com

انسان ته د ټولو نه زیات قریب کیږی . (حلیۀ ابونعیم - منه -)

ملك الموت د مونځ کذارنه شیطان زغلوی :-

حضرت جعفر بن محمد رح وائی: ما ته دا خبره رسیدلے ده چه ملك الموت د مونځونو وختونو کښے خلقو سره مصافحه کوی - بیا هر سړی ته د هغهٔ د مرګ په وخت ګوری - که هغهٔ د مونځ حفاظت کولو نو هغهٔ ته قریب کیږی - او شیطان دفع کولو سره پخپله د لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ تلقین ورته کوی. (ابن ابی حاتم - منه -)

قبر کښے د شیطان فتنه :-

حضرت سفیان ثوری رح فرمائی: کوم وخت چه قبر کښے مړی نه تپوس کیږی - چه ستارب څوك دے ؟ نو شیطان هغهٔ ته خپل صورت ظاهرولو سره خپل طرفته په اشاره کولو وائی : چه زهٔ ستارب یم - که هغه مړے کافر وغیره وی - نو هغهٔ ته رب وائی. کښے د هغهٔ د فتنے نه محفوظ کیږی . (نوادر الاصول حکیم ترمذی - منه -)

فـائده :- د دے خبرے تائید د حضور صلی الله علیه واله وسلم د دے اشارے نه کیږی - چه حضور صلی الله علیه واله وسلم د یو مړی د دفن کولو په وخت فرمائیلی وه - اَللّٰهُمَّ اَجِرْهُ مِنَ الشَّیْطَانِ اے الله ! دے د شیطان نه محفوظ کړے - که شیطان هلته دا سے شرارت نهٔ کولے - نو حضور صلی الله علیه واله وسلم به دا دعا نهٔ فرمائیله - (منه) (نوادر الاصول حکیم ترمذی - منه -)

هغه کارونه چه د ټولو نه مخکښے شیطان اوکړل :-

(۱) امام ابن سیرین رح او حضرت حسن بصری رح فرمائی : قیاس د ټولو

Maktaba Tul Ishaat.com

نه مخکښې شیطان اوکړو۔ (مصنف ابن ابي شيبه، كتاب الاوايل، ابن ابي عروبه۔ منه۔)

(۲) حضرت میمون بن مهران رح فرمائی: ما د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه تپوس اوکړو۔ چه د ټولو نه مخکښې عشاء ته عتمه نوم چا ورکړے وو؟ وئیے فرمائیل: شیطان۔ (ابن ابي شيبه۔ منه۔ طبراني كبير ۶/۳۰۹، مجمع الزوائد ۴/۷۷، کنزالعمال ۹۳۳۴، تاریخ بغداد ۱۲/۴۳۶، علل المتناهيه ۲/۱۰۰)۔

(۳) امام بغوی رح فرمائی: نوحه او ماتم د ټولو نه مخکښې شیطان کړی وو۔

(۴) حضرت جابر رضی الله تعالی عنه د حضور صلی الله علیه واله وسلم نه نقل کوی چه د ټولو نه مخکښې ابلیس کانا (سندره) اوروله وه۔

(۵)۔ حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی: کوم وخت چه الله تعالیٰ ابلیس پیدا کړو، نو هغهٔ د ټولو نه مخکښې خرنړیدل کړے وو۔

(ابن ابي الدنيا۔ منه۔ مكائد الشيطان (۳۴) ص۵۴)

بازار او شیطان:۔

حضرت سلمان فارسی رضی الله تعالی عنه فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

لَا تَكُنْ اَوَّلَ مَنْ يَّدْخُلُ السُّوْقَ وَ لَا اٰخِرَ مَنْ يَّخْرُجُ مِنْهَا، فَاِنَّهَا مَعْرِكَةُ الشَّيْطَانِ وَبِهَا نَصَبَ رَايَتَهٗ۔ وَفِيْ لَفْظٍ فَفِيْهَا بَاضَ الشَّيْطَانُ وَفَرَّخَ ؁

ترجمه:۔ د ټولو نه مخکښې بازار کښې داخلیدونکی مهٔ جوړیږه،

Maktaba Tul Ishaat.com

ځکه چه دا د شیطان د جنګ ځائے دے۔ دلته هغهٔ د خلقو د کمراه کولو خپله جنډه سنبخه کړے ده۔ (طبرانی۔منه۔)

یو روایت کښے دی۔ چه شیطان دلته اګۍ واچولے۔ او دلته ئے بچی ورکړل۔

د شیطان اولاد :۔

حضرت مجاهد رح فرمائی : د ابلیس پنځه ځامن دی۔ هر یو ئے په یو یو کار مقرر کړے دے۔ د هغوے نومونه دا دی :

(۱) ثبرد ، (۲) اعور ، (۳) مسوط ، (۴) داسم ، (۵) زلنبور۔

(۱) د ثبرد په ذمه مصیبتونه دی۔ دے د مصیبت په وختونو کښے بے صبری سره مړګ کولو ، ګریوان شلولو ، مخ وهلو او د اسلام خلاف د جهالت خبرو کولو باندے راپاروول کوی۔

(۲) داعور په ذمه د زناکاری کاروونه دی۔ دے د زنا حکم ورکوی او هغه ورته خوبصورته ښائی۔

(۳) دمسوط په ذمه دروغ ویئیل دی : دے دروغ اوریدو سره دویم سری ته ئے ښائی۔ بیا هغه سړے تلو سره خپل قوم ته وائی۔ چه ما یو سړے اولیدلو۔ چهره ئے شکل سره پیژنم۔ قوم ئے راته معلوم نهٔ دے هغهٔ دا خبره ماته ښودلے وه۔

(۴) داسم چه دے۔ دے سړی سره د هغهٔ کور والاؤ ته راځی۔ او هغهٔ ته د کور والاؤ عیب ښودلو سره هغوے ته ئے غصه کوی۔

(۵) دزلنبور په ذمه د بازارونو نګرانی ده۔ هغهٔ د خپلو ګمراهیو جنډه بازار کښے سنبخه کړے ده۔ (ابن ابی الدنیا۔منه۔ مکائد الشیطان)

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳۵) ص۵۴ ، تلبیس ابلیس ص۲۳ ، احیاء العلوم ۳/۳۷ ، الدر المنثور ۴/۲۲۷ بحواله د ابن ابی حاتم) ۔

د بچی د پیدائش په وخت د شیطان شرارت :۔

(حدیث شریف) حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی : جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

مَا مِنْ بَنِیْ آدَمَ مَوْلُوْدٌ اِلَّا مَسَّهُ الشَّیْطَانُ حِیْنَ یُوْلَدُ فَیَسْتَهِلُّ صَارِخًا مِنْ مَسِّ الشَّیْطَانِ غَیْرَ مَرْیَمَ وَابْنِهَا ط

ترجمه :۔ د انسان کوم بچے چه پیدا کیږی ۔ شیطان په هغه سکنداں لږوی ۔ چه هغے سره بچے زور سره په ژړا ستی ۔ خو بی بی مریم او د هغے ځوئے حضرت عیسی علیه السلام دے سکنړا رے نه محفوظ اتے شو ۔ عله

دے حدیث بیانولو سره حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه اوفرمائیل : که تاسو غواړئ نو د الله تعالی دا فرمان اولولئ :

وَاِنِّیْ اُعِیْذُهَا بِكَ وَذُرِّیَّتَهَا مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ ط

ترجمه :۔ د بی بی مریم مور الله تعالیٰ نه دُعا غوښتے وه چه اے الله! زهٔ خپله لور او د دے اولاد د شیطان نه د حفاظت د پاره ستا پناه کښے ورکوم ۔ (سورهٔ ال عمران ایت ۳۶)

د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه په روایت کښے دا هم دی : چه حضور صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو : م

عله بخاری، مسلم ۔ منه ۔ کتاب الانبیاء باب۴۴، مسلم کتاب الفضائل حدیث ۱۴۶، مشکوٰة ۱۹، کنز العمال ۳۲۲۵ ، تفسیر ابن جریر ۳/۱۶۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

د هر انسان اړخ کښې د پیدائښت په وخت شیطان سکنډاره لړی وو سوا د حضرت عیسیٰ علیه السلام نه. (هغه ته هم شیطان ورغلے وو خو په هغه ئے سکنډاره اونه لړولے شوه. (بخاری ، منه - بخاری کتاب بدء الخلق باب ۱۱ ، مسند احمد ۲/۵۲۳) .

په یو روایت کښې دی: حضور صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو بچے هغه وخت چغے وهی - چه شیطان پرے سکنډاره لړ وی. (مسلم - منه - صحیح مسلم کتاب الفضائل حدیث ۱۴۸)

حضرت قاضی عیاض رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی - د دے خصوصیت کښې تمام انبیاء علیهم الصلوٰة والسلام د حضرت عیسیٰ علیه الصلوٰة والسلام سره په دے کښې شریک دی. (یعنی په هغوئے هم د پیدائښت په وخت شیطان سکنډاره نشی لړولے. (نووی شرح مسلم - منه -)

شیطان انسان کښې د وینے په شان ګرځی:

(حدیث شریف) حضرت بی بی حفصه بنت حیی رضی الله تعالیٰ عنها نه روایت دے: جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِيْ مِنِ ابْنِ اٰدَمَ مَجْرَى الدَّمِ .

ترجمه: شیطان انسان کښې داسے ګرځی - څنګه چه وینه د انسان په بدن کښې ګرځی. (بخاری، مسلم، منه - بخاری کتاب الاحکام باب ۲۱ ، وکتاب بدء الخلق باب ۱۱ ، وفی الاعتکاف باب ۱۱ ، ۱۲ ، ابوداؤد کتاب الصوم باب ۷۸ ، ابن ماجه ادب باب ۶۵ ، دارمی فی الرقاق باب ۶۶ ، مسند احمد ۱۵۶/۳ ، ۲۸۵ ، ۳۰۹ ، ۳۳۷/۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

فائدہ :- حضرت ابن عمر رضی اللہ تعالی عنہ فرمائی. مومن د شیطان نہ ښنګه بچ کیدے شو- هرکله چه هغه مومن کښے د ویښے په شان ځغلی - ځکه مومن له د شیطان د بچ کیدلو د پاره ډیر فکر بکار دے. منه (ابن ابی الدنیا - منہ - مکائد الشیطان (۴۰) صلے واسناده صحیح)

د شیطان خبیث حرکات :-

حضرت ابراهیم نخعی رحمة الله علیه فرمائی : دا خبره به کیدله چه شیطان د انسان د الہ تناسلی سوری کښے کرځی - او د پاخانے ځائے کښے اګئ اچوی - په دے وجه انسان ته خیال لاحق کیږی - چه شاید د هغه اودس مات شوے دے - ځکه تاسو کښے کوم مسلمان چه د باد وتلو آواز وانه اوری - یا بد بوئی محسوس نه کړی - یا لوند والے ونه ګوری - نو مونځ دے نه ماتوی - (مصنف عبدالرزاق، مصنف ابن ابی شیبه، کتاب الوسوسه لابن ابی داؤد - منه -)

شیاطینو نه د حفاظت تدبیر :-

(حدیث شریف) حضرت جابر رضی الله تعالی عنه فرمائی : جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

اِذَا كَانَ جُنْحُ اللَّيْلِ اَوْ اَمْسَيْتُمْ فَكُفُّوْا صِبْيَانَكُمْ فَاِنَّ الشَّيَاطِيْنَ تَنْتَشِرُ حِيْنَئِذٍ فَاِذَا ذَهَبَ سَاعَةٌ مِّنَ اللَّيْلِ فَخَلُّوْهُمْ وَاَغْلِقُوْا اَبْوَابَكُمْ وَاذْكُرُوْا سْمَ اللّٰهِ فَاِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَفْتَحُ بَابًا مُغْلَقًا وَخَمِّرُوْا اٰنِيَتَكُمْ وَاذْكُرُوْا سْمَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَلَوْ اَنْ تَعْرِضُوْا عَلَيْهَا شَيْئًا - وَاطْفِئُوْا مَصَابِيْحَكُمْ ؕ

ترجمه :- هرکله چه شپه شروع شی - نو تاسو خپل بچی د بهر وتلو نه

Maktaba Tul Ishaat.com

منع کوئ - ځکه چه هغه وخت شیاطین فتنے خورولو د پاره زمکه کښے خوریږی - هر کله چه یو ساعت تیر شی - نو بچی پریږدئ او چپلے دروازے هم بندوئ او د هغے د بندولو په وخت دالله نوم اخلئ ځکه چه د الله نوم سره بندے شوے دروازے شیاطین نه شی خلاصولے - خپلو لوښو باندے هم سرپوښ ږدئ - او د هغے د پټولو په وخت هم د الله نوم اخلئ - خواه هر څه چه بیا مومئ په لوښوے ایږدئ - او چپلے ډیوے مړے کوئ - د اسے نه چه دَ شپے څه جن یا مږه وغیره د شرارت نه څه خیزته اور اولګوی. (بخاری مسلم، نسائی، ابن ماجه-منه - بخاری کتاب بدء الخلق باب ۱۶، ۱۱، وغیره، مسلم کتاب الاشربه حدیث ۲۲، ترمذی کتاب الاطعمه باب ۱۵، الادب باب ۷۴) دارمی کتاب الاشربه باب ۲۶، موطا مالك باب صفة النبی حدیث ۲۱، مسند احمد ۲/۳۶۳، ۳/۳۰۱، ۳۱۹، ۳۷۴، ۳۸۶، ۳۸۸، ۳۹۵، ۵/۵۲، مشکوة ۴۲۹۴، کنزالعمال ۴۵۳۲۲، شرح السنة ۱۱/۳۹۰)

د شیطان شر دفع کولو کښے د کونترے استعمال :-

حضرت حسن بصری رح فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اِتَّخِذُوا الْحَمَامَاتِ الْمَقْصُوْصَاتِ فِي الْبُيُوْتِ فَإِنَّهَا تُلْهِي الشَّيْطَانَ عَنْ صِبْيَانِكُمْ ط

ترجمه: تاسو پریکړے وزرو والا کونترے کورونو کښے ساتئ - دوئ شیطان ستاسو د بچو په ځائے ځان سره مشغول ساتی. (کرمانی فی مسائله - منه - تاریخ بغداد ۵/۲۷۹، المجروحین ابن حبان ۲/۲۷۰،

Maktaba Tul Ishaat.com

میزان الاعتدال ۵۵۶۴، ۴۷،۵۷، المنار المنیف ۱۹۸)

(حدیث) حضرت ابن عباس رضی اللہ تعالی عنہ فرمائی: رسول اللہ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اِتَّخِذُوا هٰذِهِ الْمَقَاصِيْصَ فِيْ بُيُوْتِكُمْ فَاِنَّهَا تُلْهِيْ الْجِنَّ عَنْ صِبْيَانِكُمْ ط

ترجمه:- تاسو وزر پریکړے کونترے خپلو کورونو کښے ساتئ، دوی ستاسو د بچو په ځائے جنات خپل طرف ته مشغول ساتی.

(شیرازی فی الالقاب، تاریخ خطیب (ویلمی- منه-، تاریخ بغداد ۵/۲۷۹، مسند الفردوس ویلمی (۲۶۰) ۱/ ۸۳، الجامع الصغیر (۱۰۳)، فیض القدیر ۱/ ۱۱۱، ابن عدیؒ، مجروحین ابن حیان ۲/ ۲۵۰، میزان الاعتدال ۵۵۶۴، المنار المنیف ابن قیم ۱۹۸)

فائده:- د دے حدیث شرح کښے علامه مُناویؒ فرمائی: کونتره او د دے قسم نور خوبصورته پرندے، کوډکوړئ، مرغی وغیره خصوصًا سره کونتره د خپلے خوبصورتیا په وجه جنات خپل طرف ته متوجه کوی او د دے په وجه جنات د بچو په ځائے د وئ طرف ته مشغولیږی، او د غسے بچی د شیاطینو او جناتو د شر نه محفوظ وی. (فیض القدیر شرح جامع صغیر ۱/ ۱۱۱).

د شیطان بستره:-

حضرت قیس بن حازمؒ فرمائی: کوم کور کښے چه څه بستره غوړیدلے وی- او په هغے څوک نه ځملی- نو په هغے شیطان اوده کیږی. (ابن ابی الدنیا- منه- مکائد الشیطان (۵) ط ۳۶، ابونعیم حلیه ۵/ ۲۱۴ من کلام خالد بن معدانؒ)

Maktaba Tul Ishaat.com

(حدیث شریف) حضرت جابر رضی اللہ تعالی عنہ فرمائی: چہ جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

فِرَاشٌ لِلرَّجُلِ وَفِرَاشٌ لِامْرَأَتِهٖ وَالثَّالِثُ لِلضَّيْفِ وَالرَّابِعُ لِلشَّيْطَانِ ط

ترجمه: د بسترے څلور اقسام دی۔ یوه بستره خود سړی وی، یوه د هغهٔ د ښځې وی۔ دریمه میلمه د پاره وی۔ او څلورمه شیطان د پاره وی۔ (مسلم، ابوداؤد، نسائی۔ منه۔ مسلم کتاب اللباس حدیث[۴۱]، ابوداؤد کتاب اللباس باب[۴۲]، نسائی کتاب النکاح باب[۸۲]، مسند احمد ۳/۲۹۳، ۳۲۴، مشکوٰة (۴۳۱۰) اتحاف الساده ۵/۲۶۲)۔

شیطان د غرمے نهٔ اوده کیږی:-

حضرت عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه فرمائی: تاسو د غرمے قیلوله کوئ۔ ځکه چه شیطان د غرمے قیلوله نهٔ کوی۔ (د قیلولے معنیٰ د غرمے لږ اوده کیدل دی)

امام طبرانیؒ او امام ابونعیمؒ مذکوره ارشاد په روایت د حضرت انس رضی الله تعالی عنه د حضور صلی الله علیه وآله وسلم د فرمان مبارک نه نقل کړے دے۔ (معجم اوسط طبرانی، الطب لابی نعیم۔منه۔ مجمع الزوائد ۸/۱۱۲، اتحاف الساده ۵/۱۴۲، الطب النبوی ذهبی (۱۵) کنز العمال ۲۱۴۳۲، الاحکام النبویه فی اضالة الطبیه للکحال ۱/۱۱۴، فتح الباری ۱۱/۷۰، قرطبی ۱۳/۲۳، کشف الخفاء ۲/۱۵۴، قیسرانی ۵۳۹، درر ۱۲۲)

د شیطان غوټے:-

(حدیث) د حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے:

Maktaba Tul Ishaat.com

جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمایلو:

يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلٰى قَافِيَةِ رَأْسِ اَحَدِكُمْ اِذَا هُوَ نَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ يَضْرِبُ عَلٰى كُلِّ عُقْدَةٍ مَكَانَهَا : عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيْلٌ فَارْقُدْ فَاِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللّٰهَ اِنْحَلَّتْ عُقْدَةٌ فَاِنْ تَوَضَّاءَ اِنْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَاِنْ صَلّٰى اِنْحَلَّتْ عُقْدَةٌ كُلُّهَا، فَاَصْبَحَ نَشِيْطًا طَيِّبَ النَّفْسِ وَاِلَّا اَصْبَحَ خَبِيْثَ النَّفْسِ كَسْلَانَ ط

ترجمه: شیطان تاسوکښې د هریو په څټ داوده کیدو په وخت کښې درې غوټې لږوی۔ د هرې غوټې د لږولو په وخت داوائی: تهٔ اوږدې شپې پورې اوده اوسه! بیاکه هغه سړے راویښ شی۔ نو د هغهٔ یوه غوټه پرانستے شی۔ بیا که اودس هم اوکړی۔ نوبله غوټه ئې هم پرانستے شی۔ اوکه مونځ هم اوکړی۔ نو ټولے غوټے ئې پرانستے شی۔ اوخوشحاله پاسی۔ کنی خبیث النفس سست کیدومره پاسی۔

(بخاری، مسلم ۔منه۔ بخاری کتاب التهجد باب۱۲، مسلم حدیث۲۰۷ من المسافرین، ابوداؤد فی التطوع باب۱۸، ابن ماجه اقامة باب۱۷۴، موطا مالك حدیث ۹۵ من السفر، مسند احمد ۲/۲۴۳، بیهقی ۲/۵۰۱، ۳/۱۵، ابن خزیمه حدیث ۱۱۳۱، مسند حمیدی حدیث ۹۶۰)

د شیطان متیازے د انسان غوږ کښې:-

(حدیث شریف) حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمائی: د جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم مخکښې د یو سړی ذکراوشو۔ چه هغه سحر پورې اوده وی۔ مونځ د پاره هم نهٔ پاسی۔ نو حضور صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل:

Maktaba Tul Ishaat.com

ذَاكَ رَجُلٌ بَالَ الشَّيْطَانُ فِيْ اُذُنِهٖ ط

ترجمه :- دا داسے سړے دے چه د هغهٔ غوږ ونو کښے شیطان متیازے کړی -۔ (بخاری، مسلم- منه - بخاری ۴/۴ ۱۸، مسلم صلوٰة المسافرین باب۲۸، نسائی ۳/۲، مسند احمد ۱/۴۲۷، بیهقی ۳/۱۵، ابن ابی شیبه ۲/۲۷۱، کنزالعمال ۲۱۳۸۲، بدایه والنهایه ۱/۶۳، حلیه ابو نعیم ۹/۳۲۰، ابن ماجه باب ۱۷۴ فی الامامة) -

شیطانی خوب :-

(حدیث شریف) حضرت ابوقتاده رضی الله تعالی عنه فرمائی : ما د جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم نه ارشاد واوریدلو :

اَلرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ مِنَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالْحُلُمُ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا رَأَى اَحَدُكُمْ شَيْئًا يَكْرَهُهٗ فَلْيَنْفُثْ حِيْنَ يَسْتَيْقِظُ عَنْ يَسَارِهٖ ثَلَاثًا وَلْيَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّهَا فَاِنَّهَا لَا تَضُرُّهٗ ط

ترجمه : نیک خوبونه د الله د طرف نه وی - او خراب خوبونه د شیطان د طرف نه - هر کله چه تاسو کښے څوک ناخوښه خوب اووینی - نو د بیدارئ په وخت کښے دے درے ځله بنی طرف ته اوتوکی - او د شیطان د شر نه دے د الله تعالی طرف ته پناه اوغواړی (که هغه داسے اوکړی) نو هغه خراب خوب هغهٔ ته هیڅ نقصان نهٔ شی رسولے - (بخاری، مسلم، ابوداؤد، ترمذی - منه - بخاری تعبیر الرؤیا باب ۳، ۴، ۱۰، ۱۴، مسلم فی الرؤیا حدیث ۲۰۱، ابوداؤد کتاب الادب باب۸۸، ترمذی کتاب الرؤیا باب۵، ابن ماجه کتاب الرؤیا باب۴، دارمی کتاب الرؤیا باب ۵) -

Maktaba Tul Ishaat.com

دخوب درے قسمونه :-

(حدیث شریف) حضرت عوف بن مالك رضی الله عنه فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اَلرُّؤْيَا ثَلَاثَةٌ : مِنْهَا تَهَاوِيلُ مِنَ الشَّيْطَانِ لِيَحْزُنَ ابْنَ اٰدَمَ ، وَمِنْهَا مَا يَهُمُّ بِهِ الرَّجُلُ فِيْ يَقْظَتِهٖ فَيَرَاهُ فِيْ مَنَامِهٖ وَمِنْهَا جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَاَرْبَعِيْنَ جُزْءً مِنَ النُّبُوَّةِ ط

ترجمه: خوب په درے قسمه دے: یو خو هغه کښے د شیطان د طرف نه ویرونکے وی۔ چه انسان تر خوف او دهشت ورشی۔ دویم هغه دے چه د هغه متعلق سړے بیدارئ کښے خیال کوی۔ بیا هغه خوب کښے ومینی۔ او دریم خوب د نبوت شپږ څلویښتمه حصه وی۔ او داد الله د طرف نه وی۔ چه د مسلمان د خیرخواهئ په طور هغه ته ښودلے شی۔ (ابن ماجه۔منه۔ ابن ماجه کتاب الرؤیا باب۳، طبرانی کبیر، ۶۴/۱۸، تمهید ابن عبدالبر بلفظه ۳۸۶/۱، فتح الباری ۴۰۷/۱۲، کنز العمال ۴۱۳۹۹)۔

شیطان د حضورؐ شکل کښے نشی راتلے:-

حضرت ابوقتاده رضی الله تعالی عنه فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد او فرمائیلو:

مَنْ رَاٰنِیْ فَقَدْ رَاَی الْحَقَّ فَاِنَّ الشَّيْطٰنَ لَا يَتَرَاٰی بِیْ ط

ترجمه: چا چه زۀ خوب کښے اولیدلم۔ هغۀ واقعی زۀ لیدلے یم۔ ځکه چه شیطان زما شکل اختیارولو سره خپل ځان نشی ښودلے۔ (بخاری ، مسلم ۔منه۔ بخاری کتاب العلم باب۳۸، کتاب التعبیر الرؤیا باب، مسلم کتاب الرؤیا

Maktaba Tul Ishaat.com

حدیث ۱۱، مسند احمد ۳ / ۵۵، ۵ / ۳۰۶، مجمع الزوائد ۷ / ۱۸۱، دلائل النبوة بیهقی ۷ / ۴۵، تاریخ بغداد ۷ / ۱۷۸، مشکوٰة شریف ۴۶۱)

شیطان د کعبې شکل نشي اختیارولے۔

(حدیث شریف) حضرت ابوسعید خدری رضی الله تعالی عنه فرمائی:

جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

مَنْ رَاٰنِیْ فِیْ مَنَامِهٖ فَقَدْ رَاٰنِیْ فَاِنَّ الشَّیْطَانَ وَلَا یَتَمَثَّلُ بِیْ وَلَا بِالْکَعْبَةِ ط

ترجمه:- چاچه زه خوب کښې اولیدلم۔ نو هغه زه واقعی اولیدلم ځکه چه شیطان نه خو زما شکل اختیارولے شی او نه د کعبې شریفې (طبرانی صغیر۔ منه۔)۔

شیطان د حضرت ابوبکر صدیق رض شکل نشي اختیارولے۔

(حدیث شریف) حضرت حذیفه رض فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

مَنْ رَاٰنِیْ فِی الْمَنَامِ فَقَدْ رَاٰنِیْ فَاِنَّ الشَّیْطَانَ لَا یَتَمَثَّلُ بِیْ، وَمَنْ رَاٰنِیْ اَبَا بَکْرِنِ الصِّدِّیْقِ فِی الْمَنَامِ فَقَدْ رَاٰهُ فَاِنَّ الشَّیْطَانَ لَا یَتَمَثَّلُ بِهٖ ط

ترجمه:- چاچه زه خوب کښې اولیدلم۔ هغه زه لیدلے یم، ځکه چه شیطان زما شکل نشي اختیارولے۔ او چاچه حضرت ابوبکر صدیق رض په خوب کښې اولیدلو۔ نو واقعی هغه ئے لیدلے دے ځکه چه د هغه شکل هم نشي اختیارولے۔ (تاریخ بغداد۔ منه۔ مجمع الزوائد ۷ / ۱۷۳، ۱۸۱)

۰۰۰۰۰

Maktaba Tul Ishaat.com

د شیطان ښکر :-

(حدیث شریف) حضرت عبد اللہ صنابحی رضی اللہ تعالی عنه فرمائی جناب رسول اللہ صلی اللہ علیه وآله وسلم ارشاد او فرمائیلو:

إِنَّ الشَّمْسَ تَطْلُعُ وَمَعَهَا قَرْنُ الشَّيْطَانِ، فَإِذَا ارْتَفَعَتْ فَارَقَهَا ثُمَّ إِذَا اسْتَوَتْ قَارَنَهَا، فَإِذَا زَالَتْ فَارَقَهَا فَإِذَا تَدَلَّتْ لِلْغُرُوبِ قَارَنَهَا فَإِذَا غَرَبَتْ فَارَقَهَا، فَلَا تُصَلُّوا هٰذِهِ الْأَوْقَاتِ الثَّلَاثَ

ترجمه :- هر کله چه لمر راخیژی- نو هغے سره د شیطان ښکر هم وی کوم وخت چه هغه اوچت شی- نو د شیطان ښکر لرے شی. بیا چه د غرمے وخت شی- هغه وخت هم دے چه نمر مخے ته شی- لیکن څر وخت چه نمر په زوال شی- نو دا ښکر لرے شی- بیا چه نمر په ډوبیدو شی- هغه وخت دا شیطان د هغے مخے ته شی- او کله چه ډوب شی نو هغه وخت لرے شی اے مسلمانانو! تاسو دے وخت کښے مونځ مه کوئ- (مالك، احمد، ابن ماجه، بیهقی-مسند- مؤطا مالك كتاب القرآن حدیث ۴۴، ۴۹، مسند احمد ۱۳/۲، ۱۹، ۲۴، ۸۶، ۱۰۶، ۲۱۰، ۲۲۳، ۳/ ۳۴۸، ۳۹۳، ۴/ ۱۱۱، ۱۲۲، ۱۱۴، ۲۲۴، ۳۴۸، ۳۴۹، ۳۸۵، ۵/ ۱۵، ۲۰، ۱۹۰، ۲۱۶، ۲۶۰، ۶/ ۱۱۳، ابن ماجه فی الاقامه باب ۱۴۸، بیهقی ۲/ ۴۵۴، شرح السنة ۳/ ۳۲۰، بدائع المنن ساعاتی ۱۴۴، صحیح ابن خزیمه ۱۲۷۴، مشکوٰه ۱۰۴۸، - تلخیص الحبیر ۱/ ۱۸۵، مسند شافعی ۱۶۶، الاستذکار ۱/ ۱۳۴، التمهید ابن عبد البر ۴/ ۱، الفقیه والمتفقه خطیب بغدادی ۱/ ۱۰۷)۔

فائده :- حضرت عمرو بن عبسه رضی اللہ تعالی عنه مرفوع روایت کښے دا سے دی چه نمرختلو هم د شیطان د دوو سکرونو مینځ کښے وی او ډوبیدل

Maktaba Tul Ishaat.com

هم د شیطان د دوه ښکرونو مینځ کښې وی. هغه (ابوداؤد، نسائی، مسند - ابوداؤد کتاب التطوع باب۱، سنن نسائی فی المواقیت باب۳۵، ۴۰، بخاری بدء الخلق باب۱۱، مسلم فی المسافرین حدیث ۲۹۰، ۲۹۴ و فی المساجد ۱۷۳).

د شیطان ښکرڅه دے؟ :-

حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه ارشاد فرمائی: کله چه نمر راخیژی د الله تعالیٰ د طرف نه یو فرښته هغه ته راځی او هغه ته د راختلو حکم ورکوی. لیکن شیطان نمر ته راتلو سره د هغه مخکښې راختلو کښې خنډ کیږی. نو نمر د هغه د دواړو ښکرو نو مینځ کښې راخیژی او الله تعالیٰ د شیطان لاندے حصه سوزوی. او کله چه نمر ډوبیږی نو د الله تعالیٰ حضور ته سجده کوی هغه وخت هم هغه ته شیطان په راتلو سره سجدے کولو ته خنډ جوړیږی. لیکن نمر هم د هغه مینځ کښې ډوبیږی. او الله تعالیٰ د شیطان لاندے حصه هغه وخت هم سوزوی. د حضور صلی الله علیه واله وسلم ارشاد مبارک مطلب دا دے. فرمائیلی ئے دی چه نمر د شیطان د دوو ښکرونو مینځ کښې راخیژی او د دوو ښکرونو مینځ کښې ډوبیږی. (قرطبی ۱/ ۶۳، تهذیب تاریخ دمشق ابن عساکر ۴/ ۱۲۴)

د شیطان بیټهک :-

(حدیث شریف) یو سړے د حضور صلی الله علیه واله وسلم صحابه کرامو نه روایت کوی چه :-

اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى اَنْ يَّجْلِسَ بَيْنَ الضِّحِّ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالظِّلِّ وَ قَالَ مَجْلِسُ الشَّيْطَانِ ط

ترجمه : حضور صلی الله علیه واله وسلم د سورې او نمر (دهوپ) مینځ کښې ناستے نه منع فرمایلے ده ـ حضور صلی الله علیه واله وسلم او فرمائیل: دا (سورے او نمر مینځ) د شیطان بیتهک دے۔ (احمد ـ منه ـ مسند احمد ۳/۱۴۴، البدایه والنهایه بلفظه ۱/۶۲) ـ

فائده :ـ د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه هم منقول دی ـ چه دا انسان څه نمر او څه سورې کښې ناسته د شیطان په ځائے ناسته ده. (مصنف ابن ابی شیبه، کتاب الادب لابی بکر الخلال ـ منه ـ)

حضرت ابوهریره رضه هم د غسے نقل کوی. (مصنف ابن ابی شیبه، کتاب الادب لابی بکر الخلال ـ منه ـ)

حضرت قتاده رض هم فرمائی چه شیطان د نمر او سورې مینځ کښے کینی. (کتاب الادب لابی بکر الخلال ـ منه ـ)

د شیطان د خوب ځائے :ـ

حضرت سعید بن المسیبؒ فرمائی چه شیطان د نمر او سورې مینځ کښې خوب کوی . (مصنف ابن ابی شیبه، کتاب الادب لابی بکر الخلال ـ منه ـ) ـ

ظالم جج د شیطان جال کښے :ـ

(حدیث شریف) حضرت عبد الله بن اوفی رض فرمائی: چه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد او فرمائیلو :

اَللّٰهُ مَعَ الْقَاضِیْ مَا لَمْ یَجُرْ فَاِذَا جَارَ تَخَلّٰی عَنْهُ وَلَزِمَهُ الشَّیْطَانُ ط

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه:- څو پورې چه جج او فیصله کوونکے قاضي ظلم او زیاتے نهٔ کوي۔ دالله تعالی مدد همغهٔ سره وي۔ لیکن کله چه همغه ظلم او زیاتے کوي۔ نو د الله مدد ترې لرې شي او شیطان هغه قابو کړي۔ (ترمذی۔ منه۔ سنن ترمذی کتاب الاحکام باب۴، سنن ابن ماجه کتاب الاحکام باب۲، مسند احمد ۳۶/۲، جمع الجامع حدیث ۹۶۷۴، فتح الباری ۱۲۰/۱۳)۔

د اذان او مونځ په وخت د شیطان حالت:-

(حدیث شریف) حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه وائي: جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم او فرمائیل:

إِذَا نُودِيَ بِالصَّلٰوةِ أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ لَهُ ضُرَاطٌ حَتّٰى لَا يَسْمَعَ التَّاذِيْنَ۔ فَإِذَا قُضِيَ النِّدَاءُ أَقْبَلَ حَتّٰى إِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلَاتِ أَدْبَرَ، حَتّٰى إِذَا قُضِيَ التَّثْوِيْبُ أَقْبَلَ حَتّٰى إِذَا يَخْطُرُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَنَفْسِهٖ يَقُوْلُ اذْكُرْ كَذَا وَاذْكُرْ كَذَا بِمَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ۔ مِنْ قَبْلُ حَتّٰى يَظِلَّ الرَّجُلُ لَا يَدْرِيْ كَمْ صَلّٰى ط

ترجمه:- هر کله چه مونځ د پاره اذان کیږی۔ نو شیطان شا کولو سره تښتي۔ او د اذان نهٔ برداشت کولو په وجه د هغهٔ باد او ځي هغه هم دومره زور سره چه د اذان آواز نهٔ اوري۔ بیا چه اذان اوشي۔ نو واپس راشي۔ هر کله چه د مونځ تکبیر کیږی نو بیا تښتي چه تکبیر اوشي نو واپس راشي۔ او د مونځګذار زړهٔ کښې د کے متعلق خیال اچوي۔ وائي: فلانۍ خبره رایاده کړه۔ فلانۍ یاده کړه۔ چه هغهٔ ته مخکښې یادے نهٔ وي۔ حتی چه سړی ته یاد نهٔ پاتے کیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

چه هغهٔ څو رکعاته کړی دی. (بخاری، مسلم، ابوداؤد، نسائی. منه.
بخاری کتاب الاذان باب۲۷ والعمل فی الصلوٰة باب۱۸، مسلم کتاب الصلوٰة
حدیث ۱۹، وفی المساجد حدیث ۸۳، ۸۴، ابوداؤد کتاب الصلوٰة باب
۳۱، نسائی کتاب الاذان باب۳۰، دارمی کتاب الصلوٰة باب۱۱، باب۱۴۲، مؤطا
مالک کتاب النداء حدیث ۶، مسند احمد ۳۱۳/۲، ۴۶۰، ۵۰۳، ۵۲۲،
بیهقی ۳۳۱/۱، تجرید ۲۸۳، ترغیب وترهیب ۱۷۷/۱، مجمع الزوائد
۳۴۴/۱، کنز العمال ۲۰۸۸۳، ۲۰۹۴۷، ۲۰۹۴۹).

شیطان یوے پنړے سره ګرځي :-

(حدیث شریف) حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے
جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:
لَا یَمْشِیْ اَحَدُکُمْ فِیْ نَعْلٍ وَّاحِدٍ فَاِنَّ الشَّیْطَانَ یَمْشِیْ فِیْ نَعْلٍ وَّاحِدٍ
ترجمه:- تاسو کښے دے هیڅوک یوے پنړے سره نه ګرځی.
(حرب کرمانی فی مسائله. منه. ابن ماجه حدیث ۳۶۱۷، مشکل الاثار
۱۴۱/۲، تجرید ۲۶۷ بلفظهم، بخاری ۱۹۹/۷، مسلم فی اللباس باب۱۱ حدیث
۶۸، ابوداؤد ۴۱۳۶، ترمذی ۱۷۷۴، ابن ابی شیبه ۲۲۸/۸، مشکوٰة
۴۴۱۱، فتح الباری ۳۰۹/۱۰، کنز العمال ۴۱۶۰۲).

د انسان سجده باندے د شیطان واویلا :-

(حدیث) حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه فرمائی. جناب رسول
الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:
اِذَا قَرَءَ ابْنُ اٰدَمَ السَّجْدَةَ فَسَجَدَ اِعْتَزَلَ الشَّیْطَانُ یَبْکِیْ
یَقُوْلُ یَاوَیْلَهٗ اُمِرَ ابْنُ اٰدَمَ بِالسُّجُوْدِ فَسَجَدَ فَلَهُ الْجَنَّةُ وَاُمِرْتُ

Maktaba Tul Ishaat.com

بِالسُّجُوْدِ فَعَصَیْتُ فَلِیَ النَّارُ ط ۔

ترجمه :- هر کله چه انسان سجدے والا ایت تلاوت کوی، او بیا هغه سجده کوی ۔ نو شیطان هغهٔ نه لرے کیدو سره په ژړا شی او وائی : افسوس انسان ته د سجدے حکم ورکړے شو ۔ نو هغهٔ سجده اوکړه او هغهٔ ته جنت حاصل شو ۔ او ماته د سجدے حکم اوشو ما نافرمانی اوکړه ۔ ماته دوزخ حاصل شو ۔ (احمد، مسلم، ابن ماجه ۔ مسند احمد ۲/۴۴۳، ابن ماجه کتاب الاقامه باب ۱۰۵۲، مسلم کتاب الایمان حدیث ۱۳۳، بیهقی ۲/۳۱۲، صحیح ابن خزیمه ۵۴۹، شرح السنه ۳/۱۴۷، مشکوٰة ۸۹۵، نصب الرایه ۲/۱۷۸، حلیه ۵/۶۰، ترغیب ۲/۲۵۶ تخریج احیاء العلوم عراقی ۱/۱۴۹، زهد ابن مبارک ۳۵۳، ابن کثیر ۵/۳۹۹، درّ منثور ۳/۱۵۸، تاریخ بغداد ۷/۳۲۴، اتحاف السادة المتقین ۳/۱۹، کنز العمال ۳۱۰۸، بدایه والنهایه ۱/۹۱)

فائده :- د حضرت عبید الله بن مغفل رضی الله تعالی عنه روایت کیښے دا سے دی : جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو : هر کله چه ته شیطان باندے لعنت کوے ۔ نو شیطان وائی تا په ملعون لعنت اوکړو ۔ او هر کله چه ته د هغهٔ نه پناه غواړے نو هغه وائی : تا زما ملا ماته کړه ۔ او هر کله چه ته سجده کوے ۔ نو شیطان وائی : هائے! افسوس! انسان ته د سجدے حکم اوشو نو هغهٔ فرمانبرداری اوکړه ۔ او شیطان ته حکم اوشو نو هغهٔ سرکشی اوکړه ۔ انسان د پاره جنت شو او شیطان د پاره دوزخ ۔ (ابن ابی الدنیا ۔ منه ۔ لم اجده فی مکائد الشیطان، کنز العمال حدیث ۲۱۲۷ جلد اول بحواله د مسند الفردوس الدیلمی ولم اجده فیه ایضاً ۔)

Maktaba Tul Ishaat.com

شیطان ته کنځل مه کوئ :-

(حدیث) حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه فرمائی: جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

لَا تَسُبُّوا الشَّيْطَانَ وَتَعَوَّذُوْا بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّهٖ ط

ترجمه: تاسو شیطان ته کنځل مه کوئ - بلکه د هغه د شر نه پناه غواړئ

(المخلص - منه - کنزالعمال حدیث ۲۱۲۰ په حواله مذکوره)

مونځ کښې د شیطان شرارتونه :-

حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمائی: شیطان مونځ کښې ستاسو چاپیره د مونځ ماتولو د پاره چکر وهی - هرکله چه د مونځ ماتولو نه نا امیده شی - نو د مونځ ګذار کښه (دبر) کښې پوکې وهی چه مونځ ګذار دا انګیرئ چه د هغه اودس مات شوے دے ، لیکن واوره! تاسو کښې هیڅ سړے دے خپل مونځ نه ماتوی - څو پورے چه بد بوئی بیانه موهی - یا اواز وانه اوری . یا لوند والے اونه وینی (مصنف عبد الرزاق، ابن ابی الدنیا - منه -)

یو بل روایت کښې د ابن ابی مسعود رض نه داسے نقل دی : چه شیطان د انسان زړګ او پلو کښې داسے زغلی - څنګه چه وینه روانه وی حتی چه هغه تا ته د مونځ حالت کښې هم راځی او د مونځ ګذار دُبر کښې پوکی - او د هغه ذکر لندوی - بیا مونځ ګذار ته وائی: ستا اودس مات شوے دے ، لیکن واوره! تاسو کښې هیڅ سړے دے خپل مونځ نه ماتوی - څو پورے چه بد بوئی حس نه کړی یا اواز وانه وری یا لوند والے اونه وینی

(مصنف عبد الرزاق - منه -) -

Maktaba Tul Ishaat.com

مونځ کښې پرکاله کیدل د شیطان د طرف نه وي :-

حضرت ابن مسعود رضی اللہ تعالی عنہ فرمائی : د جنګ په وخت کښې پرکاله کیدل د الله د طرف نه رحمت او مدد دے او مونځ کښې پرکاله کیدل د شیطان د طرف نه شرارت دے۔ (طبرانی - منه -)

مونځ کښې پرنجے (انګوشے) او اسویلے د شیطان د طرف نه وي :-

حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه فرمائی : مانځه کښې پرنجے کول یا اسویلے کول د شیطان د طرف نه راځي۔ (طبراني، ابن ابي شیبه - منه -)

کوم څیزونه د شیطان د طرف نه وي ؟ :-

(حدیث شریف) حضرت دینار رضی الله تعالی عنه فرمائی : نبی کریم صلی الله علیه واله وسلم اوفرمائیل :

اَلْعُطَاسُ وَالنُّعَاسُ وَالتَّثَاؤُبُ فِي الصَّلٰوةِ وَالْحَيْضُ وَالْقَيْءُ وَالرُّعَافُ مِنَ الشَّيْطَانِ ط

ترجمه :- انګوشے، پرکالی او اسویلے مونځ کښې، ماهواری، قی، او په پوزه وینه راتلل (نکسیر)، د شیطان د طرف نه راځي۔ (ترمذی -منه - ترمذی کتاب الادب باب ۷۷ ۸، حدیث ۲۷۴۸، مشکوة ۹۹ ۲- حاوی للفتاوی ۱/ ۵۳۵، کنز العمال ۱۹۹۵۲ بهذ اللفظ ومستدرک حاکم ۴/ ۲۶۴، مسند حمیدی ۱۱۶۱، ابن خزیمه ۹۲۱، اتحاف السادة المتقین ۶/ ۲۸۷، کنز العمال ۲۵۵۲۹، المغنی عن حمل الاسفار عراقی ۲/ ۲۰۶، عمل الیوم واللیلة ابن سنی ۳۶۰، کشف الخفاء ۲/ ۹۷، بلفظهم ومجمع الزوائد ۲/ ۸۶ بلفظه

فائده :- حضرت علی رض فرمائی، مونځ کښې اسویلے او د وعظ ونصیحت په وخت انګوشے او پرکالی زیاتره د شیطان د طرف نه وي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د شیطان متیازے :-

حضرت عبد الرحمٰن بن یزید رح فرمائی : ماته د دے اطلاع راکړے شوے ده۔ چه د شیطان متیازے هم شته۔ شیطان پرے هغه مونځ کے بویوی۔ چه هغه اسویلے اوکړی (او د مونځ نه ئے توجه اخوا شی) (ابن ابی شیبه۔منه۔)

او د مصنف عبد الرزاق روایت کښے داسے دی۔ چه د شیطان بو متیازے دی۔ هغے کښے د څه چړکاو کولو څیز دے۔ هر کله چه خلق مونځ له ځی نو هغه پرے بویوی۔ او هغوئے اسویلی کول شروع کړی۔ ځکه دا سے سړی ته حکم ورکړے شوے دے۔ چه کله چاته دا حالت شی۔ نو هغه دے خپلے شونډے او سپینږے بند ے ساتی۔ (عبد الرزاق۔منه۔)

جلد بازی د شیطان د طرف نه وی :-

(حدیث) حضرت سهل بن سعد رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اَلْاَنَاةُ مِنَ اللّٰہِ عَزَّ وَجَلَّ وَالْعَجْلَةُ مِنَ الشَّیْطَانِ د

ترجمه :- انسان څه کار کښے انتظار کول د الله تعالیٰ د طرف نه وی او تادی کول د شیطان د طرف نه وی۔ (ترمذی۔منه۔ ترمذی کتاب البر باب ٦٦) -

خر شیطان وینی :-

(حدیث) د حضرت ابوهریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ارشاد اوفرمائیلو:

اِذَا سَمِعْتُمْ صُرَاخَ الدِّیْکَةِ فَاسْئَلُوْا مِنْ فَضْلِهٖ فَاِنَّهَا رَأَتْ مَلَکًا

Maktaba Tul Ishaat.com

، وَاِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيْقَ الْحِمَارِ فَتَعَوَّذُوْا بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ فَاِنَّهَا رَاَتْ شَيْطَانًا ط

ترجمه :- هر کله چه تاسو د چرګ اواز واورئ - نو الله تعالیٰ نه د هغهٔ فضل اوغواړئ - ځکه چه هغه وخت هغه فرښته وینی - او هر کله چه د خر آواز واورئ - نو الله تعالیٰ سره د شیطان نه پناه اوغواړئ - ځکه چه هغه وخت هغه شیطان وینی . (بخاری - مسلم - منه - بخاری کتاب بدء الخلق باب ۱۵، ۵۶ مسلم کتاب الذکر حدیث ۸۲ ، ترمذی کتاب الدعوات باب مسند احمد ۲/۳۰۶، ۳۲۱، ۳۶۴ ، ابوداؤد ۵۱۰۲ ، شرح السنة ۵/ ۱۲۶، مشکوٰة ۲۴۱۹، الحبائک فی اخبار الملائک ۱۴۹ ، تفسیر ابن کثیر ۲ /۴۲۳، الادب المفرد ۱۲۳۶) -

جومات (مسجد) والاؤ سره د شیطان چال :-

(حدیث) د حضرت ابوهریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد اوفرمائیلو :

اِنَّ اَحَدَكُمْ اِذَا كَانَ فِي الْمَسْجِدِ جَاءَهُ الشَّيْطَانُ فَاَبَسَّ بِهٖ كَمَا يَاْبِسُ الرَّجُلُ بِدَابَّتِهٖ فَاِذَا سَكَنَ لَهٗ زَنَقَهٗ اَوْ اَلْجَمَهٗ ط

ترجمه: تاسو کښے چه څوک جماعت (مسجد) کښے وی - نو شیطان هغهٔ له راشی - مخکښے ور سره ځان اشنا کړی - بیا چه هغهٔ سره داسے اشنا شی څنګه چه د خپلے سورلۍ خاروی سره وی - او هر کله چه د هغهٔ نه مطمئن شی - نو د هغهٔ په کردن کښے دام اچوی یا هغهٔ ته واګی اولګوی -

(مسند احمد - منه - ۲/ ۳۲۰، مجمع الزوائد ۱/ ۲۴۲، جمع الجوامع ۶/ ۱۵۱، کنز العمال ۲۰۷۲، تفسیر ابن کثیر ۸/ ۵۵۹) .

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه فرمائی: تاسو د هغه دا شرارت هم مشاهده کوئ. دام والا خو داسے چه هغه را بتیب وی. خو د الله تعالی ذکر نه کوی. او د واګی والا داسے. چه هغه خپله خله پرانستے وی. د الله تعالی ذکر نه کوی.

د مونځ په صفونو کښے د شیطان ننوتل:-

